

فارسي خوانو د حیرت گوتي په غابښ کړې
چي حنــــــان سخن سازي که په پښتو کي

# د میرزا حنان بارکزي دیوان




سریزه، سمون او لغتنامه

د محمد معصوم هوتک

Ketabton.com

www.hotakonline.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | د میرزا حنان بارکزي دېوان |
| شاعر | :: | میرزا حنان بارکزی |
| سریزه، سمون او لغتنامه | :: | د محمد معصوم "هوتک" |
| خپروونکی/ډیزاین او د ټایټل طرحه | ⇦ | صحاف نشراتي مؤسسه - hamdullahsahaf@yahoo.com فون:- ۲۶۶۴۲۳۶- ۰۸۱ |
| اهتمام او صفحه آرايي | :: | خلیل احمد "ودودي" |
| د حنان بارکزي انځور | :: | د عبدالهادي تپاند |
| کمپوزر | :: | خالقداد "غنوي" |
| خلورم چاپ | :: | ۱۳۸۸ل |
| د چاپ شمېر | :: | (۱۰۰۰) زر ټوکه |
| د چاپ ځای | :: | لاهور |

د چاپ حقوق یې د صحاف نشراتي مؤسسې سره دي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناشر خبري

د میرزاحنان بارکزي دېوان تردغه حاضرچاپ وړاندي درې واره نور هم چاپ سوی دی. واردواره د کابل پښتوټولني چاپ کړ(۱۳۳۲ش). دوهم وار له کراچي څخه د محمدمعصوم هوتک په (سریزه، سمون او لغتنامه) سره د حمدالله صحاف په زیار خپورسو (۱۳۷۰ش). وروسته د بلوچستان پښتو اکېډمۍ نشرکړ(۱۹۹۲ع) او دا دی د څلورم وار لپاره د کراچي چاپ له نورو زیاتونو سره د صحاف نشراتي مؤسسې په زیار خپرېږي.

د دې دېوان هر چاپ تر خپل مخکیني چاپ هم دکلام د ډېروالي له مخي او هم د صحت و دقت له رویه بشپړ دئ.دا حاضر چاپ يې تر نورو درو سرو چاپونو مکمل دئ او د میرزاحنان بارکزي د کلام ټوله برخه احتوا کوي.

د دې چاپ د ترتیب او کمپوز چاري د صحاف نشراتي مؤسسې سرته رسولي دي خو په هره برخه کي مو له ښاغلي هوتک څخه مشورې او لارښووني اخیستي دي. د میرزا حنان د کلام هغه برخه چي په نورو درو سرو چاپونو کي نسته، ښاغلي هوتک د صحاف کتابخانې د خطي کلکسیون له یوې نوي موندل سوي نسخې څخه را ایستلې ده اومونږ د دوی له لارښووني سره سم هره غزل پخپل ځای کي ایښې ده. هڅه موکړې ده چي د حنان کلام پخپله اصلي بڼه د لوستونکو لپاره برابر سي.

صحاف نشراتي مؤسسې په یکړسر باندي د پښتو ادب د خپرېدو درونډکار پرغاړه اخیستی دئ. نه دکومي بهرنۍ مؤسسې او نه د کوم دولتي اورګان مالي ملاتړ لري. یوازي د پښتو میني او په دغه اوسني وخت کي خپل فرهنګي مسئولیت مجبوره کړې ده چي تر خپل وس بالا بار پورته کړي. مونږ به هله د زیاتي خوښۍ احساس وکړو چي د محترمو لوستونکو له خوا د دغه حاضر چاپ د نیمګړتیاوو په ښوولو سره ونازول سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې هڅه کوو او کړې مو ده چې د پښتو ادب پخوانۍ او اوسنۍ ملغلري د مینه والو ترلاسه پوري صحیح سلامتي ورسوو. له پاک خدایه څخه په دې لارکي توفیق غواړو.

په پای کي هوتک صاحب ته د ښه صحت او اوږده ژوند دُعا کوو چي هغه څېړنیز کارونه او لیکني چي د دوی په پروګرام کي دي ترسره کړي او په ژوند کي یې د خپل زړه هغه ارمانونه پوره سي چي دی یې هیله من دی او د دې انتقادي او تحقیقي متن د بیا چاپ مبارکي ور ته وایو. (په درنښت)

صحاف نشراتي مؤسسه

۲۰ / کب /۱۳۸۷ل کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سریزه:**

# د میرزا حنان بارکزي دېوان

## (نوی چاپ)

د میرزا حنان بارکزي دېوان ادبي نړۍ ته وار د واره د کابل پښتو ټولنې وړاندې کړ. خطي نسخې یې هم سته چې زما د معلوماتو له مخې ټولې د ده پخپل لاس خطاطي سوې دي. د ۱۳۶۹ش کال په دوبي کې د ده په لاس کښل سوې خطي نسخه د ښاغلي حمدالله صحاف پر لاس ما ته را ورسېده او سمدلاسه مې چاپ ته د تیارولو کار پر شروع کړ شپږ، اووه میاشتې مې د کراچې ښار په سخته ګرمۍ کې له سهاره تر ماښامه کار پر وکړ د کابل چاپ له دېوان سره مې مقابله کړ، سریزه او لغتنامه مې ور ته ولیکله او په پای کې مې په خپل لاس خطاطي سوی متن ښاغلي صحاف ته تسلیم کړ او د ده په همت د ۱۳۷۰ش کال په حمل کې د پنځوسوو ټوکو په تېراژ له چاپه را و وت.(۱) د همدې کال په پای کې صحاف صاحب د میرزا حنان د دېوان یوه بله ښکلې خطي نسخه له کوټې څخه کراچې ته راوړه او ما ته یې د کتلو له پاره را وسپارله. دا نسخه هم د میرزا حنان پخپل لاس کښل سوې وه چې بشپړه معرفي به یې تاسې د همدې لیکنې په یوه برخه کې ولولئ. د دې نسخې په کتلو سره ډېر ارمان را ته ودرېدئ چې کشکې خو دا نسخه څو میاشتې وړاندې لاس ته راغلې وای او د هغې په مرسته به یو ډېر بشپړ دېوان تهیه سوی وای. اوبه تر ورخ اوښتې وې او ارمان هم څه ګټه نه کوله. زما په لاس چاپ سوی دېوان مې ورسره وکوت او هغه غزلې، قطعې او قصاید مې په جلا کتابچه کې ځنې را نقل کړل چې زما له خوا په چاپ سوي دېوان کې نه وه. د نسخې د ځانګړتیاوو یاداښتونه مې هم واخیستل.(۲) دغه وخت ما کاناډا ته د تګ په نیت غوټې تړلې وې او د ۱۹۹۲ع کال د جولای پر دوهمه دغه هیواد ته کډه سوم. په غوټو کې مې تر کالیو کتابونه ډېر را اخیستي وه او په هغو کې همدغه کتابچه هم پرته وه. د میرزا حنان د دېوان تر دغه چاپ شپږ کاله وروسته ښاغلي صحاف کاناډا ته

---

(۱) زما په لاس د خطاطي سوي دېوان اصل د ښاغلي حمدالله صحاف په کتابتون کې خوندي دئ. (۲) د دې کتابچې د اشعارو په پای کې مې داسې کښلي وه: د یکشنبې په ورځ د ۱۳۷۱ ش کال د حمل په دوهمه چې د ۱۴۱۲ق کال د روژې د مبارکې میاشتې اتلسمه او د ۱۹۹۲ع کال د مارچ دوه ویشتمه کېږي، د مازیګر پر پنځو بجو یې له نقل څخه فارغ سوم. محمد معصوم هوتک، ګلشن اقبال، کراچي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال را واستاوه چي د بلوچستان کوټي پښتو اکېډمۍ هم د میرزا حنان بارکزي دیوان چاپ کړ. څه موده وروسته دغه چاپ تر ما پوري هم راورسېد. دا دیوان د ښاغلو سید خیرمحمد عارف او سعید ګوهر په زیار خپور سوی دئ. حواشي او تعلیقات یې سید خیرمحمد عارف لیکلي دي او ښاغلي سعید ګوهر یې پر متن باند ي(نظر ثاني) کړی او هم یې زما له چاپ سره د مقابلې دقیق کار سر ته رسولی دئ. دا چاپ له هغې خطي نسخې څخه تهیه سوی دئ چي وایي میرزا حنان پخپل لاس باندي د ملا سیف الدین کاکړ لپاره په ربیع الاول ۱۲۹۰ هجري کي استنساخ کړې وه او د نوموړي ملا سیف الدین کاکړ د لمسي سعدالدین دلرېش لخوا د دغه چاپ مرتبینو ته ورکړه سوې وه چي زه (هوتک) د سعدالدین دلرېش دغه فرهنګي سخاوت د زړه له کومي ستایم. که به د ژوند پر مېنه وي، پاک خدای ﷻ دې په عزت لري.[1] په دې چاپ کي زما په لاس تر چاپ سوي دیوان پنځه پنځوس غزلي او یوه قطعه زیاته سته چي یو غټ اضافت دئ. د میرزا حنان پر کلام باندي په سریزه کي مبسوط بحث سوی دئ خورا زیاتي تفصیلي حاشیې ور ته لیکلي سوي دي او د قاموس برخه یې هم له لمنلیکونو (حاشیو) سره ګډه کړې ده. د کوټې چاپ دیوان پخپل وخت کي د میرزاحنان د کلام تر ټولو بشپړه مجموعه ده. د دغه چاپ په سریزه کي یې کښلي دي چي: (دلرېش د قندهار د ښکارپور بازار په قوچخانه کښې استوګنه درلوده – ۱۰ مخ). قوچخانه چي اولسي نوم یې ګوشخانه دئ، په ښکار پور بازار کي واقع نه ده، بلکي په همدې نامه دوه کلي تر ښکارپر دروازې دباندي پراته دي. یوه ته یې د کاکړو ګوشخانه او بل ته یې د الکوزو ګوشخانه وایي. ښاغلي سعید ګوهر د دیوان په پای کي زما د چاپ اختلافي برخي هم پر زیاتي کړي دي او د خپلي لیکني په ۲۲ مخ کي یې ویلي دي چي: (د کابل د پښتو ټولني او د معصوم مطبوعه دیوان تر ډېره حده سره یو دی). نه پوهېږم چي ګوهر صاحب ولي دا دوه چاپه یو راز ګڼلي دي. زما لخوا په مطبوعه دیوان کي خو دوه اویا ۷۲ غزلي، یوه قصیده وشمه غزله، یو مناجات، څلور قطعات، یو مثنوي (سراپا)، څلور تاریخي څلوریځي او معماوي، یو بل مثنوي (ختم کتاب) او په لسهاوو بیتونه د کابل د پښتو ټولني تر چاپ زیات دي او که د ټول اضافه کلام بیتونه وشمېرل سي، شمېر یې شپږ، اووه سوه بیتو ته رسېږي. د دغه اضافت په سته والي کي د دې دوو چاپونو د یو شان ګڼلو د توجیه لپاره زما فکر کار نه کوي. د پېل په خبرو کي یې پر ما دا نیوکه (انتقاد) هم کړې دئ چي ګویا ما (... د میرزا حنان بین المللي ادبي پښتو قصداً په قندهارۍ لهجه بدله کړې ده).[2] زما د دې قصدي عمل دلایل زما په چاپ دیوان (ع، ف مخونو) کي په تفصیل سره بیان سوي دي او د ښاغلي ګوهر صاحب د دې نیوکي جواب مي د یوې بېلې مقالې په ترڅ کي ورکړی دئ چي تاسي به یې د همدې لیکني په پای کي ولولئ.

---

(1) د دلرېش په نامه د پښتو یو محلي شاعر په کندهار کي سته. (۲) د مرزا حنان بارکزي دیوان، ۲۲۴ مخ، د کوټې بلوچستان چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه موده وړاندې ښاغلي صحاف صاحب د میرزا حنان د دېوان د بیا چاپ خبره راسره طرحه کړه او ما ور ته و ویل چې په دې چاپ کې باید هغه برخه، چې موږ ته نوې په لاس راغلې وه، هم زیاته سي. ده راسره ښه کړله او د ۲۰۰۸ ع کال په جون کې یې تیار سوی متن کاناډا ته د پوستې له لارې را ولېږئ. په دې متن کې یې د حنان نوی موندل سوی کلام په هماغه ځایو کې ور اچولی ؤ، چې ما ور ته نښاني کړې ول او هم یې زما له یادونو سره سم د لومړي چاپ کمبوتۍ د نوې خطي نسخې په مرسته ور پوره کړې وې. د لیکدود په برخه کې یې د حنان خپله لهجه او زما سپارښتني په پام کې نیولې وې. یوازې یې د مرستندویو افعالو (س) په (ش) اړولی و او زه فکر کوم چې محترم صحاف صاحب په دې ډول غوښتي دي ځان د هغو کسانو له جنجاله خلاص کړي، چې د معیاري لیکني لپاره یې یوازنی معیار په دغو ځایو کې د (س) پر ځای (ش) لیکل دي. ما پخپل کتاب (پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه) کې د معیار د غه شان درک ته (عامیانه درک) ویلی دئ او دا کار مې د معیاري لیکني په برخه کې یوه ډېره جزئي او بې اهمیته برخه بللې ده نو له همدې امله مې په دې نوي چاپ کې د ښاغلي صحاف صاحب په بدلونونو کې د اصلاح هڅه و نه کړله. د متن نوره ژبه د حنان مرحوم خپلي ژبې ته ورته ده. په دې متن کې د کوټې تر چاپ شپږ دېرش غزلې، قطعې او قصیدې زیاتي دي او په دې ډول ویلای سو چې دا متن د حنان د کلام تر ټولو پوره او بشپړ متن دئ خو هغه د چا خبره (ګل بې اغزي نه وي)، د دې متن یوه نیمګړتیا دا ده چې نه ما او نه هم صحاف صاحب د دې فرصت موندلی دئ چې ټول متن دې له کوټې چاپ سره بیا مقابله سي. دا حاضر متن پر څو لاسه ترتیب سوی دئ او هرو مرو به داسې نوري نیمګړتیاوې ولري چې ما به یې یادونه نه وي کړې. له ښاغلو لوستونکو څخه هیله لرم چې د نیمګړتیاوو د موندلو په صورت کې دې د کتاب ناشر ته خبر ورکړي چې په بل چاپ کې سمې سي.

په دې چاپ کې چې کومو چاپي او خطي نسخو ته اشاره سوې ده، هغه په دې ډول ښوول سوي دي:

اصل = د حمدالله صحاف د کلکسیون هغه خطي نسخه چې ما د ۱۳۷۰ ش (۱۹۹۱ع) کال په چاپ کې د اصل په توګه ټاکلې وه.

چاپي دېوان = د کابل پښتو ټولنې چاپ، د حنان بارکزي دیوان، ۱۳۳۲ش.
ب = د پښتو اکېډمۍ بلوچستان کوټه چاپ، د میرزا حنان بارکزي دیوان، اپریل ۱۹۹۲ع
بله نسخه = د حمدالله صحاف په خطي کلکسیون کې د میرزا حنان بارکزي د دېوان نوې موندل سوې خطي نسخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نسخې معرفي:

ګچه ۱۳,۵ * ۲۰,۵

دا نسخه چي ما ته د حنا ن د دېوان تر خپرېدو وروسته د ۱۳۷۰ ش کال د حوت په میاشت کي په کراچي "سند ه" کي په لاس راغله د میرزا حنان په خپل لاس کښل سوې ده. دا نسخه کوټي ته د کتابو سوداګرو له کابله راوړې وه چي زما دوست حمد الله صحاف ما ته کراچي ته له څو نورو خطي نسخو سره راوړه. نسخه پر خړ وشمه نازک "نسبتاً" په توره سیاهي کښل سوې او هر مخ یې دوه زرین چوکاټه لري د بیاض چوکاټ یې د دوو تورو کرښو تر منځ زرین دئ او هغه چوکاټ چي متن پکښې لیکل سوئ دئ. د لاجوردي سرې او دوو تورو کرښو وروسته زرین سوئ دئ. د دې دوو چوکاټو تر منځ فاصله تقریباً دوه سانتي متره ده. د هري غزلي مقطع بیا په علیحده چوکاټ کي نیول سوې ده. د هر بیت د دوو مصرعو تر منځ فاصله هم په زرینو کرښو جلا سوې ده. نسخه په سر کي یو میناتور هم لري. په هر مخ کي یې ۱۲ کرښې دي. مخونه یې پر منظم رکاب سربېره هندسي عدد هم لري. د هندسي اعدادو د لیکلو طرز یې ما ته تر اوسه پوري نه و معلوم. لس د "۱۰" په شکل خو پنځوس... اتیاء نوي، بیا د "۵، ۸، ۹" په ډول سل، یوسلو یو ... یوسلو نهه د "۱:، ۱:۱، ۱:۲، ...، ۱:۹، ۱:۱۰" په شکل کارېږي. د دوو مخونو لپاره یو عدد لیکي. په دې معنا چي د نسخې د ټولو مخونو شمېر په هندسي عدد "۱۲۰" دئ چي "۳۲۰" مخه کېږي. د څرمني کلکه وقایه لري چي وروسته ترمیم سوې هم ده او تور چرمي بېخ ورلو بدلئ دئ. د ترمیم په وخت یې ځای ځای توري لانده سوي او اوبو وهلي دي او له لوستولو یې ایستلي دي. د دې نسخې د متن ټولي غزلي په هغه نسخه کي سته چي ما په چاپي متن کي د اصل په توګه ټاکلې وه. خو د حاشیو غزلي یې په هماغه نسخه کي نسته. د دې معنا دا ده چي د حاشیو دا غزلي د هماغي نسخې تر لکلو یعني د ۱۲۸۰ هـ ق کال وروسته شاعر ویلي دي. په دې حساب دا نسخه تر هماغي نسخې چي ما ته د مخه په لاس راغلې وه او چاپي متن مي ور څخه تهیه کړ وروسته کښل سوې ده. یو ځای یې د دېوان د بشپړېدو تاریخي ماده ویلې ده چي ۱۲۹۲ هـ ق څیني راوزي. د اروا ښاد پوهاند رشاد په نسخه کي به هم دغه تاریخي ماده وه. چي د حنان ژوند یې تر ۱۲۹۲ هـ ق پوري یقیني بللئ و او ما په چاپي متن کي اشاره ور ته کړې ده. په هر صورت د دې نسخې د استنساخ کال د ۱۲۹۲ هـ ق کال وروسته زمانه ده. د نسخې لیک نسخ دئ په مقطع کي د شاعر نوم "حنان" په سره رنګ لیکل سوئ دئ. لیکدود یې کټ مټ د هماغي بلي نسخې په شان دئ ځکه دواړه د حنان په خپل لاس کښلي نسخې دي مګر دا نسخه ډېره مکمله ده. کاشکي د حنان د دېوان د چاپ پر وخت ما ته دا نسخه په لاس راغلې وای، ډېر ښه متن به تري جوړ سوئ وای. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنان د پلار وفات نېټه په دې نسخه کي بل راز ده او کال يې هم د هماغي بلي نسخې له تاريخي مادې سره توپير لري. هورې د حنان د پلار د وفات کال د **۱۲۴۸** هـ ق او دلته **۱۲۵۹** هـ ق ښودل سوئ دئ چي تحقيق غواړي. د نسخې د سر له خوا څو پاڼې صحافتي ګډوډۍ لري. په پای کي يې د فالنامې جدول سته خو د فالنامې په نامه شعر نه لري.

په دغه نسخه کي "**۳۲**" غزلي قطعې او قصيدې تر نورو چاپي و خطي نسخو زياتي دي.

بايد و وايم چي د حنان د دېوان دواړه خطي نسخې (اصل، بله نسخه) د محترم صحاف صاحب په خطي کلکسيون کي خوندي او له سره وقايه سوي دي. د صحاف صاحب له يادوني سره سم د نسخې په هغو مشخصاتو کي، چي ما يې يادونه کړې ده، بدلون نه راغلی دی.

زه له محترم حمدالله صحاف څخه يو وار بيا د زړه له کومي مننه کوم چي خپل شخصي کتابتون او د خطي آثارو ارزښتناک کلکسيون يې په اخلاص او سخاوتمندۍ سره تل زما او نورو څېړونکو په واک کي ايښی دئ. دا يې له خپلي ژبې، ادب او فرهنګ سره د بې آلايشه مينې ډېر ښه ثبوت دئ. له بده مرغه پښتانه د خپلو خواخوږو په پالنه او ستاينه کي د نورو قومو په شان ډېر جدي خلک نه دي کنه لازمه وه چي د ښاغلي صحاف په باب د ستاينو ډېر څه سوي واى. خدای ﷻ دي دی ژوندی ، بريالی او سرلوړی لري.

د پښتو فرهنګ د لا نور غوړېدو او خپرېدو په هيله.

**محمد معصوم هوتک**

اوکويل – اونټاريو – کاناډا
۱۴مه د اګست ۲۰۰۸ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به ښاغلو لوستونکو ته د هغي لیکني د لوستلو تکلیف بیا ورکړم چي ښایي څو کاله وړاندي یې په "هیله" مجله، دویم کال، لومړۍ ګڼه، **41- 49** مخونو کي لوستلې وي. (م، هوتک)

## د میرزا حنان بارکزي په شعر کي تعمیې

د پښتو ژبي نازکخیال شاعر میرزا حنان بارکزی د حمید مومند د ادبي لاري له پیاوړو لارویانو څخه دئ او کلام یې په ډېرو ښکلو رنګینیو پسوللی دئ. حنان بارکزي د پښتو او دري کلاسیکو شاعرانو په پیروی د ځینو تاریخي پېښو نېټې د تعمیې په ادبي صنعت کي ښوولي دي او یو ونیم معماوي یې هم په کلام کي سته. د معما ادبي صنعت د کلاسیکي شاعرۍ یوه ښېګڼه وه، چي د شاعر په کمالو کي شمېرل کېدله. (۱) تاریخي مادې معمولاً په داسي کلماتو کي لټول کېږي، چي له یوې خوا مطلوبه نېټه په پوره سي او له بل پلوه د معنا په لحاظ له موضوع سره اړیکي هم ولري خوندوري وي او شعریت هم پکښې وي. ځینو شاعرانو کله کله په تاریخي مادو کي یوازي د ابجد په تورو باندي خپل مطلوب کال پوره کړی دئ، نو یې د تاریخي مادې په معنا پسي نه دي کتلي. د خوشالخان په کلام کي پر دغه راز تاریخي مادو ډېر پېښېږو. نوموړی له بنګښو سره د ګنبت د جنګ کال نېټه داسي بیانوي:

د هجرت د کال غفو و په حساب کښې
پـه غـره واوره وربـدلې نیسـاني وه (۲)
۱۰۸۲ هـ ق

دا سږ کال چي د غصج دئ چي غصد شي
امیـدوار اوسـه لـه بختـه لـه اقبالـه (۳)
(غصج = ۱۰۹۳، غصد = ۱۰۹۴)

---

(۱) زموږ ځوان شاعران له دې صنعته ځان پېچي او ځیني یې لا کړي هم. دا چي دا کار ښه دئ که بد، زما د لیکني موضوع نه ده او تر تېر بېږم. (۲) د خوشحال خان خټک مرغلري –۹۸۲ مخ –۱۳۱۷ ش- کندهار. په ۹۸۷ مخ کي چي "عفو" ته ۱۰۸۹ کښل سوي دي، د کتابت تېروتنه ده. (۳) هماغه اثر –۲۲۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چي د میرزا حنان بارکزي د دېوان ځیني خطي او چاپي نسخې کتلي دي، د دغو تعمیو پر ببلابېلو ثبتونو پېښې سوی یم. د دغه راز تنوع علت به دا وي، چي د حنان د دېوان زیاتره قلمي نسخې د ده پخپل لاس کښل سوي دي او بدلونونه هم پخپله ده پکښې راوستي دي. ده ته چي په یوه تاریخي ماده کي د التباس پېښېدلو احتمال ښکاره سوی دئ یا یې تر پخوانۍ مادې بله موزونه او مناسبه ماده موندلې ده، هغه یې په نوې نسخه کي ځای کړې او پخوانۍ یې ځني ایستلې ده. هغه تاریخي مادې، چي نوي یې ویلي دي، څرګنده خبره ده چي په زړو نقلونو کي نسته.

د میرزا حنان بارکزي د دېوان درې چاپي نقلونه زموږ په لاس کي سته. د کابل د پښتو ټولني چاپ ۱۳۳۲ش کال، زما (هوتک) ۱۳۷۰ ش کال او د بلوجستان کوټې د پښتو اکیډمۍ چاپ ۱۹۹۲م کال. په کابل چاپ کي یو دوې معماوې سته خو هغه داسي شعرونه نه دي، چي تاریخي پېښو ته دي د تعمیې په بڼه کي اشاره سوې وي. ما چي د حنان بارکزي دېوان ترتیباوه (۱۳۷۰ش) یوه خطي نسخه (زما د ګران دوست ښاغلي حمدالله صحاف د کتابتون) او بله د پښتو ټولني چاپي نسخه را سره وه. په خطي نسخه کي، چي غالباً به د میرزا حنان پخپل لاس کښل سوې وي، پنځه معماوې ثبت وې، چي یوه یې ما د چاپي دېوان په ۷۵ مخ کي او څلور نوري په ۲۴۴مخ کي ثبت کړي دي. د کوټې چاپ دېوان له هغي خطي نسخې څخه ترتیب سوی دئ، چي د حنان پخپل لاس په ۱۲۹۰ هجري قمري کال لیکل سوې ده. د کابل د پښتو ټولني چاپ او زما له خوا د ترتیب سوي چاپي دیوان نسخه بدلونونه هم لري. په دې چاپ کي شپږ معماوې سته، چي یوه یې د دېوان په ۱۲۰مخ کي او نوري پنځه یې په ۲۲۰-۲۲۱ مخو کي راغلي دي.

ما ته د میرزا حنان بارکزي د دېوان تر خپرولو وروسته د یوې خطي نسخې د کتلو موقع برابره سوه، چي په ۱۲۹۲ ق کال یا تر هغه وروسته د حنان پخپل لاس لیکل سوې ده. دا نسخه ښاغلي صحاف ته وروسته په لاس ورغله او ما ته یې د کتلو لپاره راکړه. نسخه د استنساخ کال نه لري خو په خاتمه کي یې یو بیت ور زیات کړی دئ، چي په نورو نسخو کي نسته. هغه بیت داسي دئ:

په اتمام کي چي مې وکړ استفسار
عقـــل و ویـــل تـــاریخ اختصـــار
اختصار = ۱۲۹۲

ما د ترتیب سوي دېوان د سریزې په ((د)) مخ کي د فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د لیکنو په حواله د حنان ژوند تر ۱۲۹۲هـ ق پوري یقیني بللی دئ. فکر کوم، چي پوهاند رشاد صاحب ته به هم دغه بیت رسېدلی ؤ. په دې ډول دا نسخه تر هغې نسخې دوه کاله وروسته لیکل سوې ده، چي د کوټې چاپ د ښاغلي مرتب په واک وه. دا نسخه تر نورو موجودو نسخو څه د پاسه دېرش غزلې او قطعې زیاتي لري او د معماوو شمېر یې اووه دئ خو ځیني تاریخي مادې یې له نورو نسخو سره توپیر لري. زه به که د خدای ﷻ رضا وه د حنان د شاعرۍ دغه پاته برخه یو وخت د پښتو ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستانو ته وړاندي کوم. سمدلاسه به د دغو معماوو او تاریخي مادو بېلابېل شکلونه او د هغو حل درنو لوستونکو ته وړاندي کړم. د دې خبري یادول ضروري بولم، چي له دغو معماوو څخه ځیني یې په دري نوټونو او د بدیع په کتابو کي حل سوي دي.

معماوي:

د میرزا حنان بارکزي په دېوان کي د میم ردیف یوه غزله سته، چي پر بې نقط ادبي صنعت ویل سوې ده. په مقطع کي یې شاعر خپل نوم (حنان) په یوه معما کي راوړی دئ، چي زما له خوا په ترتیب سوي دېوان (۷۴مخ) او د کوټې چاپ دېوان په ۱۲۰ مخ کي یې ثبت داسي دئ:

معمـــا مـــي ده د اســـم دوه ســـمکه
حـــا و دوو ســـمکو ورکـــړه دا علـــم

د پښتو ټولني (کابل) چاپ دېوان په ۷۵ مخ کي دغه معما په لږ بدلون سره داسي راوړې ده:

معمـــا مـــي د اســـم دوه ســـمکه
حـــاد درو و ســـمکو ســـر کـــړ و اعلـــم

حل: سمک په عربي کب "ماهي" ته وایي. نون یې هم بولي. دلته له "دوو سمکو" څخه مطلب دوه "نون" دي. د "حا" توري (ح او الف) چي د دوو نو نو سر سي یعني د یوه نون له سر سره "ح" او د بل نون له سر سره "الف" ونښلول سي، "حنان" لاس ته راځي:

ح+ن+ا +ن= حنان

په دې ډول نو د کابل چاپ ثبت سم ښکاري په دې شرط چي د "درو سمکو" پر ځای "دوو سمکو" کلمات ور ولو ېږي.

معمـــا مـــي ده د اســـم دوه ســـمکه
حـــا د دوو ســـمکو ســـر کـــړه، و اعلـــم

"وَ اَعلَم" په معما کي داخله کلمه نه ده، صرف د شعر قافیه په سمه سوې ده او معنا یې "پوه سه" ده.

دوهمه معما زما د دېوان په ۲۴۴مخ او د کوټې چاپ دېوان په ۲۲۰مخ کي راغلې ده. په کابل چاپ کي بیخي سته نه.

یـــو ایلچـــي راغـــی لـــه هنـــده دلاوره ورســـره عجـــب حیـــوان و بـــرادره
دا حیـوان قـادر پخپـل قـدرت جـوړ کـړی لس یې خولې او دېرش یې پښې اتیا یې سره

دا معما د (فیل) په نامه ده.

ف=۸۰، ی =۱۰، ل=۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې معما حل ما په دیوان کې راوړی دئ، چې د کوټې چاپ د ښاغلي مرتب په واک کې هم ؤ. خو نه پوهېږم چې ولې یې په حاشیه کې (معنا ئې را معلومه نه شوه) ور ته کښلې دي؟

دریمه معما د (مدینه) په نامه ده، چې زما د دیوان په ۲۴۴مخ او د کوټې چاپ په ۲۷۰ مخ کې راغلې ده.

افلاکونه یې په نور د جبین ونیو     درست جهان یې نبوت په نګین ونیو
پر نامه د مدینې معجزه ګوره     چې مه څیري سوه په میان کې یې دین ونیو

په دې معما کې د حضرت محمد ■ په لاس د شق القمر معجزې ته اشاره سوې ده او حل یې ساده دئ "مه" چې څیري سي یعني "میم" او "ها" یې سره جلا سي، "دین" یې په منځ کې ور ولوېږي، "مدینه" ځني جوړېږي. د کوټې چاپ ثبت یې داسې دئ:

افلاکونه یې په نور د جبین ونیو     درست جهان یې نبوت په نګین ونیو
پر نامه د مدینې معجزه ګوره     چې ماه څیری شوه په میان کښې ئې دین ونیو

دلته د (ماه) لیکدود معما ته زیان رسولی دئ. ځکه که (ماه) څیري سي او (دین) یې میان ته ور ولوېږي نو به یا (مدیناه) ځني جوړېږي یا (مادینه) چې دواړه شکله یې سم نه دي.

تاریخي مادې:

میرزا حنان د خپل پلار د وفات تاریخي ماده د خپل دیوان په یوه نسخه کې داسې راوړې ده:

زما پلار محمد حسن د دین پنجه     خدای دې ورکړي په جنت کې سراچه
له هوښیاره مې د مرګ وکړه پوښتنه     را تې و ویل تاریخ سو مرغ چه

دا تاریخي ماده زما په لاس د ترتیب سوي دیوان په ۲۴۴ مخ کې سته. د "مرغ چه" ابجدي ارزښت ۱۲۴۸هـ ق کېږي او ما دغه کال د حنان د قبله ګاه د مړیني کال بللی دئ، چې سم استخراج نه دئ او وروسته به پر ورغېږم. لکه وړاندې چې مې و ویل د حنان د دیوان د ترتیبولو په وخت کې زما سره یوازې یوه خطي نسخه وه او چاپي نسخې دغه اشعار نه درلودل. له یوه ثبت څخه ما دا حقیقت نه سوای معلومولای چې د نوموړي شاعر پلار په رښتیا سره په همدې کال وفات سوی دئ که یه؟ دغه تاریخي ماده له اصل پېښې سره د مفهوم او معنا هیڅ راز اړیکی نه لري، یوازې یې مطلوبه سنه په پوره کړې ده. دا کار د میرزا حنان خپل بدعت نه، بلکې د قدماوو پر لار تللی دئ. د خوشالخان خټک په کلام کې مو د دغه راز تاریخي مادو بېلګې د مخه ولوستلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوټې چاپ چې له کومې نسخې څخه برابر سوی دئ، هورې حنان د خپل پلار د مړینې بله تاریخي ماده ویلې ده. (۲۲۰مخ)

قبلــه ګــاه مــی پــه عمــل لکــه بیضــه | د ریــا لــه غشــی ئــې خلاصــه فضــه
هــاتفي ئــې پــه وفــات کښــی دغــه و وې | چــې تــاریخ ئــې دا مقــام ســو روضــه

تر دې مادې لاندې بې په عدد ۱۲۵۸ کښلې دي چې په دې حساب نو تاریخي ماده "مقام سو روضه" ده. ما ته چې د حنان دېوان تر چاپ وروسته د بلې نسخې د لوستلو موقع برابره سوه، هورې بیا شاعر د خپل پلار د وفات نېټه په نورو کلماتو کې موندلې ده او ابجدي ارزښت یې د کوټې چاپ تر تاریخي مادې یو کال زیات دئ. هورې داسي لولو:

قبلــه ګــاه مــي و جــوار تــه د کــریم | شـــو روان الحکـــم لله الحکـــیم
لــه هوښــیاره مــې د مــرګ پوښــتنه وکــړه | ول تــاریخ یــې دئ لــه اجــر عظــیم

د "له اجر عظیم" ابجدي ارزښت ۱۲۵۹ کېږي.

له دغو درو تاریخي مادو څخه داسي نتیجه را ایستلای سو، چې "مرغ چه" به غالباً "مرغی چه" وي ځکه پخوانیو کاتبانو او په هغو کې پخپله میرزا حنان زیاتره وخت (ی) په زېر (کسره) سره ښیې. د "مرغی چه" کلمې (ی) به یې غالباً په زېر سره ښوولې وي، چې هغه هم له کتابته پاته سوی دئ. په دې توګه نو د تاریخي مادې ارزښت ۱۲۵۸ کېږي. دا کال د کوټې چاپ دېوان له مادې سره برابر دئ. زما استنباط پر دې دلیل ولاړ دئ، چې له میرزا حنان غوندي قادر الکلام شاعر څخه په یوه تاریخي ماده کې، هغه هم د خپل پلار د مړینې په ماده کې د لسو کالو توپیر توقع نه سي کېدلای. په وروستۍ تاریخي ماده کې یې د "اجر" کلمې د سر همزه په محاسبه کې نه ده شمېرلې. دا چې معمائیون دې کار ته اجازه ورکوي که یه؟ زه سمدلاسه څه نه سم ویلای خو دومره ویلای سم، چې د حنان د پلار د مړینې کال به ۱۲۵۸ ق ؤ.

ښاغلي سعید ګوهر صاحب د میرزا حنان بارکزي د کوټې چاپ دېوان په ۲۲۴مخ کې زما په لاس برابر سوي دېوان باندي یوه نیوکه کړې ده او هغه دا چې ما (د میرزا حنان بین المللي ادبي پښتنو قصداً په قندهارۍ لهجه بدله کړې ده). هو. ما د میرزا حنان دېوان د ده پخپله لهجه برابر کړی دئ او دا مې عقیده ده چې پخواني متون باید د لیکونکي یا شاعر په خپله لهجه برابر سي. دا کار تر ما د مخه هم سوی دئ. د حاجي جمعه بارکزي دېوان هم د ده پخپله لهجه د ښاغلي زلمي هیواد مل صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په زيار ترتيب سوی دئ. سريزه او لغتنامه يې پوهاند عبدالشکور رشاد کښلې ده. ښاغلي هيوادمل صاحب پخپله سريزه کي د دغه کار علتونه هم بيان کړي دي او ويلي يې دي، چي متون بايد د شاعر پخپله لهجه ثبت سي. [1] ما هم د دوی په استناد د دېوان د سريزي په (ع) مخ کي خپل دلايل راوړي دي. که دا کار يو ادبي او تاريخي ضرورت نه وای نو ولي به د کوټې چاپ ښاغلي مرتبين مجبورېدلای چي د حنان بارکزي د پلار د وفات تاريخي ماده د (بين المللي پښتو) پر خلاف (مقام سو روضه) ثبت کړي او (مقام شو روضه) يې و نه ليکي.[1] د دې کار اړتيا بالکل څرګنده ده. که يې دا کار کړی وای نو د ميرزا حنان مرحوم پلار به تر ننه پوري ژوندی وای او اتيا کاله به يې نور ژوند هم په مخ کي وای ! ځکه د (مقام شو روضه) ابجدي ارزښت ۱۴۹۸ کېږي او دې سنې ته لا نور اتيا کاله انتظار په کار دئ !

بله تاريخي ماده د برهان نامي د وفات نېټه ده. دا سړی په ټولو خطي نسخو کي د (اخوی ام برهان) په القابو ياد سوی دئ. په همدې دليل ما او د کوټې چاپ ښاغلو ترتيبوونکو د ميرزا حنان بارکزي ورور بللی دئ. که څه هم کله کله تېروني يار او اشنا ته هم د (اخوی) خطاب راتلای سي. د وفات قطعه يې ما داسي راوړې ده:

د برهـــان مـــرګ مـــي پـــر زړه اور بـــلاوه    پـــه پوښـــتنه مـــي همـــه ځـــای لټـــاوه
د وفـــات تـــاريخ يـــې دا هـــاتفي و وې    لـــه دا نـــيم برهانـــه مـــخ وګـــرزاوه

د دغي تاريخي مادې د ليکلو په برخه کي ما د دېوان د سريزي په (د) مخ کي خپل نظر او په خطي نسخو کي د فتحې او کسرې پر کارولو خبري کړي دي مګر په محاسبه کي مي بيا هم سمي نه دي تطبيق کړي. ما د علمي احتياط په حکم کښلي دي، چي که دا ځلوريځه (ما سمه حل کړې وي، نو ۱۲۸۳ ق ځني راوزي). خو لکه چي معلومېږي، سمه مي نه ده حل کړې. ځکه زما محاسبه (له دا نيم برهان مخ وګرزاوه) جملې له مخي وه خو په (له) کي مي بايد د (ها) ابجدي ارزښت (۵) نه وای شمېرلی. اوس چي له پورتنۍ سنې څخه پنځه و ايستل سي، يو زرو دوه سوه اته اويا پاتېږي. دا خو له پورتنۍ جملې څخه سمه استخراج سوې سنه ده، مګر د ميرزا حنان مطلوبه سنه نه ده. په دې دليل

(1) د حاجي جمعه بارکزي دېوان – سريزه – ۱۳۷مخ – ۱۳۶۰ ش – کابل.

(1) له بده مرغه د (هيله) مجلې مسئولينو زما د همدې مقالې د خپرولو په وخت کي د معيار د عاميانه درک تر اغېزې لاندي هم د حنان په شعر او هم زما په ليکنه کي لاس وهلی دئ او د (مقام سو روضه) تاريخي ماده يې (مقام شو روضه) ثبت کړې دئ. د دوی په نظر خو يې به (شو) باندي د (سو) په بدلولو سره د حنان شعر او زما ليکنه د چا خبره معياري کړې ده ! خو زما د استدلال ودانۍ او د تاريخي مادو په ويلو کي د حنان ټولي خوارۍ يې ګډې وډې کړي دي. ځکه ميرزا حنان د خپل پلار د مرګ نېټه ۱۲۵۸ ق ښوول غوښتي دي او دا عدد له (مقام سو روضه) څخه لاس ته راتلای سي. که يې د معيار د عاميانه درک په اغېزه (مقام شو روضه) وليکو، څرنګه چي د دې جملې ابجدي ارزښت ۱۴۹۸ کېږي، نو معنا به يې دا وي چي د حنان پلار مرحوم اوس هم ژوندی دئ او حنان يې په نوموړې قطعه کي د مړيني پېشګويي ! کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د کوټي چاپ نو موړي څلوريځه داسي راوړې ده:

د برهان مرګ مې په زړه اوربلاوه | په پوښتنه مې ئې هر ځای لټاوه
د وفات تاريخ ئې دا هاتفي و وې | له دا نيمه برهان مخ وګرځاوه

او تر لاندي يې په عدد ۱۲۷۷ کښلي دي. زما او د کوټي چاپ په ثبت کي شکلي توپير سته خو له دواړو تاريخي مادو څخه ۱۲۸۳ راوزي چي د شاعر له مطلوبي سنې سره شپږ کاله توپير لري. د کوټي چاپ ښاغلو ترتيبونکو يو ښه کار دا کړی دئ، چي په لمن ليک کي يې د خطي نسخې اصلي ثبت هم راوړی دئ چي زما په خطي نسخه کي يې هم کټ مټ دغه شان املاء وه يعني (لدا نيم برهان مخ وګرزاوه). له دې جملې څخه هم ۱۲۷۷ نه راوزي بلکي ارزښت يې ۱۲۷۸ کېږي. زما يقين دئ ميرزا حنان چي دغه تاريخي ماده جوړوله، هلته يې د هاتف له خولې د امر صيغه (مخ وګرزوه) په پام کي وه او د (مخ وګرزاوه) الف يې د قافيوي اړتيا له امله ورکړی دئ. اوس که د برهان نامي د وفات تاريخي ماده (لدانيم برهان مخ وکرزوه) جمله ومنو نو سمدم ۱۲۷۷ ځني راوزي او فهو المراد.

د ښاغلي صحاف په دوهمه خطي نسخه کي د دوران نامي د مړيني تاريخ هم راغلی دئ چي نه زما په دېوان کي او نه د کوټي چاپ دېوان کي سته.

هغه داسي دئ:

د دوران د مرګ خبر مات کړم پر ملا | چي مشفق او مهربان و پر هر چا
له هوښياره مې د مرګ پوښتنه وکړه | وې ويل تاريخ زردوه سوه اويا

دا نېټه بيخي څرګنده ده او کومه لانجه نه پکښي پېښيږي.(1)

وروستۍ تاريخي ماده د ميا جان محمد اخندﷺ ده چي د محترم صحاف په دوهمه نسخه او د کوټي په دېوان کي يو راز راغلې ده. د صحاف صاحب په نسخه کي يې په عدد ۱۲۷۳ ور ته کښلي دي او د کوټي په چاپ کي يې ۱۲۷۲تر لاندي ليکلي دي. زما په محاسبه ۱۲۷۳ کال سم دئ. څلوريځه داسي ده:

چي ولي و د خپل وخت فاني في الله | نا اميده يې څوک نه تله له درګاه
يو هوښيار يې په وفات کښي داسي و وې | دا تاريخ مياجان محمد رضی الله

د (ميا جان محمد رضی الله) ابجدي ارزښت ۱۲۷۳ راوزي.(2) د حنان په دېوان کي بله تاريخي پېښه د

---

(1) زه چي د برهان او دوران قافيوي ورته والی د حنان له نامه سره ګورم، دا دواړه د احتياط په قيد د ميرزا حنان بارکزي ورونه ګڼم (د سپتمبر ۲۰۰۴ ع يادښت).

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار مهردلخان مشرقي (۱۲۱۲ – ۱۲۷۱ هـ ق) مرثيه ده. څرنګه چي په هغې کي داسي تاريخي ماده، چي حل دي وغواړي، نسته، ځکه نو ما بحث پر و نه کړ. د دغي مرثيې د سر او پای بيتونه داسي دي:

و جــوار تــه د مــولا ســردار قــرين ولاړ　　　چي مرغـوب د کـل عـالم و پـه تحسـين ولاړ
اعتمــاد بانــدي د کــړو نــه دئ "حنانــه"　　　چي "سـردار مهـردل" لـه دې دنيـا يقـين ولاړ

☒ ☒ ☒

ټورنټو – کاناډا د مارچ دريمه ۱۹۹۸ع

---

(2) دغه مياجان محمد صاحب د کندهار د ذاکر شريف د ميا عبدالحميد صاحب زوی ؤ. (وګورئ: سل بګړې يو پوړنی – ۹۳مخ د ليکونکي اثر).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میرزا "حنان" بارکزی

د دیارلسمي هجري پېړۍ په لومړۍ نیمایي کي په احمدشاهي کندهار کي د علم او معرفت، شعر او شاعرۍ بازار ښه تود و. دا وخت که په سیاسي لحاظ د سردارانو ترمنځ د اقتدار پر سر د خانه جنګۍ عصردئ خو د علم او پوهي په لحاظ د پوهانو او عالمانو ترمنځ د پوهني د مشعل د روښان ساتلو پر سر د سیالۍ زمانه ده. کتابونه تألفیږي، دېوانونه تر تیبیږي، انجمنونه جوړیږي، مشاعري کېږي، د علم د تدریس په حلقو کي په ډېري ګرمجوشۍ سره ځوان استعدادونه روزل کېږي، نوي ځېرې د ادب میدان ته راوزي. دې علمي هنګامې هغه وخت لازیات رونق و موند چي په دې ښار کي د سردار مهردل خان مشرقي "1212 – 1271هـ ق" په لاس د ادبي د بستان "ادبتون" اساس کېښېښوول سو. دې مرکز ډېره پخه تاریخي زمینه او سابقه درلوده او پکښې را غونډ سوي کسان د هوتکو د عصر د نارنج مانۍ د ادبي مجلس او د احمد شاهي عصر د ځلاند علمي ماحول برحق وارثان وو.

د دې انجمن د سر سرۍ سردار مهردل خان مشرقي د سردار پاینده خان زوی دئ. د ده سکني وروڼه "کهندل خان، پردل خان، رحمدل خان او شېردل خان" د کندهار مستقل حکمرانان وو. دا پنځه وروڼه زموږ د هیواد په تاریخ کي "د کندهاري سردارانو" یا "کندهاري وروڼو" په نامه شهرت لري.

سردار مهردل خان مشرقي د پښتو او پاړسي ژبو ښه شاعر، متصوف او د تألیفاتو څښتن دئ. د شعر پر دېوانو سربېره یې د "جمع الجمع" په نامه یو کتاب په تصوف کي کښلی دئ. د "شرح بیتین" په نامه یو منظوم اثر لري چي د مولانای رومي د دوو بیتو شرحه ده. دا اثر د علامه عبدالحی حبیبي له خوا په کابل کي چاپ سوئ دئ. علامه حبیب الله کاکړ کندهاري "حبواخونزاده" د موضوعه احادیثو پرتخریج یو کتاب د "نقد الثقات في تزئیف الموضوعات" په نامه د همدې علم دوست سردار په غوښتنه کښلئ دئ. (1)

د مشرقي د ادبي انجمن مقر د سردار مهردل خان خپل کور و(2) او د انجمن سر ګرمه غړي میرزا "حنان" بارکزی، حاجي عبد الله پوپلزی، صدیق اخونزاده هوتک، ملا میران، طرزي او نور وو.

(1) وګورئ: پښتانه شعراء، دوهم ټوک، 481 مخ.
(2) د تفصیل له پاره و ګورئ: پاشلي ویناوي، د مولوي صالح محمد هوتک اثر، 3 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د بحث وړ شاعر میرزان "حنان" بارکزی دی چي د کندهار ښار جنوبي لور ته د "مرت کلا"(1) په کلي کي زېږېدلئ دئ. په مرت کلا کي د حنان د زېږېدو په باب متواتر روایت سته خو د ده په دېوان کي مي د دې روایت ملاتړ و نه موند. د میرزا حنان د ژوند او کورنۍ په باب موږ ډېر معلومات نه لرو. تر کومي اندازې چي زه خبر یم په دې باره کي د پښتو ادبیاتو تاریخ "دریم ټوک" پښتو ادب تاریخ، پښتانه شعراء "دوهم ټوک"، افغانستان نومي کتاب د کندهار مشاهیر، اریانا دائرةالمعارف، د سره غره ګلونه او د ده د چاپي دېوان په سریزه کي لږ و ډېر مواد موندلای سو چي تقریباً ټول یو شانته خبري لري او لیکوالو د پښتانه شعراء څخه زیاته استفاده کړېده. د ده په خپل، دېوان کي هم زه ډېر لږ پر داسي ځایو پېښ سوئ یم چي د ژوند زیات اړخونه دي یې په روښانه سي. یوازي مي دا څو مورده په سترګه سوي دي، هغه دا چي:

د پلار نوم یې محمد حسن و چي په "1258 هـ ق" کال مړ دئ. حنان وایي:

زما پلار محمد حسن د دین پنجه — خدای دي ور کړي په جنت کي سراچه
له هوښیاره مي د مرګ پوښتنه وکړه — راتې و ویل تاریخ شو مرغی چه

"دېوان – ۲۰۸ مخ"

د برهان په نامه یې یو ورور درلود چي د حنان په ژوند و فات سوئ دئ دی وایي:

د برهان مرګ مي پر زړه اور بلاوه — په پوښتنه مي همه ځای لټاوه
د وفات تاریخ یې دا هاتفي و وې — له دا نیم برهانه مخ و ګرزاوه

"دېوان – ۲۰۸ مخ"

د کندهار اوسېدنکئ و. د ده خپله وینا دا ده:

په خپه به ګلرخان د قندهار وي — چي په مرګ ولاړ شي "حنان" رنګه بلبله

"دېوان – ۱۳۵ مخ"

له حنانه قرار څه غواړې ناصحه — چي رسوا کړ دا ستا عشق په قندهار کي

"دېوان – ۱۷۱ مخ "

له نامه سره یې "میرزا" هم کېښ. لکه په دا لاندي بیتو کي:

دا له غمه د کوم مخ "میرزا حنانه" — له ژړلو چي مي نه دربېږي سترګي

"دېوان – ۱۷۲ مخ"

---

(1) د احمد شاهي کندهار د ښکاپر دروازې څخه د موټر او بګیو یوه لار مخ پر جنوب وتلې ده چي د کرز او ذاکر له کلیو څخه تېره او پای یې یوه کوچني غره ته درېږي. د دې غره په شمالي لمن کي یوه هدیره سته چي پوخ دېوال پر تاو سوئ دئ. د حاجي جمال خان بارکزي مقبره په همدې هدیره کي ده چي ګومبته پر ولاړه ده. دا غر د حاجي جمال نیکه په نامه یادېږي. د غره لوېدیځ لور ته د یوه یا دوو کیلومترو په واټن یو کلی ودان دئ چي مرت کلا نومېږي.
د مرت کلا په شا وخوا کلیو کي بارکزي میشته دي. دا کلي د ترنک رود پر شمالي او جنوبي غاړو پراته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرڅـوې دیـن پـه دنیـا "میـرزا حنانـه" دا نعمـت زائلـوې پـه دا غـم ولـي

"دېوان – ۱۷۹ مخ"

په ځواني یې شعر ویل شروع کړي دي. له دې لاندې بیته همدغه راز مطلب اخستل کېږي:

سـتا لـه غمـه نـه یـم څـه یـم چـې دا هسـې لا د دېرشـو کـالو نـه یـم مـوی مـې سـپین شـو

"دېوان – ۱۰۳ مخ"

عمر یې تر سپین ږیرتابه پورې رسېدلئ و. دی وایي:

چـې پـه سـپینه ږیـره نـه اوړې د ښـکلو آفـرین دې شـه "حنانـه" پـر همـت

"دېوان – ۴۹ مخ"

چـې پیـرۍ مـې ږیـره سـپینه کـړه خـم قـد راتـه ښـایي اوس عصـا د سـرو قـد

"دېوان – ۵۴ مخ"

د سردار مهردلخان د مرګ په کال"1271 هـ ق" ژوندی و. د هغه ویرنه یې ویلې ده چې د سراو پای بیتونه یې داسي دي:

وجـوار تـه د مـولی سـردار قـرین ولاړ چې مرغـوب د کـل عـالم و پـه تحسـین ولاړ
اعتمـاد بانـدې د کـړو نـه دئ "حنانـه" چې "سـردار مهـردل" لـه دې دنیا یقـین ولاړ

"دېوان – ۲۲ مخ"

دا هغه موضوعات دي چې موږ د ده له خپلي خولې په خبرېږو. اوس به د ده خپله وینا سره وشنو، د نورو ښاغلو محققینو څېړنې به هم پر وګورو او و به وینو چې څه تر وزي.

د ژوند زمانه یې:

د میرزا حنان د زېږېدو نېټه نه د ده پخپله وینا کې ښودل سوېده، نه د ښاغلو څېړونکو په څېړنو کې. د سردار مهردلخان مشرقي د مرثیې په استناد په (ادبي تذکرو – تاریخونو او نور دې ته ورته آثارو کې یې ژوند تر "1271 هـ ق" پورې یقیني بلل سوئ دی). دا سې روایت هم سته چې دېوان یې په همدې کال ترتیب کړئ دئ.(1) د ده د خپلي وینا سره سم د غه وخت سپین ږیری دئ. که یې موږ د سپین ږیرتوب عمر شپېته کلنی فرض کړو. نو به یې د زېږېدو نېټه د "1210 هـ ق" شاوخوا یا په بله وینا د شاه زمان سدوزي، د پاچهۍ اوایل وي.

(1) وګورئ: حبیبي – عبدالحی- د افغانستان پېښلیک 192 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته چي د ده دیوان کومه خطي نسخه همدا اوس پرته ده، په هغې کي یې د خپل ورور برهان نومي د مړیني نېټه په یوه ځلوریځه کي ښودلې ده چي که ماسمه حل کړې وي، نو "1278 هـ ق" څني را وزي.(1) په دې ډول د حنان د ژوند زمانه د ده د خپل شهادت له مخي دوولس کاله نوره هم اوږدېږي. زما خپله څېړنه تر دې ځایه رسېدلې ده خو د پښتو ژبې زیار کښ محقق ښاغلی زلمی هیوادمل لیکي: (فاضل استاد پوهاند عبدالشکور رشاد د ده "حنان- م. هـ" د آثار و له مخي دا ثابته کړې ده چي دی تر "1292 هـ ق" پوري ژوندی و ).(2)

د فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب د تحقیق پر اساس د حاجي جمعه "بارکزي" د دیوان د مقدمې ښاغلي لیکونکي د "حنان" له نامه سره "1292هـ ق ژوندی" کښلئ دئ خو د عبدالحمید مومند د دیوان په سریزه کي یې چي د حاجي جمعه بارکزي د دیوان تر چاپ درې کاله وروسته د نوموړي لیکونکي په زیار په کابل کي خپور سوئ دئ، د حنان نامه ته "د ۱۲۷۰ هـ ق" لیکلي دي.(3) دا ډول ارقام او اعداد له لوستونکي څخه لار ولیکه ورکوي.

اوس چي زه دا کرښې کاږم نه د حنان نور آثار راسره سته، نه هم د پوهاند رشاد تحقیق، همدومره ویلای سم چي حنان تر "1292 هـ ق" پوري ژوندی و، دغه وخت د امیر شېرعلیخان د دوهم وار پاچهۍ اووم کال دئ.

د حنان د اولادو او د هغه د ښځېدو د ځای په باب د ویلوو ړ هیڅ راز معلومات نسته.

## تألیفات یې:

زموږ په واک کي خو دم درحاله د میرزا حنان پښتو دیوان سته د "کندهار مشاهیر" نومي کتاب ښاغلی مؤلف لیکي: "میرزا حنان په پښتو او فارسي زیات شعرونه او مردف دیوانونه لري".(4)

زما په تیار سوي متن کي یوه فارسي غزله سته "۱۰۷ مخ" د هغې له لوستلو څخه هم څوک دا حکم کولای سي چي شاعر به هرومرو نور فارسي شعرونه هم ویلي وي، ښایي دیوان به یې هم درلود. خو داخبره راته لاینحله پاته ده چي د فارسي دیوان د درلودلو په صورت کي په پښتو دیوان کي دیوې فارسي غزلي د راوړلو ضرورت څه و؟

---

**(1)** په دې ځلوریځه کي تاریخي ماده "له دا نیم برهانه مخ و ګرزاوه" ده. د نسخې د لیکدود له مخي د "برهان" مغیره شکل هم "برهان" کښل کېږي. د کلمې د پای "هـ" په زور "فتحه" ښودل سوېده ځکه نو د استخراج په وخت کي باید د "ه" ابجدي ارزښت محاسبه نه سي دغه راز د "له" په کلمه کي هم باید "هـ" محاسبه نه سي. زما په خیال له "نیم برهان" څخه مراد "ځوان برهان" دئ، ولي که د "برهان" نیم قیمت "179" له تاریخي مادې څخه ووزي، "1104" پاتېږي چي په دغه کال به نه د حنان البوشاکه وه نه یې د ورور.

**(2)** و ګورئ: د حاجي جمعه بارکزي دیوان د مقدمې 24 مخ- کابل – 1360 ش.

**(3)** و ګورئ: د عبدالحمید مومند دیوان د مقدمې 26 مخ – کابل – 1363 ش.

**(4)** و ګورئ: ځلمی - محمدولي- د کندهار مشاهیر- ۲39 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی زلمی هیوادمل لیکي: (حنان د ځو مؤلفاتو څښتن دئ د قصو یوه مجموعه یې له ښاغلي محمد نسیم نوري قندهاري سره سته. په فرهنګ زبان و ادبیات پښتو (ج1 – 142) کي د ده د قصو یاد راغلئ، په "پښتو منظومي قصې"[5] نومي اثر کي یې د شهزاده سلیم جواهري د قصې یادَوَنه شوې ده).[6]

(5) "پښتو منظومي قصې" د عبدالکریم پتنګ اثر دئ چي په 1357 ش کال په کابل کي چاپ سوئ دئ.
(6) وګورئ: د عبدالحمید مومند دېوان- 1363 ش چاپ– کابل– د مقدمې 26 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي لارېږ:

د میرزا حنان بارکزي د دېوان له لوستلو څخه له ورایه ښکاري چي ده د پښتو ژبي د کلاسیکو شاعرانو او متقدمینو دېوانونه او آثار کتلي او مروج علوم یې هم پر ځنګ ور سره لوستي وو. خپل نکته سنج فکر یې د پښتو ژبي د نازکخیاله شاعر عبدالحمید مومند "1148 ق ژوندی" له خیاله سره ورته موندلئ او د هغه ادبي لار او سبک یې غوره کړئ او پیروي یې کړې ده. زموږ د ادب تاریخ څېړونکي او ادبپوهان په دې باب په یوه خوله دي چي میرزا حنان د حمید د ادبي سبک ډېر ښه پیرو دئ.(1)

اروا ښاد استاد عبدالرؤف بېنوا لیکي: (د حنان شاعرانه تخیل ډېر لوړ او د نوو مضامینو میندونکئ او بداعت خوښوونکئ دئ. دی هم لکه حمید نوي تلازمات او نوي استعارې او ښکلي تشبیهات څرګندوي... ده هغه ادبي سبک ته ترقي ورکړې ده چي حمید مهمند یې مؤسس دئ.. دی تر معنوي خوا ادبي ښېګړو ته اهمیت ور کوي... په دې لاره کي لوړي درجې ته هم رسېږي او د پښتو شاعرانو د لومړۍ ډلي او استادانو د ګدۍ په پای کي کښېني او د حمید بابا ګړندی او نامتو شاګرد ګڼل کېږي).(2)

د پښتو شاعرانو د"لومړۍ ډلي او استادانو د ګدۍ په پای کي" د حنان له موقعیت څخه د استاد بېنوا مقصد دا دئ چي حنان په زماني لحاظ د دغو استادانو د ژوند تر وخت را وروسته شاعر دئ.

اروا ښاد استاد ګل پاچا الفت د حنان بارکزي د چاپي دېوان په سریزه کي وایي: (میرزا حنان د پښتو په شاعرانو کي د ډېر ښه ادبي شهرت خاوند دئ... لکه چي دی پخپله ځان د حمید خوشه چین بولي پخپلو اشعارو کي یې د حمید د سبک پیروي کړې ده او په هغه پسي تللئ دئ. دی که څه هم د ډېر عقیدت له مخي وایي "حمید ته هیڅ دئ ستا شعر حنانه" مګر حقیقت دا دئ چي دی د هغه ډېر ښه پیرو دئ).

د حمید د سبک د پیروۍ تصدیق موږ د حنان په خپله وینا کي هم په کراتو مراتو موندلای سو. دی

(1) دغه لاندي کسان د حمید د سبک په پیروانو کي شاملېږي:- کامګار خټک، قلندر، ثاني حمید، کاظم خان، خانګل خلیل، بېدل، محمدي صاحبزاده، احمدي صاحبزاده، میرزا حنان، صمد، عبدالله محزون، محمد بیاض ګدون، ملامحمد اکرم، عبدالله او نور. "و ګورئ: د عبدالحمید مومند دېوان- د سریزي 35مخ"

(2) پښتانه شعراءدوهم ټوک – 449 – 450 مخونه. (د کتاب دغه برخه د کابل مجلې د 120 ګڼې له هغه مضمون څخه اقتباس سوې ده چي استاد بېنوا کښلئ دئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي:

پيـروي مـې د "حيمـد" مو شـګاف وکـړه — مـا "حنـان" د شـعرلاس کـړ د "رحمـان" مـات

"دېوان–۴۲ مخ"

د حميـــد د شـــعر بحـــر تـــه "حنانـــه" — يـو خـو څـاڅکي دي لوېدلي سـتا ابيـات

"دېوان–۴۵ مخ"

د حميـد د خـوش نظمـۍ پـه زراعـت کـي — دا "حنـان" يـې دئ د شـعر خوشـه چـين

"دېوان–۹۷ مخ"

حنان په رشتيا سره د خپل عالي تخيل په واسطه د حميد سبک پر مخ بېولئ دئ، خو کله کله بيا د حميد پر پله مستقيم ګام هم ږدي.

حنان وايي:

چـي مـي وليـدې د ترکـو سـترګي غـوړي — نـه خلاصـېږم پـه هـيڅ شـان لـه دغـي کـوړي

"دېوان–۱۲۳ مخ"

حميد وايي:

چـي پـه غټـو سـترګو ګـوري نابينـا وي — چـاچي وليـدې د ترکـو سـترګي غـوړي

"دېوان–۳۵۷ مخ"(1)

حنان وايي:

لـــه پرتـــوه ســـتا د مـــخ دئ — چـي لمـر پـټ شـو پـه سـحاب

"دېوان–۴۳ مخ"

حميد وايي:

سـتا د مـخ لـه شـرمه و نغښـت — نبـــا پېرو مـــخ پـــه حجـــاب

"دېوان–۵۰ مخ"

حنان وايي:

د "حنـان" سـينه نـو خطـو تـور سـکاره کـړه — کـه سـينه وه د حميـد دوکـان د مشـکو

"دېوان–۱۰۵ مخ"

حميد وايي:

دا شـرف د عاشـقۍ نـه دئ نـور څـه دئ — چـي سـينه شـوه د حميـد دوکـان د مشـکو

"دېوان–۲۳۴ مخ"

(1) د حميد د کلام اقتباسات د 1363 هش کال د کابل چاپ د ېوان څخه سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنان وايي:

لــه حمیــد ه ســره آس د شــعر نــه ځــي | کــه "حنــان" پــه حــرص مځکــه کــړي پــره

"دېوان – ۱۲۱ مخ"

حمید وايي:

پــه حــرص کــه مــځ د زمکــي کــړي پــره | رابــه نــه وړي تــر نصــیب زیاتــه ذره

"دېوان – ۲۷۲ مخ"

د حنان پر شعر باندي د نورو متقدمینو اغیزي هم لیدل کېږي د هغو اشعار یې د تضمین په ډول هم اخیستي دي. دی وايي:

زه "حنــان" د یــار پــه غــم لکــه ګــل وا شــوم | کــه "رحمــان" و د اشــنا لــه لاســه ســتړی

"دېوان – ۱۲۳ مخ"

رحمان بابا وايي:

د اشـــنا لـــه لاســـه زه یـــم پـــه زړه ســـتړی | پـه فلـوس مـي پـه کـار نـه دئ درسـت وګـړی

"دېوان – ۲۲۰ مخ"

دغه راز حنان د پیر محمد کاکړ د یوې غزلي په اقتفاء یوه بشپړه غزل لري چي مقطع یې دا سي ده:

جـواب دئ دا غــزل "حنانـه" د اخونـد پیرمحمـد | کـه پـه قیامـت کـي پـه پنـاه د پیغمبـر و درم

"دېوان – ۸۳ مخ"

دا راز څېړنه جلا ادبي تحقیق غواړي او دا څو پاڼي سریزه د دا ډول تحقیق ګنجایش نه لري.

د حنان په کلام کي اخلاقي موضوعات هم سته او د تصوف رنګ هم خال، خال پکښې لیدل کېږي د ستر افغاني محقق پوهاند عبدالشکور رشاد په نظر (د حنان په دېوان کي د تصوف رنګ څه تت "پیکه" غوندي ښکاري).(1)

د دېوان د "واو" په ردیف کي په "نوي طرحه" یوه غزله لري چي د ده د ادبي بداعت ډېره ښه بولګه یې بللای سو. لاندي یې ولولو:

حنان وايي:

نېـــک بـــدا د ازل و قتـــوېش و | د چــا بــد چــا ښــه و د چــا بــېش و
دا فغـــان الـــه ردم د بلبـــل اف | روانــه یــڅ ســخن کانــد لــرېش و
عشـــق ایـــم دام یـــن لـــره ســـتي د | بلبــل تــاب رګ د ګلــو رېــش و
نســـترن رګـــس نبـــل الـــه شـــبو د | اپکــوم ال و صــفت رتــا پـــېش و

(1) وګورئ:- د حاجي جمعه بارکزي د دېوان د لغتنامې الف مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



گـل شـرم خ پـه انهـو کښې ه و نغښـت اب يـې سـتا ديـدن و د اورپــېش و
چي مي وارا پـه يـاد شي ارقيب هـم اتـه رسـاعت رمـرگ بتـرا پــېش و
څـه پـه نـوي طرحـه شـعر کـړي "حنانـه"
سـتا الفـاظ د شـاعرانو د زړه نـېش و
"ديوان –۱۰۴ مخ"

پورتنۍ غزله خو په همدې ښه معنا نه ور کوي، مګر که د هري کلمې د پای توری د راتلونکي کلمې د سر توری و ګڼل سي، بيانو معنا ښندي. په دې ډول:

نېـک کـه بـد دا د ازل د وقتـو وېش شـو و د چـا بـد د چاښـه، هـو د چـا بـېش شـو
دا فغــان نالـــه هــردم د بلبـــل لافـــه تـاب يې ستا د ديدن نـه و دارو پـېش شـو
عشـق قـايم مـدام مـين لـره هسـتي ده د بلبـل لـه تابـه بـرګ د ګلـو رېـش شـو
نسـترن نـرګس سـنبل لالـه شـبو ده دا پـه کـوم مـال و صـفت تـر تـا پېش شـو
ګل له شرمه مخ په پاڼو کښي ښه و نغښت ما تـه هر ساعت تر مرګ بتر را پـېش شـو
چي مي يو وار را پـه يـاد شي يار رقيب هم فروانه(1) هيـڅ سخن نـه کاندي دلرېش شو

څـه پـه نـوي طرحـه شـعر کـړي "حنانـه"
سـتا الفـاظ د شـاعرانو د زړه نـېش شـو

د دې غزلي په باب د استاد ښېنوا مرحوم رايه داسي ده چي:(دا بداعت تر اوسه په پښتو کي چا نه دئ کړئ). خو د اريانا دائرةالمعارف په دريم ټوک 569 مخ کي يې کښلي دي:(په پښتو کي دا د لاندي بيتو بداعت تر اوسه تر حنان ښه چا نه دئ کړئ). له دې عبارت څخه ښکاري چي پر حنان برسېره نور پښتانه شاعران هم دغه راز اشعار لري؟ خو له بده مرغه نه د دائرة المعارف د دغي برخي ليکونکي بل مثال راوړئ او نه زما سترګي بل ځای پر لګېدلي دي.

د حنان ديوان له هر راز ادبي صنايعو څخه ډک دئ، دلته به يې څو مثاله ولولو:

تجنيس:

دا يـې چـين د جبـين نـه دئ د زړو چـين دئ پـه دا چـين کـوي د چـين د مشـکو چـين

ارسال المثل:

وصـل و هجـر د يـار د واړه خـور و ورور دي پـه دنيـا کـي بـې زحمتـه راحـت نـه وي

تقابل:

---

(1) دا کلمه بايد (پروانه) کښل سوې وای مګر د ړومبۍ کلمې "ف" دغه راز کښلو ته مجبور کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه ګلشـن کـې ګـل تـر تـا خوشـاله نشـته | نـه پـه مینـه کـې بلبـل تـر مـا حـزین شـته

سوال و جواب:

مـاول ورو ځـي دي کـږې او خـال دي څـه دئ | ویـل خـال مـې دئ امـام ورځـي محـراب دئ

تحت النقط:

چـــي لـــه بویـــه محـــروم کـــړئ و دلبـــر | پـــه کارمـــه لـــره دا ســـي بېکـــاره ســـر

( ټوله غزله)

فوق النقط:

د معشــوق د مــخ احــوال در تــه حضــور کــړه | لـه دا وروسـتو هالـه ځـان لکـه منصـور کـړه

( ټوله غزله)

بې نقط:

محمـــــد ســـــرور ســـــردار و د عـــــالم | عـــدل و حکـــم هـــم دوام وارړه محکـــم

( ټوله غزله)

د دېوان دغه متن:

د دې متن د برابرولو پر وخت ماته دوې نسخې پرتې وې. یوه خطي بله چاپي.

خطي نسخه:- دا نسخه ماته ښاغلي حمدالله صحاف له خپل ځاني کلکسیون څخه په کراچي کې د کتلو له پاره راکړه. نسخه ډېره نفیسه، بشپړه خوانا او ښه ساتل سوې ده. خط یې نستعلیق ته ورته دئ. پر خړکوکاني "خوقندي" کاغذ په توره سیاهي کښل سوې ده د کاتب نوم یې معلوم نه دئ. د پاڼو شمېر یې یو شپېته دئ، مخونه یې منظم رکابونه لري. په هر مخ کي ثلور غزلي راغلي دي. دوې په متن کي او دوې پر څنډو "حاشیو". د نسخې د کتابت نېټه لږ څه جنجالي ده ځکه په پای کي یې دغه عبارت کښلئ دئ:

(بتاریخ یوم جمعه 18 شهر رمضان المبارک فی سنه الف مأتین خمسین قلمی گردید سنه 1280 ).

په پورتني عبارت کي وینو چي په تورو "حروفو" باندي د نسخې د کتابت کال "1250 هـ ق"، خو په عدد بیا "1280 هـ ق" ښودل سوئ دئ. زه "1250 هـ ق" ځکه د نسخې د کتابت نه ګڼم او قلمي سهوه یې بولم چي په متن کي د سردار مهردلخان مشرقي "1212- 1271 هـ ق" وېرنه "مرثیه" راغلې ده او د مشرقي د مړیني نېټه د "1271 هـ ق" کال د جمادی الآخری اووه ویشتمه د جمعې ورځ ده.(1) په "الف

(1) د افغانستان ېېنبليک- 192مخ – پـه پښتـانه شعراء دوهم ټوک 446 مخ کي دا نېټه د دریمي خور 27 د جمعې ورځ ښودل سوېده؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مأتين خمسين" کي د "ثمانين" پر ځای سهواً "خمسين" کښل سوئ دئ(2) زه په يقين سره ويلای سم چي د دې نسخې د استنساخ کال "1280 هـ ق" دئ. په دې کال ميرزا حنان ژوندی دئ او نسخه په قمري حساب يو سل و دېرش کلنه ده. زما سره ځيني دلايل سته چي د هغو پر بناء و ويل سي چي دا نسخه يا د شاعر په خپل خط او يا هم د شاعر تر نظر لاندي کښل سوې ده. له دې امله مي د متن د برابرولو په وخت کي خطي نسخه د اصل په توګه و ټاکله.

نسخه هنري ځانګړتياوي نه لري، کلکه و قايه يې ده چي ببخ او کونجونه يې د سرې څرمني دي، د وقايې رنګ يې زرغون دئ او دا سې ښکاري چي وروسته ور لوبدلې ده. تر وقايې او بلاګردان(3) وروسته د لومړۍ پاڼې د سرله خوا پر کيڼ کونج يو کوچنی بيضوی الشکله مُهر لګېدلئ دئ چي نه لوستل کېږي. پر همدې مخ د حنان يوه غزله په ښکلي نسخ خط کښل سوې ده چي د دې متن په ۱۸۲ مخ کي مي راوړې ده. د دې غزلي څنګ ته د حميد مومند هغه شعر کښل سوئ دئ چي مطلع يې دا ده:

شعر نه دئ دا خوناب د زخمي زړه دئ　　　　يا وتلئ وروستی دم د خولې د مړه دئ

دا غزله په ببخي بابېز خط ده. وروسته يو چا پر زياته کړې ده. تر غزلې لوړ "پاس" يې ورته کښلي دي: (چند بيت افغانی در شان سفت؟ شعر - عبدالحميد پيشاوری فرموده). تر دې پاڼي وروسته په دريم مخ کي دوې فارسي قطعې په نسبتاً ښکلي خط ليکل سوي دي يوه يې (تعريف اسپ که شاه به کليم ملک الشعراء داده بود) او بله يې (تعريف اسپ که وزير به عصمت بخاری) عبارت پر سرباندي لري. له څلورم مخ څخه دېوان پيل کېږي. بايد و وايم چي دا نسخه دوه پيله لري او دواړه په بسم الله شروع سوي دي. د لومړي پيل د سربيت تر بسم الله وروسته دا سي دئ:

اِلهي د هر چا قاضي الحاجات يې　　　　په عطا په کرم حل المشکلات يې

او د دوهم پيل د سربيت تر بسم الله وروسته په دې ډول دئ:

اِلهي د محبت په اور کي توان را　　　　سمندر رنګه د پتهي خولې بيان را

ما د لومړي پيل شعرونه ځکه په متفر قاتو کي را وړل چي يو خوبې رديف ګډوډاوه او بل يې له چاپي متن سره سر نه خوړ.

د نسخې په وروستۍ پاڼه کي د ميرزا عبدالله شهاب يو فارسي شعر سته دا شعر يې د هغه کمر بند

---

(2) د دا راز قلمي تېروتنو مثالونه په نورو قلمي نسخو کي هم سته. څېړونکي بايد له درايت او نورو قرينو څخه د نسخې د کتابت کال ځان ته معلوم کړي.

(3) صحافان "کتاب جوړوونکي" بلا ګردان هغه کاغذ ته وايي چي د کتاب د لومړۍ پاڼي او د وقايې تر منځ يې د کتاب د پاڼو د حفاظت په مقصد ور اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باره کي ويلئ و چي د شاه محمود سدوزي له خوا د سوغات په توګه ور کړه سوئ و. دا شعر هم په ښکلي خط کښل سوئ او د پاسه يې دغه لاندي عبارت ور ته کښلئ دئ:

(کمر بند که شاه محمود سدوزایی به میر زاعبدالله شهاب داده بود ، در تعریف کمر بند گفته).

نسخه املايي غلطۍ نه لري، صرف يو دوه ځايه يې "عبث" د "عبس" په شکل کښلئ دئ او هغه هم د "س" د رديف په خاطر او يو دوه ځايه يې "مداماً" د "مدامن" په بڼه کښلئ چي د چاپي دېوان مرتب هم په عين ډول نقل کړئ دئ !

دا نسخه (428) غزلي، (4) قطعي، (5) قصيده وشمه غزلي (13) څلوريځي، ترجيع بند ، مخمس، سراپا "مثنوي" او د کتاب د ختم مثنوي لري.(۱)

د نسخي ليکدودي ځانګړتيا وي په دې ډول دي:

(ځ) او (څ) يو راز د (خ) په شکل، (ک) او (ګ) يو ډول د (ک) په بڼه کارېږي. د پښتو نور مخصوص ږغونه يې له "ن" څخه چي د "نړ" په شکل يې کارېږي، نور ټول په اوسنۍ بڼه ليکي. د کلمو د پاى واولونه زياتره مراعاتوي خو ځاى ځاى يې په حرکاتو "زور-زېر" سره ښيي.

(چي) د (چه) په شکل، (يې) د (يه) په بڼه، (کښې) د (کښ) په توګه کارېږي.

په ټوله نسخه کي يې خپل معين ليکدود په د قيق ډول سره تعقيب کړئ دئ.

د ځينو غزلو د بيتو لپاره يې تش ځايونه پرې ايښي دي.

په نسخه کي يوه فارسي غزله هم سته چي د دغه برابر سوي متن په (۱۰۸ مخ) کي مي راوړې ده.

چاپي دېوان

دا دېوان د پښتو ټولني له خوا په "1336 ش" کال د کابل په دولتي مطبعه کي چاپ سوئ دئ.

اروانباد استاد ګل پاچا الفت چي په هغه وخت کي د پښتو ټولني رئيس و، يو مخ سريزه او ښاغلي

---

(۱) ښاغلی حمدالله صحاف وايي چي اوس يې دې نسخې ته نوې وقايه ورکړې ده. ښايي چې په ځانګړتياوو کې به يې تغير راغلی وي (م. هوتک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد دین ژواک چې په هغه وخت کې د کابل مجلې مدیر و، درې مخه مقدمه پر کښلې ده. په دې دواړو لیکنو کې هغه نسخه چې د دېوان د ترتیبولو په وخت کې ترې استفاده سوې، نه ده ښودل سوې، مرتب یې هم په وضاحت سره نه دئ معرفي سوئ. ډېرې طباعتي غلطۍ لري او له څلور مخ "سمونه" سره سره بیا هم زیاتې غلطۍ ور څخه پاته دي چې سمې سوي نه دي. حتی په هغه غزله کې چې حنان د کاتبانو له بې پروایي څخه شکایت کوي، هم غلطۍ سته "و ګورئ" د چاپي دېوان "90 مخ" د ردیف ګډوډې هم پکښې سته. د "واو" د ردیف یوه غزله د "ی" په ردیف کې راغلې او د "ی" د ردیف یوه غزله د رباعیاتو په پای کې مکرر راوړل سوې ده. په چاپي متن کې داسې نښې نښانې سته چې مرتب باید څوک د ختیځې لهجې و یونکئ پښتون و ګڼي، د شاعر له لهجې سره پوره بلد نه دئ دې کار په شعر کې لړ څه بې نظمۍ راوستې دي.

ټول دېوان 244 مخ دئ چې (349) غزلې، (25) رباعۍ ترجیع بند، مخمس او فالنامه پکښې ده. د دېوان تر چاپ پنځلس کاله مخکې د پښتانه شعراء په دوهم ټوک 448 مخ کې چې د میرزا حنان سوانح کښل سوي ده له هغې څخه ښکاري چې په دغه وخت کې د څېړونکو په واک کې د حنان د دېوان دا سې یوه نسخه وه چې "تر جیع بند، مخمس، مثمن او څو رباعیات او مثنوي او سراپای معشوق په پښتو لري" زه نه پوهېږم چې د چاپي دېوان د ترتیبوونکي په واک کې چې کومه نسخه وه. په هغې کې دا شعرونه نه وو که څرنګه؟ په پښتانه شعراء دوهم ټوک کې د حنان یوه نوې ابتکاري غزله چاپ سوې ده چې د چاپي دیوان مرتب باید هغه په خپل متن کې راوړې وای.

زما په خیال د دېوان د چاپولو په کار کې لازم دقت نه دئ سوئ خو دا چې د ادب مینه والو ته یې د پښتو ژبې د یو ډېر نکته سنج شاعر دېوان وړاندې کړئ دئ، د ستاینې وړ اقدام دئ. لومړي چاپونه هرو مرو نیمګرتیا وې لري.

لکه چې مخکې مې و ویل د دې متن په ترتیبولو کې ما خطي نسخه د اصل په توګه ټاکلې ده. ځکه د متن پوهنې اصول حکم کوي چې د متن د برابرولو په وخت کې باید هغه نسخه د اصل په توګه و ټاکل سي چې د مؤلف یا شاعر پخپل لاس کښل سوې وي. که داسې نسخه موجوده نه وي نو بیا هغې نسخې ته اعتبار ور کړه سي چې د شاعر یا مؤلف له خوا کتل سوې یا تصحیح سوې وي. که داسې نسخه هم نه وي نو بیا هغه نسخه د زیات اعتبار وړ ده چې د استنساخ زمانه یې یا د شاعر د ژوند زمانه او یا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ته نژدې کلونه وي. په دا راز نسخو کې د سهوو امکانات ډېر نه وي.(1)

چاپي دېوان مې د "نسخه بدل" په توګه غوره کړئ دئ او نسخه بدلونه مې په حاشیو کې ښودلي دي. ځای ځای چې د چاپي متن ثبت راته غوره ایسېدلئ دئ هلته مې د "اصل" ثبت د نسخه بدل په توګه په حاشیه کې راوړئ دئ. دا راز موارد لږ دي او ما ته د خطي نسخې متن ډېر غوره ښکاري.

متن مې پر دوو برخو وېشلئ دئ، غزلیات او متفرقات.

د غزلیاتو له برخې څخه مې هغه غزلې چې د بېتو شمېر یې له اوو څخه زیات و، هم ایستلې او په متفرقاتو کې مې راوړې دي. که څه هم په پښتو او فارسي ادب کې د غزل د بیتو شمېر حتٰی تر 19 پورې هم رسېدلئ دئ او په یوه ټاکلي عدد سره محدود نه دئ، خو ما دا کار او وېش د میرزا حنان د خپلې ارادې پر بناء کړئ دئ. حنان د کتاب په پای کې وايي:

| | |
|---|---|
| یــو څو بیتـــه در تـــه وایـــم معنـــوي | نـــه قطعـــه ده، نـــه غـــزل دئ مثنـــوي |
| پـــه پښـــتو ژبـــه مـــې و وایـــه کتـــاب | هـــر غـــزل یـــې اووه بیتـــه پـــه حســـاب |
| دا پـــه دا چـــې مولانـــا مولـــوي جـــام | د دېـــوان غـــزل اووه بیتـــه تمـــام |
| چـــې الحمــــد د قـــرآن اووه آیتـــه | زیاتـــه نـــه ده ابتـــداء تـــر نهایتـــه |
| ده نـــور خپـــل دېـــوان پـــر دا بحرتیـــا رکـــړ | مـــا هم خـــوښ پـــه ډېر رغبت د ده رفتـــار کـــړ |

"دېوان 209 مخ"

د حنان بارکزي د دې"رغبت" له مخې ما د دېوان د غزلیاتو په برخه کې ټولې هغه غزلې راوړې چې د بیتو شمېر یې اووه دئ. لوستونکي به ځای ځای پر داسې غزلو پېښ سي چې د بیتو شمېر یې اته، نهه وي. هغه شمېر د یو مجبوریت له مخې زیات سوئ دئ ځکه د عین غزلې ځیني بیتونه به په اصل کې وو خو په چاپي دېوان کې به نه وه راغلي، یا به چاپي دېوان درلودل خو په اصل کې به نه وو ثبت سوي، یا به یې تو پیر دومره زیات و چې د جلاجلا بیتو حکم به پر کېده. نو د دې مجبوری پر بناء ځای ځای د غزلو د بیتو شمېر تر اوو اوښتئ دئ. زما په خیال په داسې حالاتو کې زما غذر موجه ښکاري.

په دې ډول مې د "ل" د ردیف دوې غزلې،(2) د "ن" ردیف یوه غزله(۳) د غزلیاتو له برخې څخه و

---

**(1)** جالبه ده چې حنان هم په دې باب ږغېدلئ دئ. لکه چې وا یي:

چې یو حرف د سهوي نشته ستا په مخ کې — جوړ په خط د مصنف دئ دا مصحف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایستلې او په متفرقاتو کې مې راوړې.

د متن غزلي مې په هر ردیف کې د ننه د قافیې د لومړي، دوهم، دریم او حتی څلرم ماقبل توري په اعتبار سره اوډلي دي چې په دې ترتیب د اصل او چاپي دېوان د غزلو ترتیب وړاندې وروسته سوئ دئ. ځیني غزلي مې له یوه ردیفه بل ته هم نقل کړې دي. دا راز موارد مې په حاشیه کې ښودلي دي.

د متونو د برابرولو په وخت کې د شاعر د لهجې په پام کې نیول یو ډېر ضروري کار دئ. د ښاغلي زلمي هیواد مل دا خبره ښځي پر ځای ده چې وایي: (دا د متن څېړني یو عمده اصل دئ، چې مصحح او د متن څېړونکئ باید دمتن په ژبه کې لاسوهنه و نه کړي... ډېر ځله اروېدلي شوي، چې موږ باید کلاسیک متنونه په معیاري لهجه "؟" خپاره کړو. دغه خبره د متن څېړني له اصولو مخالفه خبره ده، موږ نشو کولای چې د احمد شا بابا دېوان په یوسفزۍ لهجه خپور کړو، یا د پیر محمد کاکړ، شمس الدین کاکړ او حنان بارکزي دېوانونه په شرقي لهجه تهیه او چاپ کړو. د غسي عمل که له یوې خوا د متن څېړني له موازینو سره مغایرت لري، له بلې خوا د شاعرانو د کلام شعري کیفیت ته هم زیان رسوي). (1)

د لهجو تو پیر یوازي په "شو ، شي-سو ، سي" یا د "ښ، ږ" په تلفظ کې نه دئ "لکه ځیني کسان چې داسي فکر کوي"، بلکې د اتو پیر زیاتره د واولونو (vowels) په استعمالولو کې لیدل کېږي. د حنان د لهجې له مخې "چې" باید په لنډه "ې" و کښل سي، که یې د اوسني معیاري لیکدود "؟" په شان په اوږده "ې" د "چې" و کاږو د "چې یې" معنا ورکوي دغه راز "کې" که په اوږده "ې" یا په معیاري ډول د "کې" په بڼه و کاږو د "که یې" معنا ښندي. شاعر د شعر ویلو په وخت کې له خپلې لهجې سره سم شعري وزن سموي، دا که په بله لهجه یا معیاري لهجه "؟" و کښل سي، وزن ته زیان رسېږي. له دې امله باید متون د داسي چا له خوا تصحیح او تهیه سي چې یا خو له شاعر یا مؤلف سره د لهجې اشتراک ولري او یا هم د شاعر په لهجه کې پوره اندازه معلومات.

ما دا ټولي خبري په پام کې نیولي او متن مې برابر کړئ دئ.
په پای کې د دې خبري یادونه ضروري بولم چې د متن د تهیه کولو په برخه کې زما تجربه لږ ده او هرو مرو به ډېري نیمګرتیاوي ولرم. دغه راز په خطي نسخو کې د "واو" او "دال" تر منځ توپیر کله کله نه تشخیصېږي هغه کسان چې له خطي نسخو سره یې سر و کار دئ، په دې خبره ښه ترا پوهېږي .

(2) دا دوې غزلي په 193–194 مخو کې ولولئ. (۳) دا غزله په 195 مخ کې و ګورئ.
(1) و ګورئ: د حاجي جمعه بارکزي دېوان–د 1360 ش کال چاپ–د سریزې 37 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# غزلیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ﴿الف﴾

الٰهي د محبت په اورکي توان را — سمندر رنګه د پټي خولي بيان را
کل سختي مي له زړه و باسې قادره — لکه زلفي د خوبانو زړه پرېشان را
چي د فيض لباس هر څوک را څخه يوسي — د دانش له رخته (1) ډک هسي دوکان را
چي مي شناخت له تا په وشي ذوالجلاله — په خپل لطف سره ډک جام د عرفان را
چي بې تا يې په زړه بله هوا ګرزي — د هغه عالِم له ديده ته امان را
جسم و جان مي کړه فارغ له غيره خياله — په منقار د هُمای عشق مات استخوان را

۱(۲) ماسوا مي له خاطره فراموش کړه
د خپل حب ځای په سينه کي زما "حنان" را ۷(3)

الٰهي ستا د عرفان له ميو جام را — چي په مست يم دغه جام على الدوام را
چي بې تا که ګُلي خيال را څخه محوه — اسم ذات پر زړه جاري(۴) دغه انعام را
ستا بې يادو مي له غيرو زبان بند کړه — مشغولا په تلاوت ستا د کلام را
ربه ستا په معرفت مي زړه مسرور کړه — ستا په حب سره همېش د زړه ارام را(۵)
بل له نفس اماره څخه مي خلاص کړه(۶) — له شيطانه هم امان دا ستا په نام را
مشغولا د زړه مي وکړه ستا په اسم — بېزاري له ماسېوا څخه مدام را(۷)
قناعت مي په نصيب کړه کردګاره — پيروي د کاملانو پر اقدام را(۸)

۲ الٰهي د خپل حبيب له برکته(۹)
ته په فضل ما "حنان" ته د زړه کام را ۱۵

---

(۱) چاپي دېوان: له جنسه. (۲) په ټول کتاب کي د هر غزل او شعر په پای کي د شعر شمېره ده. (۳) دا هم په ټول کتاب کي د بيتونو شمېره ده (۴) ب: پر زړه باري. (۵) ب: ستا په ياد سره مدام د زړه آرام را. (۲) ب: له دا نفس اماره څخه مي خلاص کړې. (۷) دا بيت په (ب) کي نسته. (۸) دا بيت له (ب) و اخيستل سو. (۹) دا نيم بيتی د رحمان بابا له کلام څخه تضمين سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي خوناب(1) تئ له چشمانو هر سهار زما　　ځکه شو خونخوار اشنا زما غمخوار زما
پسله مرګه به سر پورته کړم له قبره　　که یار کښت د مهرو که پر مزار زما
څو باریک لکه موی نه شي په ډېر فکر　　و به نهویني په سترګو ملا د یار زما
هیڅ سراغ د تنګي خولې مي پیدا نه کړ　　آس د عقل پکښې لنګ شو صد هزار زما
صفایي ځني څڅېږي لپې لپې　　راشه و ګوره رخسار د ګلعذار زما
کې(۲) کمیس د ګل له بویه په ځان واغوست(۳)　　تن بې(۴) شین تر نیلو فرشي د نګار زما

۳　　عقل هیڅ د عشق په باب کې را و نه ښو
اې "حنانه" دا رفیق نه شو په کار زما　　۲۲

ستا له خولې څخه که ګل زده کړه خندا　　بلبل هم د سوز ژړا زده کړه له ما
د خپل آه قاصد به ولېږم آسمان ته　　که دوا مي د دردو کړه مسیحا
زړه مي ستا په عشق کې بایلو نه یې غواړم　　د کښتۍ ضامن هیڅ نه وي ناخدا(۵)
څو په خیال د خال و خط یم اخته شوی　　د خاطر تیاره مي نه مومي روڼا
سوز د میني هسي اور راباندي بل کړ　　بې شربته د مرګ نه لري دوا
له غیرته په اور وسوم په چمن کې　　چي مي ولید ګل په رنګ ستا د قبا(۶)

۴　　فلک دف د خورشید و وهي له شوقه
چي ستا غم شي له "حنانه" خوا په خوا　　۲۹

څو به ګرزم ستا د مخ په تمنا　　ځغلېده په روڼا نه شي د برېښنا
ستا د وصل خیال مي نه ځي له خاطره　　د مفلس له فکره نه وزي کېمیا
ژبې(۷) پرې ښه ده چي نقد د دوو کونو　　بولي څوک دا ستا د نیم وېښته بها
خزان کښېښووې(۸) د ګل له ژړه رنګه　　د بلبل د ږغ پر ښو باندي حنا
دا د کوم سرو قد لار ګوري چي هسي　　صنوبر چي سر له باغه کړ بالا
سیا بختي لکه سایه را پسي ځغلي　　چي دا ستا په تورو زلفو شوم اشنا

۵　　تر هلک نو خط غرور لري "حنانه"(۹)
تر غزال د چین آهو ځغلي بالا(۱۰)　　۳۶

---

(۱) چاپي دیوان: دا خوناب ځي. (2) کې = که یې. (3) په چاپي دېوان کي دا نیم بیتی دا سي دئ: "کې کمیس د ګل د بوی واغوست بېربېږم. (4) بې= به یې. (5) اصل: "د کښتۍ ضامن نه وي ناخدا ". (6) دا بیت په اصل کي نسته. له چاپي دېوانه مي واخیست. (7) ژبې = ژبه یې. (8) چاپي دیوان: کښېښودې. ( ۹ ) چاپي دیوان: "تر سپین مخو د نو خطو غرور ډېر وي. (10) چاپي دېوان: د چین آهو لري هوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي مي زړه دا ستا په مینه کړ اشنا — خپلي ویني مي د ځان کړې خونبها
ستا د سترګو د شهید قبر مي ولید — چي کبلي ور ته پراته وو شا و خوا
پیروي د عقل هسي ده زاهد ته — لکه یو ړوند شي د بل ړانده عصا
تر مجنون نه وه په عشق زلیخا کمه — چي یې واخیست(1) مردانه ګام د وفا
پروت د مرګ پر بستر یم طبیبه راشه — ستا په دید سره مي شي د زړه دوا(۲)
ستا د عشق له فیضه هیڅوک محروم نه دي — که پادشاه د زماني دئ که ګدا(۳)
د یعقوب په شان شوم ړوند راشه یوسفه — د پښو خاوري زما د سترګو کړه توتیا(۴)

۶ — که به کله مهرباني(5) کړې وخت دي وخت دئ / رحم بویه پر "حنان" بې دست وپا — ۴۴

زړه مي و ووت ستا د دید و جنګ ته بیا — خدای زده څه به شي ور پېښه له دې(6) خوا
را معلومه ده چي بیا به تېښته(7) راوړي — ستا له سترګو سوبه(8) نه ده وړې چا
اختراع دي زما د مرګ نوې پیدا کړه — نوم مي ډېر ډېر یادوې چي هېر کړې ما
په ببړزۍ لیندۍ د وروځو خدنګ ولې — هسي رنګ چي خبر نه یم سم اذا(۹)
د بانو غشي یې بې توبریو مښلي — هیڅ ګُزار یې له زړه نه درومي خطا(۱۰)
د عشق عیش په لاس نه ورځي زاهد ته(۱۱) — هر ورغوی لایق نه دئ د حنا

۷ — د خندا په موج یې لب راغله "حنانه" / په چمن کي کړ غونچې کمیس قبا — ۵۱

زما یاره زړه دي بایلو په رشتیا — خبر نه یم یو وړ کومي(12) دلربا
د دې شهر خوبرویان دي صدقه شه — بندي کړئ یې کاکل د زلفو چا(13)
د چاغم دي خلل کړئ دئ په زړه کي — دا چي ناست یې لاس ترزني بېنوا
ځړولئ سر مدام په فکر ناست(14) یې — دا د کوم یوه دلبر په تمنا
ته له کومه په کوځه کي د بل ناسته(15) — واړه عشق دئ چي در وښوده وفا

---

(۱) چاپي دېوان: چي یې کښېښود. (2) چاپي دیوان: "په یوه بوسه مي شي د زړه دوا". (3) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته (4) دا بیت په اصل کي نسته له چاپي دېوانه واخیستل سو. (5) "مهرباني" باید درې څپې ولوستل سي. (6) اصل: له دا خوا.

(7) چاپي دېوان: توبه. (8) چاپي دېوان: توبه. (9) اصل: ادا - او هم باید و ویل سي چي په چاپي دېوان کي دا نیم بیتۍ له پنځم بیت سره راغلئ دئ. (10) دغه راز په چاپي دېوان کي دا نیم بیتۍ د څلرم بیت وروستی نیم بیتی دئ.

(11) چاپي دېوان: "زما په لاس د عشق لمن کله کښېوځي". (12) اصل: کومو. (13) چاپي دېوان: ګېسو رخسار د چا.

(14) چاپي دېوان: په فکر ډوب یې. (15) چاپي دېوان: "ته له کومه د وفا خویونه غواړې".

(c) ketabton.com: The Digital Library



خفه مه شه په دا ځای که ته شیدا یې — ته د یو د پاره[1] سل د پاره ستا

٨ و "حنان" ته راز عیان که چي ته درومې ٥٨
جریده به در پسې وي ترغه ځا[2]

نه ماتېږي د مخ مینه یې په ګل زما — خیال د زلفو یې هېر نه شو په سنبل زما
چي له ځالي مي اخیستئ لاچیچی و — اوس ځوک اروي اوازونه د بلبل زما
چي نهال مي اوباوه د زړه په وینو — اوس په لاس کښېي د چا وینم هغه ګل زما
بدبختي وه چي مي باز له لاسه والووت — خدای زده بیا به کله کښېني په منګل زما
ځوک به زېری پر ما وکه چي یار راغئ — چي تر جار کړم سر و مال و هستي[3] کل زما
چي له ماتئ ما لیده[4] هسې مړ نه شوم — حیراني ده پر دا هسې تغافل زما

٩ راتې و ویل "حنانه" صبر وکړه ٦٥
عاقبت به درشي لاس لره کاکل زما

د هجران په درد کي نه کېږي سکون زما — یو پر بل شو شواخون[5] پر شواخون زما
دا لا دېو د عاشقۍ نه یم وهلئ — چي صحت نه شي په دم و په افسون زما
تورو سترګو د یار هسې دېوانه کړم — چي آهو که مدام سیل د جنون زما[6]
رنګ یې نه دئ د حنا پر لاسو باندي[7] — مضمحل یې په منګولو کئ لړمن زما
بې له یاره په چا نه شي د زړه سوده — په پردیه ساهه کله شي ژوندون زما[8]
د اول میني[9] ژړا لویه خامي ده — د کباب په دود له سوخته درومي خون زما

١٠ هیڅ پروا بې پروا یار زما ونه کړه ٧٢
چي "حنان" له ډېره غمه دئ زبون زما

ځو به کړمه ستا[10] د وصل تمنا — عقل و هوښ[11] را ځخه ولاړ په دا هوا
ستا د ناز خرید ته زړونه جودانه دي[12] — که په سر روح الامین کوي سودا
سر و مال، دین و دنیا به واړه درکړم — ولي نه ده ستا د نیم و ښېته بها
د خپل رنځ علاج به چا و ته[13] بیان کړم — مرض سخت شو[14] طبیبان دي بې پروا

---

(١) اصل: "د یوه د یاره سل د پاره ستا "(2) چاپي دېوان: "جریده دي در پسې تر هغه ځا ".(3) ب:... مال او هستي....
(4) ب: چي له ماتلو ما لیدو.(5) چاپي دېوان: یو پر بله شواخون.(6) چاپي دېوان: "چي کبلی کا همېشه میل د جنون زما ".
(7) چا پي دېوان: د نکریځو رنګ یې نه دئ په لاس باندي ".(8) چاپي دېوان: دغه ژوندون زما. (9) چاپي دېوان: مین.
(10) چاپي دېوان: ځو به کړم زه ستا.(11) چاپي دېوان: هوش.(12) چاپي دېوان: جودانه ده.(١٣) چاپي دېوان" و چاته زه بیان.
(١۴)چاپي دېوان: سخت دئ.

پر د کاه له ضعیفۍ اخیستئ نه شم[1] — که څه یو، یو په رنګ زه د کهربا
په نیم دید که مې زړه[2] و باخښه و تاته — خدای حاضر دئ خجل یم له دې وینا

۱۱ دا واړه د عشق اکسیر اثر پر وکړ ۷۹
چې یې رنګ د "حنان" کړ لکه طلا

دا تور خط دې لکه مشک او مخ دئ ګل ستا — دواړه سترګې دې نرګس[3] زلفې سنبل ستا
د اسیرو زړو تړل دې بل څه نه دي — چې و غوړو ته خم شوئ دئ کاکل ستا
هرګز نه اروي زګېروی د مهجورانو[4] — آفرین دې وي پر هسې تغافل ستا
که به آه چیري[5] قبلېږي د عشاقو — نه دې وي هرګز د حسن تنزل ستا
د یوه لښکر سپاه دې سره وژني[6] — وا عجب دئ د عشاقو تسلسل ستا
سجدې د شکرانې کړم بسمل طوره — چې د زړه غوښې مې توی شي[7] په منګول ستا

۱۲ که ژړا افسوس فریاد که[8] عیب نه دئ ۸۶
د رخسار پر ګل "حنان" دئ یو بلبل ستا

دا یې سترګې که جادو دئ که نرګس دئ غه شهلا[9] — دا یې زلفې خال و خط دئ که هجوم دئ د بلا
دا یې خوله ده که غونچه ده که یې لب دئ که مرجان دي[10] — دا یې غاښ په خوله کې نمایي[11] او که دئ دُر یکتا
دا یې زلفې پرمخ نه دي پر ګلاب باندې سنبل دئ — دا یې خط دئ که عنبر دئ او که مشک دې د خُطا
سنتره نارنج ترنج دئ که غبغب دئ حیرانېږم — نه توبه توبه غلط شوم خجل یم له دې وینا
دا خنجر دئ که مژګان دئ[12] چې مې څرخ د زړه په میان دئ[13] — که ناوک دئ نه پوهېږم قتلوي مې بې پروا
دا یې وروځې که کمان دئ چې مې زړه ورته نښان دئ — بې صرفې که ګزارونه غشي نه دروم مې خطا

۱۳ دا یې زنه ده که سېب ده د "حنان" د زړه آسېب ده ۹۳
چې په تش آرزو یې[14] کېږي د رنځورو زړو دوا

له فتنې[15] په سایه خلاص یم د مژګان ستا — خاطر جمع وي له واړو پرېشان ستا
څه الفت[16] زما غریب او ستا د غشو — دغه واړه دلجویي کوي پیکان ستا
سر یې تل پر زانو اېښئ وي د فکر — هغه څوک چې یې په زړه کې وي ارمان ستا
له حیرته سترګې پټې کړي خوله وازه — له کتو سترګو ترلې دي[17] حیران ستا

(۱) چاپي دېوان: "برګ کاه اخیستی نه شم چې ضعیف یم". (۲) چاپي دېوان: روح و باخښه (۳) په اصل کې "دي" نسته له چاپي دېوانه مې واخیست. (۴) چاپي دېوان: شکوه د مهجورانو. (۵) چاپي دېوان: چیرته. (۶) چاپي دېوان: "د یوه لښکر سپاهیان دې خپله وژني". (۷) چاپي دېوان: که د زړه غوښې مې ولاړې (۸) چاپي دېوان: کوي. (۹) چاپي دېوان: د شهلا.
(۱۰) په چاپي دېوان کې: "دي" نسته. (۱۱) چاپي دېوان: دا یې غاښ برېښي په خوله کې. (۱۲) چاپي دېوان: دی.
(۱۳) چاپي دېوان: چې مې څرخ د زړه په میان. (۱۴) چاپي دېوان: تش دیدن. (۱۵) چاپي دېوان: د فتنې. (۱۶) چاپي دېوان: چې الفت. (۱۷) چاپي دېوان: له کتو سترګې ګنلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صـحرا آهـو پـه سـيل راتـه راشـي(۱)    چي تعريف کړم د چشمانو هر زمان ستا
قـدر نـه لـري ګـلاب سـتا و رخسـار تـه(۲)    منفعـل کــړه ګــلان وارېه ارغــوان ســتا

۱۴ زرغونــه بــې(۳) شــي لالــه ګــلان لــه قبـره ۱۰۰
دا چـي ګـور لـره ارمـان يـوړ "حنـان" سـتا

پــه هــزار رنګــه افســون و پــه اوراد مــا    مســخر نــه کــړ شــوخ چشــم پريــزاد مــا
ســرو مــال، ديــن و دنيــا، دانــش و صــبر    پــه ســودا کــي د ګلرخــو کــړه بربــاد مــا
هيـخ اثـر يـې(۴) پـر سـنګين خـاطرو نـه شـو    يـو پـه سـله خـوارۍ و کښـې تـر فرهـاد مـا
بـې لـه عشـقه بـل څـه نـه را ويـل کېـږي    ګفت مي وړئ دئ پـه صدق(۵) د استـاد مـا
که خبر واى چي شانه بي(۶) ستا په کار شي    پـرورش بـه مـي وکـړئ د شمشـاد مـا
پـر زيـارت بـه مـي څـراغ لـه خپلـو بـل وي    لــه رقيبــه ســره کــړئ دئ جهــاد مــا
چـا تـه څـه وايـم اوس هرڅـه را رسـېږي    ګيله نه کړم په ځان کړئ دئ فساد ما(۷)

۱۵ مـا ويـل غـورد "حنـان" د بېـداد وکـړه ۱۰۸
ويـل شـړلئ مـي لـه دره دئ پـه داد مـا

زه طلــب د زړه کــوم او زړه طلــب ســتا    آواره شــوم لــه عالمــه پــه ســبب ســتا
نه مي غواړي، نه مي بولي، نه مي وژني(۸)    حيرانېــږم و دا فکــر تــه عجــب ســتا
ګوندي خلاص مي د رقيب له ناکردو کړي(۹)    مـا مظلـوم پـه داد نيـولئ دئ جلـب سـتا
خپلو سترګو فتوا در کړه چي مي وژني    حيرانېږم(۱۰) پـر دا لوسـتو د مکتـب سـتا
وکــوثر تــه حاجــت نــه لــري د څښــلو    چي جام نوش که څوک د ميو لبالب ستا
په ديدن که يې سيراب کړې ښه به وکړې    عاشــقان د ديــدار تږي تشــنه لــب ســتا

۱۶ توقــف پــه دا کــي مــه کــوه دلبــره(۱۱) ۱۱۵
که پوره شي(۱۲) د "حنان" په مرګ مطلب ستا

نـه يـو زخـم لکـه ګـل دئ نمايـان زمـا    غونچه طوره هزار چاکه دئ پنهان زما(۱۳)
ګيلــه(۱۴) کفــر ده لــه بختــه و اســمان تــه    سيا بختي مي شوه(۱۵) د بزم څراغان زما

(۱) چاپي دېوان: "د صحرا آهو به سيل له را ته راشي ".(2) چاپي دېوان: ګلاب څه قدر لري ستا ورخسار ته ".
(۳) بې = به يې (۴) چاپي دېوان: هيڅ اثرمي. (۵) چاپي دېوان: په مهر. (۶) بې: به يې. (۷) دا بيت په اصل کي نسته. که څه هم د غزلي د بيتو شمېر يې يو زيات کړ. بيا هم له چاپي دېوانه واخيستل سو. (۸) چاپي دېوان: "نه مي نمانځي نه مي وژني نه مي بولي "(۹) چاپي دېوان: "که مي خلاص ته د رقيب له ناکردو کړې "(۱۰) چاپي دېوان: حيراني ده.
(۱۱) چاپي دېوان: صنمه. (۱۲) چاپي دېوان: که پر وشي. (۱۳) چاپي دېوان: هزار چاکه غونچه طوره دئ پنهان زما "
(۱۴) چاپي دېوان: شکوه. (۱۵) چاپي دېوان: "... مي ده "

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاقبت به مي تاراج که مخ[1] د ترکو    چي کینه لري[2] په زړه کي هر زمان زما
چي له ترکو لیري ګرزي سلامت وي    ولي څه کړم چي زړه نه دئ په فرمان زما
په ژړا مي نرم نه شو زړه د ښکلیو[3]    نه نرمېږي د غه کاڼی په باران زما
له نګاه سرمه آلودو ستا دلبره    لکه بوی د ګل بې ږغه شو فغان زما

۱۷    په دا عصر کي همدرد نسته "حنانه"    ۱۲۲
چي به و ګنډي په رحم چاک ګرېوان زما[4]

چي مي ولیده رفتار ستا    توري زلفي تار په تار ستا
قد دي سروه د ارم ده    غاښ درون دئ آبدار[5] ستا
پر ګلاب باندي شبنم دئ    که عرق دئ په[6] رخسار ستا
سره لبان دي سره یاقوت دي    خوږ تر شهدو دئ ګفتار ستا
په کوثر کله اوبېږي    چي وي تږی د دیدار ستا
که آفتاب دئ که مهتاب دئ    خوشه چین دئ د انوار ستا

۱۸    خال دانه زلفي دي دام کړي    ۱۲۹
"حنان" وینم ګرفتار ستا

یو وېښته د راستۍ نه لري ابروی ستا    رحم نه لري مژګان فتنه جوی ستا[7]
شمعه نه شړي پتنګ له خپله ځانه    اور حیران دئ و تندۍ و ته د خوی ستا
په کعبه په بتخانه کي ستا مذکور دئ    هر طرف په غوږو اروم های و هوی ستا
چي دلته باد له زلفو څخه و موښت    له خُطا کړه مشک بېرون د زلفو بوی ستا
که مي زر کتب خاني و پلټلې    و مي نه لیده په سترګو خط د روی ستا
غواړې څه سرو سامان له ما دلبره    و ایستم له نام و ننګه جستجوی ستا

۱۹    سر و مال د "حنان" څه دئ ستا په عشق کي    ۱۳۲
دواړه کونه قیمت نه لري یو موی ستا

مه غولېږه په راتله د بې وفا    هرګز مه درومه پرپله د بې وفا[8]
که هرڅو ټینګه وعده در سره وکړي    باور مه کوه په خوله د بې وفا

---

(۱) چاپي دېوان: خوله. (2) چاپي دېوان: چي لري کینه. (3) چاپي دېوان: زړه د ترکو. (4) دا مقطع په اصل کي نسته له چاپي دېوان څخه را نقل سوه. (5) چاپي دېوان: ښه آبدار- د اصل له ثبت سره سم "آبدار" باید د (باء) په پېښن دري څپې و لوستل سي. (6) چاپي دېوان: پر رخسار. (7) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (8) دا غزله په اصل او "ب" کي نسته له چاپي دېوان څخه را نقل سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه راتله پـه نه راتله یې پروا مه کړه — د لګیرمه او سه پـه تله د بې وفا
چي نه ننګ لري نه شرم مه یې غواړه — توبه وکاږه له پله د بې وفا
ځړولئ یې و سر مدام له شرمه — هغه چاچي پت پاله د بې وفا

۲۰ — پـه قسم چي یې "حنان" اعتبار نه کړ — ۱۴۲
خوی معلوم ور ته هاله د بې وفا

چي دي عشق پـه سترګو روند کړم مات پـرملا — پـه بغل کښې راکړه ستا د قدعصا
نه ستا جـور تمامېږي نه زما صـبر — زما پـر صبر آفرین ستا پـر جفا (1)
د اسمان ملکي ولوېدي له ذکره — چي ارام نه شوي یو د مزما له غوغا
که مي ستا وصل نصیب شو له خدا غواړم — پـه دعا کښې شپه د قوس ورځ د جوزا
بې تا شپه هومره اوږده لکه ستا زلفي — نمر له تا سره شي تېر لکه بربېښنا
پـه مضمون یې نه پوهېږم څه یې لولم؟ (2) — پېچ پېچ زلفي دي خط دئ د ترسا (3)

۲۱ — ستا د وصل پـه امید یې عمر تېر شو — ۱۴۹
د "حنان" پـه تشه تمنا (4)

بهار راغئ څه موسم دئ د صحرا — ساقي راوړه جام د میو مهیا
پـر سمن د بنفشه کاکل دئ هسې — پیوسته پېچلئ خط دئ د ترسا
د شبنم څاڅکي پـه ګل پوري ځړېږي — لکه دُر چي وي پـه غوږ د دلربا
معجز طوره تماشې دي پـه بوستان کښې — ښاخ د ګلو پـه مثال ید بیضا (5)
څه لاله ده، څه سبزه، لعل زمرد دئ — ډک دئ لاس هم د چمن هم د صحرا
عجائب مجلس تیار دئ پـه چمن کښې — د سبزي طفلان حاضر پـه تماشا
پـه آئینه کښې د اوبو د غنچې عکس — لکه ستوري د اسمان کوي رونا (6)

۲۲ — زړه مي غواړي چي توبه کړم بیرته ماته — ۱۵۷
اي "حنانه" وقت د ګلو راغئ بیا

---

(۱) دا او ورپسي درې بیتونه پـه (ب) کي نسته. (2) ب: چي یې لولم. (3) ب: ... زلفي دي دي خط ترسا. (4) دا مقطع پـه (ب) کي نسته. پـه (ب) کي د دې غزلي صرف مطلع او یو بیت نسته، نور بیتونه یې بالکل جلا دي د کوټي چاپ "ب" دغه بیتونه لري چي له مقطع پرته نور مکرر دي او د "الف" ردیف پـه نورو غزلو کي سته.

پر د کاه له ضعیفۍ اخستی نه شم — که څه یو یو پـه رنګ زه او کهربا — ←دا بیت پـه ۳۹ مخ کي راغلی دئ
ستا د وصل خیال مي نه ځي له خاطره — د مفلس له فکره نه وزي کېمیا — ←دا بیت پـه ۳۶ مخ کي راغلی دئ
ستا د سترګو د شهید قبر مي ولید — غزالان ورته پراته وو شا و خوا — ←دا بیت پـه ۳۷ مخ کي راغلی دئ
ستا د ناز و خرید ته زړونه جودانه ده — که پـه سر روح الامین کوي سودا — ←دا بیت پـه ۳۸ مخ کي راغلی دئ

دا واړه د عشق اکسیر اثر پر وکړ
چي یې رنګ د "حنان" کړ لکه طلا

(5) ب: پر بیضا. (6) دا بیت پـه (ب) کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ب﴾

د ګل بوی سهار را یاد کاندي احباب      جنون پاڅوي سایه د دې سحاب
چي مي بوی د داغ سبا ګلشن ته یو وړ      ګل رنګ توی کړ لکه وینه د کباب
زما په مرګ د مستو سترګو څه پروا ده      له کشتنه څخه بیم نه کړي قصاب
شور په زړه کي اچوي د عشق خبري      پرورش مومي ذره(1) په آفتاب
تبسم یې له ښکنځلو(2) سره زېب که      قدر زیات لري ترخه چي شي شراب
دل و دین مي په یوه نظر تر جار کړ      لا یې عشق لري له ما سره حساب

۲۳      ستا د مخ په درېېزه کي له "حنانه"      ۱۲۴
ورک شو صبر و ارام و خورد و خواب

مخ یې دئ لکه آفتاب      له آفتابه یې زیات تاب
له پرتوه ستا د مخ دئ      چي لمر پټ شو په سحاب
له خجلته د رخسار دي      غرق په وینو شو ګلاب
په سرخي ستا د لبانو      له عقیقه(3) یوړ آب
نرګس ستا سترګو حیران کړ      چي عصا په لاس خراب
له نفسه مي سر سم ځي      په مثال لکه حُباب

۲۴      په تعریف د یار "حنانه"      ۱۷۱
څوک به وکه ستا(4) جواب

پېچوتاب که کړم د زلفو پېچ و تاب      معطر مي کړ د ماغ د مخ ګلاب
دا د چا د وروځو خیال یې په زړه ګرزي      و قبلې(5) ته چي شا کړي ده محراب
دا د کوم مهروی د تېغ له وهمه هسي      د هالي سپر پر سرونیوه مهتاب
کیف د چا د لب د میو دئ، حیران یم      دا چي ګرزم ګاهي مست ګاهي خراب
لکه وورکي چي نمري په شوخي غواړي      په بوسه کي عاشق نه لري آداب
چي یې حُسن ورځ په ورځ زیاتېږي څه کړم      ورځ(6) په ورځ مي زیاتوي د زړه خوناب

۲۵      که هر څو شعر بلند وایې "حنانه"      ۱۷۸
د حمید موشګاف نه شي جواب

چي دي لعل آلوده شي په شراب      شي د زړه مرغه پر اور باندي کباب
په محراب کښي د ابرویو دي خال نه دئ      دا هندو دئ چي سلام کړي د آفتاب

---

(۱) چاپي دېوان: ذره هم. (2) چاپي دېوان: له د شنامه. (3) چاپي دېوان: له عقیقو. (4) چاپي دېوان: وکي.
(5) اصل: و قبله ته. (6) اصل: ورو په ورځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه هـر ځـای چي قـدم کښـېږدي سـرو قـده　　مردګان شي تـول پـه زمکه کښي سېراب[1]
ډېـر امیـد مـي دئ و هغـه سـرو قـد تـه　　قـُمري طـوره طوق د غـاړي کـړم رکـاب
هیڅ ګیله له مستو سترګو څخه مه کړه　　رحـم کلـه شـته پـه زړه کښـي د قصـاب
کله کله بې په خواب کښي[2] خیال حاضر شو　　ولـي څـه کـړم چـي هرګـز نـه راځـي خـواب

۲۲　لـه هوسـه بـه قـدم پـر اسـمان کښـېږدي　۱۸۵
کـه "حنـان" شـي سـتا لـه وصـله کامیـاب

چي یې زړه وړئ وي خیال ستا د غبغب　　د هغــو رنګونــه ژړ وي تشــنه لــب[3]
مشـق د خیـال د هغـه طفـل همېشـه کـړم　　چي پـه دیـد سـره یې اور اخلي مکتـب
دا د زلفو تـار یې کوږ پـه رخسـار نـه دئ　　و سـپوږمۍ تـه راو تلـئ دئ عقـرب
کـه هـر څـو درتـه زاري او عـاجزي کـړم　　پـر جبـین بانـدي چیـن راوړې د غضـب
له عاشقه حیا څه غواړئ پـه عشق کي　　لــه مجنونــه مونــده کلــه شــي ادب
څـه سـیالي بـه کـه لـه تـا خوبـان د عصـر　　خوش نسب یې، خوش لقب یې خوش حسب

۲۷　لــه حمیــده ســره آس د شــعر نــه ځــي　۱۹۲
اي "حنانــه" بــس کــه و نیســه جلــب

سـپین رخسـار او زنخـدان د شـکرلب　　زړه مــي یــووړ ایــن و آن د شــکرلب
پـر درګـاه یې دروېزه کانـدي د حسـن　　د فقیـر پـه دود سـلطان د شـکرلب
وړي وړي مـي د زړه مـانې هالـه دي　　چـي یـې خیـال شـو را روان د شکرلب
لکـه ځغلـي لېـونی سـپی لـه اوتاقـه　　هسـي ورک شـوه رقیبـان د شـکرلب
که مي سر که مال که عقل دئ که صبر　　تـر دیـدن بېِ[4] کـړم قربـان د شـکرلب
دی لـري زګـوة د حُسـن زه حقـداره　　وظیفـه مـي شـوای لبـان د شـکرلب

۲۸　همېشــه بــه د "حنــان" کــاني پــه کېــږي　۱۹۹
چــي بــاور کــه پــه پیمــان د شــکرلب

خـدا قبولـه کـړي دوعـا زمـا غریـب　　رقیـب کـړه د یـار لـه دره بـي نصـیب
سـر درد د عاشـق نـه ور کېـږي دلتـه　　صندل رنګه وینه صرف شوه د طبیب
د دې شوخ دلبر د مینې پـه مکتب کښې　　لکــه ګــل مــروړي غوړونــه د ادیــب
چي جرس و ځای تـه رسي فغان نـه کـه　　فغان هم نـه کـه عاشق چي شي قریب

(۱) ب: مرده ګان لکه فاختې شي په حساب. (2) ب: په خوب کښې.(3) دا غزله او د "ب" د ردیف دا نوري راتلونکي غزلي په چاپي دېوان کي نسته. (4) بې= به یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه دلې، دی په کوڅه کې د یار ګرزي          دا خپل زړه مې شو و ماوته رقیب
ژر د یار قدمبوسې کاندي تر لاسه          چې ځان خاوري که په درکې طبیب(1)

۲۹          لـه نـا اهلـه چې وفا غواړې "حنانه"          ۲۰۲
لـه املوکـه مـزه غـواړې د زبیب

راشـه و ګـوره ګفتار د عنـدلیب          چې پاره کړ ګـل آزار د عنـدلیب
چې ګـل نـه ویني خاموش لـه غمه کښېني          دا وفا ګوره هـر وار د عنـدلیب
ځـان و ګـل تـه رسـوي پـه هـره توګـه          کـه څـه خیـژي تـر زړه خـار د عنـدلیب
چې د اور پـه شاني(2) سرې لمبې تر سر ځي          پـه آه سوځ دئ ګلزار د عنـدلیب
و صـلت مـومي عاقبت هغـه لـه یـاره          چې قبـول کـه پر ځـان کـار د عنـدلیب
ګـل چې هسې ځوانیمرګ ځي په پوهېږم          فریـاد اروي هـر سـهار د عنـدلیب

۳۰          چې اثر پر ګلو نـه کاندي "حنانه"          ۲۱۳
بې فایدې دئ هـر چغار د عنـدلیب

﴿ ت ﴾

دا شبنم پر مخ د ګل دئ قطرات          کـه عرق دئ پر رخسار لکه(3) نقات(4)
دا یې تار د زلفو کوړ و خوله ته پرېووت          کـه افعې حلقـه وهلې پر حیات
چې د سترګو تېغ هر دم پـه رنجو باټ کـه(5)          دم پـه دم راتـه ښیي د مـرګ حالات
مـخ یې شو زما قاتـل سترګې شاهدي          بې قاضي یې زما قتـل کـړ اثبات
قربـاني دي یـم د سترګي روغ بـه نـه شم(6)          پـر دغـو بیمارو شوئ یـم(7) خیـرات
پـه اول بـازي د مینـې پـه شـطرنج کې          تـا پـه رخ کـړ زمـا د زړه پادشاه رامات

۳۱          د حمیـد د شـعر بحر تـه "حنانـه"          ۲۲۰
یو څو څاڅکي دي لوېدلي ستا ابیات

زرغونه خط دي رونق کړ د ریحان مات          ستا د مخ ګلشن کړ رنګ د ګلستان مات(8)
ستا د خولې غونچې لمن کړه د ګل خیرې          پـه سرو لبو دي قیمت کړ د مرجان مات
وهـې لار د اسـلام ستا جادو د سترګو          تورو زلفو دي ګردن کړ د ایمان مات

(۱) د دې نیم بیتي په وزن کي یوه څپه لږده. (2) شانې = شان یې. (3) چاپي دېوان: باندي. (4) کذا فی الاصل.
(5) چاپي دېوان: باټ کړي. (6) چاپي دېوان: "قرباني یم ستا د سترګو ژر مي وژنه". (7) چاپي دېوان: ښه یمه.
(8) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاول(1) کاږم به دي زه له پرېشانیه — هغه عهد دي لکه زلفي کړ آسان مات
د بادام سینه دي سترګو سل سوري کړه — چي يو ځلي شوه په زړه کي ستا مژګان مات
وې ګندهلي په بانو د بادام سترګي — شیرین لب دي د پستې کړ نمکدان مات

۳۲ — پیروي مي د حمید موشګاف وکړه — ۲۳۷
ما "حنان" د شعر لاس کړ د رحمان مات

ستا په خط سره زینت شو د مخ زیات(2) — په آبرو صفايي کېږي د مرآت
د سیا چشمو د بوسې وعده بېځا ده(3) — د آهو په ښاخ موقوف دئ دا برات
چي په مصر کي کلام(4) د شکرلب شي — شي خجل له ښاره(5) و باسي نبات
زړه و عقل مي دا ستا و خیال ته ورکړ — پادشاهانو لره وړي رعیت سورسات
زما د زړه سکندر به کله ځني ګرزي(6) — چي يې(7) خط شو راته خضر خوله حیات
نه پوهېږم کل جهان دئ په دا غم کي(8) — که ستا غم کړ راته تریخ زما اوقات

۳۳ — ته غني نصاب د حُسن دي پوره دئ — ۲۳۴
زه "حنان" یم مستحق را کړه زکٌوة

را شه پرېږده د ګلرخو محبت — سور انګار دئ همېشه د دئ(9) قربت
المدام يي(10) د هجران په اور کښي سوځي — هر سړی چي د ګلرخو کړي صحبت
خوبرويان واړه له خرمي ظالمان دي — زړه سوی نه لري پر اهل د غربت
په آرزو کښي د رخسار که يې ځوک مړشو — سره لاله يي زرغونېږي پر تربت
قتلول په تېغ د هجر د مظلوم که(11) — تي امید کوې د شونډو د شربت
له رقیبه سره هردم خوشخويي که(12) — له عاشقه بل څه نه که(13) بې نکبت

۳۴ — بل څه نه دئ يو مزری دئ د یار هجر — ۲۴۱
چي يې پروت پر ما "حنان" هومره هیبت

نرم نه شو زما په آه زړه د دلدار سخت — نه نرمېږي په باد کاڼی د کوهسار سخت
غافل مه شه هیڅ زمان له مړاوو سترګو — په ناجوړه تن که(14) مکر دا بیمار سخت
چي ښاخونه يې د وروځو(15) هسي خم دي — دا يې سترګو د بادامو(16) را ووړ بار سخت
نن شپه مه غواړه قرار له ما ناصحه — مضطرب کړم خیال د زلفو د نګار سخت

---

(۱) تاول= تاویل. (2) چاپي دېوان: "ستا په خط د مخ زینت شو ځکه زیات". (3) چاپي دېوان: بېځای ده.
(4) چاپي دېوان: سودا د شکرلب شي. (5) اصل: له ښهره. (6) چاپي دېوان: "سکندر د زړه مي کله ځني ګرزي".
(7) چاپي دېوان: چي دي. (8) چاپي دېوان: په غم اخته دئ. (9) د دئ= د دوی(د کندهار لهجه) ، ب: د دوی.
(10) ب: مداماً يې. (11) ب: د مظلوم کړي. (12) ب: خوشخويې کړي. (13) ب: بل څه نه کړي. (14) چاپي دېوان: کړي.
(15) چاپي دېوان: د ابرو يې. (16) اصل: بادام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي هر څوک دي یادوي خاموشي خوی کړه
پته خوله غونچه بلبل که[1] په ګفتار سخت

صاف دلان له ګفتګویه خفه کېږي
شي نفس د آینې پر مخ غبار سخت

۳۵ بس که[2] ډېر جور و جفا پر "حنان" مه کړه ۲۴۸
چي یې کښېلئ ستا د وصل انتظار سخت

په حسرت دي تور خط تېر کړ د رخسار وخت
لکه تېر شي په خزان د لاله زار وخت

زلفي ویني د زړو خوري د خط په وخت کي
د ماړانو ضابطه وي د بهار وخت

لکه سیل د غره له سره ژر ژر لوېږي[3]
هسي دروميي د سنګدلو د عُذار وخت

چي یې خط لا پر مخ نه وي بوسه غواړه[4]
د دوعا د قبلېدو وي د سهار وخت

په غرور د خپلو زلفو غافل مه شه
توره شپه ده د عشاقو د آزار وخت[5]

د هجران شپه ده د قوس نه تمامېږي[6]
لکه اوږد شي[7] د عاشق د انتظار وخت

۳۶ چي د اوښو له بارانه، نه خلاصېږي ۲۵۵
پر "حنان" دئ تمام عمر د ملهار وخت

که مي نه کړله بلبل سره داستان درست
آه مي پري نه ښود په باغ کي یو ګرېوان درست

د اسلام ښیښه مدام له سنګه ولي
ترکان نه پرېږدي په سر کي یو ایمان درست

د معشوق نام و نښان عاشق بلند که[8]
مېوه ښه کوي نهال چي وي باغوان[9] درست

په دا لږ عمر پر سر باندي ځای ورکه
ارمان دا دئ که د ګل لا وای پیمان درست

زړه مي ولاړ شو اوښي هم ورپسي ولاړې[10]
لکه چیرته لښکر درومي د سلطان درست

په دادن کي د بوسې پښېماني مه کړه
په وعده په قول ډېر وي کریمان درست

۳۷ هيڅ له خیاله ور ته نه ګوري سیا چشم ۲۷۲
که "حنان" په اوښو لوند کاندي دامان درست

که هرڅو په یارانه کي مي دئ یار سُست
ولي عشق مي سُستي نه که زما خوار سُست[11]

را پوهېږي چي مي پند پر اثر نه که
ځکه هسي راته وعظ که هوښیار سُست

خط یې هسي په وار وارو مخ ته راغئ
لکه ګډ[12] شي د اسلام په ښار کفار سُست

که نو خط د خط په وخت داد که ښایېږي
شي وړیا متاع چي چیرته شي بازار سُست

ما یې هېره کړه بوسه له ډېره غمه
ولي نه مي پرېږدي ما دا انتظار سُست

---

(۱) چاپي دېوان: کړه. (2) چاپي دېوان: کړه. (3) چاپي دېوان: ژر ژر درومي. (4) چاپي دېوان: چي یې خط نه وي پر مخ د بوسې خواست کړه،.
(5) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (6) چاپي دېوان: "شپه د هجر شپه د قوس نه تمامېږي".
(7) چاپي دېوان: اوږدوي. (8) چاپي دېوان: څرګند کړ. (9) اصل: باغبان. (10) چاپي دېوان: یو وار پسي ولاړې.
(11) د دې غزلي مطلع په چاپي دېوان کي دا سي ده:
زه هم سُست یم قاصد سست او دریم یار سست
زما عشق ځکه په دا شو وار په وار سُست

(۱۲) چاپي دېوان: لکه کړ؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مخ بهار یې نه وینم خاموش یم　　بلبلان کاندي په ژمي کې ګفتار سُست[1]

۳۸ 　　د دې عصر[2] د پښتو قدر بلند شو
چې "حنان" په پښتو ژبه کړي ګفتار سُست 　　۲۶۹

په ځنځیر دې د ګیسو کړم ګردن بست[3]　　چې یوه خوا ته مې نه رسېږي دست
په دریاب کې دي[4] د میني هسې ډوب یم　　چې په خیال نه را رسېږي د چا شَست
د کاکل له ظلمه سترګې آګاه نه دي　　نه خبرېږي هیڅ د شپې په غلو مست[5]
چې نخجیر خپل سر پر ځای د قدم کښېښود　　کوم صیاد ونیو د کین غشي په شَست
له بدنه مې هغه دم روح جدا شي　　چې دې وینم له رقیب سره پیوست
نن د حُسن په دولت کې رحم و کړه[6]　　مدام نه وي[7] دغه ستا د حُسن هست

۳۹ 　　حق به غواړي د قیامت[8] په ورځ دلبره
چې رقیب دې کړ بلند او "حنان" پست 　　۲۷۲

ستا د عشق په غم کې نه یم ملامت　　راتې[9] وښود تر قیامت پخوا قیامت
له خاطره مې ستا خیال په ظلم نه ځي　　تنده نه دروني له تړي په زحمت
موزون قد چې دې موذن و لید په سترګو[10]　　په مسجد کې یې ویل قامت قامت
د دریاب او به صدف لره دي زهر　　شربت نه چښي د چا، تږی د رحمت
تن بې خیاله، زړه بې عشقه په کار نه دئ　　بې نګینه ګوتي نه لري قیمت
عشق بې کله وای ورکړئ و مجنون ته[11]　　که دا بار افلاطون وړای سوای په حکمت

۴۰ 　　نوی خیال د یار له خولې وایه "حنانه"
شنیده خبري نه لري حرمت 　　۲۸۳

چې بار وړي د یار د هجر په زحمت　　تل وایه شي پر هغو باندي رحمت[12]
عاشقان په دنیا نه وزي له غمه　　له ازله دغه شوئ دئ قسمت
که قیامت چا په دنیا نه دئ لیدلئ　　د ښه یار جدایي و بولئ قیامت
له حیرته سره و دري ثابته　　پر هر ځای چې جلوه وکړي ستا قامت

---

(۱) چاپي دېوان: "بلبلان په زمستان کښې کړي ګفتار سُست". (2) چاپي دېوان: د خپل عصر. (3) چاپي دېوان: په زنځیر د ګېسو شومه ګردن بست. (4) چاپي دېوان: کې یې. (5) چاپي دېوان: "چې د شپې په غلو نو نه خبرېږي مست". (6) چاپي دېوان: مهر بویه. (7) چاپي دېوان: تل به نه وي. (8) چاپي دېوان: محشر. (9) راتې= راته یې. په چاپي متن کې (رایې) دئ. (10) چاپي دېوان: په سترګو ولید. (11) دا نیم بیتی په چاپي متن کي داسي دئ: "عشق بې کله دوا ورکړي و مجنون ته" په اصل کي بیا په دې ډول دئ: "عشق بې وو ورکړئ و مجنون ته". ماله دواړو څخه په استفادې سره دغه ثبت سوئ شکل غوره وباله. (12) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. له اصل څخه را نقل سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو خطان که ناز کوي بې ځايه نه دئ — خرقه پوش وي خاوندان د ډېر عظمت
چي يې واورم تريخ ښکنځل له شکرلبو — په مانه کېږي شکران د دې نعمت
۴۱ چي په سپينه ږيره نه اوړې د ښکلو ۲۹۰
آفرين دي شه "حنانه" پر همت

ستا تر شونډو لعل نه لري قيمت — ګل دی نه لري و ګل ته نزاکت[1]
پريروی چي عاشق نه لري دئ هسي — لکه پيغمبر چي نه لري امت
بې کششه زړه ورکړه و يار ته مه کړه — چي بې ستة مېلمه نه لري عزت
په تور خال يې کل عالم دئ قتل کړئ — خوشي وا يې چي هندو وي بې همت
په لويي يې ابرو خمه ده و قدته — په حرف کم دئ له قيامته يې قامت
نه در ګرزم لکه غم ستا په خاطر کښي — فراموش دي کړم دلبره عاقبت
۴۲ که پښې کښېږدې د "حنان" پر سترګو باندي ۲۹۷
څه به نه لري د دې نعمت منت

د عشق غشی مي کاري تر ځګر و ووت — چي له زړه څخه مي خيال د دلبر و ووت
لا مي نه و مراد د وصل پيدا کړئ — د هجران د لمبو[2] دود مي تر سر و ووت
د خپل وصل ملهم[3] زما پر زخم کښېږده[4] — تر ځګر مي ستا د ظلم خنجر و ووت
مجنون بېد له حيرانۍ و ښو ته ګوري — په هوا دا ستا، تر باغ صنوبر و ووت
د غمزو د غشو[5] جنګ لره يې هردم — له زخمو مي ډک[6] ځګر لکه سپر و ووت
نور مي څه وژنې په تېغ د خپلو[7] سترګو — د غمزې تير مي رسا تر ځګر و ووت[8]
۴۳ پر محک د امتحان د سخندانو ۳۰۴
د "حنان" شعر چاندي لکه زر و ووت

دا ګيسو[9] دئ د نګار په لاس را کښېووت — نه پوهېږم که ښامار په لاس را کښېووت
که اره لکه شمشاد شم[10] پرې بې نه ږدم — که د تورو زلفو تار په لاس را کښېووت
خوله غونچه، سترګي نرګس، زلفي سنبل دي — خط ريحان دئ څه ګلزار[11] په لاس را کښېووت
توري زلفي مړاوي سترګي د ترکانو — د راز عمر د بېمار[12] په لاس را کښېووت
تماشه چي د خپل زړه د داغ کومه[13] — هم ګلشن هم لاله زار په لاس را کښېووت
د رقيب و سرته وړی تږی ناست يم — پرې بې نه ږدم که يو وار په لاس را کښېووت
۴۴ زه "حنان" په عشق کي نوې طالع غواړم ۳۱۱
که وصال د هغه يار په لاس را کښېووت

---

(۱) دا غزل په(ب) او چاپي دېوانو کي نسته. (2) چاپي دېوان: لمبې. (3) چاپي دېوان: مرهم. (4) چاپي دېوان: کښېږده. (5) چاپي دېوان: غشی. (6) چاپي دېوان: پُر ځګر. (7) چاپي دېوان: د تورو سترګو. (8) چاپي دېوان: "د غمزې تير مي د شا تر کمر و ووت". (9) چاپي دېوان: تورګېسو. (10) چاپي دېوان: شانه. (11) اصل: دا ګلزار. (12) چاپي دېوان: دي بېمار. (13) چاپي دېوان: "تماشا چي د خپل زړه د داغو تل کړم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مي په زلفو کښې نن بیا د دلارام کښېووت
چې له قفسه دا مرغه ووت په دام کښېووت

هغه بندي ښه وي امید چې د خلاصیت وي ورته
زړه چې په زلفو شي بندي علی الدوام کښېووت

دا يې پر مخ باندي خال نه دئ چې ښکارېږي تاته
دا تور هندو دئ چې په میان کښې د اسلام کښېووت

انتظار نه که[1] د کوثر د اوبو تږی د دید
چې يې په لاس کښې له ازله د عشق جام کښېووت

خاندي غُنچه رنګه خوله خلاصه په هوس هغه څوک
چې په بغل کښې يې وصلت د ګل اندام کښېووت

زړه مي طواف د یار د درکاوه په دغه امید
چې به مي وصل شي نصیب، په عقل خام کښېووت

۴۵ — ۳۱۸

زړه کړه خوشحاله خلاص به نه شي تر قیامته[2] پوري
"حنان" دا ستا د عشق په لومه کښې مدام کښېووت

﴿ ټ ﴾

چې اشنا کړ په مرګ مخ را څخه پټ
ښايي اوس چې مدام ژاړم په ورټ ورټ[3]

چې له نازه به يې سر پر بالین نه ښوو
ګورستان لره روان شو پروچ کټ

که هر څو مي[4] افسوس کړ فایده يې نه کړه
د لحد پر خوا يې مخ و ماتي[5] څټ

ماتول او سازول د فلک کار دئ
زنده سر واړه منګي دي د ارهټ

نه له ښه زړه الوته، نه په بد مرګ شته
د اشنا د مرګ خبر نه کړم خوله پټ

چې مي یار قبر ته ولاړ او زه لا ګرزم
په سل ځله تر ما بِه دئ د هند جټ

۴۶ — ۳۲۵

په فراق يې[6] زه "حنان" سترګی ستومان شوم
بېلتانه هر ځای را وښود د غم کټ[7]

﴿ ث ﴾

یار مي یار شو له رقیبه الغیاث
آه له دا توره نصیبه الغیاث

چې له رنځه مي خبر دوا مي نه که[8]
له دې بې پروا طبیبه الغیاث

په هیڅ نفعه سود يې نه یم پوهېدلئ
زړه مي بایلود بې موجبه[9] الغیاث

هر سهار د ګل ګرېوان پاره پاره که
د آزار له عندلیبه الغیاث

چې دي سِر پاشي سبا په عامو خلکو
له هغه یار قریبه[10] الغیاث

چا په زده کړه خونرېزي دا ستا په سترګو[11]
له دا هسې رنګ ادیبه الغیاث

۴۷ — ۳۳۲

د "حنان" په حال خبر غمخوري نه که
له دې هسې رنګ حبیبه الغیاث[12]

---

(۱) ب: نه کړی. (2) بله نسخه: ته قیامته "متن: ب". (3) چاپي دېوان: "عجب نه ده که اوس ژاړم په ورټ ورټ".
(4) چاپي دېوان: که مي هرڅو. (5) وماتې: و ماته يې. په چاپي متن کي د (ماته يې) په شکل دئ. (6) په اصل کي (يې) نسته(7) چاپي دېوان: "بېلتانه پر ځای راوښوده غم، پټ". (8) چاپي دېوان: نه کړي. (9) اصل: بې مجیبه؟.
(10) چاپي دېوان: یار و رقیبه؟. (11) چاپي دېوان: جائز ده کړه خونرېزی د شاه په سترګو". (12) په اصل کي "له دې بې پروا طبیبه الغیاث" دئ ما د چاپي متن ثبت غوره و باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (چ)

فلک وا چاوه په بخت کښي زما خوار پېچ — په تدبير سره خلاص نه شو د دې کار پېچ
راته رام شي ترهېدلی آهو کله — بخت را اچوي(1) له ورايه په تلوار پېچ
چي وفا را سره کاندي هم وېرېږم — تمام نه لري هرګز د جفا کار پېچ
په ژړا مي لکه ګل لا هوسېږي — نه خلاصېږي له جبينه يې تابدار پېچ
دا افعي د ګل پر برګ حلقه وهلې — که کاکل دی پر عُذار باندي(2) د يار پېچ
دا پر خوله باندي يې تار د زلفو کوږ دئ — او که پروت پر خزانه د طلسم مار پېچ

۴۸ — شاعران شعر مغلق وايي پوهېږم
”حنان“ نه لري د ژبې د ګفتار پېچ — ۳۳۹

## (ج)

پاد شاهان به هسي خوښ نه وي په تاج — لکه زه خوښ يم د ترکو په تاراج
همېشه په زور د حسن بتان اخلي(3) — د ارم له شاپېرو څخه خراج
شيريني مي د وصلت کړه هجر هېره — آموخته مي شو په دې زهرو مزاج
مبتلا په هسي درد يم نه پوهېږم — چي طبيب مي درمانده شو(4) په علاج
چي نا جوړه مسيحا شي په اسمان کي — ستا خندا غواړي د پاره د علاج
که دي زلفي په شانه کړې زه ضامن يم(5) — څو وا نه خلې د خُتن له مشکو باج

۴۹ — د بل عيب پوشېده لره ”حنانه“
که خبر يې له احواله د حلاج — ۳۴۶

دا پخپله شو نن بيا را سره يار کج — که په بدو پوهولئ دئ(6) اغيار کج
که په ناز سترګي کړې اړوي څه شو؟ — مست له خياله مدام ځي پر سمه لار کج
پر عُذار زلفي تر نيمو کړې ښې دي — په خپل ځای کي ترسيم ښه ايسي بسيار کج(7)
پر اوږو کې زلفي تاب شوې عجب نه دئ — مخ په کښته چي ځي هر کله وي مار کج(8)
چي يار يار شو له رقيبه، صبر بويه — ولي کېږي په تلوار سره سم کار کج
کې شکوه کوم له جوره راته ښايي — ګيله هلته کړي نوکر چي شي بادار کج
چي بخت کج شو، فلک کج شو يار مي کج شو — خدای دي نه کاندي د چا واړه روزګار کج(9)

۵۰ — چي مزرى يې(10) د هجران راغئ ناګاهه
له هيبته ورته شو د ”حنان“ وار کج — ۳۵۴

---

(۱) ب: را واچوي. (2) ب: په عُذار باندي. (3) چاپي دېوان: بتان غواړي. (4) چاپي دېوان: چي طبيب مي نه پوهېږي.
(5) چاپي دېوان: "که دي زلفي په شانه کړې رضا مند يم". (6) چاپي دېوان: پوهېدلئ دئ. (7) په چاپي دېوان کي دا بيت نسته. (8) دا بيت په چاپي متن کي په دې ډول دئ:

پر اوږو يې زلفي ځکه پېچ و تاب شوې — مخ په پور ته چي ځي هر کله وي يار کج

(9) دا بيت په اصل کي نسته. (10) (يې) په اصل کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ح﴾

راشــه پرېــږده د دنیــا روز ګــار قبــیح　　　پــه لاس واخلــه د نبــي(ص) د دیــن تســبیح
لــه غیبتــه لــه بُهتانــه ځــان نګــاه کــړه　　　کلمــه وایــه پــه ښــه زبــان فصــیح
ځان د خدای بې یاده مه کړه څو ژوندی یې　　　هلتــه نــه شــي چــي اجــل دي کــه (1) ذبــیح
کــه ځــای غـواړې د اسمان پـر بـام د پاسه　　　لــه دنیــا کــه مینــه پــرې لکــه مســیح
د غفلـت لـه خوبـه ویښ شـه صبحګاه تـه　　　د فیــاض بــاران اورېــږي پــه ترشــیح
مشغول نه شوې یو زمان د خدای په ذکر　　　ځــان دي کــړ پــه بېهــوده ویــل جــریح

۵۱　　　دا ګوهر به دي په کار شي کې(2) په غوږ کړې
در تــه وکــړه "حنــان" څــه ویــل ملــیح　　　۳۶۱

## ﴿خ﴾

چي دا سم لـه خیالـه نـه ګوري جانـان شـوخ　　　دا پـه دا چـي بـل یـو نـه وینـي ترځـان شـوخ
د مژګــانو لــه ســایې یــې الــف لــوېږي　　　د الماســو پــر تختــه د مــیم دهــان شــوخ
لــه حلقــو یــې زلفــي ســر ترپایــه ســترګي　　　چـي لاس ور نـه شـي د چـا تـر زنخـدان شـوخ
د کمــان پـــر مـــوتې زاغ د تصویر کښــلئ　　　او که خال یې دئ د دوو وروځو ترمیان شوخ(3)
خیال یې زما په زړه کښې ناست دئ مضطرب یم　　　لکـه پـېښ شـي د مفلـس کـره مهمـان شـوخ
دا زمــا ســر افــرازي ده پــه جهــان کښــي　　　په ښکنځل چي را ته خلاص کاندي لبان شوخ

۵۲　　　پـه خـم قـد ، پـه سـپینه ږیـره حُـب د تُرکـو
بـل یـو نـه وینـم "حنانـه" سـتا پـه شـان شـوخ　　　۳۶۸

نظـر ژغـوره لـه کاکلـه د نګـار شـوخ　　　لېونتوب زېږي له زهرو د دې مار شوخ(4)
لـه خجلتـه ګـلان مـخ پـه وینـو وینځـي　　　چي و باغ ته ځي په سیل ګلعذار شوخ
ترمـي ترمـي زړه مـي جمـع د یـار مـخ کـه　　　د کبـاب کتـرې پخېـږي پـه انګـار شـوخ
پـه تـش دیـد ورې زړه د زُهـد لـه رسـتمه　　　چي کاته په شوخو سترګو کړي دلدار شوخ
و قـدم تـې د کوهســار زرکـه حیرانـه　　　چي لـه نـازه خرامـان کـوي رفتـار شـوخ
فـواره پـه زړه کښـي سـازه کـړم لـه وینـو　　　هیڅ د سیر هوا نه ګوري خونخوار شوخ

۵۳　　　اې "حنانــه" بلبــل کــوچ و کــړ لــه ګلــه
چي یې واروېده په باغ کښي ستا ګفتار شوخ　　　۳۷۵

خوږ ژوندون را پوري هسي کړ هجران تریخ　　　لکــه حــال وي پــر بنــدیانو د زنــدان تــریخ
نـو خطـان کـه(۵) د عاشـق لـه ژړا بـد وړي　　　پـر سبزه بانـدي بې وختـه وي بـاران تـریخ

---

(۱) چاپي دېوان: کا. (2) کې: که یې. (3) دا بیت په "ب" کي، د پای لخوا دوهم بیت دئ. (4) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته.
(5) چاپي دېوان: چي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه وصـلت کـې لـه رقیبـه نـه خلاصـېږم — پر موسم د ګل اوقات شي د باغوان تـریخ
می حرام دي په مجلس کې چي یار نه وي — بـې لـه ګلـه و بلبـل تـه شـي بوسـتان تـریخ
چي مي نوم ستا د هجران په ژبه واخیست — لا تـر اوسـه مـي پـه هغـه دئ زبـان(1) تـریخ
دا سـتا غـم مـي زړه بتـر سـره خفـه کـړ — شي لـه سپې مېرمني عـیش د مهمـان تـریخ(2)

۵۴ — کـه فرهـاد تـه و(3) شـېرین غـم د شـېریني
دا ستا غم کړ شېرین عمر پر "حنان" تریخ — ۳۸۲

## (خ)

سـتا د لبـو و شـربت تـه شـهد و نـاب هـیخ — پـه ښایسـت دي و رخسـار تـه دئ آفتـاب هـیخ(4)
چـي دي تـاب د دیـدن نـه لـرم حیـران یـم — سـتا دیـدن د پـاره هـومره اضـطراب هـیخ
چي په می دي د مخمورو سترګو مست یم — نســته کیــف د انګــورو د شــراب هــیخ
خط آیات، مخ دي کاغذ، شونډي دي وقف — سـتا تـر مـخ پـوري دئ شـغل د کتـاب هـیخ
چـي دي و ویشـتم پـه غشـو د مژګـانو — اوس که کړې راته د زلفو پېچ و تاب هیخ
د ارم(5) نـرګس خجـل کـړه دا سـتا سـترګو — و صـفا تـه د جبـین دي دئ مهتـاب هـیخ

۵۵ — پر مرګ پروت دئ ستا له غمه که یې ګوري
د "حنـان" پـه رنـګ بـه نـه وي بـل خـراب هـیخ — ۳۸۹

## (د)

خـو بـه ګـرزم سـتا پـه هجـر کښـې نـا ښـاد — پــه وصــلت مــي کــړه دا تللـئ زړګــی ښــاد
بــې مــدده یــې د زلفــو ســترګو بنــد کــړم — ښــکار بــې دامــه نیــوه کــار دئ د صــیاد(6)
چــي لیــده نــه شــي ســمند لــه چابکیــه(7) — بنـــدي شـــوئ یـــم د هغـــه پریـــزاد
ســتا لــه برنــدو ســترګو کلــه ګیلــه کېــږي — رحــم نــه لــوېږي(8) پــه زړه کښــې د جــلاد
د نـور چـا لـه لاسـه دا د پـر یاد شـاه کېـږي — تـه پـاد شـاه یـې لـه تـا وکـړم پـه چـا داد
د آخـري تېشـې کـار یـې پـر ځـای وکـه(9) — پــــه اول ســــعیه بېځــــا وه(10) د فرهــــاد

۵۶ — پــه مکتــب کښــې یــې "حنانــه" لــه اولــه
د وفـا حـرف یـې ور و نـه ښـود(11) اسـتاد — ۳۹۶

---

(۱) چاپي دېوان: دهان. (2) دا بیت په چاپي متن کي نسته. (3) چاپي دېوان: که فرهاد و ته. (4) دا غزله په اصل او "ب" کي نسته. (5) په چاپي متن کي دغه برخه (دار نرګس) ثبت سوې ده چي معنا نه ورکوي په غلطنامه کي هم تصحیح نه لري، ما (د ارم نرګس) و کیښ او معنا هم ور کوي. (6) ب: "ښکار په دام کښې نیوه کار دی د استاد".
(7) ب: له چابکۍ نه. (8) رحم نه ګرځي. (9) ب: پر ځای وکړ. (10) ب: بې ځای وه. (11) ب: د وفا حروف ور و نښوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي پیری مي ږیره سپینه کړه خم قد — را ته ښایي اوس عصا د سرو قد (1)
د عشق درس چي په مکتب کي وایه نه شي — نا خوانده د الف بې وایي ابجد
ناصح وایي په پیری کي مینه پرېږده — په پیری حرص زیاتېږي، وایي بد
مزری نه وي خلاص له تبي په هیڅ وخت کي — تندرستي پر عاشق نه لري آمد
هیڅ عاشق د عشق له رنځه نه جوړېږي — مګر خلاص شي په مدد د یا صمد
د ریا زهد زاهد کړي په پوهېږم — چي په غاړه یې دئ حَبل من مسد (2)

۵۷ چي د ښکلو بې تعریفه بل څه وایي
په مذهب زما "حنان" یې بولم رد ۴۰۳

چي هوا کړې د ګلرخو (3) د ساعد — له زړه و باسه د غه خیال (4) فاسد
دا کوتره د حرم ده نیښه نه ده — چي و وینو ته یې تری دئ زاهد
تر ما، دی پر یار عاشق و خبر نه وم — ما و یار ته خوشي ولېږه قاصد
د ګدای رزق په غپا د سپیو نه ځي (5) — زما له بابه څه خبري کړي حاسد
قتلوه مي خون مي نه دئ در په غاړه (6) — په هغه جهان کوم ګواه دئ کوم شاهد
مستحق د رحم موږ ګناهکاران یو (7) — که جنت په عبادت غواړي (8) عابد

۵۸ همېشه که پرخو برویو په دا فخر (9)
چي "حنان" رنګه عاشق لرم حامد ۴۱۰

اې چي یې د عاشقانو د لپسند — نور بایده دي د عاشق سره پیوند (10)
چي مي نوم دا ستا د لبو په خوله واخیست (11) — لا تر اوسه مي شېرین دئ د خولې خوند
که په خیال کي ستا د لبو مړ شم (12) ښایي — که مي خاوره د ګور خوند وکه د قند
دا تور خال پر ګلګون مخ د دلبر نه دئ — چشم زخم تې (13) پر اور ایښئ دئ سپند
چي هوا شوه ستا د زني را ولاړه — یاد مي نه کړ ځکه سېب د سمر قند
چي پر غوږ یې بد لګېږي زما پندونه — نه پوهېږم بیا یې واخیست د چا پند

۵۹ د وصال ښادي یې (14) نورو ته رسېږي
زه "حنان" یې یم په غم سره خور سند ۴۱۷

---

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) سورةاللهب- 5 آیت ته اشاره ده. (3) چاپي دېوان: "که هوا کړې د خوبانو د ساعد ". (4) چاپي دېوان: کلي خیال. (5) چاپي دېوان: "د ګدای رزق څه د سپي په غپا نه ځي ". (6) چاپي دېوان: قتلوه مي خون مي نه غواړي له تا ځوک. (7) چاپي دېوان: "مستحق د رحم موږ چي ګناهکار یو ". (8) چاپي دېوان: په عبادت ګټي. (9) چاپي دېوان: "همېشه کړي په دا فخر فرخ رویه ". (۱۰) اصل: "د عشاقو دي بایده دي له پیوند ".
(۱۱) چاپي دېوان: "چي مي نوم ستا د شیرینو لبو واخیست ". (۱۲) چاپي دېوان: مړشوم. (۱۳) چاپي دېوان: تې=ته یې. (۱۴) چاپي دېوان: کې= که یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نوخطو په یارۍ کې نشته سود     سترګي ولي د ځان باسي په دا دود
دا چي نن له مغروریه سم نه ګوري     پښېماني له ره بې(1) خط را ولي زود
بیا به نه راځي رقیب د یار و در ته     و جنت و ته لار نشته د مردود
چي عاشق و ته له منعي د عشق وایي     ګویا مست هوښیاروي په ساز سرود
چي تفریق د دوو یارانو سره کاندي     همېشه به په لعنت وي مخ کبود
چي بندي شي په کمند د تورو زلفو     نه خلاصېږي په اوراد و په درود

۲۰ چي د یار هجر(2) تېوک نه کړي "حنانه" ۴۲۴
حیرانېږم له څه روغ دئ ستا وجود

عالم کړي ښادي په عید     له ما شو هوس بعید(3)
خط یې راکړ د خپل حُسن     زما د زړه د ورو رسید
بې جنون په مجاز کي     بل څه نه بولم مفید
دئ د میني په حکمت کي     افلاطون زما مرید
یم په سر و مال راغلی     ستا د نیم و ښېته په خرید
غزالان پراته پر قبر     ستا د سترګو د شهید

۲۱ ستا په جور له "حنانه" ۴۳۱
ورک شو ګفت و که شنید

﴿ ډ ﴾

رنګ د وینو کړ ستا لبو په شراب ګډ     او عرق شو ستا له شرمه په آفتاب ګډ
د مخ ورځ دي شوه د زلفو تر شپه لاندي     که آفتاب د نوبهار شو په سحاب ګډ
ستا د وروځو په میان خال دئ نه پوهېږم     که هلک دی حبشي شو په محراب ګډ
دا د زلفو تار دي کږ پر جبین نه دئ     دا عقرب دئ چي نن شپه شو په مهتاب ګډ
چي حجاب له مخه لیري کړي ګلرخه(4)     شي عرق په مخ د اور په اضطراب ګډ
که هوښیار که لېوني که مست دي واړه(5)     عالمونه کړه ستا خط په پېچو تاب ګډ

۲۲ کل ښایست یې و ښایست ته دئ "حنانه" ۴۳۸
لکه څاڅکي د باران شي په دریاب ګډ

شو په زړه مي د کا کل خیال د دلدار ګډ     همخانه شو همېشه را سره مار ګډ(6)
دا یې مشک د خُطا توی پر نامه ګل کړه     که د خط د سبزي رنګ شو په رخسار ګډ
خپلي سترګي یې و خط ته هسي ګوري     لکه چرته شي آهو په منځ د تار ګډ

(۱) بې = به یې. (2) چاپي دېوان: د یار هجر چي. (3) په چاپي دېوان کي دا غزله نسته. (4) ب: لیری کړې دلبره.
(5) ب:... که لېونی دی که مست واړه. (6) دا غزله په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خط يې هسې په مخ راغئ په پوهېږم　　شو تر حشره پوري دا ليل و نهار ګډ
غاښ يې هسې په سرو لبو کښې نمائېږي　　له مرجانو سره شوه دُر آبدار ګډ
دا راځې مګر له قبره د شهيد خپل　　چي په وينو سره تېغ دئ جوهردار ګډ

۷۳　　صبر نه شي د بوسې پروخت "حنانه"　　۴۴۵
لکه طفل په خوږو شي په تلوار ګډ

## ﴿ ذ ﴾

چي قاصد راته راوړئ دئ کاغذ　　زړه يې زما له ځايه وړئ دئ کاغذ
چي مي شرحه د هجران پکښي ليکله　　دا په دا را څخه (1) سترئ دئ کاغذ
هيڅ جواب يې بيا رانه غئ و ما خوار ته　　چي هرڅو مي چا وروړئ دئ کاغذ
هسې نه چي په احوال مي خبر نه دئ　　ور ته حال ويلئ سپړئ دئ کاغذ
د يار وصل مي نصيب په دنيا نه شو　　هجر هسې پر ما کړئ دئ کاغذ
په نامه کي چي مي نوم ويني له درده　　هغه دم يې پاره کړئ دئ کاغذ

۷۴　　که روح ورکه (2) په دا زېري "حنان" ښايي　　۴۵۲
چي قاصد ورته راوړئ دئ کاغذ

## ﴿ ر ﴾

دا کاکل پر رخسار (3) نه دئ د دلدار　　دئ د مخ و ګنج ته پروت د طلسم مار
کي (4) خبري کړي دوي سترګي خود بخوده　　عجب نه ده پرته تل وايي بيمار (5)
دا د ورو ځو تېغ کي زخم که په زړه کي (6)　　شوخ کاته يې بيا ملهم ږدي پر پرهار
که يار ګوري له حيا و خپلو پښو ته　　بانړ ګان يې په هر زړه دي خبردار
و طالع ته يې د زلفو کباببږم　　چي هردم يې تماشې که د رخسار
سر و پښو ته سجده زلفي په دا که　　د هندوانو وي له اوره سر و کار

۷۵　　پېچوتاب يې (7) شو کاکل په دا "حنانه"　　۴۵۹
چي يې تاب د کمر وليده د يار

دا د خط سبزه ښکاره شوه پر عُذار　　که سرلوحَ د قرآن ده په زنګار
په (8) ورو الوزه نسيمه پر دا لوري　　د يار مخ د ګل په بوی نه کړې ازار
دا چي سترګي د ځنځير را ته کړې شوې　　زړه مي دئ د چا د زلفو طلبګار (9)

---

(۱) چاپي دېوان: "دا په دا چي را څه سترئ دئ کاغذ ". (2) چاپي دېوان: ورکړي (3) اصل: په رخسار. (4) کې: که يې.
(5) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (6) چاپي دېوان: زخم پر زړه کېږدي. (7) په اصل کي "يې" نسته. (8) چاپي دېوان: پرورو. (9) چاپي دېوان: "زړه مي دئ د کومي وړي طلبګار ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي تشبیه مي ستا د خولې له غونچې[1] وکړه　　په دغه وینا مدام یم شرمسار
که پښې کښېږدي د بلبل پر سترګو باندي　　پښې یې زخم شي د خیال د ګل په خار
د ملا خیال دي لکه موی هسي باریک کړم[2]　　چي جواب دئ د مېږي راته د شوار

٦٦ تورې زلفې پر رخسار وینم "حنانه"
کـه ماران پر ګل پراته دي لوی سهار ۴٦٦

لا تر څو اخلې د خوږو زړو آزار　　بیم کوه له انتقامه د روزګار[3]
ستا د قد په تماشه یې کړ سر پورته　　تر باغ و ووت صنوبر، سروه، چنار
هسي بند شوم ستا د زلفو په ځنځیر کي　　لکه و ګرزي ناڅاپه پر چا مار
له بانو د تورو سترګو بې څه وایم　　په تش دید یې د حرم آهو دئ ښکار
موهومي د سرخې ټکی معلومېږي　　نه پوهېږم او که خوله ده د نګار
ستا د زني په آرزو مي عمر صرف شو　　دا سبب نه شو نفقه د دې بېمار

٦٧ که یې خوله له خندا نه ټولېږي څه شو
"حنان" زړه په وینو ډک لکه انار ۴٧٣

تر څو پروت یې پورته شه وقت دئ د کار　　ولوله مستغفرین بالاسحار
چي پایان یې د رحمت د دریاب نشته　　کل ګناه ور ته دانه ده د جوار
د لا تقنطو په زېري هوسېږم　　که هر څو مي ګناهونه دي بېشمار
پس له دې به ګناه ډېر کوم کریمه　　د سخي کېږي له لرې بخښښه عار[4]
چي رحمت مي تږی ولید و عصیان ته　　خوښ مي کړ په دا سبب د ګناه بار
که ګناه مي له عدمه ظاهر نه وي　　ستا رحمت به هرګز نه و معلومدار[5]

٦٨ د احمد په روی مي و بخښې احده
زه "حنان" یې مدام سپی یم[6] د دربار ۴٨٠

څو لا نه یې له مرده و سره شمار　　غفلت مه کوه په لیل و په نهار
اوږد امید دئ اغزي توی کړه په لمن کښې　　ته د زړه په شغله[7] و سوځه دا خار
عوض کړه نعمت دلې د زړه په وینو　　چي هورې به یې سرخرویه هم آبدار
زخم مه کوه پر بل د خپلې ژبې　　نه جوړېږي په ملهم دغه پرهار
چي افعي رنګه بې جرمه وهې خلګ　　سر به باسي له لحده لکه مار
په صحرا کښې د محشر به پښه پر ګل ږدي　　چي دلې له لاري واخلې د چا خار

٦٩ وایه رَبَّنَا ظَلَمنا ډېر "حنانه"
چي توبه دي که قبوله کردګار ۴٨٧

---

(١) چاپي دېوان: "ستا د خولې او د غونچې کړه ". (2) چاپي دېوان: هسي ضعیف کړم. (3) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.
(4) دا بیت په "ب" کي شپږم بیت دئ. (5) ب: "نور رحمت به یې پر څه وو معلومدار ". (6) ب: پمن سپی یم (7) ب: په شعله

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادان نه شي کړای سخن لکه هوښیار — د بیده(1) نفس جدا وي تر بیدار
عیش مي تریخ دئ د جهان په باغ کي هسي — لکه ډک وي جام له زهرو د کوکنار
مردود نه دروميي د عشق له دره هیڅوک — دغه اور نه که له دي خاشاکه عار
غافل هیڅ فیض د یار له مخه نه وړي — مفلس تېر شي په خالي لاس تر بازار
پته خوله غونچه بلبل په نارو سرکه — مستمع صاحب سخن که په ګفتار
په کثرت د اسباب نه شي مطلبونه — په د وو ژبو دوې خبري نه کړي مار(2)

٧٠ — که له ورځي د جزا بیم کړې "حنانه" / تویېده د اوښو خوی کړه په سهار — ۴۹۴

نن په مهر راغئ یار — کا شانې ته زما خوار
که خورشید طلوع وکړه — په خانه کښي د بېمار
توري زلفي پر مخ پروتي — د ګلاب په شان(3) رخسار
د بوسې خواست مي ترې وکړ — وې ویل قرار قرار(4)
په نرمي پر لبو واخله(5) — هسي نه چي شم ازار
سپینه خوله له خندا ډکه — او کا کل لکه تور مار(6)

٧١ — تر دا هسي مهرباني / همېشه شه "حنان" جار — ۵۰۱

چي د ځان په سود دي هیڅ نه يې خبر — ملامت نه يې په ځان نه يې خبر(7)
و من یعمل مثقال ذرة(8) دئ — له غروره په قرآن نه يې خبر
ددنیا په عیش دي هغه عیش پرېښود — چي په حور، قصور، غلمان نه يې خبر
څه قصرونه څه عالم يې کړ ویجاړه — له ګردشه د آسمان نه يې خبر
بې بها عمر دي خوشي د ځان تېر کړ — هیڅ په ګران او په ارزان نه يې خبر
د منکر نکیر جواب به څه شان وکړې — چي په دین او په ایمان نه يې خبر

٧٢ — لا تر کومه بې پروا ګرزي "حنانه" / ته له قهره د یزدان نه يې خبر — ۵۰۸

---

(١) په اصل او چاپي متن دواړو کي "د ویده" ثبت دئ. ما "بیده" ځکه و کیښ چي یو خو به د شاعر له لهجې (د کندهار له لهجې) سره سم وي او بله به د فارسي ژبې له (دویده) سره نه مغالطه کېږي. (2) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته.
(3) ب: په دود. (4) ب: راتې و وئیل قرار "دا بیت په ،ب" کي پنځم بیت دئ. (5) ب: "په نرمي يې پر لب واخله"
دا بیت په "ب" کي شپږم بیت دئ. (6) دا بیت په "ب" کي څلرم بیت دئ. (7) دا غزله له چاپي نسخې نقل سوه په اصل کي نسته. باید و ویل سي چي د دغي مطلع لومړی نیم بیتی سم نه دئ ثبت سوئ ځکه د نورو بیتو "روي" نه دئ پکښې راغلئ. د دې غلطی توقع له میرزا حنان بارکزي څخه، چي په ادبي فنونو ښه خبر دئ، نه کېږي. دا هرو مرو
د چاپي متن د برابروونکي سهوه ده "ب" دا غزله نه لري. (8) [سورة الزلزال- 8 آیت].

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي له بويه محروم کړئ و دلبر    په کار مه لره دا سي بېکاره سر(1)
هر چي و وايم له جوره د مهرويو    کله سم ګوري په دا وکړه باور
يار به داد د بوسې کله پر ما وکه    چي له جوره جبرې(2) ګڼم پر هردر
های و هوی کړم د دلبر له بې رحميه    دا په دا چي های و هوی کړي مرور
چي له ياره سوال جواب کوم اميد مي    کړي پيدا په بېهوده ويل سرسر
چي پرې جبر د بې مِهر مَهروی وا يي    بيا پر کوم لوري به دروم مي برابر

٧٣
چي بې اسمه مي دا و وايه په دا دئ
چي له اسمه سره عيب و يکسر
515

هومره بخت ښايي له کومه زما د سر    چي يې کښېږدم پر چارچوب دا ستا د در
له دې خپله زړه ګيله کړم ډېره ډېره    چي د يار کو څې ته تئ(3) نې کړم خبر
که عاشق له خلکو ليري ګرزي ښايي    زخمي نه شي تلای له سپله برابر
نېک بختي په سعي نه ده تمام عمر    که پر سر باندي تېرې د هُمای پر
هر شپه دا د فلک بخيلي ګوره    په بغل کي ډوډۍ و ساتي د نمر(4)
زړه مې(5) وورې هډونې(6) و سپځل له مخه(۷)    اور نه ګوري په ځنګله کي خشک و تر

٧۴
چي د حُسن بحر يې موج واهه "حنانه"
تويې کړه پر کناره د خط عنبر
522

ښايسته کړه د نېکۍ په افسر سر    نه شي خوب د بېغمۍ پر بستر تر
پيروي هره ګړۍ د هغو بويه    چي يې خاوري د بېديا وي په ګذر زر
چي دلې د عوايق له پاره خلاص شي    د هغو ته آسانه دئ د محشر شر
پر کبليو باندي رحم د سپو نه شي(8)    د رقيب لاسونه مه شه په دلبر بر
چي تشبيه يې(9) کړله قده د ګلرخو    ځکه نه لري په باغ کي صنوبر بر
محبت مي زړه له زلفو سره يوور(10)    د مارانو ځای وي تل د پاړوګر ګر

٧۵
حذر څوک کړي "حنان" د عشق له اوره
همېشه وي(11) دا وَر خلاص پر سمندر در
529

څو به کړې پر آس د عشق جولان د شعر    نه طی کېږي په رفتن ميدان د شعر
چي يې و وهي بربېښنا د يار د هجر    تل اوربېږي پر هغو باران د شعر
د يار جور چي حواس متفرق کړه(12)    د هغو شي برابر مېزان د شعر

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) جبرې= جبر يې. (3) تئ= تلئ (ميرفت)، نې= نه يې. (4) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (5) مې = مي يې. (6) هډونې= هډونه يې. (7) چاپي دېوان: "زړه مي اور لړوني دی له مخ د سپځلو".
(8) چاپي دېوان: د سپي نشته. (9) "يې" په اصل کي نسته. (10) چاپي دېوان: "چي يې زلفي کړي الفت له ما په دا دئ".
(11) چاپي دېوان: چي مدام وي. (12) چاپي دېوان: "چي حواس متفرق که د يار جور".

څو زړه چاک لکه قلم نه که په عشق کې ... په لاس نه ورځي هرګز ګرېوان د شعر
د زخمي زړونو خوناب دئ بل څه نه دئ ... څوک چي کاندي په تکلیف سامان د شعر
د انسان سینه[1] ګاه بحر ګاهي برشي ... مدام نه وي آراسته دوکان د شعر

۷۶ بکر[2] خیال د یار له خولې وایه "حنانه" ۵۳۶
چي شېرین دي وي مدام دېوان د شعر

پر رخسار باندي خال نه دئ د جانان تور ... خانه زاد غلام د دغه خاندان تور
پر ګردن یې ول ول نه دي پروتي[3] زلفي ... پر چنډن دي ګرزېدلي ښاماران تور
د کاکل یې څه کماله استادي ده[4] ... چي یې بخت زما په شان کړ د خپل ځان تور
که سخت زړه مي فلک نرم کړ تر مومو[5] ... ما هم کړ د زړه په دود سره اسمان تور
د لاله په دود مي داغ[6] دئ په زړه ایښئ ... و غمزو ته[7] ستا په دا چي وي نښان تور
دا تور مار پر سپین چنډن دئ ګرزېدلئ[8] ... که یې ایښئ دئ په غاړه کې غېتان تور

۷۷ آهو چشمو څه په وکړه نه پوهېږم ۵۴۳
لکه سترګې د دوی، بخت شو د "حنان" تور

چي له زړه مي صبر ولاړ له سترګو نور ... کوم شوخ چشم کړ بساط[9] را څخه چور
دا په غم د کوم ګلرخ هسې ابتر یم ... چي ګاه ژړ شم، ګاهي شین شم، ګاهي سور
دا د چا د لب د میو په آرزو کې ... چي تناکي مي د زړه لکه انګور
که هر څو زړه د روي، دراوه نه شي ... د ژړا سېلاب اخیستئ وي مهجور
همېشه د آتشین رخسار له شوقه ... ډک ورم سینه په اور لکه تنور
احتیاج که د رقیب کوم ښایېږي ... ناروا پر ځای روا شي د ضرور[10]

۷۸ چي په عشق کې سر و مال ساتي له ترکو ۵۵۰
نه پوهېږم زه "حنان" په دا دستور

که څوک ما پوښتي چي څه دئ د عشق اور ... بل څه نه دئ کړېده دي په سره اور
په لحظه له نام و ننګه مري باسي ... پروا نه کوي په شرم په پېغور
احتیاج د زمانې هسې بلا ده ... و دلاک ته پادشاه کښېنوي سر تور
اخته مه شه هیڅ سړی د عشق په خوږو ... چي دوا یې نه په پلار شي نه په مور
کله هسې اور پر بل شي توان یې نه وي ... کله هسې افسرده شي لکه سکور
کله دم و هلای نه شي خاموش کښېني ... کله وي چي شي د خیال[11] پر براق سپور

۷۹ نن لوېدلئ دئ "حنان" د عشق په سیند کې[12] ۵۵۷
خدای دې[13] و ساتي[14] له دې ګردابه نور

---

(۱) چاپي دېوان: مینه.(2) چاپي دېوان: فکر.(3) چاپي دېوان: پرتې.(4) چاپي دېوان: "چي کمال استادي ده".
(5) چاپي دېوان: "که سخت زړه مي کړ فلک تر مومو نرم".(6) چاپي دېوان: تور داغ.(7) چاپي دېوان: و غمزې ته.
(8) چاپي دېوان: "دا تور مار پر سپین صندل دئ جار وتلئ".(9) چاپي دېوان: ثبات.(10) چاپي دېوان: "ناروا بولي روا چي شي ضرور".(11) اصل: د عشق.(12) چاپي دېوان: په بند کې.(13) دې: دي یې.(14) چاپي دېوان: وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال د زلفو یې له ما شو په ارمان تېر — لکه تېر پر چا له وهمه شي ماران تېر[1]
د صورت ښادي مي یووړه ډېرو اوښو — لکه شي پر آبادی باندي طوفان تېر
دا ستا حسن مي له لمره سره تول کړ — په مېزان کي ځکه لمر شو تر آسمان تېر
جذبه د عاشقی نه ده نو څه ده — و سره اور ته چي پتنګ شو[2] تر خپل ځان تېر
پر رخسار دي تور خط هسي چاري وکړې — لکه چیرته شي موسم د ارغوان تېر
دا غبار یې د خط نه دئ چي ښکارېږي — ګرز شو پا ته چي د حسن شو کاروان تېر

۸۰ د آشنای د قدم خاوري یې[3] رانجه دي[4] ۵۷۴
که له نازه شي پر سترګو د "حنان" تېر

چي یې خوله وروړه نزدې غوږ لره تیر — ور ته وا یې حال احوال د کوم نخجیر[5]
خم د زلفو یې زه هسي پر ملا خم کړم — چي مدام لکه حلقه یم د ځنځیر
موی قلم یې له بانو د پېري بویه — مصور چي کاږي ستا د خولې تصویر
تورو سترګو څه را وکړه نه پوهېږم — چي کولای نه شم زه د ځان تقدیر
په ګلشن کي ستا بې خولې په تمام عمر — بې خندا لکه غونچه یم د تصویر
عزرائیل مي د نفس د ورو سَت غواړي — چي خالي شي ستا له خیاله زما ضمیر

۸۱ ستا د خط اندوه په هسي شان ضعیف کړ ۵۷۱
چي تنا ده پر "حنان" بانګ د صریر

ثه ویلي دي رقیب قلیل کثیر — چي دي[6] رنګ له ډېره قهره دئ تغیر
کوم انصاف، کوم مروت دئ نه پوهېږم — چي په خوله مي[7] د رقیب لري زهیر
که د زړه له درده چا و ته فریاد کړم — ډېر معذور یم را ته تېر شه تر تقصیر
د عاشق له ساړه آهه پرهېز بویه — ژر ژر کېږي د دغې دوعا تأثیر
چي دي خیال د زلفو کړم هومره پوهېږم — چي و غاړي ته مي[8] ژر لوېږي ځنځیر[9]
ما هر دم د عقل غل له لاري بیايي — که مي نه شي دا د عشق پیر دستګیر

۸۲ ظلم جور قبلوه د یار "حنانه" ۵۷۸
د اشنای[10] له لاسه مه اوسه دلګیر

دا پر مخ د صنم خط دئ که تحریر — که مصحف دئ چي پر[11] کښلئ دئ تفسیر
د زړه مراد مي حاصل نه شو په ډېر صبر — چي کهنه شي دوا نه لري تأثیر

---

(۱) د دې غزلي مطلع په چاپي دېوان کي داسي ده. "
خیال د وروځو یې له ما شو په ارمان تېر — لکه غشی د لېندی شي تر ښبان تېر

(2) چاپي دېوان: چي پتنګ شي. (3) "یې" په اصل کي نسته. (4) چاپي دېوان: خاوري یې توتیا ده. (5) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.
(6) چاپي دېوان: چي یې. (7) چاپي دېوان: چي په ګفت مي. (8) په اصل کي "مي" نسته.
(9) چاپي دېوان: "چي و ښنو ته به مي ولوېږي زنځیر". (10) چاپي دېوان: د خپل یار له لاسه (11) په اصل کي "پر" نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د چا د زلفو خیال مې په زړه ګرزي — چې کړېږ شوي راته سترګي د ځنځیر
چې بې فهمه یې شانه له زلفو مښلي — زړه مې سل(1) شګافه شي په دغه ویر
ستا بانو په زورد وروځو ادا نه کړم — کاري نه مښلي د سُستي لیندۍ تیر
هلته شي بتان نامښده(2) چې خط راشي — په بغل کي ماښام لاس نیسي فقیر(3)

83 هیڅ تعریف یې د خولې نه کېږي(4) "حنانه" 585
په څه شان یې تر خوله و باسم تقریر

﴿ر﴾

ښه ګلان له دې دنیا سره وو، که سپین ولاړ — که رعنا وو که زیبا که یا سمین ولاړ
د استوګي ځای دنیا نه ده خبر شه — پیغمبر زموږ خاتم المرسلین ولاړ
له دغه جامه هر چا دي اوبه چښلي — نازولي خلفاء الراشدین ولاړ
نور به څوک شي پر دا مښه باندي پاته — چي لوی پیر د بغداد شاه محی الدین ولاړ
ګلرخسار خوبان چي قد یې لکه سروي(5) — هم یې زلفي وې له نازه چین پر چین ولاړ
چي یې ملا په عبادت لکه دال خم وي — د سکوت مهر یې پر خوله مزري د دین ولاړ

84 د قیامت خوارۍ هورې دي(6) خدای رحیم دئ 592
له دې ځا "حنان" له یاره په زړه شین ولاړ

و جوار ته د مولی سردار قرین ولاړ — چي مرغوب د کل عالم و په تحسین ولاړ
د هنر د علم کان د حیا بحر — په خلعت د نېکنامۍ څه ښه رنګین ولاړ
په جیفه یې د دنیا ځان آلود نه کړ — د عمل په صابون پاکه جامه سپین ولاړ
و سخا ته یې حیران حاتم طی و — تکیه ګاه د هر فقیر و د مسکین ولاړ
فیض رسانه لکه لمر و کل جهان ته — مستقیم پر شریعت حامي د دین ولاړ
هر مشکل به حل کېده د سائلانو — سردار نه و د حضرت سلیمان نګین ولاړ
په حکمت یې افلاطون شاګرد د عصر — چي تقریر یې و شېرین تر انګبین ولاړ(7)

85 اعتماد باندي د کړو نه دئ "حنانه" 600
چي "سردار مهردل" له دې دنیا یقین ولاړ(8)

بد خوی یار پر تندي چین و واهه ولاړ — په هر چین کې(9) ملک د چین و واهه ولاړ
داد به څوک کړم د بې رحم یار له جوره — پر سینه مې(10) تېغ د کین و واهه ولاړ
څه پوښتني له خدنګه د غمزو(11) کړي — چي پر زړه یې زما(12) حزین و واهه ولاړ

---

(۱) چاپي دېوان: شل شګافه. (۲) چاپي دېوان: هاله شي بتان نامید. (3) چاپي دېوان: "لاس په تخرګ کي نماښام و نیسي فقیر". (4) چاپي دېوان: د خولې نه شم کړای. (5) چاپي دېوان: لکه سرو. (6) چاپي دېوان: هورې ده.
(7) دا بیت په اصل کي نسته. (8) چاپي دېوان: "چي سردار له دې دنیا نه په یقین ولاړ. (9) کې= کي یې. (10) مې= مي یې. (11) چاپي دېوان: د غمزې کړي. (12) په چاپي نسخه کي "زما" نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغـه شـوخ لـه تاراجـه بـه څـه وایـم
چـي یـې کـور زمـا د دیـن و واهـه ولاړ

چـي سـیالي کـړه بنفشـه د یـار لـه خطـه
ژر خـزان پـر تـور و سـپین و واهـه ولاړ

لـه چـا مـه شـه دښـمني د شـوخ چشـمانو
چـي یـې زړه زمـا مسـکین و واهـه ولاړ

۸۲

په قیامت چي خدای قاضي وي حق به غواړي
تـا پـه تېـغ "حنـان" د کـین[1] و واهـه ولاړ

۲۰۷

شـوخو سـترګو دي تمـام عـالم خـراب کـړ
پـه سپین مخ دي خجالت زده آفتـاب کـړ[2]

چي دي نوش کـړه مـی پـه شپه لـه رقیبانو
مستو سترګو مي دي زړه پـه اور کباب کـړ

خـط دي نـاز پـر بنفشـه کـوي دلبـره
تـورو زلفـو دي سـنبل پـه پېچوتـاب کـړ

نرګس کوز ګوري لـه شرمه ستا د سترګو
پـه رخسـار دي منفعـل ګـل د ګـلاب کـړ

ستا لـه غمـه څخـه ورک پـر بیابـان شـه یـم
چي پر کور مي روغ عالم کـل پـه عـذاب کـړ

زېـر و بـم مـی شـو هـر رګ دا سـتا لـه غمـه
پـه افسـوس مـي لړمـون قـی لکـه رباب کـړ

۸۷

پـه کـوم جرم پـه کـوم ګناه دي ګلرخسـاره
چي "حنان" دي غرق د وینـو پـه سـېلاب کـړ

۲۱۴

نـه تنهـا یـې غشـی زمـا پـه زړه کـاري ولاړ
د جفـا پـه تېـغ یـې غـوڅ د دیـن مـزري ولاړ[3]

چـي تالـه یـې لـه یوسـف سـره سـتا حسـن
تــرازو پســـي اســـمان تـــه مشـــتري ولاړ

سـتا لـه غمـه مګـر لمـر نـه دئ نـا جـوړه
چــي مســـیح یـــې و دوا تـــه مفـــري ولاړ

دا لیـــدلې یـــې غمـــزه ده ســـتا د ســـترګو
چــي آهــو لــه ښـاره کـوچ وکـړ بـري ولاړ

چـي جمـال یـې مثـل سـتا د جمـال نـه و[4]
پـــه ظـــاهره ګرزېـــده د شـــاپېري ولاړ

رقیبـــان بـــه دي لـــوګي کـــړم دم لـــه دمـــه
کـه مـي آه لـړ څـه[5] اسـمان تـه اثـري ولاړ

۸۸

د "حنـان" قتـل پـه تېـغ د جفـا مـه کـړه
لـه بـدن یـې سـر پـه تشـه دلبـري ولاړ

۲۲۱

چي قلـم مـي سـتا د مـخ پـه تعریـف سـر کـړ
بلبلانـــو اوس ګلشـــن زمـــا د فتـــر کـــړ[6]

چي مـي سـتا د زلفـو خیـال پـه خـاطر را ووړ
دانسـته مـي ځـان د مـار پـه خولـه کـي ورکـړ

ســـتا د قـــد د راتلـــو لار ګـــوري دلبـــره
چـي د بـاغ تـر دېـوال سـروي سـر بـدر کـړ

نـه بـادام دئ نـه نـرګس دي بلکـي سِـحر
دا سـتا سـترګي چـي عـالم یـې مسـخر کـړ

چـي پسـته ده کـه غونچـه ده دا خولـه نـه ده
موهـومي نقطـه ده، هـر چـي مـي نظـر کـړ

سـتا د لبـو د یـاقوت هسـي سـرخي ده
چـي پـه کـان کـي د یـاقوت وینـي ځګـر کـړ

۸۹

لـه مانـه شـي حـال د زړه چـي درتـه وایـم
پـه خنـدا دي لـب پخـوا "حنـان" ابتـر کـړ

۲۲۸

---

(۱) چاپي دېوان: سنګین(2) دا غزله په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته (3) چاپي دېوان: "د جفا په تېغ دی غوڅ د دې مرزي ولاړ".
(4) چاپي دېوان: "چي مخی یې جمال ستا د جمان نه و".(5) چاپي دېوان: که مي آه څه خو.(6) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي پخوا مي يې[1] په وصل کي سرور کړ　　هغه عيش مي[2] هجران را پوري سور کړ
له ازله يې خوار کړئ يم پوهېږم　　چي يې زما په بخره[3] تا رنګه مغرور کړ[4]
پر هر ځای چي کښېنم پا ځم آرام نه يم　　محبت د مځکي مخ را ته تنور کړ
په شبنم که تازه کېږي د ګل پاڼي　　زما د زړه زخم تازه ژړا ناسور کړ
زلفي وروځي، خال وخط سره لښکر شو　　چي بساط يې[5] زما د زړه را څخه چور کړ
که ظاهر له خلکو خاندم په دا څه شو[6]　　د انار په دود مي زړه له وينو پور[7] کړ

۹۰　　"حنان" کله غږاوه سر له فرمانه　　۲۳۵
چي اشنای هسي له ځانه څخه دور کړ

د عشق کار چي مي د عقل په تدبير کړ　　همګي واړه ببځا[8] و چي ما ځير کړ
د ناصح د پند دارو اثر پرې نه کړه[9]　　د بدن[10] احوال مي عشق هسي تغير کړ
غير خيال مي کلي محوه کړ له دله　　پر صفحه د زړه مي ستا نقش تصوير کړ
څه شان نه شم وچ هډونه د نښان ستا[11]　　چي دي بيا راته تيار د غمزې تير کړ
دا بيا کوم صياد وښکار ته روا نېږي　　چي نخجير قالب تهي لکه زهګير کړ
هم هغه ساعت مي روح له تنه کوچ که[12]　　که خالي مي ستا له خياله خپل ضمير کړ

۹۱　　چي د زلفو خيال دي څوک که لېوني شي　　۲۴۲
ما "حنان" د دغه خوب دغه تعبير کړ

يو څه د بخت ساعت و ماچي نوش د ميني مُل کړ　　مجاز راته په مهر هسي زين د عشق دلدل کړ
خاموش له زمزمې شي په خزان کي وفا ګوره　　ثو بيا بهار راځي دې بلبل هو مره تحمل کړ
زه هم د يار پر مخ لکه پتنګ هسي خاموش يم　　اشنای راته په ژبه دا رموز د لاتقل کړ
عاشق ظاهر وي[13] د معشوق ناز غمزه و حُسن　　د چا په ياد چي څه و عندليب، مشهوره ګل کړ
په نطق کي آفت دئ خاموشي خوی کړه سالکه　　جرس په ډېرو نارو و رهزن ته ځان چغل کړ
مرجان لړمون له وينو ډک د لبو له اثره[14]　　خجل يې په بوستان کي دا ستا زلفو تور سنبل کړ

۹۲　　قلم د "حنان" ګوره[15] مشک افشان په دا سبب شو　　۲۴۹
چي مشق يې همېشه د آهو چشمو د کاکل کړ

سترګو بيا رابانديي پو د سحر دم کړ　　چي ببرون مي له خاطره ګُلي غم کړ[16]
دا افعي د ګل پر پاڼي باندي پروت دئ　　که مي يار د زلفو تار پر عُذار خم کړ
نسته زړه چي صيد دا ستا د سترګو نه دئ　　ولي زما زړه دي تر واړو مقدم کړ

(۱) چاپي دېوان: دي. (2) چاپي دېوان: دي. (3) بخره= برخه. (4) چاپي دېوان: "په نصيب چي مي يې تارنګه مغرور کړ". (5) په اصل کي "يې" نسته. (6) چاپي دېوان: "که ظاهر له خلکو خاندم غلط مه شه" (7) پور= پُر (فارسي) ډک.
(8) چاپي دېوان: ببځای. (9) چاپي دېوان: نه کا. (10) چاپي دېوان: د صورت. (11) چاپي دېوان: "څرنګ نه شم وچ هډونه و نښان ته".
(12) چاپي دېوان: کوچ کړي. (13) چاپي دېوان: عاشق اظهار وي. (14) چاپي دېوان: "مرجان ډک لړمون له وينو ستا له شونډو دئ دلبره".
(15) اصل " قلم د حنان ځکه. (16) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه و ورځ ده د نوروز ستا مخ و زلفي      دا نوروز دي پر ما ولي محرم کړ
د شبنم په دود رسېږي و ګلرخ ته      هر عاشق چي سهار توی د سترګو نم کړ
هیڅ ممکن نه دئ نجات له هغه شوخه      چي په سترګو یې آهو ښکار د حرم کړ
۹۳      په جهان، په ځان، په هیڅ شي خبر نه دئ / دا "حنان" دي غم له هري خوا بېغم کړ      ۲۵۲

په خندا دي د ګوهر قیمت ارزان کړ      منفعل دي لبو لعل د بدخشان کړ
تورو زلفو دي خراج له چینه واخیست      تورو سترګو دي آهو مخ پر بیابان کړ
صفا یې دي مخ له لمره څخه(1) یو وړه      پټ په ابر ستا جبین ماه تابان کړ
چي یې نه مونده وصلت ستا د لبانو      دا په دا لړمون له وینو ډک د پان کړ
ستا رخسار بیا څه په وکړه(2) نه پوهېږم      په آئینه کي یې تصویر هسي حیران کړ(3)
ستا له خطه د پسرلي سبزه شرمېږي      په رخسار دي(4) ګل خجل د ګلستان کړ
۹۴      د ګلرخو عشق کیمیا نه ده نو څه ده؟ / چي یې رنګ زما "حنان" لکه زعفران کړ      ۲۲۳

د یار غم را باندي هسي رنګ شبخون کړ      چي له درده مي پاره پاره لړمون کړ
د جنون ځنځیر به وا چوي په پښو کي      کي په غوږ تعریف د حُسن افلاطون کړ
په یوه وطن کي دوه سلطانه نه وي      دا ستا عشق مي له بدنه روح بېرون کړ
چي په فکر یې د خط د سبزې ولاړم      لکه مغز د پستې هډ مي زرغون کړ
په ډېر وخت سره ورځي لبان د زخم      لګېده(5) د دوو مصرع مي ځګرخون کړ
د جنت د ګلو بوی ترې ځي حیران یم      چي مي خلاص په لاس ګرېوان د کوم ګُلګون کړ
۹۵      چي د مرګ وعده دي کړې وه "حنانه" / پر اقرار رقیب پښېمانه د پرون کړ(6)      ۲۷۰

زما امید و چي دلبر مي کړي فردا مړ      هجران وکړه پېشدستي کړم یې پخوا مړ
و دیدن ته یې(7) دئ تش رمق را پاته      انتظار د راتلو کړمه(8) بې رضا مړ
طاقت نه لرم و یار ته نژدې لیري      وصل و هجر یې کړمه(9) زه جدا جدا مړ
سره لبان یې روح بخښي په دا حیران یم(10)      چي یې زه کړم د سرو لبو په دوا مړ
هیڅ پروا بې پروا یار زما و نه کړه      لکه شاه چي خوار سړی که بې پروا مړ
هسي نه چي زه تنها مقتول د ده یم      ډېر عالم(11) یې دئ د مخ په تمنا مړ
۹۶      وفا کړي له رقیبانو تر حد زیاته / په خندا یې کړ "حنان" بې دست و پا مړ      ۲۷۷

(۱) چاپي دېوان: له نمره په زور یووړه. (2) چاپي دېوان: بیا څه دي کړي. (3) چاپي دېوان: "چي تصویر یې په هنداره کښې حیران کړ" (4) چاپي دېوان: په عذار دي. (5) چاپي دېوان: لګېدو. (6) چاپي دېوان: "پر اقرار رقیب پښېمان د یار لیدون کړ". (7) چاپي دېوان: و دیدن ته مي. (8) چاپي دېوان: انتظار یې د راتلو کړم. (9) چاپي دېوان: زه کړم
(10) چاپي دېوان: په دا عجب یم. (11) چاپي دېوان: درست عالم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس بایـد چـي قلـم کـړم لـه وېښـته جـوړ | چـي پـه کـاږم حال د خپـل صـورت نـا جـوړ
پــه دولــت کــي يــې د حُســن نا امیـد یــم | چـي د وږي پـه حـال څـه خبـر وي(1) مـوړ
چـي پـرواز مـي د هـوس پـر مځکـه وکـړ | لــه حاصــلو خــالي ولاړم لکــه پــروړ
ژر پــه ژر لښــکر د خـط وربانـدي وخـوت | ساده رويو(2) چي ميدان په خپل مخ خوړ
د بوسـې پـه وخـت عاشـق لـه حالـه وزي(3) | بـې ادبـه شـي پـر وخـت د خـوراک ووږ
خدای غوخ کړئ دئ د خپل ګمان په توره(4) | چــي رقيــب لــري لــه مــا ســره اروړ

۹۷ نـن "حنـان" د خط لـه خضره سره ناست دئ ۲۸۴
نــا خبــر عــالم يــې ولــي بــولي زوړ

پـه پـوهېږم(5) زړه مـي بيـا دلربـا يــووړ | پـه اسـانه يـې رضـا بـې رضـا يــووړ
جبین غوټـه، وروځـي غوټـه، زلفـي غوټـه | هــري غــوټي زړه لــه ځایــه جـدا یــووړ
نه يې وېره، نه يې ترس او نه يې بيم و | لـه سـيني مـي خـراب زړه بـې پـروا يـووړ
آفــرين دي وي پــر هســي نظــر بانــدي | د ديـدن تـر مـلا قـات يـې پخـوا يـووړ
مـا لا عشـق هـوس بالـه(6) پـه خبـر نـه وم | ګلرخـانو لـه مـا زړه پـه رښـتيا يـووړ
چي ساته مي تل د صبر په بوخچه کښي(7) | هغـه زړه مـي خپـل اشـنا پـه خنـدا يـووړ

۹۸ پـر عُـذار يـې بنفشـه د خـط ښـکارېږي(8) ۲۹۱
او کـه زړه د "حنـان" خـط د ترسـا يـووړ

ستا کاکل د چین له مشکو میدان یووړ | سـرو لبـانو دي هـم آب د مرجـان يـووړ
حيرانېــږم دي د ســترګو و تــاراج تــه | لــه زاهــده يــې جلــب د ايمــان يــووړ
د چـا قتـل يـې پـه زړه کـي مـدعا ده | چـي و غـوږ تـې(9) د ابرويـو کمـان يـووړ
کـوم صـياد و ښـکار تـه ځي پـه خبـر نـه يم | چــي ارام يــې د آهــو د دامــان يــووړ
زلفي وروځي، خال و خط، سترګو مژګانو | زړه مـي کـوم يـوه حيـران يم تـر ميـان يـووړ
نزاکــت تــه يــې د مــخ پــه تعجــب يــم | چـي لـه ګلـه يـې دوام پـه څـه شـان يـووړ

۹۹ دا طوفـان دئ کـه سـېلاب دئ نـه پـوهېږم ۲۹۸
کــه "حنــان" د خپلــو اوښــو بــاران يــووړ

---

(۱) چاپي دېوان: په حال نه خبرېږي. (2) چاپي دېوان: ساده رويه. (3) چاپي دېوان: "د بوسې پر حال له حاله عاشق ووځي". (4) چاپي دېوان: "خدايه غوخ يې کړې د خپل کمان په توره". (5) ب: نه پوهېږم. (6) ب: هوس ګاڼه.
(7) ب: په بوخچو کښي. (8) ب: د خط نمائېږي. (9) تې = ته يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ز)

چي داستان مي ستا د میني کړ آغاز ‌ ‌ زه هاله شوم(1) په عالم کي سر فراز
مصور که دي صورت کښئ حیرانېږم ‌ ‌ چي په څه دستور به وکاږي ستا ناز
زما د زړه د خونرېزیه(2) په طلب کي ‌ ‌ پټهي سترګي مدام ناست یيې لکه باز(3)
د رقیب د پند پومبه دي دي(4) په غوږ کي ‌ ‌ ځکه نه اوري زما د درد آواز
سر له سره به شي ځوان که یيې ثوک مومي ‌ ‌ په پیری کي نعمتونه د مجاز
د ناصح نصیحت هسي و عاشق ته ‌ ‌ لکه مست هوښیار وي په ږغ د ساز(5)

100 دردمندان به د "حنان" په حال پوهېږي
بې دردان کله خبر دي په دا راز(6) 705

ثوک چي سیل دا ستا د مخ کوي بې نیاز ‌ ‌ له حیرته سترګي پټهي کړي خوله واز
له ښایسته ناز معلوم شي او که نه وي ‌ ‌ بد خویيې به څه رنګ ښېله کړي له ناز
خوبايي د یار د سترګو بل ځای نشته ‌ ‌ د نرګس خوبايي نه راځي له پیاز
نسب نه دئ شرط په مینه کي که وای(7) ‌ ‌ د محمود مینه به نه وه له ایاز(8)
د زړه حال و یار ته مه وایه بې دربغه(9) ‌ ‌ دغه یار به یار خبر کړي ستا له راز
د نادان په رنګ و روی(10) مه غلطېږه ‌ ‌ د تصویر د مرغه څه دي له آواز(11)

101 د جنون جامه پر تا کله جوړېږي
د "حنان" پر قد یې سکښتې ده غماز 712

که محرم دي د دیدار نه یم هرګز ‌ ‌ پښېمان ستا د عشق په کار نه یم هرګز(12)
چي ناصح توبه راکاږي ستا له میني ‌ ‌ مستمع د دې ګفتار نه یم هرګز
که سل ځله یم د زلفو مار خوړلی(13) ‌ ‌ له دغه ماره بېزار نه یم هرګز
چي مي ستا وصل روزي شي په هغه شپه(14) ‌ ‌ منتظره د سهار(15) نه یم هرګز
تماشا چي ستا د مخ د ګلشن وکړم(16) ‌ ‌ خوښ په ګلو په ګلزار نه یم هرګز
زور و ظلم و جفا یې تر حد تېرشو(17) ‌ ‌ چي یو دم ځني وزګار نه یم هرګز

102 که مي قد د سرو قد راشي په خواکي
زه "حنان" خوښ په جویبار نه یم هرګز(18) 719

(۱) چاپي دېوان: زه په دا شوم. (2) چاپي دېوان: د خونرېزیو. (3) چاپي دېوان: "همېشه په فکر ناست یيې لکه باز ".
(4) چاپي دېوان: پنبه دي ده. (5) په چاپي دېوان کي دا بیت نسته (6) اصل: دا حال؟. (7) چاپي دېوان: "نسب نه دئ شرط هرګز د عشق په کور کي ". (8) چاپي دېوان: "د محمود د میني څه و له ایاز ". (9) چاپي دېوان: "د زړه حال یار ته مه وایه څو دي توان شي ".
(10) چاپي دېوان: په رنګ سکه (11) چاپي دېوان: نه پرواز. (12) چاپي دېوان: "ستا له عشقه توبه ګار نه یم هرګز ". دا مطلع په اصل او چاپي نسخه دواړو کي عیب جنه ده د "روي" مراعات نه دئ پکښي سوئ. ما د "وصال" پر ځای "دیدار" وکیښ او په دوهمه مصرع کي مي "پښېمان" د مصرع سر ته یووړ. (13) چاپي دېوان: مارچیچلئ. (14) چاپي دېوان: "په هغه شپه چي مي ستا وصل روزي شي ". (15) چاپي دېوان: "زه غریب خوښ په سهار نه یم هرګز ". (16) چاپي دېوان: زه کړم. (17) چاپي دېوان: "زور و ظلم و جفا جور تر حد ه تېر شو ". (18) په چاپي دېوان کي مقطع نسته.

د یار عشق راکښي[1] پیدا کړ هسي سوز
سمندر را ته حیران دئ شب و روز

خوشالي بېغمي[2] نشته په هیڅ فصل
لکه پېښ په محرم کي شي نوروز

ما سر خط د بندګۍ و یار ته ورکړ
نا خبر مي بېګانه بولي هنوز

څوک به وګنډي زما د زړګي زخم
نا پیدا دئ په دا شهر کي دلدوز

که ژړا نوي عاشق کوي ګرم نه دئ
کار خراب شي له شاګرد نو آموز

د یار درمي له رقیبه خالي نه شو
په جنت کي را ته شین شو دغه څوز

103 چي په هر مجلس کي ستا د مخ صفت که[3] 826
د "حنان" ګفتار په دا شو بزم افروز

څو به زه له شېرین لبو کړم پرهېز
چي په واک نه دئ زما د عشق شبدېز

بېستون یې په ستون کړ کوهکن خو شي
د شېریني لب نصیب شوه[4] د پروېز

هسي قتل کړم بې د رېغه تورو سترګو
چي به ګونګ یم لا په ورځ د رستا خېز

بې د یار له ګرزېدلو باڼوګانو
ګرزېدلئ دم، خنجر کله وي تېز

ستا اوږدو زلفو امیند زما پیدا کړ
د پادشاه پر در څنځیر دئ[5] دستاوېز

د صادق عاشق مدام اوښي بهېږي
کمبوت نه کوي د ښې مځکي کارېز

104 په تعریف د شکرلبو نه دئ څه دئ 833
چي "حنان" شو په دا دور شکرریز

(ړ)

چي پر سر باندي له خیاله ږدي دستار کوړ
بیا له لاري شا و خوا ځي لکه مار کوړ

و کوهي ته ډېر لوېدلي دي نادانه[6]
چي له کبره سم نه ګوري ځي پر لار کوړ

چي هرزه هرزه ویل وایي[7] بد مومي
غوږ یې و مروړي ویل چي کوي تار کوړ

په ځواني عبادت کړه په پیرۍ نه شي
چي اول خښتې[8] کږه شي[9] وې دېوار کوړ

د آزار اسباب معلوم دئ په هرڅه کي
د ښکاري مرغانو وي نوک و منقار کوړ[10]

و منزل ته[11] نه رسېږي که پوهېږې
هغو خلکو چي تړلئ یې وي بار کوړ

105 پرېوتلي تر غرو سم شي اې "حنانه" 840
نه سمېږي هغه څوک چي کړي آزار کوړ

---

(۱) چاپي دېوان: را ته پیدا کړ. (2) چاپي دېوان: بې غمه (3) چاپي دېوان: کړي (4) چاپي دېوان: شو. (5) چاپي دېوان: وي.
(6) چاپي دېوان: "وکوهي ته ډېر لوېدلي دي خبر شه". (7) چاپي دېوان: ویل کوي. (8) خښتې: خښته یې.
(9) چاپي دېوان: کږېږي شي. (10) چاپي دېوان: نوک د منقار کوړ. (11) چاپي دېوان: و مزله ته.

﴿س﴾

په حلقو د زلفو مه وهه د يار لاس
دانسته څوک نه منډي په خوله د مار لاس

د ګلرخو اشنا يې په اختيار نه شي
په رضا څوک نباسي په انګار لاس

حذر بويه د زخمي زړونو له آهه
مه شه پورته و هيچا ته د آزار لاس[1]

رنګارنګ ګلان به زما له قبره زېږي[2]
که پر خاک باندي مي کښېښوو[3] ګلعذار لاس

ستا د مخ تماشې[4] نه ښايي رقيب ته
په ګلشن کي ايله مه شه د اغيار لاس

له رګو[5] مي اواز خېژي چي ځان ګورم
لکه چيري[6] چي مطرب وهي په تار لاس

106 ځکه پښې له خوشحالۍ پر زمکه نه ږدي
چي دي ورکړه[7] و "حنان" ته د اقرار لاس 847

که هر څو زاهد را اچوي و سواس
وابه نخلم ستا له ميني څخه لاس

ستا تعريف په کوم زبان[8] کوم دلبره
چي ښايست دي بالاتر دئ تر قياس

ستا تر نازو تر غمزه بې[9] صدقه کړم
که مي سر دئ، که مي مال که مي اساس[10]

چي ساقي شي يار په بزم کي[11] مې نوش کړه
له قاضي او له مفتي مه کړه حراس

تمام عمر يې له وصله بې نصيب يم
لکه زخم د ناسور حاصل مې يأس

اخلاص نه لري هرګز ترکان له خلکو
عالمونه يې غرق کړي[12] په لباس

107 ورځ و شپه، [13] مياشت و هفته په هر ساعت کي
له اسمانه دي بلا د "حنان" راس[14] 854

هر څوک رزق خوري ستا له خوانه څخه بس
که انسان دئ که مېږی دئ که مګس

په چا سر د زمکي غواړي پښې تنا کي
څوک پر ښو آسو سپاره کړي په هوس

چا ته نه رسي کرباس و شړی لڅ دي
څوک بازي[15] که په کېمخواب و په اطلس[16]

چا ته ور کړي رنګارنګ نعمت بې سعیَ
څوک خواري که شپه و ورځ په وړي نس

څوک بلبل رنګه مشغوله کړي په ګلو
چا ته خپل اواز کړي اور لکه ققنس[17]

شاه ګدای، ګدای پادشاه کړي ته قادر يې
نشته څوک چي در ته و وهي[18] نفس

---

(١) ب: په ازار لاس. (2) ب: له قبره شنه شي. (3) ب: کښېږدي. (4) په دغه برخه کي "تماشې نه ښايي" له "ب" څخه واخيستل سو په اصل کي مغشوش دئ- (5): "له رګو" کلمات مي له "ب" څخه واخيستل. (6) ب: چرته.
(7) ب: ورکړو. (8) چاپي ديوان: وکړم. (9) بې: به يې (10) چاپي ديوان: "که مي مال که مي دنيا ده که اساس".
(11) چاپي ديوان: د يار بزم کښي. (12) اصل: طوفان کړي. (13) چاپي ديوان: شپه و ورځ. (14) چاپي ديوان: "دا اسمان وړه کوی د حنان راس". (15) ب: څوک بازی که. (16) دا بيت په "ب" کي څلرم بيت دئ. (17) ب: چا ته خپل اواز کړی لکه قُقنس. (18) ب: دلته و وهی. (19) ته په غور. (20) ب: بې تا نلري حنان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



108 تې په غور[19] ورسېږه ذُالجلاله
بې تا نشته د "حنان"[20] فریاد رس 861

ستا د مخ تر ګل ګلان دي د بوستان پس　　زما تر شورو تر فغان دي بلبلان پس
دا يې خط پر رخسار نه دئ چې ښکارېږي　　پورته شوئ ګرز د حُسن د کاروان پس
ژړا نه کوي اثر د خط په وخت کې　　لکه بې وخته چې و اوري باران پس
پر تېر شوي کار يې نه رسي لاسونه　　نوخطان واړه ببځا[1] کوي ارمان پس
نوخطان په عاشق هسې زهيرېږي　　لکه پېښ شي د مفلس کره مهمان پس
نتيجه د سخي څه ده بې نيستيه　　له پاشلو شي خالي لاس د دهقان پس

109 دا پر لبو يې[2] سياهي د برېتو نه ده
پر آئينه د مخ يې آه دئ د "حنان" پس 868

اې په کبر کې محبوس　　د بل عيب لره جاسوس
هر څوک کښت که[3] حاصل اخلي　　ته بېکاره تشه بوس[4]
تر نصيب به زيات رانه وړې　　که څه ولاړ شې تر قندوس[5]
دنيا ځای د آرام نه دئ　　څه شوه پاته له کاووس
د عرفان څراغ نه وينې　　څه ګيله کړې له فانوس
چې نقصان د دنيا درشي　　هغه دم له خدای بړوس

110 په لاتقنطوا "حنانه"
اميد وار شه له قدوس 875

چې د نفس په مقتضا تلم په هوس　　له مطلبه خالي ولاړم لکه خس[6]
د ښادۍ رخ مې و نه ليد پردا غولي　　چپه ځغلم بېهوده لکه فرس
په لويي د زماني خوشې غلط شوم　　لکه دود پر سر د اور درومې عبس[7]
قافله د عمر درومې خبر نه يم　　بېهوده وهم ناري لکه جرس
خبر نه يم هيڅ له ځانه هسې ولاړم　　لکه بوی د ګل چې ځي په نيم نفس
چې په هجر کې فرياد و فغان ډېر کړم　　خپل مقام شو راته اور لکه ققنس

---

(۱) چاپي ديوان: نوخطان که کړي ببځا کوي. (2) چاپي ديوان: دا پر شونډو يې. (3) چاپي ديوان: کښت کړي.
(4) چاپي ديوان: "تربېکاره نشته بوس". (5) قندوس = قندز "د افغانستان يو شمالي ښار". (6) دا غزله په چاپي ديوان کي نسته. (7) کذا. عبس=عبث.

(c) ketabton.com: The Digital Library



111
چي اثر پر زړونو نه کوي "حنانه"
خه ببځایه قیل و قال کوې، نور بس
882

## ﴿ش﴾

چي يې سر د تور کاکل شو دام فروش — په سودا يې شو هر صید آرام فروش(1)
چي يې ستا و مستو سترګو ته نظر کړ — شو نرګس له ډېره شوقه جام فروش
کې په روح رانیسم هم را لره ښايي — چي قاصد شي ستا د لب پیغام فروش
نتیجه يې په دنیا کي مخ توري ده — د نګین په شان چي څوک شي نام فروش
چي د عشق محکم زنار شو ور تر غاړي — شیخ صنعان شو هغه دم اسلام فروش
چي يې و لیده خمار د یار د سترګو — ګلشن شو په دا سبب بادام فروش

112
دغه خیال د آهو چشم دئ "حنانه"
په پیرۍ کي چي يې کړې مقام فروش
889

په کاته کاته دي هسي شوم مدهوش — چي ناصح راته له وعظه شو خاموش
د سرو شونډو په مطلب دي زه پوهېږم — په حال پوه وي میخواره(2) د مې فروش
په رخسار دي خط و خال هسي نمايېږي — لکه شاه چي شي له قهر سیاه پوش
له عرقه د جبین دي معلومېږي — دم په دم د عاشقانو د زړه جوش
هم هغه به تر قیامته پوري مست وي — چي يو ځله دې(3) د خولې پیاله کړه نوش(4)
لکه لمر چي را وخیژي ستوري نه وي — ستا له مخه شاپېرۍ واړه روی پوش(5)

113
په درست عمر دي و نه ویل له قهره
چي "حنان" مي دئ قدیم حلقه بګوش
896

ستا د زلفو خیال چي زه افګار ساتم همېش — هسي په سینه کي ګویا مار ساتم همېش
زلفي دي سنبل، مخ دي ګلاب، سترګي نرګس دي — زه باندي باغوان یم دا ګلزار ساتم همېش
دا له تلوسې چي په رقیب مي پېرزو نه شي — ځکه په ځګر کي ستا انګار(6) ساتم همېش
خلک زهیرېږي چي مجلس لره ور درومم — پس له دې به زه نور ځان کنار ساتم همېش
عکس د رخسار چي دي زما په زړه کي ګرزي — زه پټ په ځګر کي(7) دغه نار ساتم همېش
زړه مي ستا له غمه همېشه آه و فغان که(8) — ګوره(9) په وجود کي دا بیمار ساتم همېش

114
سترګي مي څلور شي ستا پر خوا چي وعده وکړې
زه "حنان" له غیرو دا ستا لار ساتم همېش
903

---

(۱) دا غزله په اصل کي نسته. (2) چاپي دېوان: میخواران. (3) دې = دي يې. (4) چاپي دېوان: "چي يو ځل دا ستا د خولې پیاله کړې نوش.
(5) چاپي دېوان: "ستاله مخه شاپېرۍ شو ټول روپوش". (6) چاپي دېوان: آزار.
(7) چاپي دېوان: زه په خپل ځګر کښېي. (8) چاپي دېوان: آه و فغان کړي. (9) چاپي دېوان: زه په خپل وجود کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ ښ ﴾

ستا ستم زما پر زړه دئ نهایت خوښ
لـه پادشاه وي پر رعیتو رعایت خوښ

خط دي دئ آیات د حُسن شونډي وقف
په سرخي سره وي وقف د آیت خوښ

خیال دي ولې ربز مربز زما صورت کړ
پادشاه نه وي په تاراج د ولایت خوښ

کبلي[1] نه اوسي د سپیو په جوار کې
ته پر څه شوي[2] د رقیب په حمایت خوښ

د یار ډېر هجر کړم مور له خواږه عمره[3]
شوم په دا د صبر تېغ په کفایت خوښ

چې تاوینم په دوزخ پروا دار نه یم
بې تا نه یم د جنت په حکایت خوښ[4]

115 څه ګیله به کړم[5] له نورو بېګانه وو
چي خپل یار شو د "حنان" په شکایت خوښ 910

خیال د زلفو د نګار شو را ته پېښ
که هیبت د افعي مار شو را ته پېښ

په نګاه سري[6] زخمي کړم مړاویو سترګو
له بیماره دا آزار شو را ته پېښ

توري زلفي سپین رخسار دئ نه پوهېږم
د نوروز لیل و نهار شو را ته پېښ

چي غوڅ کړئ یم په څوکو د ابرویو
دو زبانه ذوالفقار شو را ته پېښ

سنبل زلفي، خط ریحان، سترګي نرګس دي
جوړ په مخ کښي یې ګلزار شو را ته پېښ

همېشه یې رقیب وینم په کوڅه کښي
دا عجب د سترګو خار شو را ته پېښ

116 بې اغیاره، یار تنها را لره راغئ
اي "حنانه" وحشي ښکار شو را ته پېښ 917

په ښه حال د عاشق کله دئ ګردون خوښ
تر هوس تر خوشحالۍ یې په زبون خوښ[7]

په حلقه کښي یې د زلفو خال ښکارېږي
که کاتب د قضا ټکی کړ د نون خوښ

دا عجب ده، هغه چي مسلمان وي
چي تر میان وي د دوو یارو په بېلتون خوښ

چي مي خط ولیده زړه مي قرار ونیو
د ارام ځای د آهو دئ مېرتون خوښ

چي نه کبر، نه غرور، نه خود بیني که
د زاهد تر کار مي، کار دئ د مجنون خوښ

عادتي زهر لذت زیات لري تر شهدو
چي په مرګ اشنا شي، نه لري ژوندون خوښ

117 نور عالم واړه هوا، هوس، خندا که
"حنان" ستا په غم اخته سرو زنګون خوښ 924

---

(۱) چاپي دېوان: غزال (2) چاپي دېوان: ته په څه شوي (3) اصل: "دا ستا ډېر عمر کړم مور له خوږه عمره". (4) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته (5) چاپي دېوان: څه شکوه به کړي (6) ب: په نګاه سره. (7) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ص﴾

اشنايي سره رسېږي په اخلاص | د درياب کښتی چلېږي په اخلاص
په لباس مريد له پيره برخه نه وړي | د ايمان څراغ بلېږي په اخلاص
چي له سره غواص تېر شي دُر وکاږي[1] | له درياب، دُر حاصلېږي په اخلاص[2]
چي خپل سر په صدق لاندي که[3] تر خاورو | دا نه ګوره زرغونېږي په اخلاص
د بلبل سوې ژړا په لباس نه ده | په خندا چي ګل غوړېږي په اخلاص
مګر ته د ده له امره مخالف يې | که نه هر حاجت قبلېږي په اخلاص[4]
د استاد شفقت کم له پلاره نه دئ | چي شاګرد و ته قهرېږي په اخلاص[5]

118 د سکوت مهر پر خوله کښېږده[6] "حنانه" 932
مراد د پټي خولې حاصلېږي په اخلاص

## ﴿ض﴾

که هر څو کړم له خواريه پر خپل يار عرض | هغه شاه د حُسن نه اروي د خوار عرض
آه فغان د يار له جوره بې فايدې دئ | نه قبلېږي د ګلرخو په دربار عرض
بېهوده څه نصيحت کوې ناصحه | عاشق نه مني په مينه کې د پلار عرض
زما مرګ د خپلو سترګو په مرضی کړه[7] | هر سړی په مهَر اخلي د بيمار عرض
سياه بختي مي تاته څوک ويلای نه شي | مګر کړي يې[8] سَتا پر غوږ د زلفو تار عرض
ستا د عمر د دولت په مراد دلبره | همېشه کړم د پيرانو په دربار[9] عرض

119 نه پرنيسي غوږ له ډېري مغروريه 939
که هر څو کوي "حنان" په انتظار عرض

## ﴿ط﴾

هسې راغئ په شتاب پر مخ د يار خط | چي مي نه ليده[10] راتله د ږي غبار خط
هيڅ کا فر هسې شبخون پر اسلام نه که | لکه وکړ د ګلرخو په رخسار خط
مورچه ګانو ځای پر پاڼې د ګل ونيو | که پر مخ د صنم ونيوه قرار خط
د ميګونو شونډو قدر يې ډېر کم کړ | څه بېحده ظلم وکړ د نګار خط
د ګل پاڼې په سبزه کې شوه پايماله | که عذار د دلبر ونيو وار په وار خط
د خاشاک شعله[11] تر يو ساعته نه وي | اعتماد مه کړه پر دا ناپايدار خط

120 چي يې قدر د شيرينو لبو کم کړ 946
زه "حنان" يې کړم په دا سبب په دار خط

---

(۱) چاپي دېوان: دُر را کاږي. (2) چاپي دېوان: "پر ګوهر دي لاس لګېږي په اخلاص". (3) چاپي دېوان: لاندي کړي. (4) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (5) دا بيت بيا په اصل "خطي نسخه" کي نسته. (6) چاپي دېوان: کېږده.
(7) چاپي دېوان: په مرضی دئ. (8) چاپي دېوان: مګر وکړي. (9) چاپي دېوان: پر مزار. (10) چاپي دېوان: چي مي نه وليد. (11) چاپي دېوان: د وښو شعله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تــر زلفــو را ښــکاره شــو د دلبــر خــط
که پر پاڼې د ګل پروت دئ[1] پـه عنبر خط

پر ساده رخسار یې هسې عرق زېب کې[2]
لکــه کــاږي پــر کاغــذ کاتــب پــه زر خــط

لــه حیرتــه یــې قلــم لــه لاســه لــوېږي
چــې د اسـتا د رخســار کــاږي مصـور خـط

دا محـال دئ چې بـه سـتا ابـروی کـه نقش
کـه نقـاش کــاږي د تــوري پــه جــوهر خــط

چې افعي[3] یې ستا د زلفو په نظر شي
پــر ځــان و کــاږي لــه ببــري[4] پــاړوګر خــط

ستا په خیال پسې مې زړه هسې ببرون شو
لکــه ولېــږي پــه زوی پســې پــدر خــط

121
ســرخرویي د "حنــان" هلــه شــي و یــار تــه
کـه لـه وینـو یـې د زړه شـي پـر ځګـر خـط
953

**﴿ظ﴾**

وا مــې نــه خیســت لــه جهانــه ځخــه حــظ
نــه لــه یــاره نــه لــه ځانــه ځخــه حــظ

نوخطــان[5] مــې پــه ژړا ډېــر خوشــالېږي
ســبزه اخلــي[6] لــه بارانــه ځخــه حــظ

خنــک زړه مــې پــه ســینه کــې لاخفــه شــي[7]
بنــدي نــه وړي لــه زندانــه ځخــه حــظ

مــخ یــې هیڅکلــه لــه زلفــو بهــره نــه وړي
نــه وړه کېــږي لــه پرېشــانه ځخــه حــظ

د خنــک زړه صــحبت پرېــږده کــه دانــا یــې
څــوک بــه وړي لــه ګورســتانه ځخــه حــظ

د یـار خیـال چې راشي اوښې پـه عـذاب کـه[8]
ســپی مېــرمن وړي لــه مهمانــه ځخــه حــظ

122
لکــه طعــم د رنځــور د خــولې خــراب وي
هســې ورک شــو لــه "حنانــه" ځخــه حــظ
960

**﴿ع﴾**

چې مې ولیده دا ستا د سپین رخسار شمع
را تــه هــیڅ شــوه نــور د ګلــو د ګلـزار شــمع

مــخ دي مــه پنهــانوه لــه مــا ضــعیفه
تــر ســبا پــوري لګېــږي د بیمــار شــمع

ژر مې جوړ کړه ما بې صبره خپل داغونه
ولـې وژنـې پـه اولـه شـپه کـې خـوار شـمع

غـم لیـدلئ زړه الفـت لـه عشـقه ډېـر کـه[9]
چې یې دود لاوي بیا ژر لګي دوبار شمع

لـه افلاسـه مـې پـه تـن کـې اور پیـدا شـو
لکـه بـل کـې[10] د ځګـر پـه اور چنـار شـمع

د پتنـګ[11] پــر طــالع ډېــره کینــه راشــي
بــې حجابــه ورتــه بلــه وي د یــار شــمع

123
چـې شـهید پـه تېـغ د سـترګو شـي "حنانـه"
پـس لـه مرګـه بې[12] لګېـږي پـر مـزار شـمع
967

(۱) چاپي دېوان: د ګل کنبلئ. (2) کي = کړي، چاپي دېوان: کا. (3) چاپي دېوان: که افعي یې. (4) اصل او چاپي دېوان: له وبري.(5) چاپي دېوان: نوی خط. (6) چاپي دېوان: وابنه اخلي. (7) چاپي دېوان: په سینه کي خفه کېږي.
(8) چاپي دېوان: په عذاب کا.(9) چاپي دېوان: ډېر کړي. (10) کي = کړي. (11) چاپي دېوان: د پتنې. (12) بې = به یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مجلس کي ستا تر مخ شر مېږي شمع
د سپوږمۍ په شپه ښېځا لګېږي شمع

کامل حُسن دي و هر چا ته فيض ورکړ
د تمام مجلس يوه بس کېږي شمع

مهرويان دي بحث ستا له مخه نه که(1)
چي لمر و خيژي نور نه ځلېږي شمع

چي د عوه د حُسن کاندي ستا له حُسنه
ولي هسي پراور وکړېږي شمع

صفايي د مخ(2) دي زما په اوښو کېږي
څو يې تېل وي(3) تر هغو بلېږي شمع

د صادق عاشق په سوخت معشوق نرمېږي
په سوختن د پروانه څڅېږي شمع

124
که مخ پټ کړي له "حنانه" څه به وشي
د فانوس په پرده نه پټېږي شمع
974

(غ)

دا چي اېښئ پرسينه زما صنم داغ
رب دي(۴) نه ايږدي پر بل بني آدم داغ(۵)

په کوڅه کي چي يې کله رقيب وينم
تازه کېږي مي له غمه په هردم داغ

چي مي نم له سترګو وچ شو سبب دا دئ
چي چشمانو يې پر زړه راکړ محکم داغ

چي و باغ ته خرامان ځي کله کله
ږدي پر پاڼي د ګلانو هر قدم داغ

سر يې پورته شي له فخره و آسمان ته
پر هر زړه باندي چي کښېږدي د ستم داغ

خو برويان په هنر زړه له خلکو يوسي
د ملهم په بانه(۶) کښېږدي د الم داغ

125
لا تر کومه يې د هجر په داغ سوځي
له "حنانه" څخه واخله دا د غم داغ
981

ستا په غم کي هرګز نه لرم فراغ
زړه مي شين، خاطر مي مات، سوئ دماغ

پرېشان زړه مي له کوګله څخه ورک و(۷)
ستا په زلفو کي يې چا راکړ سُراغ

پس له مرګه که مي ګل زېږي له قبره(۸)
د لاله په شان(۹) بې وي پرسينه داغ

بې له تا پرېشانه زړه نمناکو سترګو(۱۰)
يم تېر کړئ تر هوا د باغ و راغ(۱۱)

د نفس تار مي بسته ستا په ديدن دئ
بې له تا و ما ته داغ دئ ګل د باغ(۱۲)

ستا د مخ د سيل څه دي له رقيبه
و ګلشن ته باغوان کله پرېږدي زاغ

126
له "حنانه" حجاب مه کوه دلبره
پروانه دئ ستا د حسن پر څراغ
988

---

(۱) چاپي ديوان: نه کا. (2) چاپي ديوان: صفايي يې د مخ. (3) چاپي ديوان: چي يې تېل وي.(4) دې = دي يې.
(5) دا غزله په اصل کي نسته. (6) بانه = بهانه، پلمه. (7) چاپي ديوان: "حيران زړه مي له بغله څخه ورک و ".
(8) چاپي ديوان: "پس له مرګه بې ګل وزېږي له قبره ". (9) چاپي ديوان: د لاله په دود. (10) چاپي ديوان: "بې له تا سترګو غمناکو زړه پرېشانه ". (11) چاپي ديوان: تر هوس د ګل د باغ. (12) چاپي ديوان: "بې له تا را ته زندان دئ باغ و راغ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ف﴾

چي په عشق کي همېشه صادق وي صاف — کله شي د هغه یار وعده خلاف
د سرو شونډو په لذت عاشق پوهېږي — په قیمت د لعلو څه پوه دئ نداف
امتیاز د ښو د بدو سره نه شي[1] — ځکه کاندي هر نامرد د مردی لاف
د دانا خبري دُرگرانبها دي — که یې وزن په کنډه[2] کړي د انصاف
چي و بل ته یاوه وایي یاوه اروي — دا قلب زر به بیرته ورکاندي صراف
شاعران شو ډېر[3] د شعر قدر نشته — په کشمیر کي قدر نه لري شال باف

١٢٧ چي رقیب و تاته ځان په لباس تېر کړ
د "حنان" به دلته نه وشي کفاف 995

چي مي زړه کړ ستا و غشو ته هدف — ځکه شوم په عاشقۍ کي مشرف[4]
ستا بې قده په چمن کي په هر فصل — رعشه اچوي و سروي ته رفرف
خوار و زار چي مي دا ستا په غم کي ویني — فلک و وهي له شوقه د لمر دف
چي یو حرف د سهوي نشته ستا په مخ کي — جوړ په خط د مصنف دئ دا مصحف
چي قانع په یوه څاڅکي شي له بحره — کان د دُورو شي مدام لکه صدف
چي مدام مي ماتوي لښکر د زهد — بل څه نه دئ دغه ستا د بڼو صف

١٢٨ پسته طوره مي ماغزه په هډ کي شنه شوه
ما "حنان" چي غوښت دا ستا د خولي طرف 1002

په جهان کي دي د حسن نسته کُف — له عاشقه سره بویه تلطف
خدای اخته په هسي حُسن کړم عالمه — چي یې قبر ته ارمان یووړ یوسف
که مي وژني که مي بولي[5] رضا ستا ده — و به نه کړم ستا له قوله تخلف
چي توبه یې په ماکښه دا ستا له میني — په یوه دیدن دي ولي شو[6] چف چف
اندېښنه چي زما[7] د قتل شي درپېښه — هیڅ په کار نه دئ په دا کي[8] توقف
د قیامت د ورځي شور دئ نه پوهېږم[9] — که پر مخ باندي دي پروت دئ[10] د خط څُف

١٢٩ چي د یار و اغیار فرق در باندي نشته
زه "حنان" په دا سبب خورم تأسف 1009

(١) چاپي دېوان: ځبله نه شي. (2) چاپي دېوان: په کان وکړي. (3) چاپي دېوان: شاعران ډېر شو. (4) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (5) چاپي دېوان: که مي پرولې. (6) چاپي دېوان: واړه شو. (7) چاپي دېوان: اند ېښنه چي مي د قتل.
(8) چاپي دېوان: هیڅ په دا کښي په کار نه دئ توقف. (9) چاپي دېوان: "د قیامت د ورځي شور دئ چي ښکارېږي.
(10) چاپي دېوان: باندي پروت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ق﴾

هسي تللئ يم په فکر د خپل يار غرق — لکه سنګ د نيينبي که ګُره د نار غرق
کوم ګلرخ(1) بيا نن په سيل د ګلشن ځي — چي ګلاب شو په سرو وينو کي سهار غرق
دا د چا د زلفو باد پر(2) برابر شو — چي يې مشک کړه په نافه کي د تاتار غرق
له خجلته ستا د غابنو يې ځان پټ کړ — په عميق درياب چي شو دُر شهوار غرق
د ناصح له نصيحته مي سر خوږ شي — د ناقص طبيب له لاسه وي بيمار غرق
د دنيا عيشونه وکړه جاهلانو(3) — د حيرت په دريابو کي شو هوښيار غرق

۱۳۰ مړ يې کړ "حنان" له ډېره انتظاره
خدايه ته يې په خپل قهر کړې رويبار غرق 1016

د قلم په دود څو زړه نه کاندې شق — د نوخطو د خيال مشق نه شي مطلق
کوم شوخ چشم و صحرا ته ځي چي اخلي — له تمکينه يې آهو د رم سبق
د هغه طبيب له لاسه سخت بيمار يم — چي په خيال د لب د ميو کړم عرق
سيا بختي مي د دې خپل اواز رانجه شوه — په شکوه مي يار ته نه رسي نطق(4)
دا د کوم مهروی د غم خناق نيولئ — لمر چي وينه هره ورځ چښي د شفق
هيڅ له ځانه له جهانه خبر نه يم — هسي يم د يار په خيال کي مستغرق

۱۳۱ ستا د لبو د بوسې داد پر "حنان" کړه(5)
چي د حُسن د زکوة دی مستحق 1023

هومره توان را څخه نشته نه توفيق — چي رقيب دي کړم په وينو کي غريق
نرګس کوز ګوري له وهمه ستا د سترګو — هم تر لبو دي خجل لعل و عقيق
له وصلته دي رقيب بوجهل مايوس دئ — د وصلت اسلام نصيب شو زما صديق(6)
د کم عمر رسن کله ور رسېږي — د زنخ څاه دي هرګوره دئ عميق
ستا د سترګو له رنجو چا ته فرياد کړم — چي آواز مي له خولې نه ځي په تحقيق
تر قيامته به په مست يم(7) له خماره — که دا ستا له لاسه راکړې يو رحيق

۱۳۲ شعر تل په اندازه وايه "حنانه"
طبيعت د يار هرګوره دئ رقيق(8) 1030

---

(۱) چاپي دېوان: کوم ګلرخه (2) چاپي دېوان: پرې برابر سو. (3) چاپي دېوان: بېعقلانو. (4) چاپي دېوان: "په شکوه مي تر خوله نه خېژي نطق". (5) چاپي دېوان: "د سرو شونډو د بوسې داد پر حنان کړه". (6) چاپي دېوان:
ستا له مخه ابوجهل رقيب مايوس دئ — ستا د مخ اسلام نصيب زما صديق

(7) چاپي دېوان: د محشر په ورځ به مست يم (8) اصل: "طبيعت د يار ګوره دئ رقيق".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ک﴾

که زړه ستا په عشق کي چاک شو نشته باک — کوم دئ زړه چي ستا له غمه نه دئ چاک
خوبرویان د زړه په وړو کي استادان دي — باري تا رنګه[1] یو نه وینم چالاک
رحم بویه[2] چي له دې غمه بېغم شم — ساقي راکړه ماته څه اوبه د تاک[3]
چي یو ښکلی چیري[4] و ویني بندي شي — خدای خوار کړئ زړه لرم نه دئ په واک[5]
که دي مخ هرګوره پاک دئ خدای رازلئ — زما په رنګ به نه وي هم په عشق کي پاک[6]
د معنا زېبایي بویه په رنګ څه شي؟ — د کافورو قدر نه لري اهاک
زړه پر خدای سپارلئ هر څه ور پېښېږي — په خوبانو یې موقوف شو مرګون واک[7]

۱۳۳ که مجنون د لیلا غم و زهیر کړئ
باري نه و د "حنان" په شان[8] هلاک 1038

مخ دي کړ له ما د صبر کل اسباب ورک — نوی خط دي کړ له ما خط د کتاب ورک
زما په زړه پسې دي سترګي هسي ګرزي — لکه چیرته چي له مسته شي کباب ورک
ستا د لعلو لبو هسي غلبه شوه — شو له تنه له عقیقه څخه آب ورک
ستا د حُسن تجلی کړم هسي محوه — لکه تږی چي پر دښت شي د سراب ورک
رقیب نه شي ستا د مخ سیل کولای — شب پرک شي له پر توه د آفتاب ورک
که امید د بوسې کاندې[9] عیب نه دئ — په وصلت کښي له عاشقه شي آداب ورک

۱۳۴ ګاهي ګاهي به راتلې په خوب کښي[10] څه کړم
دا ستا خیال کړ له "حنانه" څخه خواب ورک 1045

چي دي سوی دي د حُسن په اور خلک — ستا له لاسه څخه ګډ شو په شور خلک[11]
د غم سنګ[12] چي پر خوله وخوري زړه خبر شي — په وهل د در خبرېږي د کور خلک
زړه کباب نمک د اوښو یار ته کښېږده[13] — بې نمکه کباب نه خوري خوشخور خلک
ظلم جور پر ما ولي کړې ضعیف یم — پر کمزوري باندي نه کوي زور خلک
لکه زه چي ستا د عشق په اور یم سوی — خدای دي نه سیځي په هسي اور نور خلک
زه به څه کړم له رقیبه د ښو طمع — نادیده وو څخه نه کوي پور خلک

۱۳۵ له هغه مخه "حنان" څه رنګ پر هېز که
چي یې ګډ دي په تعریف لور[14] پر لور خلک 1052

---

(۱) چاپي دېوان: یاره تا رنګه. (2) چاپي دېوان: رحم وکړه. (3) اصل: "ساقي راکړه و ما څه اوبه د تاک". (4) چاپي دېوان: چیرته (5) چاپي دېوان: "خدای خوار کړئ زړه له زمه نه دئ پاک". (6) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته (7) دا بیت بیا په اصل کي نسته. (8) چاپي دېوان: په رنګه. (9) ب: که امید د بوسې وکړم. (10) ب: په خواب کښي. (11) دا غزله په اصل او چاپي دېوان دواړو کي د "ق" د ردیف غزله ده. ما د اوسني لیکدود په خاطر د "ک" ردیف ته را نقل کړه. (12) چاپي دېوان: د غم شک. (13) چاپي دېوان: کښېږدي. (14) چاپي دېوان: لور په لور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاشقان ولي له کاني دا فلک هر آهن کله مښود شي پر محک
زېبايي د خوبرويانو ستا په مخ ده طعام نه که خوند چې نه لري نمک
ستا له غمه سرګردانه هسي رېږدم[۱] شپه و ورځ د سر په تار لکه جلک
دا د مخ په آئينه کې يې خال نه دئ په رخسار يې عکس زما د مردمک
ستا له زلفو(2) و رخسار ته مدد نشته د کافر اسلام ته نه رسي کومک
رقيب هيڅ فيض د يار له مخه نه وړي و آفتاب ته کتای نه شي شب پرک

۱۳۶ زه "حنان" دي غم په هسې شان ناتوان کړم 1059
چې د باد له مخه ځغلم لکه کک

د وفا طمع به نه کوي له تا څوک چې خبر وي ستا په ناز و په ادا څوک
يو ښه باغ دئ د دنيا، فلک بې مراده[۳] فرصت نه کاندي چې وکه تماشا څوک
غونچه نشته چې خزان يې فنا نه که د زړه غوټه به که خلاصه پر صحرا څوک
ډېر نازک د ګلو ښاخ دئ پر ببرېږم[۴] چې لاس اوږد ور باندي نه کاندي بېځا څوک
بې ملګري سر انجام د کارو نه شي بې بلده[۵] کله غلا کاندي تنها څوک
له کرمه يې پر حال[۶] پوښتنه بويه چې دا ستا کوڅه له ضعفه کړي ماءوا څوک

۱۳۷ دا محاله ده[۷] چې خوار سړی پادشاه شي 1066
زه "حنان" څوک، ستا د لبو تمنا څوک[۸]

ستا د عشق په لار کې سر څه کوي څوک دا توښه په دا سفر څه کوي څوک
دوکان څه په کار راځي چې مايه نه وي بې له وينو لبمه تر څه کوي څوک
د عشق راز چې پټ ساتي،[۹] اوښې عيان که[۱۰] ملګري د پرده در څه کوي څوک
وخت د ګل قيمت د ميو جهان نه دئ سرمايه د شور و شر څه کوي څوک
زما و مرګ ته دي[۱۱] د زلفو ماران جوړ کړه د مېړي په مرګ حشر څه کوي څوک
چې دي خيال راشي[۱۲] زړه باسم له بدنه په مجلس کې نوحه ګر څه کوي څوک

۱۳۸ که د يار زلفي تر لاسه شي "حنانه"[۱۳] 1073
ګلاب عطر مشک عنبر څه کوي څوک

---

(۱) چاپي دېوان: مدام رېږدم. (2) چاپي دېوان: ستا د زلفو. (3) چاپي دېوان: نامراده. (4) اصل، چاپي دېوان: وبرېږم.
(5) اصل، چاپي دېوان: بې ولده. (6) چاپي دېوان: هر حال. (7) چاپي دېوان: دا محال دی. (8) اصل: "زه حنان او ستا
د لبو تمنا څوک ".(9) چاپي دېوان: د عشق راز که څوک ساتي. (10) اوښې = اوښې يې. (11) چاپي دېوان: زما و مرګ ته يې. (12) چاپي دېوان:
خيال راځي. (13) چاپي دېوان: "که د يار زلفي ته لاس شي د حنان ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ګ﴾

هر ساعت خورم د اشنای د جفا سنګ | لا لاس نه اخلم، نه عار لرم، نه ننګ(1)
په کوهسار کي یې د عشق یم هسې محوه | چې آئینه شوه راته تکې د پلنګ
تر ګلګون رخسار د خط په سبزه خوښ یم | کړم له دې میو فارغ نشې د بنګ(2)
کړه توره هسې رنګ غوښول نه که | لکه زه غوښ کړم کړو کتو په ځنګ
عشق عطاء الهي ده بل څه نه دي | نه په زور میسر کېږي نه په جنګ
دا یې لب په پانو سره نه دي خبر شئ | وایې خیست زما د زړه له وینو رنګ

۱۳۹ | شیرین شعر دي صیقل د زړو که نه وای د "حنان"<br>شعر به نه وو د زړو زنګ | 1080

## ﴿ل﴾

ستا د وروځو خیال کړم خم لکه هلال | لا د ناز تصویر دي نه راځي په خیال
چې جدا له ګلرخانو یو ساعت شم | اوږد پر ما هغه ساعت شي لکه کال
چي دي خیال(۳) د سم قد نه راځي په خوا کي | الف قد مي هسې خم شو لکه دال
دا هجوم د سیاه بختۍ نه دئ نور څه دئ(۴) | تمام عمر مي و نه لیده ستا خال(۵)
شاپېرۍ د ارم واړه لېونۍ شي(۶) | کې په خوب کي ولیده دا ستا جمال(۷)
چي دي قتل په غمزه کړم جفا بس کړه | ډېر په ماتي پسې تله نه دئ کمال

۱۴۰ | چې د خط تعریف یې تل وایې "حنانه"<br>دا په دا شو(۸) ستا زبان د طوطي بال | 1087

چې مغروره دئ په حُسن د رخسار خپل | څه پروا لري په قتل د بیمار خپل(۹)
مهتر خضر به خپل عمر باندي ورکه | که قیمت کاندي د تورو زلفو تار خپل
ګلرخان له رقیبانو پر هېز نه که | ګل بد نه وړي په قربت سره د خار خپل
د زاهد مسجد، زما د یار کوڅه ده | هر سړی ښه پوهېدلئ دئ په کار خپل

---

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. چاپي دېوان د "ګ" ردیف ښېخي نه لري. بله نسخه:

نن مي بیا شو په زړه باغ د جهان تنګ | نه پوهېږم پر کوم لور وکړم آهنګ

ج

(2) د دې بیت پر ځای په بله نسخه کي د غه لاندي بیت راغلی دئ:

دا د چا د مخ د شمع خیال را پېښ شو | چي اسمان ګرزي پر ما لکه پتنګ

(3) چاپي دېوان: چي يې خيال. (4) چاپي دېوان: نوڅه دئ. (5) چاپي دېوان: "چي تمام عمر مي نه ولید ستا خال".
(6) چاپي دېوان: "شاپېرۍ به د ارم ټولي لېونۍ شي". (7) چاپي دېوان: "کې په خواب کښي چيرته ولید ستا جمال". (8) چاپي دېوان: هم په دا شو. (9) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. په اصل کي هم د غزلي د بیتو شمېر شپږ دئ،
د شپږم بیت لپاره یې تر مقطع د مخه ځای پري ایښئ دئ. ما له بلي نسخې را نقل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستحفظ د یار د خال پـه دا خم قـد ، یم — تکـی نه پرېږدي بېرون ځکه پر کـار خپـل
خیـال یـې نـه راځـي زمـا و خـراب زړه تـه — لـه خرابـه خـراج کلـه وړي سـرکار خپـل

۱۴۱ د خپـل زړه پـر دا غوصـبر کـړه "حنانـه"
چي مشغول یې تـل پـه سیل د ګلزار خپـل 1094

کـه دي ولیـدا ی پـه سترګو حُسـن خپـل — ملامـت بـه دي نـور خلـق نـه بلبـل [1]
سـتا و حُسـن تـه حاجـت د سـینګار نشـته — آئینـه د آفتـاب نـه غـواړي صـیقل
څـه تعریـف کـړم د ارم د شـاپیریو — سـتا و حُسـن تـه نـور حُسـن دئ بـدل
د خط ګرد[2] دي کړه د سترګو مستي زیاته — پـه بهـار کښـي زېـب کـوي د بـادام ګـل
چـي و بـاغ تـه خرامـان شـوې ګلرخسـاره — سـتا د مـخ اور پـر ګلانـو کـړ اور بـل
عشق لـه حُسـن سره شته[3] پـه هر ایام کښي — د قـُمـري طـوق شـو د سـروي چغـاول

۱۴۲ تـش رمـق را پاتـه شـوئ دئ دلبـره
د "حنـان" روح دئ پـه دیـد سـره معطـل 1101

پـه ځګـر کـي مـي بلېـږي د عشـق اور تـل — وړم پـر ځـان لـه ناچاریـه دغـه زور تـل[4]
دا واړه لـه عشـقه نـه دي، نـور لـه څـه دي؟ — چـي راپـوري دئ د تـورو سـترګو تـور تـل
بېګانـه یـې کـړم لـه خپلـو لـه پردیـو — معلـومېږي راتـه خپـل کـور لکـه ګـور تـل
د دنیـا لـه سـودو زیانـه خبـر نـه یـم — چي پر سر مي دئ لکه عشقه هسي شور تـل
خـود بـه هسـي کښـېو تـم د عشـق پـه لومـه — تکبیرونـه راکـول چـي پـلار و مـور تـل
عاشـقی مـي هسـي صـافه آئینـه کـړه — چـي خنـدا پـر صـفا یـي کـه د بلـور تـل

۱۴۳ تورو سترګو مي لا بخت نه دئ تور کړئ
سینه سوئ چي "حنان" دئ لکه سکور تل 1108

چـي دي بـاد راشـي د زلفـو د کاکـل — زمـا د مـاغ پُـر شـي لـه بویـه د سـنبل
چي دي خیال په غېږ کښي ونیسم په شپه کښي — لـه بسـتره مـي سـحر بـوی ځـي د ګـل
سـتا د مـخ پـه مثـل ګـل نـه پیـدا کېـږي — کـه ځـوک و غـواړي ایـران، کشـمیر، کابـل
خـط و خـال وروځـي سـترګي تـوري زلفـي — سـیاه پوشـي ده سـتا د حُسـن تسلسـل
نـه مـي غـواړې،[5] نـه راځـي او نـه پوښـتنه — د یـارۍ پـه کـور کښـي هـومره تغافـل
کـه مـي زړه ویـار "تـه" ور نـه کـړ عیـب نـه دئ — و پـاد شـاه تـه نـه سـپاري پژمـرده ګـل[6]

۱۴۴ صـبر مـه غـواړه ناصـح لـه مـا "حنانـه"
زه غـرق کـړئ یـم د پـر صـبر و تحمـل 1115

---

(۱) ب: ملامت نه دی نور خلق نه بلبل. (2) ب: د خط ګرځ. (3) ب: عشق له حُسنه سرشته.... (4) دا غزله په چاپي دیوان کي نسته. (5) ب: نه مي بولي. (6) ب: نه سپاري ځوک مرده ګل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګلشن کي که ښکاره کړي تور کاکل
آشفته به کاندي زلفي د سنبل [1]
تن يې هسي په ګلنار لباس کي زېب کا
لکه واچوي باد يو پر بله ګل
څه تاراج يې کړې د سترګو په وهلو
قافلې د دل و دين د تحمل
دا زما ژړا آسمان په ګردش کښېووست
زورور سېل مدام وړي له ځايه پُل
د ګلرخو خط عاشق ته مستي ورکړه
تل مستي کوي په رنګ د ګل، بلبل
توري زلفي په رخسار باندي پرتې دي
که پر پاڼې د ګلاب پروت دئ سنبل

۱۴۵ چي يې خيال کړې د ګُلګون رخسار "حنانه"
څکه شوه دا ستا سينه روضه د ګل 1122

يو بلبل نه دئ تنها ګريان د ګل[2]
په فراق يې[3] دئ سوخته جهان د ګل
په عرق زېب که رخسار د ګلرخانو
دا په دا وي[4] مشاطه باران د ګل
هرزه ګوی عاشق پرده د معشوق اخلي
ګوره ځيري کړ بلبل ګرېوان د ګل
چي په خيال کي مي د زړه ويني څڅېږي
زما له ځا د يار تر ځا خيابان د ګل
نا اميدي له خلکو کړه که راحت غواړې
په خزان وي[5] آسوده باغوان د ګل
پرښه مخ د بوالهوس نظر خطر دئ
د ګلچين وي تش کاته طوفان د ګل

۱۴۶ بيا د چا و خونرېزۍ ته ځي "حنانه"
چي يې واغوستې جامې په شان د ګل 1129

﴿ م ﴾

څو نوش نه که بلبل طوره د عشق جام
هغه نه مومي و صلت د ګل اندام
توري سترګي مي د زړه ويني يو ځای خوري
که څه نه خوري دوه هندوان يو ځای طعام
له کرام الکاتبينه سياهي توی شوه
که تور خال دئ په رخسار د دلارام
ستا له سترګو زما يوه غمزه کافي ده
په خلوت کي زاهد اوسي په بادام
چي مي خال په مخ کي وليده حيران شوم
په جنت کي دي کافر ايښئ دئ ګام[6]
خيال دي وړئ دئ له ما آرام و صبر[7]
بې له تا مي د زړه کله شي آرام

۱۴۷ بې د دوسته "حنان" هغه چا پيدا کړ
چي يې خپل ځان کړ په دا لار کي ګُمنام[8] 1136

---

(۱) دا غزله په اصل کي نسته. په چاپي ديوان کي هم همدا راز شپږبيته ده. خو شپږم بيت ما له بلي نسخې رانقل کړ.
(2) چاپي ديوان: ګويان د ګل. (3) په اصل کي "يې" نسته. (4) چاپي ديوان: دا په دا چي. (5) چاپي ديوان: په خزان شي.
(6) چاپي ديوان:
چي يې خال په مخ کي وينم حيرانېږم
په جنت کي ولي ږدي دا سي يو ګام

(7) چاپي ديوان: قار و صبر. (8) چاپي ديوان: "چي خپل ځان يې کړ په دا لار کښې ګُمنام".

(c) ketabton.com: The Digital Library



سم ایږده د شریعت پر لار قدم — قدم مه ږده کوږ چي شي هلته سم[1]

نم د زړه تر سترګو توی په لوی سهار که — د عصیان نامه پاکېږي په دا نم

صبحدم توبه زاري کړه و قادر ته — حرام کړه پر سترګو خوب د صبحدم

رم کوه له معصیته ځو دي توان شي — نفع وړې ده عالم په دغه رم[2]

دم د بد ویلو مه وهه مظلوم ته — د مظلوم د آه تیر ګرزي دم په دم[3]

کرم کړه پر زېر دستانو په ډېر لطف — که له خدایه امید واریې د کرم

زیم د اوښکو د مظلوم نه اجتناب کړه — چي د عمر د ېوال زود وهي دا زیم[4]

غم کوه د لوی سفر د توښې دلته — کل غمونه به دي هېر که دغه غم[5]

۱۴۸ ستا قلم شعر په نوي طرح کاږي[6]
د موسٰی عصا "حنانه" ستا قلم 1145

د عاشق بې یاره کله شي توان یو دم — پتنګ کله له ډېوې ساتي ځان یو دم[7]

که مي یار د خواری پُرس کوي عیب نه دئ — له مېږیه فارغ نه و سلیمان یو دم

د یار خیال مي له سینې ځخه ژر وزي — په خفه ځای کي آزار شي مهمان یو دم

نتیجه د سخاوت آخر نېستي ده — لاس خالي شي په پاشل د دهقان یو دم

ډېرو اوښو مي صورت له واکه ویوست — نړوي عمارتونه باران یو دم

یو ساعت مي آرام نه شي بې ګلرخو — باغ کي نه وي بې ګلانو باغوان یو دم

۱۴۹ د صورت زندګاني واړه بې روح ده
د خپل یار بې خیاله مړ دئ "حنان" یو دم 1152

چي په آرزو د ښکلي مخ د خپل دلبر ودرم — د باغ د ګلو له ګلشنه لاس پر سر ودرم[8]

چي د جزا په ورځ حساب کتاب کاوه شي زه به — ستا د جفا نامه په لاس کي پر محشر ودرم

ور به یې نه کړم دا نعمت پر پاد شاهي د دارا — د عشق په تور که و دوهی ته قلندر ودرم

ستا د رخسار د ګل په خیال کي همېشه دلبره — لکه غونچه د زړه له وینو سور ځګر ودرم

پروا به نه وکړم هرګز په چپ وراست د دهر — که زه یو ځله ستا و مخ ته برابر ودرم

دا ستا د زني د کوهي تنده مي نه ماتېږي — که پر چشمه باندي سربېره د کوثر ودرم

۱۵۰ جواب دئ دا غزل "حنانه" د اخوند پیرمحمد
که په قیامت کي په پناه د پیغمبر ودرم 1159

(۱) "هلته" باید درې څپې ولوستل سي. چاپي دېوان: "مه ږده کوږ قدم چي ته شې هلته سم". (2) چاپي دېوان: "نفع وړه ته د عالم په دغه رم". (3) چاپي دېوان: په دم دم. (4-5) په اصل کي دا دواړه بیتونه نسته. (6) له "نوي طرح" څخه یې مقصد دا دئ، چي د هربیت د سر کلمه د بیت په پای کي را وړل سوې ده. (7) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.
(8) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غږند له مطلبه په پرواز د هوس ولاړم — تش لاس له خرمنه د هستۍ لکه خس ولاړم [1]
صبح غوندي چاک ګرېوان د صدق له پرتوه — سپک د ګل د بوی په شان په کام د نفس ولاړم
بخت مې د دولت رخ مقابل د نظر نه کړ — کوز په دې عرصه کې په رفتار د فرس ولاړم
هیڅ[2] رفعت حاصل تتبع نه کړه په دنیا کې — سپور پر اور د دود په شان هوا ته عبث ولاړم
نه شو راموجود په شپه مجلس د اهل دلو — ځکه لکه شمع په تش باد د نفس ولاړم
طمع د دانې چې مې د نس په رضا وکړه — ځکه د مرغه په دود بندي د قفس ولاړم

۱۵۱ — زاد و راحله د لوی سفر واخیسته خلکو
زه "حنان" چې پر زېرمه د نس ولاړم[3] — 1166

چي خدای ستا جور و ستم لره پیدا کړم — نور به څه لره ګیله مانه له تا کړم
جفا جور، ظلم خوی دئ د بتانو — زه به ولې له تا طمع د وفا کړم[4]
ستا له غمه راته هسې معلومېږي — چې به پس له دې و کل هوس ته شا کړم
په ظاهره که زرغون ښکارېږم څه شو — غم، لړمون له وینو ډک لکه حنا کړم
مخ دې یووړه خوشالي له ما غریبه — نور به څه لکه ګل خوله په خندا وا کړم
ځکه مبتلي رقیبان زما په غوښو — بېلتانه دې مزه دار لکه حلوا کړم

۱۵۲ — ماله یاره څخه پرې کړه د ښو طمع
اې "حنانه" زړه اخته په تمنا کړم — 1173

د ګلرخو د دیدن هوا خراب کړم — چې دا هسې آرام نه یم اضطراب کړم
لکه ونیسې و ښېته د اورو تاب ته — پېچو تابي زلفو هسې پېچ و تاب کړم
همېشه دي[5] د ګلګون رخسار له شوقه — تماشې د نسترن او د ګلاب کړم[6]
په ځنځیر د تورو زلفو یې بندي کړم — حواله یې بیا د سترګو په قصاب کړم
له خجلته سره[7] شراب لکه اوبه شي — سره لبان چې مقابل د مې و ناب کړم
د زړه مراد مې له تا نه موندہ حیران یم — چې پر څه دا ستا و لور ته ډېر شتاب کړم[8]

۱۵۳ — د هجران په اور دي[9] سوی زه "حنان" یم
له سوختنه تل ژړا لکه کباب کړم — 1180

ستا هجران په ناتوانۍ هومره خبر کړم — چې مېږی پر لاري ځي ځني حذر کړم[10]
ستا له شونډو له غاښو به زړه پرې نه کړم — کله شي چې ترک د شیرو د شکر کړم
هومره بار د لطافت وړې حیرانېږم — چې نظر دي و وښته ته د کمر کړم

---

(۱) دا غزله په اصل او "ب" کې نسته. (2) په چاپي متن کې "هیڅ مې" دئ. ما د وزن د سمېدو په غرض "مې" ور څخه ویوست. (3) دا نیم بیتۍ هم د وزن په لحاظ کمبوت لري که په متن کې ډېر تصرف روا وای نو ما به دا سي سم کړی وای: "پاته زه حنان یم چې پر زېرمه د نس ولاړم". (4) اصل: "زه په څه له تا طمع ستا د وفا کړم". (5) چاپي دېوان: همېشه یې. (6) چاپي دېوان: "تماشې په هر نفس د ګل ګلاب کړم". (7) چاپي دېوان: له خجلت. (8) چاپي دېوان: "چې هر څه دا ستا و لور و ته شتاب کړم". (9) چاپي دېوان: په اور یې. (10) دا غزل په چاپي دېوان کې نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



و خندا تــه دي دلبــو یــم بــې هوښــه    کـه یـاقوت یـې مقابـل کـه یـې ګـوهر کـړم
ستا لـه وصـله مـي دلبره یـأس حاصـل دئ    و دا زړه تـــه کـــه هرڅـــو تســـلی ورکـــړم
لمر ځـان پټ کـه لـه خجلتـه معلـوم نـه شـي    هـر سـاعت چـې لـه مهرویـو ګیلـه سـر کـړم

۱۵۴ زمـا "حنـان" پـر خـاطر مشـک و عنبـر اوري
د نوخطـو پـه تعریـف چـې قلـم سـر کـړم 1187

ستا د عشـق غمونـو زه هسـې سر تـور کـړم    بل د هجـر اور دي سـوی لکـه سکور کـړم(1)
کـه زړه یـو دئ خـو سـتا مهـر ځـای نیـولئ    مګـر غـم لـره دي بـل زړه لـه چـا پـور کـړم
طاقـت نـه لـرم بـې تـا نـه سـتا د وصـل    عاشـقۍ پـر بـد قدمـه فـرس سـپور کـړم
دا ســـتا جـــور، زمـــا صـــبرو دلبـــره    عاقبـت چـې دي د کـم د لـوی پېغـور کـړم
چـې د سـتا جفـا تـل وینـم لاس نـه اخلـم    دغــه واړه ناچــاري ده پــه زړه زور کـــړم
زمــا نــارې بــه آرام یوســې لــه عالمــه    کـه دا سـتا د هجـر ږغ پـر جهـان خپـور کـړم

۱۵۵ جفــا خــوی وي د خوبــانو، نــه دا هســې
زه "حنـان" دي پـه ژونـدوني سـر پـه ګـور کـړم 1194

چـې دا سـتا پـري د زلفـو خیـال هـر دم کـړم    د مـــاغ تـــر، زه لـــه ســـنبلو د ارم کـــړم(2)
پــېچ و خــم شــم لکــه مــار پــر مــلا وهلــئ    را پـه یـاد چـې سـتا د زلفـو پـېچ و خـم کـړم
کــړې تــورې مــې پــر زړه بانــدې څرخېــږي    چـې رایـاد کلـه دا سـتا د وروځـو خـم کـړم
درک دي نــه کېــږي د تــن پــه نزاکــت کــې    د تعریـف شـرحه دي کنبـل پـه کـم قلـم(3) کـړم
فرق یـې نـه کېږي یـو مـوی پـه زیات و کـم کـې    زمــا صــبر ســتا جفــا چــې ســره ضــم کــړم
د خـــط مشـــق دي د ازل کاتـــب وهلـــئ    نـور بـې زه(4) صـفت پـه کـم قلـم رقـم کـړم(5)
لــه شــوخ چشــمو مــې جفــا ډېــرې لیــدلې    چــې دا هســې د نــرګس لــه ګلــه رم کــړم(6)

۱۵۶ زه "حنــان" زلفــو و کفــر تــه څکــو لــم
ستا د وروځو محراب بیا پر قبله سم کړم 1202

ستا د وروځـو خیـال بیـا خـم لکـه کمـان کـړم    لـب دي زړه لـه وینـو ډک لکـه مرجـان کـړم
پـه بـازار کـې د عشـق څـه د سـود سـودا ده(7)    نقـد د زړه بـې تـر نسـیه دیـدن قربـان کـړم
پادشـــاهان آبـــادوي خـــراب ملکونـــه    خیـال دي ولـې زه ویـران پسـې ویـران کـړم
پرو ښتـــه تکیـــه کـــوم لـــه ډېـــره فکـــره    چـې و مـلا تـه دي نظـر پـه هـر زمـان کـړم
کـه مـې زړه لـه وینـو ډک دئ زه پـه خـوښ یـم    دا پـه دا چـې دي خـونخور خیـال مهمـان کـړم
لـــه پـــردو د ســـترګو ځـــای ورلـــره بویـــه    هغه دم چې(8) یې مهمان د خیال سلطان کړم

۱۵۷ چـې یـار هسـې ظلـم و جـور کـړي پـه پـوهېږم
زه "حنـــان" بـــه پـــه ژړا جهـــان طوفـــان کـــړم 1209

---

(۱) دا غزل په چاپي دېوان کي نسته. (2) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (3) په کم قلم = په کوم قلم.
(4) بې = به یې. (5) دا غزله مقطع نه لري، خو خالي ځای یې ورته پرې ایښئ دئ. ما له بلې نسخې واخیسته.
(6) دا بیت هم له بلې نسخې رانقل سو. (7) چاپي دېوان: "په بازار کي د عشق دا د سود و سودا ده. (8) په اصل کي "چي" نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه نسبت دا زما د اوښو ستا د تن کړم(1)
تـه شـیرین خانـدې زه آه کـوهکن کـړم

لـه محنتـه د غربـت کـه مړشـم ښـایي
چي دا ستا لـه بدخویي ترک د وطن کړم

تـه کـه خال پـر مخ لـرې زما پـر زړه داغ دئ
مـاتوې تـه زلفـې، زه د زړه شـکن کـړم

بـوی د میـو مـي لـه زخمـه د سـینې ځـي
د مخمورو سترګو خیال چي زه غمجن کړم

لکـه زخم د ناسـور یـأس مـي حاصـل شـو
تسـلی مـي د زړه نـه کېـږي شـېون کـړم

بـې رحمـي چـي را پـه یـاد کـړم د ګلرخـو
مـې بایـد چـي تـرک د ګلـو د ګلشـن کـړم(2)

پـر سـبزه کـه ګـل پیـدا شـي عجـب نـه ده
دا عجب، د سبزې دیـد پـر نسـترن کـړم(3)

۱۵۸
لــه حســرته ســتا د زلفــو معلــومېږي
1217
زه "حنان" به خپـل ځان(4) خاوري د ختن کړم

عاشـقي دي خـوار و زار لکـه مجنـون کـړم
بـل دي هجـر ربـز مربـز پـه زړه زبـون کـړم

جـدا ګـرزم لـه عالمـه سـتا لـه مینـي
چي پـه روغ عـالم بـه پـوري دغـه پـون کـړم(5)

پـه قیامـت مـي دي مخ تـور او شـرمنده شـم(6)
چـي بـې تـا بـه پـه بـل چـا د زړه تـرون کـړم

دا سـتا خیـال چـي راولـم د زړه تـر کـوره
خوشـحالي هـوا هـوس واړه بېـرون کـړم

سـتا د لبـو عنـاب راکـړه سـخت بیمـار یـم
امتحـان پـه دا نسـخه د افلاطـون کـړم

چي لـه خولې مـي شـپه و ورځ د سوز نـالې ځـي
دا سـتا هجـر لکـه نـی خـالي لړمـون کـړم

۱۵۹
مـرګ مـي سـل ځلـه قبـول دئ کلـه کېـږي
1224
چي "حنان" به ستا لـه لوري مخ را ستون کړم

بیـا نګـار دي پـه زړه زور کانـدي پـوهېږم
چي را تلـه زمـا پـر لـور کانـدي پـوهېږم

کـه د بـاغ پـر لـوري ورشـي زه ضـامن یـم
ګـل بـه حُسـن ځنـي پـور کانـدي پـوهېږم

کـه هر څو یـې د حیا پـه حجاب(7) نغاړم
عاشـقي بـه مـي سـر تـور کانـدي پـوهېږم

زمـا و صـبر سـتا و حُسـن تـه چـي ګـورم
مـا بـه هـم د مجنـون وړور کانـدي پـوهېږم

چي رقیب دا ستا و زلفو تـه ډېر ګـوري(8)
دا کاتـه بـه یـې شـبکور کانـدي پـوهېږم

چي مـدام و یـار تـه ګـډ وي پـه د روغـو(9)
دا ویـل بـه یـې مختـور کانـدي پـوهېږم

۱۶۰
کـه یـې دا د خـولې پیالـه، د شـونډو مـې وي
1231
خوار "حنان"(10) بـه پـر نسـکور کانـدي پـوهېږم

---

(١) چاپي دېوان: "چي نسبت دا ستا د حسن زما د تن کړم". (2) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (3) دا بیت په اصل کي نسته. (4) چاپي دېوان: پر خپل ځان. (5) پون کلمه له "ب" څخه و اخستله سوه هورې يې پون د پم "خاربښت" معادل کلمه بللې ده. په اصل کي "فون" ده.
(6) ب: شرمنده یم. (7) چاپي دېوان: په ستر. (8) چاپي دېوان: وګوري.
(9) چاپي دېوان: "چي مدام و یار ته سروي به دروا غو". (10) چاپي دېوان: دا حنان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه راســتۍ لکــه الــف وم پــه قــد ســم   پــر ملاخــم کــړم دغــه ســتا د وروځــو خــم(1)
یــو راســته وېښــته دي نشــته پــه ابــرو کــي   کــج مژګــان دي نــه لــري د راســتۍ چــم
چي مي خیال ستا د سم قد کاوه په زړه کي   کــږو وروځــو دي راوښــود ځــای د غــم
پـه رخسـار بانـدي دي زلفـي کـږې ښـې دي   چـي پـه خپـل مقـام کـي ښه وي تـر سـم، خـم
کــږې نشــته چــي لــه تــا نــه را ســـېږي   د ابــرو کجــۍ دي لانــدي کــړم تــر دم
دا چـي وايـي کـوږ بـار نـه رسـي تـر ځايـه   بانوګــان دي د زړو بــار وړي پــه هــر دم

۱۷۱   زه "حنـان" دي پـه کـږو کتـو بنـدي کـړم
چـي هـر خـو کـږې کـوي زه بـې(2) زغمـم   1238

په جنت نه یم خوښ هرګز په در د یار مي قسم   خوښ په لذت یم د خوارۍ په اعتبار مي قسم
زړه مـي لـه تـا وعـده د وصـل هرګـز نـه ولیـده   په نا امیدۍ د توري شپې د انتظار مي قسم
پروا په ګل و په خار نه کړم د جنون له فیضه   پــه ســینه صــافه آئینــه د نوبهــار مــي قســم
که مي سر ولاړ شي ستا په مینه کي خوشاله یم زه(۳)   په تېره تیغ دا ستا د جور جوهردار مي قسم
ستا له جفا مي د غونچې په دود زړه ډک له وینو   په ها نسیم چي ګل خلاصېږي د سهار مي قسم(۴)
تور بخت مي نه ولیده هیڅ ستا د کاکل شب قدر   پـه تورو مشـکو سـتا د زلفـو پـه هر تـار مـي قسـم

۱۲۲   ستا د ګلګون رخسـار لـه شوقه زه "حنـان" د اوښـو
ګـلان کرمـه هـر ګـړی پـه لالـه زار مـي قسـم   ۱۲۴۵

پـه هـردم چـي دي رخسـار و زلفـي کسـم   مــخ دي عــین خزانــه ده زلفــي طلســم
التفــات د قبلېــدو نــه کــړې هیڅکلــه   که هرځو در ته پېشکش سر و مال نسم(۵)
بـایلودلئ مـي دئ زړه سـتا پـر چشـمانو   بــې ارواحــه تــش ولاړ یــم خــاکي جســم
پر جبین باندي یې(۶) چین له قهره راشي   هغـه دم چـي پـه غـوږو واروي زمـا اسـم
شــکوه مــه کــوه د یــار لــه ډېــره جــوره   چــي جفــا و جــور دئ د ښــکلیو رســم
که هرځو جستجوی و کړم ستا و لور ته(۷)   نزد بکت مـي در تـه نـه شـي پـه هـیڅ قسـم

۱۲۳   کــه خلعــت د دشــنام واغونــدې و ماتــه
زه "حنـان" بـه پـه عـالم کـي ښـه پـه یسـم(۸)   ۱۲۵۲

چي په شپه ستا د کاکل په بوی اشنا شم   پــه ســحر لــه ښــامارانو پــه غوغــا شــم
چــي ښېتــا بــاغ لــره ورشــم ســروقده   قـُمري طـوره پـه کوکـو ژبـه ګویـا شـم
چي په شپه دا ستا "د" زلفو بوی را واخلي(۹)   منتظــــره و نســــیم تــــه د صــــبا شــــم
چي د لبو خیال دي راشي په خاطر کښي   مســتغني نــور لــه دوا د مســیحا شــم

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) بې = به یې. (3) چاپي دېوان: ستا په مینه لا خوشاله یم زه. (۴) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (۵) نسم = نیسم چاپي دېوان: نسیم؟. (۶) په اصل کي "یې" نسته. (۷) چاپي دېوان: ستا و خواته.
(۸) چاپي دېوان: ابسم، یسم = ابسم. (۹) ب: را اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروانه رنګه مې څوک په ځای خبر دئ — چې چراغ د حُسن بل شي زه پیدا شم
چې دي ګرزم (1) په کوڅه کښې ګلرخسار — د جهان له نعمتونو بې پروا شم

۱۲۴ — ۱۲۵۹
د قیامت علامې و وینم په سترګو
زه "حنان" چې یو ساعت له تا جدا شم

ستا له مینې به زه کله دست بردار شم — د منصور په دود که سل ځله په دار شم(۲)
که د زلفو بوی دي راغئ تر مشامه(۳) — و رقیب ته به په سهم لکه مار شم(۴)
له پرتوه ستا د مخ نه دئ نور څه دئ(۵) — هر طرف چې ځم په سیل د ګلزار شم
چې طاقت یې ستا د مخ د اور راوړئ(۶) — هک حیران دي د زلفینو په هر تار شم
یو بې واکه زړه لرم نه په پوهېږم(۷) — چې یو ښکلی چیري وینې(۸) ګرفتار شم
چې ناصح توبه راکاږي ستا له مینې — هغه دم د ده له لاري(۹) توبه ګار شم

۱۲۵ — ۱۲۷۲
زه "حنان" خوښ یم د عشق په لېونتوب کې(۱۰)
نه په دا چې بې دیدنه دي(۱۱) هوښیار شم

د کړو وروځو په خیال چې یې خم شم — په لیده یې بیا د قد د سرو سم شم(۱۲)
جزء لا یتجزا یې تنګه خوله ده — چې په خیال یې له حیرته زه عدم شم
په حسرت یې د تور خط هسې راکېږي — سینه چاک وینې خوراک لکه قلم شم
چې بې خیال شم د دو زلفو، وروځو، سترګو — هغه دم ځای د محنت د درد و غم شم

۱۲۶ — ۱۲۷۱
ما "حنان" پخوا لیده دا چې بندي یې
په جادو د تورو سترګو د آدم شم

قد دي دئ تر سروي سم — مخ دي ګل، عرق شبنم(۱۳)
وازه خوله غونچه په باغ کې — کوي ستا د خولې ماتم
د چمن ګلان وي واړه — ستا د مخ په خیال خُرم
هر طرف آفتاب ځلېږي — ستا د زلفو تر هرخم
مرجان خپل صورت سوری کړ — ستا د سرو شونډو په غم
باج را نیسه له خوبانو — نازنین یې د عالم

۱۲۷ — 1278
په کاغذ دي "حنان" یاد کړ
او که شوې سهو القلم

---

(1) چې دي ګډ شم. (۲) چاپي دېوان: سنګسار شم. (۳) چاپي دېوان: "که دي بوی د زلفو راشي تر دماغه".
(۴) چاپي دېوان: "و رقیب و ته به سم لکه مار شم". (۵) چاپي دېوان: "ستا د مخ نه ده نور څه ده". (۶) چاپي دېوان: "چې راوړئ یې طاقت ستا د مخ اور ته". (۷) چاپي دېوان: "یو بې واکه زړه لرم خدای را خبر دئ". (۸) چاپي دېوان: چیر ته وینم. (۹) چاپي دېوان: هغه دم دي له دې لاري. (۱۰) چاپي دېوان: "حنان خوښ دئ ستا د عشق په لېونتوب کښې". (۱۱) چاپي دېوان: بې د عشق دي. (۱۲) دا غزله په اصل او "ب" کي نسته. په چاپي دېوان کي پنځه بیته ده.
(۱۳) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.

چي مي نه مونده په عشق کي د زړه کام کم　　نه مي د رومي له خاطره په پېغام غم
پوخ مين آه و فغان نه که په عشق کي　　مدام وي له اضطرابه څخه خام خم
د هغه شوخ چشم خيال په زړه کباب کړم　　چي له سترګو سرېږ(1) نه وهي بادام دم
همېشه مي پر حال مځکه اسمان ژاړي　　له هغو څخه(2) چي کاندي دلارام رم
که مي هرڅو جستجوی ور پسي وکړ　　و مي نه ليده په سترګو د ګلفام فم
دم وهل د يار بې ذکره په کار نه دي　　که څوک دم وهي هر دم د ګل اندام دم

۱۲۸　　دا طالع سکندري بوله "حنانه"　　1285
ځوک چي واخلي د خپل يار له لاسه جام جم

محمد سرور سردار و د عالم　　عدل حکم هم دوام واړه محکم
دا کلام الله(3) امداد له کردګاره　　هم الهام ورله و اسم اکرم
هم لولاک ورله عطا الله وده کړ(4)　　هم صلاح او صلح کار هم واړه سم
و مطلع د سر د هر صدر صدور و　　هم مطهر آل و اولاد يې مکرم
واړه کل د ده که آل و او که اهل　　له واړو هر دم مدد اوسه همدم
درود حمد کلهم لره هر دم کړم　　هم سلام له ما دوام اوسه هر دم

۱۲۹　　معما مي ده د اسم(5) دوه سمکه　　1292
حا و دوو سمکو ورکړه دا علم(6)

چي ترلئ وي کمر لکه قلم　　وي حاکم د بحر و بر لکه قلم
د معنا دُر يې(7) غواص د عقل کاږي　　ګرزېده چي که پر سر لکه قلم
له مشرقه تر مغربه يې حال د رومي　　چي سر پرې که(8) په خنجر لکه قلم
په مجلس د اهل د لوبه سند وي　　چي سم د رومي برابر لکه قلم
د شيطان په ويل نه ګرزي له لاري　　چي و پښو تې(9) وي نظر لکه قلم
له طيرانه د هوا مرغان پرېبا سي　　چي يې غشی وي بې پر لکه قلم(10)

۱۷۰　　که عزت غواړې په خلکو کي "حنانه"　　1299
شه له ځانه بې خبر لکه قلم

چي اخته په جدا يي د خپل دلبر شوم　　دا په دا په سترګو ړوند په غوږو کر شوم
چي مي نه پېژاند پخوا د وصل قدر　　ښه چي اوس يې په هجران زېر و زبر شوم
د ښه يار بېلتون دوزخ باله نور خلقو　　تر دوزخ دئ ډېر بتر چي په خبر شوم
که ژړا کړم که فرياد کړم فايده نه که　　چي د يار ملګری نه، په دا سفر شوم

---

(۱) سرېږ = سره يې. (2) چاپي دېوان: له هغه څخه. (3) چاپي دېوان: د کلام الله (4) چاپي دېوان: "هم لاولاک ور عطاالله ورکړ" په اصل او "ب" کي دغه ځای "هم لولاک يې... "دئ خو څرنګه چي دا غزل د بې نقط صنعت پر اصولو ويل سوې ده، ځکه نو ما د "ئې" پر ځای "ورله" ور واچاوه. (5) چاپي دېوان: معما مي د اسم (6) چاپي دېوان: "حا د درو سمکو سر کړو اعلم". (7) په چاپي دېوان کي: "يې" نه لري. (8) چاپي دېوان: کا. (9) تې = ته يې. (10) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدا خوک مه سوځي په داغ د جدائيه(1)
لکه زه چي په اور و سوم خاکستر شوم

د خط خيال مي له خاطره څخه نه ځي
په دغه اندوه يې زه لکه مسطر شوم

١٧١
چي مي درد د بېلتانه د اشنا وليد(2)
زه "حنان" له اشنائيه لاس پر سر شوم
1306

يار مي پاته په وطن کي زه روان شوم
خندنی د هر هندو د مسلمان شوم(3)

نه مي توان د ګرزېدو نه په مخ تلای شم
زه غريب د پاڼو پرانګ ترميان حيران شوم

د پرکار په دود پر سر باندي ګرځېږم
د اشنای له هجره هسي سرګردان شوم

چي د يار تجلی غواړم په بل مخ کي
سودايي يم، لېوني يم که نادان شوم

سرې سرې اوښي چي له هجره تويومه
کان د لعلو د ياقوتو د مرجان شوم

هغه يار ته به په کومو سترګو ګورم
چي مي کړئ و اقرار باندي پښېمان شوم

١٧٢
په ياري کي يې ما دروه درلود "حنانه"
چي اخته په هسي درد بې درمان شوم
1313

زړه مي يوور تورو زلفو سپين رخسار هم
قتلوي مي شوخي سترګي ښه ګفتار هم

د فاختي په شان په خيال د سهي سروو(4)
نه مفتون تنها پر قد يم، په رفتار هم

ګلشن څه سيالي کوي د يار له مخه
که نا زېږي په ګلانو، لري خار هم

د دنيا غم و ښادي(5) سره پيوند دي
که اميد د وصل شته دئ، انتظار هم

مقصود يو دئ په کعبه په بتخانه کي
که سپين مخ د يار اسلام زلفي کفار هم

په کړو د کاږه بخت يم پوهېدلئ
کړې وروځي مي د يار وژني، دستار هم(6)

١٧٣
ماني مه کوه "حنانه" صبر بويه
جوړ کاږونه تعجيل(7) وران کاندي، تلوار هم
1320

ستا د جور په همت هسي خراب يم
چي په تش نفس برباد لکه حُباب يم

دا په خيال د کومي ملا(8) د کومو زلفو
نه پوهېږم چي دا هسي پېچ و تاب يم

بېرحمي مي له شوخ چشمو ده ليدلي
د نرګس له ګله ځکه(9) په عذاب يم

بادام طوره پرورش کړم په تابوت کي
چي شهيد په تېغ د سترګو د قصاب يم

دا د کوم مطرب په خيال کي مضطرب يم
چي قی کړئ مي لړمون لکه رباب يم

چي هوا مي د ګلرخو ده په زړه کي
بېهوده مي خلک شيخ بولي، شاب يم(10)

دا د چا بېلتانه هسي کړم حيران يم
چي په ژوند سره د مړو په حساب يم(11)

١٧٤
زه "حنان" يې(12) د ګلګون رخسار له شوقه
همېشه لکه لاله په زړه کباب يم
1328

---

(١) اصل: هيڅوک مه سوځه په داغ د جدائيه (متن له "ب" واخيستل سو). (2) ب: د اشناې وليد. (3) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (4) چاپي دېوان: "د پاختې په دود په خيال د سهي سرو. (5) چاپي دېوان: ښادي و غم.
(6) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (7) چاپي دېوان: خشم. (8) اصل: د کومو ملا؟. (9) چاپي دېوان: اوس لا په عذاب يم. (10) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (11) دا بيا په اصل کي نسته. (12) په اصل کي "يې" نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دیدن دي د رخسار لکه ګلاب یم — بې دیدنه دي د مخ لکه تراب یم(1)
د سپین مخو دلبرانو په آرزو کې — همېشه په اضطراب لکه سیماب یم
چي هوس ستا د بوسې لرم په زړه کي — بېهوده مي خلک شیخ بولي، شاب یم
په پنجه کې دي د هجر زما دلبره — زبون صید په پنجه کې د عقاب یم
چي قالب يې کړ خالي ستا و قدم ته — کباب شوئ له غیرته د رکاب یم
دغه ستا د زلفو تاب دئ بل څه نه دئ — چي مدام لکه مار هسې پېچو تاب یم

۱۷۵ چي یو ښکلی چیر ته ویني باندي چور وي
1335 زه "حنان" د زړه له لاسه په عذاب یم

پرورده نن په شراب د محبت یم — چي مدام د یار له خیاله هم صحبت یم
په وصلت کي يې له هجره آرام نه یم — همېشه له دغه غمه په هیبت یم
دا چي تل زه رخسار ستا یمه له شوقه(2) — و ګلرخو و ته تېر په دا بابت یم
هر ساعت مي د خپل زړه کباب غذا ده(3) — آرزو مند یې د سرو لبو د شربت یم
د جبین له نوشتې مي حال معلوم دئ — لکه لوحَ شنه پر سر د هر تربت یم
ستا جفا شوه تر حد تېره(4) زه ناتوان یم — ظلم مه را باندي کړه اهل غربت یم

۱۷۶ زه "حنان" به څه پر هېز ور څخه وکړم
1342 چي ژوندی د شکر لبو په قربت یم

هسې رنګ حیران پر حُسن(5) د نګار یم — نه له ځانه له جهانه خبردار یم
له دوزخه له جنته خبر نه یم — هسې محوه پر جمال د مخ د یار یم
د چمن د ګلو سیل په ما نه شي — وازه خوله حیران په سیل د رخسار یم
چي تشبیه مي ستا د قد وکړه له سروي — پر دا قول تر قیامته شرمسار یم
په غمزه د شوخو سترګو يې زخمي کړم — هره شپه يې(٦) لکه زلفي بې قرار یم
کې وژلی دئ عالم په تبغ د وروځو(7) — زې د سترګو په نګاه سره بېمار یم

۱۷۷ زر یو سفه یې د حُسن مشتري دي
1349 په دا جمع کښې "حنان" کله شمار یم

هسې مست د استا د سترګو په خمار یم — چي خبر نه په ما ښام نه په سهار یم
که هر څو سعیَ کوم کار پر مخ(8) نه ځي — سرګردان په اول کار لکه(9) پرکار یم
که سل تېغه د جفا يې پر ځګر خورم — عذر نه لرم هنوز یې شرمسار یم
له خندا که مي لب نه ټولېږي څه شو — باطن زړه له وینو ډک لکه پرهار یم

---

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. د بیتو شمېر يې شپږ او د دریم بیت لپاره يې ځای خالي پرې اېښئ دئ. ما وروسته له بلي نسخې را نقل کړ. (2) چاپي دېوان: "همېشه چي يې صفت د ښه رخسار کړم". (3) چاپي دېوان: خوراک دئ.
(4) چاپي دېوان: ترحد شوه تېره. (5) ب: په حسن. (٦) ب: هره شپه دی. (7) ب: په تبغ د سترګو. (8) اصل: په مخ.
(9) چاپي دېوان: سرګردانه په اول لکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خم قد مې په ښکاره د دام حلقه[1] ده    چې د ترکو لا په دا وخت کې په کار یم
چې مدام له پرېشانیه نه خلاصېږم    دا په دا چې ستا د زلفو طلبګار یم[2]
دا ښکاره مهرباني ده پرما ډېره    همېشه چې د رقیب د سترګو خار یم[3]

۱۷۸ که هرڅو مې ګناه ډېره فضل یې ډېر دئ
زه "حنان" د ډېري عفو امیدوار یم[4] 1357

څو بندي په مخ و زلفو د دلبر یم    نور خبر نه په ماښام نه په سحر یم[5]
چې د زلفو بوی دي راغئ تر د ماغه    لکه عود مدام په میان کې د مجمر یم
که بې تا حور و قصور و جنت غواړم    په مذهب د عاشقانو به کافر یم
سمندر رنګه په دا اور کې شوم پاته    همېشه هغه مرغه بې بال و پر یم
چې محروم یې له ګلشنه د وصال شوم    سرګردانه لکه باد پر بحر و بر یم
زه بې پاڼو ونه یم باغوان بې مهره    عاقبت به د ګلخنو خاکستر یم

۱۷۹ چې په وصل کې یې هومره اضطراب کړم
زه "حنان" یې له هجرانه باخبر یم 1364

پیدا کړئ خدای په اصل بد اختر یم    په راستۍ منلئ نه یوه دلبر یم[6]
چې له مخه یې شم بېرته توان مې نه شي    په دا خپله ناتوانۍ هومره خبر یم
همېشه دي د ګُلګون رخسار له شوقه    په سره اور کې ځای نیولئ سمندر یم
چې تر ځان لا باندي ګراني ګڼې سترګې    د هلک په لاس هغه مرغۍ بې پر یم
پس له دې به نور کنار له خلکو اوسم    د تبجن په دود و خلکو ته ضرر یم
محنت غم، ماتم و درد، جفا و جور    همېشه سپاه سالار د دې لښکر یم

۱۸۰ جفا ظلم هومره کړه وماته ګوره
زه "حنان" له سنګه روغ نه یم بشر یم ۱۳۷۱

په فراق د دار پر سر لکه منصور یم    هغه دم چې له وصاله څخه دور یم
په پرېکړي سر تازه شم لکه شمع    چې په بزم کې یې هر ساعت حضور یم
د خط خیال مې دئ په زړه کې[7] ځای نیولئ    سر تر پایه فېروزه د نیشاپور یم
چې دي یاد د تنګي خولې کوم دلبره    د غونچې په دود و خلقو ته منظور یم[8]
دا اثر دي(۹) د بېمارو سترګو نه دئ؟    چې یوه ګړۍ آرام نه یم رنځور یم

---

(۱) چاپي دېوان: د دار حلقه. (2) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (3) دا بیت په اصل کي نسته. (4) چاپي دېوان: "زه حنان یې ډېر دعفو امید وار یم. (5) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (6) دا غزله په اصل او "ب" کي نسته.
(7) چاپي دېوان: د خط خیال چي مي په زړه کي. (8) چاپي دېوان:
چي د یار د تنګي خولې کوم خبره    د غونچې په دود په دا تل مشهور یم

اصل: د غونچې په دود زړه ویني، مشهور یم. متن له "ب" څخه واخیستل سو. (۹) چاپي دېوان: دا اثر یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسلي مي د زړه نه شي[1] په هيڅ طور    نا اميده لکه زخم د ناسور يم

۱۸۱ زه "حنان" دي[۲] د دنيا له کاره خلاص کړم ۱۳۷۸
چي په فکر همېشه ستا د غرور يم[۳]

دا و ستركو ته دي چا وركړ تعليم    چي تاراج يې كړ زما د زړه اقليم
تر الف دي قامت سم دئ مشكين خطه    دواړه زلفي دي كړې دي لكه جيم
لام كوږ پرېووت ستا د زلفو له پرتوه    د بوسې خواست دي له خولې څخه كه ميم
غتېه ستركه صاد نيولې ستا و لور ته    شين له غمه سكاره قي كړه د جحيم[۴]
په اندوه د خط دي سر د قلم چاک شو    پر صفحه دي د رخسار و كېښ حاميم[۵]
پس له مرګه ګذر قبر ته را وكړه    جمع كېږي مي په تا عظم رميم
چي خيال چير ته ستا د مخ د ګلشن راشي    په كار نه راځي هرګز باغ د نعيم[۶]

۱۸۲ "حنان" ستا له درد و دوكه په مرګ خوښ دئ ۱۳۸۲
له احواله يې خبر دئ خداى عليم[۷]

د اشناى له غمه[۸] تل مخ پر بيابان يم    لكه سېل ځنځير په پښو په سر روان يم
ځاى مي نه را معلومېږي د استوګي    لكه كانى د مچلوغي سرګردان يم
د جلک په دود د سر په تار ځړېږم    په خدمت مي ملا تړلې ده چالان يم
لكه شمع د اور پلنده[۹] پر تندي وړم    د هجران له تابه تل سوئ زبان يم
چي يې ژاړم د سرو لبو په آرزو كي    سر تر پايه لكه لعل د بدخشان يم
كه ظاهر[۱۰] لكه ګل خاندم په دا څه شو    د لاله په شان زړه داغ پر هر دامان يم[۱۱]

۱۸۳ ستا د جور و جفا تاب تر كومه راوړم ۱۳۹۳
زه "حنان" له كاني[۱۲] روغ نه يم انسان يم

د خپل يار له غمه څه وايم حيران يم    تر علاج مي شو رنځ تېر اخته په ځان يم
د اسيا په دود په خونه كي سفر كړم    همېشه د بل د پاره سرګردان يم(۱۳)
چي تعريف يې كړم د زلفو ويني قي كړم    د قلم په دود پر سر باندي روان يم
چي پر ځاى د ګياه غشي د خدنګ خورم    زه هغه صيد د ميني د بيابان يم
لكه ګوى چي آرام نه وي په ميدان كي    ستا په عشق كي(14) هسي بې سر و سامان يم

---

(۱) چاپي دېوان: زما د زړه تسلي نه شي. (۲) چاپي دېوان: زه حنان يې. (۳) چاپي دېوان: "چي په فكر د وصال دغه مغرور يم". (۴) دا بيت په چاپي دېوان كي نسته. (۵) چاپي دېوان: "تن دي زياته صفايي لري تر ميم". (۲) دا بيت په اصل كي نسته. (۷) په اصل كي د دې غزلي مقطع داسي ده:

چي په خيال كي ستا د مخ د ګلشن ګرزي    "حنان" نه لري په كار جنت نعيم

(۸) چاپي دېوان: د خپل يار له غمه. (۹) چاپي دېوان: د اور پانه. (۱۰) چاپي دېوان: په ظاهر. (۱۱) چاپي دېوان: "د لاله په دود زړه داغ په هرزمان يم". (۱۲) چاپي دېوان: له سنګه. (۱۳) چاپي دېوان:

لكه ړوند هسي په خونه كي سفر كړم    د آسيا په شان له غمه سرګردان يم

(۱۴) چاپي دېوان: ستا له عشقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اشنا د جفا درده هسي دروند يې    چي بيان يې په ما وشي لا بيان يم(1)

۱۷۴ چي خبر مي کړ اغيار په يار "حنانه"
لکه وږکی پر بخنبل باندي(۲) پښېمان يم ۱۴۰۰

چي دا ستا د مخ پر شمع پروانه يم    دا په دا د هري جمعي افسانه يم(۳)
بېره(۴) نه کړم له قاضي له محتسبه    ستا د سرو لبو په ميو مستانه يم
تن دي سيم، غاښونه دُر دي لبان لعل    چوکيدار دا ستا د مخ پر خزانه يم
له ما مه درېغوه تش نظر د سترګو    چي دي پروت مدام د در په استانه يم
چي ورځغلي په رضا د دام حلقې ته    زه هغه د ميني صيد دېوانه يم
دا په کوم مذهب روا په کوم ملت ده    چي رقيب شو دا ستا خپل زه بېګانه يم(۵)

۱۸۵ لاس به وا نه خلم که سل ځايه اره شم
ستا له زلفو زه "حنان" هغه شانه يم ۱۴۰۷

د خپل يار له غمه(۶) هسي دېوانه يم    چي خبر نه په کعبه نه بتخانه يم
چي بې آهه، بې نارې، (۷) بې ږغه سوځم    پر څراغ د مخ دي هغه پروانه يم
که پر سل ځايه اره شم خبر نه يم    د کاکل په شوق يې زه هغه شانه يم
د خال خيال يې ما ضعيف لره کافي دئ    د مېږي په دود قانع په لړ دانه يم
په وصلت کي يې لا څه را وشي ګوره    په تش خيال يې له عالمه بېګانه يم
چي يې خيال ساتم د سرو لبو په زړه کي    دا په دا مدام د لعلو خزانه يم

۱۸۶ دين مذهب به له ما څه پوښتې "حنانه" (۸)
چي يې مست مدام د خولې په پيمانه يم ۱۴۱۴

په اميد دي د وصلت مدام زنده يم    که اميد د وصل نه وي نور مرده يم(۹)
لکه ځوک چي پر پيل سپور له سپي بېرېږي    په وصال کي(۱۰) له رقيبه ترسنده يم
چي تشبيه مي ستا د قد له سروي وکړه(۱۱)    په دغه وينا تر اوسه شرمنده يم
دا د چا د تورو زلفو په خيال هسي    نه پوهېږم چي مدام پراګنده يم
لاس مي وکښه ستا په ديد سره له سترګو(۱۲)    په خدمت د دوو بېمارو درمانده يم
له جملې کاره وتلئ يم دلبره    څو اخته دا ستا د سترګو په دنده يم

۱۸۷ که له نازه راته سم نه ګورې څه شو
زه "حنان" دي(۱۳) په کړو کتو بنده يم ۱۴۲۱

---

(۱) چاپي دېوان:
د آشنای د هجر درد يې هسي نه دئ    چي بيان يې په ما نه شي لا بيان يم

(۲) چاپي دېوان: په زنجبيل باندي؟ (۳) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (۴) اصل: وېره. (۵) اصل: دېوانه يم.
(۶) چاپي دېوان: د خپل يار له ميني. (۷) چاپي دېوان: بې نالې. (۸) چاپي دېوان: "دين مذهب نور څه پوښتې له ما حنانه". (۹) د دې غزلي مطلع په چاپي دېوان کي دا سي ده:
که طمع د وصل نه وي زه مرده يم    په اميد دي د وصلت مدام زنده يم

(۱۰) چاپي دېوان: په وصلت کي. (۱۱) چاپي دېوان: "چي تشبيه مي ستا د قد کاوه له سروي". (۱۲) چاپي دېوان: "ستا پر سترګو مي له زړه څخه لاس وکښه". (۱۳) په اصل کي "دي" نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ن﴾

په دا عصر کې پیدا شوه کاتبان　　چې فرق نه کا د بتان او د بیان(1)
مرید وکاړي مرتد پرې خبر نه وي　　نه صنم له ضم وېش کړلای شي عیان
خاص محرم کاړي مجرم له خپله فکره　　جم او خم کاړي قلم سره یکسان
توبه وکاړي ثوبه، ثوبه توبه کا　　پر عم خال د غم ایږدي هسې کوران
قبل، قتل په رقم کې نوشته کا　　خشم، چشم، ستم سیم کاړي آسان
د سنبل د سیل هیڅ امتیاز نه کا　　هم د بت د تب په میان کې وي حیران

188　　صداقت مې صد آفت نه کړي قادره
پهٔ نصیب زما "حنان" کړي ستا جنان　　1428

نه طی کېږي د عشق لاره په دویدن　　لا زیاتېږي لکه تاک په بریدن
تکلم چې یې له لعلو جلوه گر شي　　مخ تې(2) ځي زما له غوږو شنیدن
زړه ترل په دنیا کار د پخو نه دئ　　جدا کړي مېوه له ښاخه رسیدن
د یار دید په اندازه درلره بویه　　د غه گل پژمرده کېږي په لیدن
ماتوي تونده سرکه همېشه کانۍ　　نرم کړي ترخه ویل زړه د دښمن(3)
د زړه ورو دپاره کوم دلبر را درومي　　چې مې زړه که په سینه کې طپیدن
دا راوړي سبا پیغام د کومي مهرو یي　　لېمه کاندي لکه ستوري پریدن(4)

189　　رم ذاتي خوی د سیاه چشمو(5) دئ "حنانه"
څه ښیي و دا آهو ته رمیدن　　1437

بې له تا مې احوال هسې دئ خراب نن　　چې مجلس مې شو له لاسه په عذاب نن(6)
د زړه سوخت مې کړ په اوښو عشق روښانه　　لا تازه کړ ژړا اور د يې کباب نن
انتقام دا ستا له مخه خط زر وکېښ　　پرې یې ښود دغه تندري دا آفتاب نن
زړه خط یووړ، عقل سترگو، صبر زلفو　　لا یې عشق لري له ما سره حساب نن
دا د چا د خط په خیال کې مستغرق یم　　چې یې یووړ له ما شغل د کتاب نن
په کلشن کې دي د مخ مچمچې گرزي　　چې اورېږي د باران پر ځای گلاب نن

190　　پر لبانو یې خط ښه ابسي "حنانه"
دا د بنگو نشه بِه ده تر شراب نن　　1443

---

(١) دا غزله په اصل او "ب" کي نسته. (2) تې = ته یې. (3) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (4) دا بیت په اصل کي نسته.
(5) چاپي دېوان: شوخ چشمو. (6) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم شوخ چشم بیا وتلئ دئ په ښکار نن　　دا چي ورک له آهوانو دئ قرار نن[1]
په رکاب مي ګمان شو د پري[2] سترګي　　چي لید نه شو له تېزی د آس رفتار نن
غوځ په تېغ د کوم قاتل یم خبر نه یم[3]　　چي سجدې کوم په وینو کي[4] زه خوار نن
په امید چي یوه ورځ به ګلرخ راشي　　په ګلشن کي لمر کړه خپل ګلان نثار نن
په ګرېوان مي سر په خیال د چا د خط کړ　　چي ځي بوی ځني د مشکو د تاتار نن
په کوځه کي ګرده شپه وم چي نا امیده　　لکه بې اثره دعا راغلم سهار نن[5]
که یې سترګي عالم وژني عجب نه ده　　عجب دا چي قتلول کوي بیمار نن[6]

191　　د "حنان" صحت په دم په افسون نه شي
پر زړه و خوږ د اشنای د زلفو مار نن　　1451

راشه وګوره زما پرېشان احوال نن　　خراب کړئ یم دا ستا د زلفو خیال نن
دا تور زاغ پر لانده ګل باندي ښکارېږي　　که پر مخ باندي جلوه کوي تورخال نن
د حیرت ګوتې[7] په غاښ کړې چي یې ولید　　شاپېرۍ د کوه قاف دا ستا جمال نن
خط دي وران کړ قلمرو دا ستا د حُسن[8]　　که سور ګل دئ مورچه ګانو کړ پایمال نن
په سینه کي مي هډونه رېز مرېز شول　　ځوک به راوړي مومیایي دا ستا د قال نن[9]
په آزار دي زلفي نه دي پسې څه دي؟　　د لړم په دود مهتاب ته کړي جنجال نن

192　　نوی خیال د یار د خولې وایه "حنانه"
شنیده خبري مه نیسه پر فال نن　　1458

د عالم الفت بلا ده پر مجنون　　له ازله دا نداء ده پر مجنون
د چمن د ګلو هیڅ پروادار نه وي　　چي ګلشن تر باغ[10] صحرا ده پر مجنون
تنګدستي تحقیق مایه د لېونتوب ده　　عریانۍ سکښتې قباه ده پر مجنون
د جنون داغ که نګین د سلیمان نه وي[11]　　له وحشیو څه غوغا ده پر مجنون
همېشه خلاص دئ د دهر له جنجاله[12]　　د صحرا بوټي کلا ده پر مجنون
آبادي که د اسلام ده که د کفر[13]　　خرابي یې بې پروا ده پر مجنون

193　　دا جامه پر هوښیار زېب نه که "حنانه"
ستا ویل جوړه انشاء ده پر مجنون　　1465

---

(۱) چاپي دېوان:
کوم شوخ بیا وتلئ دئ هسي په ښکار نن　　دا چي ورک دئ په آهونو دئ قرار نن
ج

(2) چاپي دېوان: د پېري سترګي. (3) چاپي دېوان: یم بسمل طوره. (4) "کي" په اصل کي نسته. (5) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (6) دا بیت په اصل او "ب" کي نسته. (7) ګوتې = ګوتي یې. (8) چاپي دېوان "خط دي وران کړ دا اقلیم د حسن هسي". (9) چاپي دېوان: "مومیا به راوړي ځوک دا ستا د قال نن". (10) چاپي دېوان: د باغ.
(11) چاپي دېوان: "د جنون داغ سلیمان نګین نیولئ". (12) چاپي دېوان: "خلاص د دهر له جنجاله هم په دا دئ".
(13) چاپي دېوان: "آبادي که څه د کفر څه د دین ده".

چي مي وليده د يار چين د جبين    په هر چين کي د جبين يې(1) هزار چين
دا يې چين(2) د جبين نه دئ د زړو چين دئ    په دا چين کوي د چين د مشکو چين
په هر چين کي د جبين يې چين معلوم دئ    له غيرته يې د چين پر جبين چين
د جبين په چين يې زړونه واړه چين کړه    وايې خيست په دغه چين له چينه چين
چي چين خلاص که د جبين د زړه چين وا شي    چي چين چين کاندي جبين زړونه که چين(3)
د غضب چين چي ماهروی پر جبين راوړي    لمر په چين د اورو پټ که خپل جبين(4)

۱۹۴
د جبين په چين يې چين د خلکو وکړ(5)
زه "حنان" يې کړم په چين د جبين چين
۱۴۷۲

عاقبت مي په ژړا شو تور چشمان سپين    دا اوره شوه نن له جوشه د باران سپين
په اميد د مېلمانه مي زړه کباب کړ    انتظار مي کړه لېمه تر نمکدان سپين
هيڅ خبر مي بيا د ورک يوسف را نه غئ    که يعقوب رنګه مي شو واړه مژګان سپين
پاسباني دي د مخ چا و زلفو ورکړه(6)    د هندو په لاس مي وليده قرآن سپين
مرتبه به د اوو شهيدو مومي    که چا ځان مړکړ د يار پر زنخدان سپين
دا ګوهر دئ په حقه کي د عقيقو    که په لبو کي يې(7) زېب کوي دندان سپين

۱۹۵
رقيبان چي پر خوله ورشي هغه وايې
ځو به کړي(8) "حنان" له دې تهمته ځان سپين
۱۴۷۹

رسا قد او رسا زلفي رسا حُسن    په بشر کښي موجود نه شو دا ستا حُسن(9)
توري سترګي، تور مژګان او نرۍ وروځي    چي پوره يې وي دا ټول دئ د چا حُسن
چي د خدای عطا پر وشي ښايست ورکه    ګڼه نه شي رانيوه په بها حُسن
ستا ښايست لره حاجت د زېور نشته    نه زيا تېږي د هيچا په حنا حُسن
ځو دولت د حُسن شته دلبري بويه    زېب کوي چي وي سره له وفا حُسن
د بوسې مهرباني که کوې وقت دئ    دا چي نن دئ، بيا به نه وي فردا حُسن

۱۹۶
خوار "حنان" نامېنده مه شړه له دره
چي خدای درکړ نن و تاته يکتا حُسن
۱۴۸۶

که امين وکه پر دا روح الامين    د رقيب ځای شه اسفل السافلين
سترګو راکړ نن برات پر غزالانو    خيال د زلفو يې کړم تېر تر چين ماچين
که فلک مي سنګين زړه تر موم کړ نرم    دی مي هم د زړه په دود سره کړ شين
د کشتن شوق د هغه شاهسوار په تېغ کړم    چي جلوه يې د قيامت د لمر که زين
په خرام رفتار يې زه تر موی باريک کړم    چي ملا وتړي د ناز پر کمر چين
خاموش ناست د زړو ښکار ته دئ پوهېږم(۱۰)    پټې سترګي مشق د وينو کړي شاهين

۱۹۷
د حميد د خوش نظمۍ په زراعت کي
دا "حنان" يې دئ د شعر خوشه چين
۱۴۹۳

---

(۱) يې: په اصل کي نسته. (2) چاپي دېوان: دغه چين. (3) چاپي دېوان: "چي چين کاندي جبين زړونه که چين".
(4) چاپي دېوان: لمر په چين د اوراد پټ که خپل جبين. (5) چاپي دېوان: د خلکو واخيست. (6) چاپي دېوان: "پاسباني د مخ يې چا زلفو ته ورکړه". (7) چاپي دېوان: که د يار په خوله کي. (8) چاپي دېوان: ځو به کا. (9) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (10) چاپي دېوان: "چي خاموش ناست يې زما د زړه و ښکار ته".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( و )

شَست يې صاف دئ ډېر د غشو په ويشتو    چې خدنګ تې(1) اميد نشته د ختو
شوخ کاته يې ډېر ډېر مه کوه و مخ ته    نازک تن يې زخم کېږي په کتو
څه ګيله(2) له خال و خطه کړم له زلفو    کښې ايستلئ يم(3) په ډېرو آفتو
کله ظلم، کله جور، ګاهي جفا کړي    ازمو يي مي په هزار ازمويښتو
کله خواست د بوسې کله د کنار کړم    د مخ آب را څخه توی شو په خواستو
د ناصح په ويل نه ګرزم له عشقه(4)    چې مي غوښتئ و له خدا په خيراتو

۱۹۸ غل د شعر څه قدرت لري "حنانه"
چې به غلا له تا الفاظ که د پښتو(5) ۱۵۰۰

يو دي کړم مين د سترګو په جادو    په ځنځير دي بيا بندي کړم د ګېسو
ما درزاد وحشت له قيده څخه خلاص وي    نه نيو کېږي په ځنځير رم د آهو(6)
د زړه زخم مي ناسور شو(7) نه رغېږي    دئ تېر شوئ له تدبيره د رفو
د هغه شوخ چشم ديده په کوم فرصت کړم    نګهبان يې دئ د مخ تېغ د ابرو(8)
چې نهان دا ستا قامت شي سرو قده    د قُمري په شان(9) مي زړه وايي کوکو
دا تور خال يې پر سپين مخ باندي ښکارېږي(10)    که و لمر ته د قيامت ناست دئ هندو
بانوګان دي حاجت زما د مرګي غواړي    چې سجده که و محراب ته د ابرو(11)

۱۹۹ دا د خپل وصال شربت په "حنان" نوش کړه
د هجران په اور يې سوئ دئ پهلو ۱۵۰۸

سِحرګرو سترګو ستا په ډېر جادو    رم کاته درېده زده کړه په آهو(12)
پِه محراب کي د کعبې يې قبر بويه    چې وژلئ وي په تېغ ستا د ابرو
دا د کوم ګلرخ له غمه په ګلشن کي    دي ګلان په وينو سره لکه سالو
د يار زلفي له رقيبه نه خلاصېږي    ولي مشک اسانه نه ښندي هندو
له غيرته مي پر سر ډبري اوري    چې رقيب دي کله وينم پر پهلو(13)
بېهوده ضايع کوې دوا طبيبه    زه مريض يم د عشق(14) نه مي شي دارو

۲۰۰ که يې ځای پر استانه غواړې "حنانه"
په بانو يې کړه د در خاوري جارو ۱۵۱۵

---

(١) تې = ته يې. (2) چاپي دېوان: څه شکوه. (3) اصل: کښې ايستم. (4) چاپي دېوان: له ميني. (5) چاپي دېوان: "چي يې غلا له تا الفاظ که له پښتو ". (6) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (7) چاپي دېوان: ناسور دئ.
(8) چاپي دېوان: "چي تعلم يې دئ له رمه د آهو ". (9) چاپي دېوان: په دود. (10) چاپي دېوان: په سپين مخ کي معلومېږي. (11) دا بيت په اصل کي نسته. (12) چاپي دېوان: "رم کاته دي ديده زده کړه په آهو ". (13) چاپي دېوان:
"هر ساعت چي رقيب وينم پر پهلو ". (14) چاپي دېوان: يم نا جوړ د عشق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه کــار نــه دئ ســیم و زر د دنیــا دارو   حسـاب غـواړي پـه محشـر د دنیـا دارو
د حِرَص کیکه یې ګرزي په شلوار کښې   ارام نشـــته پـــر بســـتر د دنیـــا دارو
نقش نه قبلوي هر کاغذ چي غوړ شي   نصـیحت نـه کـه(1) اثـر پـر دنیـا دارو
لکه سېل چي په تلوار له غره را لوېږي   پــه دولــت نشــته بــاور د دنیــا دارو
لکه مار چي پر ګنج پروت وي برخې نه وي   دغـــه کـــار دئ سراســـر د دنیـــا دارو
ویـده پښ(2) د ډول پـه ږغ نـه بیـداریږي   غفلت زیـات پـه شوروشـر د دنیـا دارو

۲۰۱ زه "حنان" پـه دا لـه خدایـه ډېر راضـي یـم
چـي پـه حـال نـه شـوم(3) خبـر د دنیـا دارو ۱۵۲۲

زړه تپیـــږي یـــاره ســـتا لـــه ســـوربدو   چـي ځي بیا په قصد د چا په خواربدو(4)
پـه تـاراج د کومـو زړو ځـې نـه پوهېږم(5)   چــي فرصــت نــه کــړې هرګــز د درېــدو
پر هر چا باندي چي ورشي هغه سوځي   مګـر خـوښ یـې د دې اور پـه لګېـدو
په ګلشن کي چي قامت ستا جلوه ګرشي   صـنوبر خـوښ شـي د پښـو پـه پرېکېـدو
که حواس جمع غواړې مخ ته یې ګوره(6)   شــېرازه د دې اوراق شـــي پـــه لیـــدو
چـي پـه آه یـې اسـمانونه عـرش لړزیږي   اجتنـــاب کـــوه(7) د زړه لـــه نړېـــدو

۲۰۲ "حنان" ترک د وطن خوښ کړ ستا له جوره
زړه خوشـــاله کـــړه د ده پـــه ورکېـــدو ۱۵۲۹

طمـــع پرېکـــړه د جهـــان لـــه ښـــو ثمـــرو   کــه ځــای غــواړې پــه درګــاه کــي د دلبــرو
ســتا د مــخ خریــداري نــه کــه نــور څــه کــه   چـــي ګـــلاب کـــړه لمـــن ډکـــه لـــه ســـرو زرو
کــه پــه خــط دي مــخ صــفا شــو عجــب نــه ده(8)   صـــفا یـــي مـــومي آئینـــه(9) لـــه خاکســـترو
چـــي تشـــبیه یـــې ســـتا لـــه قـــده کـــړه دلبـــره   صـــنوبر ســـروه پـــه دا شـــوه بـــې ثمـــرو
چـــي لـــه تارنګـــه ســـنګدله آشـــنایي کـــه   د هغـــو پـــر ســـر بـــاران و د ډبـــرو
پـــر غـــوړو دي زلفـــي هســـي معلـــومېږي   لکــه پــروت مفلــس هنــدو(10) پــر ســپینو زرو

۲۰۳ "حنــان" خوشــي امیــد ســتا د ورانــه کانــدي
لـــه غریبـــه بالښـــت څـــه غـــواړي د پَـــرو ۱۵۳۶

دا یـــې واخیســـت لـــه عُـــذاره نقـــاب ورو ورو   کـــه د لمـــر لـــه مخـــه تښـــتي ســـحاب ورو ورو
اومـــه زړونـــه کامـــل زړه تـــر ځایـــه بـــوزي(11)   پـــه انګـــار ســـره پخېـــږي کبـــاب ورو ورو
زړه بـــې عشـــقه پـــه کـــار کلـــه دئ ناصـــحه   بـــې صـــاحبه ســـرای آخـــر شـــي خـــراب ورو ورو

---

(۱) ب: نصیحت نه کړي.(2) ویده پښه. پښه له بیت سره نه لګېږي. پښ ور سره لګېږي پښ د "آهنګر" په معنا.
(3) ب: نه یم. (4) چاپي دېوان: "چي ځي بیا د چا په قصد د خواربدو ". (5) چاپي دېوان: خبر نه یم. (6) چاپي دېوان:
"که حواس دي جمع غواړې مخ یې ګوره ". (7) چاپي دېوان: اجتناب بویه. (8) چاپي دېوان: عجب نه دی.
(9) چاپي دېوان: ښیښه. (10) چاپي دېوان: لکه و لوېږي هندو. (11) چاپي دېوان: په نڅا بوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــازک خیـــال آخـــر رســـېږي و معنـــا تـــه　　هـلال و ګـوره څـه شـان شـي مهتـاب ورو ورو
د ســـپین مخـــو پـــه وعـــده مـــه غلطېـــږه(1)　　تـږی و بـولي و ځـان تـه سـراب ورو ورو
د مشـــرق مغـــرب لا رطـــی پـــه یـــوه ورځ کـــړي　　چي ګام اخلي څوک په شان د آفتاب ورو ورو

۲۰۴ پـه تعجیـل نـه مونـده کېـږي مـراد "حنانـه" ۱۵۴۳
طالـب لـولي پـه ډېـر عمـر کتـاب ورو ورو

بیـا پـه غـم هسـي اختـه کـړم هجـران ورو ورو　　لکـه بوخـت چـي پمـن وي پـه ځـان ورو ورو
جـوړ پـه زړه مـي اموختـه شـوې د یـار زلفـي　　لکـه و نبـلي پـه غوبـو مـاران ورو ورو(2)
نمـدې سـترګي(3)، ګونـه ژړه، وچ هډونـه　　ستا پـه عشق کي(4) را پېښېږي نقصان ورو ورو
حـال د خپـل پایمالـه و پوښـته چـي څـه دئ(5)　　لکـه تېـر پـر مېږتـون شـي سـلطان ورو ورو
یـوه شـپه مـي پـه خـواب و لیـدې ستا زلفـي　　لا تـر اوسـه مـي خـاطر دئ(6) پرېشـان ورو ورو
زړه مـي ورک و، ګرزېـدم: تـا خنـدا وکـړه　　ستا پـر خولـه باندي مـي کېـږي ګمان ورو ورو
بیـا مجلـس کـړې لـه رقیبـه در پـوهېږم　　چـي شـړې لـه دره بیـا عاشـقان ورو ورو(7)

۲۰۵ یـا نصـیب چـي بـه لـه دې غمـه آزاد شـي(8) ۱۵۵۱
"حنـان" بنـد شـو سـتا د غـم پـه زنـدان ورو ورو

در تـه وایـم د مجـاز د عشـق لـه کـړو(9)　　چـي کـوي هغـه حسـاب دي پـه سـړو
د پیغـام پـه بوسـه نـه شـي د زړه سـوده　　مـات چینـي نـه پیونـد بږي پـه اوړو
قـلاده(10) ده د قصـاب زړونـه پـه زانګـي　　دا مېخونـه چـي ښـکاربږي د ښـو
خلـق خوشـي آهـو بـولي دا سـتا سـترګي　　آهـو رم لـري(11)، دا ښـکار کـوي د زړو
هـر کاتـه دي(12) د خنجـر کـار کـه پـه زړه کښـي　　نـه رغېـږي زخمـي شـوئ(13) د چـړو
بېهـوده زاهـد دعـوه د عاشـقۍ کـه　　ښـځه کلـه جنـګ تـه وزي د مـړو

۲۰۶ رنـګ تغیـره، ګونـه ژیـړه، وچ هډونـه ۱۵۵۸
د "حنـان" شـاهدان ډېـر دي پـه جـوړو

مـخ یـې لا صـفا د میـو پـه اثـر شـو　　دا ګـلاب لـه دې شـبنمه تـازه تـر شـو
زمـا پـه قتـل یـې لاس هسـي مضطرب شي(14)　　لکـه پـر د طـوطي تـوی د تېـغ جـوهر شـو
مرم په دا چي و رویبار تـه مي حال و وې خیال　　نـا محـرم پـه دا اسـرار ولـي خبـر شـو
یـې و ووت لـه سـینې زړه ورسـره ووت　　کـورنی لـه دې مهمانـه همسـفر شـو

---

(۱) چاپي دېوان: "په وعده د ساده لوحو غلط مه شه".(2) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (3) چاپي دېوان: نم د سترګو. (4) چاپي دېوان: ستا له میني. (5) چاپي دېوان: و پوښته چي دئ. (6) چاپي دېوان: لا تر اوس مي صورت کېږي.
(7) دا بیت په اصل کي نسته. (8) چاپي دېوان: شم. (9) ب: د عشق د کړو. (10) اصل، ب: قناده. دا لغت ما په قاموسو کي پیدا نه کړ ښایي "قِلاده" وي د "طوق ـ کړۍ ـ چنګک" په معنا. حافظ وایي:

شنیده ام که سگان را قلاده می بندد　　چرا بگردن حافظ نمی نهی رسنی

(11) ب: آهو دم کوي. (12) ب: هر باڼو دی. (13) ب: زخمي کړی. (14) چاپي دېوان: مضطرب وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تعریف د شکرلبو تل په کاږم ... له خامې خخه مې توی شهد و شکر شو
په راتله د طبیب دمه د بیمار شي ... ستا په دید سره مې روغ زخم[1] بتر شو

۲۰۷ نصیبه ازلي ده را رسېږي[2] ۱۵۷۵
چې "حنان" او د یار غم مخ و استر شو

د بلبل د ماغ چې ستا له بویه پور شو ... هره شپه د ګل خندا ورته نا سور شو
د سینې له زخمه بوی راځي د میو ... چې مې زړه په خیال اخته د کوم مخمور شو
ستا بې سترګو په ګلشن کې نرګس ګوره ... زرغونه امسا په لاس ولاړ رنځور شو[3]
چې شبنم که ځان فنا و لمر ته رسي[4] ... تر هغو چې دی هستي وه منزل دور شو
د شکرو نی د فیض له نارو خلاص دئ ... دنیا دار محروم له حورو له قصور شو[5]
په لږ عمر سره بار د ګناه سپک وي ... اسرحت[6] په کوتاه ورځ کې د مزدور شو

۲۰۸ چې په درست عمر کامیاب د وصل نه شو[7] ۱۵۷۲
سُست طالع زما "حنان" فرش د رنځور شو

ستا د مخ په ننداره مې بوستان هېر شو ... په آرزو ستا د رخسار ارغوان هېر شو[8]
توري زلفې دي ناز کاندي پر سنبلو ... په سبزه د استا د خط مې ریحان هېر شو
ستا د قد په تماشا شوم هسې محوه ... چې په باغ کښې مې د سروي نښان هېر شو
په صورت تر ګل لطیف یې په زړه کاڼې ... ستا تر زړه پوري مې یاره سندان هېر شو
غم دي هسې ربړ مربړ کړم زړه کوټلئ ... چې له ما خخه د مینې بیان هېر شو
خوله غونچه، غوږ شګوفه سترګې نرګس دي ... د دې مخ په ننداره ګلستان هېر شو

۲۰۹ عاشقان یې و نمانځل په د شنامونو ۱۵۷۹
بدبختي ګورئ عالمه، "حنان" هېر شو

تر غوږو چې مې یو ځله د عشق ساز شو ... د یار غم په هغه دم زما همراز شو
دا د چا د راتلو زېغ شو په ګلشن کې ... چې ګل سر تر پایه غوږ په دا اواز شو
له غیرته په اور وسوم چې مې ولید ... په چمن کې چې ګل ستا د مخ په راز شو
دا یې ستا د خولې، د زلفو شرح کښله ... د قلم چې د ست کوتاه زبان دراز شو
چې د زړه طلبه مې تل ورته نیوله ... دا په دا یې راماتل د سترګو باز شو
په دولت د حُسن ولې بې نیازي کړې ... سرو مال مې صدقه دا ستا د ناز شو

۲۱۰ د بنایست محموده رحم[9] باندي وکړه ۱۵۸۲
دا "حنان" دي خاص غلام لکه ایاز شو

---

(۱) چاپي دېوان: ستا په دید مي لا د زړه زخم. (2) چاپي دېوان: ور رسېږي. (3) چاپي دېوان: "زرغونه عصا په لاس په زړه رنځور شو ". (4) چاپي دېوان: و غره ته رسي؟. (5) چاپي دېوان: له عیشه له سرور شو. (6) اسرحت = استراحت. افغاني لیکوال دا کلمه کله کله د " اسرهت " په بڼه کاږي. (7) چاپي دېوان: په وصل نه شوم. (8) ب او نور چاپي دېوانونه دا غزل نه لري. (9) چاپي دېوان: مهر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهار راغئ شیر د غره په ګلو رنګ شو — له سائې د اورو ، ملک لکه پلنګ شو
معتدلــه شــوه هـــوا د جنـــت مثـــل — بـرف و بـاد د ژمي يخ واړه پـر څنګ شو
د لالــه پــه لاس کښـي جـام دئ د شـرابو — زرغون موج د دامان هسي لکه بنګ شو[1]
څــه سـبزه ده لکــه خــط د ګلعــذارو — له غيرتې د آئينې په زړه کښي زنګ شو
درم رېـزه شـګوفه ده پـه هـر بـاغ کښـي — د کېميـا معـدن د هـري شـېلې سـنګ شو
سـايه بـان د اورو ګـرزي پـر سـر بانـدي — تنابونې[2] د باران ځاځکي خوشرنګ شو

٢١١ د لالـه پـه شـان يـې داغ دئ پـر زړه بانـدي ١٥٩٣
و "حنـان" تـه بې لـه يـاره جهـان تنـګ شـو

په لېمه مي عکس ستا د رخسار ګل شو — چي مژګـان مـي اشـيانه د هـر بلبـل شـو
دا د زلفو تـار دي کوږ په رخسار پرېووت — کـه پـر پـاڼې د ګـلاب حلقـه سـنبل شـو
دغــه زمــا اسـير تـړل دي بـل څـه نـه دي — چي کـوږ شـوئ دي وغوړوتـه کاکـل شـو
سترګي وروځي ـ خط مژګان او توري زلفي — پــه رخســار دي د حبشــو تسلســل شــو
بېهــوده وايــي پــه صـبر مـراد حصـلېږي — زمــا د کــار خــرا بېــده پــه تحمــل شـو
د مهجـــور لـــه آهِ ســـرده و وېرېـــږه — تـر حد تېر چي دا ستا جور وتغافل شو

٢١٢ کـه توبـه کـوې "حنانـه" وقـت(دغـه) دئ[3] ١٢٠٠
لـه تـوبې توبـه کـوه موسـم د ګـل شـو

بيا دي جوړ پر سپين رخسار د زلفو دام شو — چـي د زړه مرغـه مـي هسـي نـا آرام شـو
زهـر د سـترګو دي[4] پـه مـا کـي اثـر وکـړ — چي پر تن مي پوست زرغون لکه بادام شو
شوخي سترګي دلبري د خط په وخت که — پــه سـبزه کـي دا آهـو لـه رمـه رام شـو[5]
اضـطراب د يـار د خــط د زلزلــې دئ[6] — چــي دا هســي مــي د زړه آرام حـرام شـو
چـي مـي نـه پېژانـد پخـوا د وصـل قـدر — بنه چي هجر مي نصيب على الدوام شو
ډک د ترکو پـه تعريـف نـه دئ نـور څـه دئ — چي دېوان زما مرغوب د خاص و عام شو

٢١٣ لېونتـوب چي پـه کوڅه د عشق داخل کړ ١٢٠٧
لــه "حنانــه" ښخـه پاتـه ننـګ و نـام شـو

بنفشــه چــي دي پيــدا پــر نســترين شــو — لــه غوســې دي غـم مېلمـه زمـا حـزين شـو
و تصوير تـه د رخسـار دي حيران کښېناست[7] — چـي نـاظر ورتـه نقـاش د چـين مـا چـين شـو
لــه مــا مــه پټـوه حــال زه در خبــر يــم — د زړګـي مـرات مـي هسـي رنـګ دوربـين شـو
لــه دې غمــه ولــي نــه ژاړم ســرې ســترګي — چــي اشــنا مــي لــه رقيبــه همنشــين شــو

---

(١) په بله نسخه کي دا ځای نه لوستل کېدئ له کوټه چاپه اصلاح سو. (2) تنابونې = تنابونه يې. (3) ب: وقت دی وقت دی. (4) چاپي دېوان: د سترګو يې. (5) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (6) چاپي دېوان: د خط د ازلي دئ.
(7) چاپي دېوان: "حيران کښېناست و تصوير ته د رخسار ستا ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاله غمه نه یم څه یم چې دا هسې     لا د دېرشو کاله نه یم موی مې سپین شو
پښه پر لاري د عشق مه ږده بوالهوسه     پر دا لار باندي مانده روح الامین شو

پر ګلشن د مخ دي عیش رقیبان که (1)
۲۱۴ دا "حنان" دي د غمونو اباسین شو ۱۲۱۴

چې کمان دي د ابرو خم لکه نون شو     د باڼو خدنګ یې زما په زړه درون شو(2)
په آرزو چې یې د غاښ د دُرو ژاړم     یوه ستر ګه مې د جله بله جیحون شو
دا په دا مې زرغونه شوه تور د سترګو     چې پر مخ دي د تور خط نښان زرغون شو
چې یې ستا دا تنګه خوله ملاحظه کړه     د غونچې له درده هسې ځګر، خون شو
سور و ژړ چې مې دا ستا په غم کې وینې     رعنا ګل له دغه غمه ګونا ګون شو
ستا د ملا په خیال کې هسې رنګ ضعیف یم     چې مېږی مې اوس د لاري رهنمون شو

د فلک به ډکه خوا اوس په سره شي
۲۱۵ چې "حنان" دا ستا په غم سر و زنګون شو ۱۲۲۱

چې اشنای د یار د در په استا نه شو     رقیب څکه پر عشاقو مردانه شو
و خاطر ته مې عیش نه راځي ډېر عمر     غم چې راغئ یو ساعت صاحبخانه شو
چې سیالي یې ستاله خاله سره کړله(3)     ریحان هسې په تور مخ دانه دانه شو
آوازه دا ستا د زلفو ما کړه پورته     کله ږغ که(4)، چې ځنځیر بې دېوانه شو
د مهرویو دیدن غواړي ځان خراب که(5)     د لمر مخ مدام ځرګند په ویرانه شو
سر کشان که سره لمبه وي ملایم شي     صبحدم ځراغ ملهم د پروانه شو

ستا د مینې غم له هري خوا پر اوري
۲۱۶ "حنان" ستا د غمو هسې کا شانه شو ۱۲۲۸

ما وې بخت به په فرمان شي، ولې نه شو     له جفا به یار پښېمان شي، ولې نه شو
چې مې تل ورته ژړل دا مې امید و     چې بې(6) لب شکر افشان شي، ولې نه شو
زړه کباب اوښې نمک زما په دا وې     چې بې(7) خیال زما مهمان شي، ولې نه شو
تمام عمر یې د سترګو دعا ګوی وم     چې را(8) به به دا ناتوان شي(9)، ولې نه شو
منتظر چې یې مدام و خط ته ناست وم     ماوې مفت(10) بې زنخدان شي، ولې نه شو
د هجران درانه بارونه مې په دا وړه     چې وصال بې جاودان شي، ولې نه شو

تا ویل رقیب پښېمانه دئ "حنانه"
۲۱۷ زوړ هندو به مسلمان شي، ولې نه شو ۱۲۳۵

---

(۱) چاپي دېوان: کا. (2) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (3) چاپي دېوان: "چې هوا یې د تور خال کوله ځکه".
(4) چاپي دېوان: کا. (5) چاپي دېوان: "ځان خراب کړه که دید غواړې له مهرویه". (6)، (7) بې = به یې. (8) چاپي دېوان: ما وې.
(9) اصل: دا بېمار شي. (10) چاپي دېوان: صفت؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت چې مې د یار د زړه پترې شو — دا په دا مې په رقیب باندې بری شو
چې مې مینه د شوخ چشمو کړه په زړه کې(1) — د بادام په دود مې تن سورې سورې شو
چې یې لافې ستا له خولې سره وهلې — د غونچې له خجالته زړه نرې شو
توند توسن مې له تېزیه سهې نه کړ — نه پوهېږم برق و، باد و که پېرې شو
ما به څوک له یاره واړوي ناصحه — تر قیامته زما سر د یار نغرې شو
بې نیازۍ د یار هسې رنګ ضعیف کړم — چې مې سپې باله هغه را ته زمرې شو

۲۱۸ د "حنان" یار په ښایست تر نورو بِه دئ ۱۷۴۲
چې د وخت پر شاعرانو یې تېرې شو

نیک بدا د ازل و قتویش و — څنو ته لړو چا ته زیات رویش و(2)
دا فغان اله ردم د بلبل اف — روانه یخ سخن کاند لریش و
عشق ایم دا م ین لره ستی د — بلبل تاب رک د ګلو ریش و
نسترن نرګس نبل اله شبو د — اپکوم ال وصف رتا پیش و
کل شرم خ په انو کنبې ه و نغنبت — اب ستا د بدن درلوریش و
چې مې دا را پیاد شي ارقیب هم — اته رساعت رمرک بتر اپیش و

۲۱۹ څه په نوي طرحه شعر کړې "حنانه" ۱۷۴۹
ستا الفاظ د شاعرانو د زړه نېش و

د تقوا مالونه چور کړه بیا نو خطو — هوا عیش را پوري سور کړه بیا نو خطو
پېچا پېچ زلفې یې ګوره کړې وروځې — مار لړم را ته حضور کړه بیا نو خطو
شاپېرۍ د ارم واړه خود بخوده — ګډ په شرو په فتور کړه بیا نو خطو
نوي عشق مې د زړو توبو صفمات کړ — جوړ دا غونه مې ناسور کړه بیا نو خطو
نه خلاصېږم په هیڅ رنګ د دوی(3) له جوره — اخترونه مې عاشور کړه بیا نو خطو
خالي شوي مې جامونه وه له میو — له دا بنګو څڅه(4) پور کړه بیا نو خطو

۲۲۰ د "حنان" له قصده داد د بوسې کاندې ۱۷۵۲
رقیبان یې په معمور کړه بیا نو خطو

بیا اخته شوم په بلا د تورو زلفو — بلا څه، په اژدها د تورو زلفو
تر بغل لاندې(5) یې ګنج د مخ ساتلئ — را معلومه شوه دا غلا د تورو زلفو
په خُتن کې یې د مشکو قدر کم کړ — څه به وایم له سودا د تورو زلفو
په پرېشان صورت کوي د مخ ساتنه — را شه وګوره وفا د تورو زلفو

---

(۱) چاپي دېوان: "چې مې عشق د شوخ چشمانو کړ په زړه کې". (2) دا غزله کټ مټ و لیکل سوه، حل یې د سریزي په (25 او ۲۲ مخونو) کې و ګورئ. (3) چاپي دېوان: په هیڅ وخت د دې (4) چاپي دېوان: د غمزې په میو پور
(5) چاپي دېوان: تر سنبل لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړېږ ناستي دي په خيال پهلو و لمر ته      څه به وايم له هوا د تورو زلفو
تر هر خم يې شاوخوا آفتاب ځلېږي      په شپه وګوره روڼا د تورو زلفو
۲۲۱ د جنون مار ورته غابښ چيچي له درده ۱۲۷۳
چې "حنان" کوي[1] انشاء د تورو زلفو

هسې ډوب يم همېشه په خيال د ترکو      چې خبر نه يم هرګز په حال د ترکو
صحيفه مې د زړه وګورئ عالمه      پکښې نقش دئ ګُلي احوال د ترکو
چې د بخت قرعه مي شوه اوله خلاصه غنيمت      بل څه نه راغله چې راغئ فال د ترکو
کړه خپل سر څه غواړې زاهده      پر پرهار دوړوي مالګي قال د ترکو
لکه موم و لمرته ويلې شي له تابه      هسې زړونه اوبوي جمال د ترکو
زاغ پر پاڼې د ګل ناست دئ خبر نه يم[2]      که پر سپين مخ باندي ايښئ[3] خال د ترکو
۲۲۲ په ويشتو د خپلو سترګو ښه پوهېږي[4] ۱۲۷۰
ما "حنان" وليده دا کمال د ترکو

د خوبانو خط و خال دئ کان د مشکو      ځکه کاندي هر سړی ارمان د مشکو
چې د زلفو بوی دي باد يووړ دلبره      له خُتن يې کړ بېرون کاروان د مشکو
چې يې وکړه شبګيره دا ستا د زلفو      ځکه توره شوه شانه په شان د مشکو[5]
دا يې[6] زلفي په رخسار باندي ځړېږي      کې[7] د حُسن پر دوکان مېزان د مشکو
دا يې زلفي پر مخ نه دي غوړولي      اورېدلئ دئ پر ګل باران د مشکو
چې ليدلي يې[8] جفا ده له نو خطو      زړه مي نه کوي الفت چندان د مشکو
۲۲۳ د "حنان" سينه نو خطو تور سکاره کړه ۱۲۷۷
که سينه وه د حميد دوکان د مشکو

خلاصيت نه مومم له لاسه زه د سترګو[9]      په بلا که زړه اخته[10]، کاته، د سترګو
په ګلشن کې يې فارغ کړم له نرګسه      راته جوړه شوه عجب کړوه[11] د سترګو
په قيامت بې[12] شهيد ګونګ وي نه پوهېږم      ورکړه چا دا هسې شان رانجه د سترګو
کې هر څو ځني ساتم[13] نه ساته کېږي      دلبران مدام وړي زړه تر وره د سترګو[14]
په بانو بې پښې مجروحې شي بېربړم      پر قدم به مې وي ايښې خوله د سترګو[15]
د ښه يار وداع ده ګرانه معلومېږي      راته ګران نه دي هرګز خاته د سترګو[16]
۲۲۴ که د زړه سلامتي غواړې "حنانه" ۱۲۸۴
پر ځان ونيسه واجب ساته د سترګو

---

(۱) چاپي دېوان: کاږي. (2) چاپي دېوان: نه پوهېږم. (3) چاپي دېوان: باندي پروت دئ. (4) چاپي دېوان: پوهېږم.
(5) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (6) چاپي دېوان: وايي. (7) کې = که يې. په چاپي دېوان کي د "که" په بڼه دئ.
(8) چاپي دېوان: مي. (9) دا غزله په چاپي دېوان کي سهواً د "ی" د رديف په 194 مخ کي راغلې ده. (10) چاپي دېوان: په بلا کړم زه اخته
(11) چاپي دېوان: کړده. (12) بې = به يې. (13) چاپي دېوان: ځني ساتې. (14) اصل: "بې ديدنه دي اسان خاته
د سترګو ". (15) = (16) دا دواړه بيته په اصل کي نسته، خو ځای يې خالي ورته پرې ايښئ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه رخسار يې آبداري يووړه له ګلو
په چمن کي چي شور ګډ شو په بلبلو[1]

له نرګس څخه يې خوب په سترګو يووړ
توري زلفي يې باج اخلي له سنبلو

چي يې لب بار د خندا اخيستئ نه شو
په نازېږم نن اشنا شوه په ښکنځلو

په حرم کي د کعبې يې قبر بويه
چي شهيد يې شو[2] د سترګو په ويشتلو

چي يو زخم مي روغ نه وي بل پر و شي
د سيني زخم مي تېر شو له ګنډلو

که د زړه ساتنه غواړې په دنيا کي
عادت و نيسه د سترګو په ساتلو

۲۲۵
چي دي نه رانيسي دُر څوک په کودري
"حنان" خوله په دا نګاه کړه له ويلو
۱۷۹۱

په رضا مي را وستلئ ځان ته غم و
چي نظر مي دي و مخ ته په هردم و[3]

و عرق ته د رخسار دي حيرانېږم
چي و لمر ته طاقت کله د شبنم و

قتلولم چي دي زه په تېغ د سترګو
دا دي خط راوړئ زما د مرګ رقم و

بېهوده خلګ ماران بولي ستا زلفي
که ماران وای لاندي شوي به تر دم و

نن ورځ نه يم ستا کاکل پېچوتاب کړئ
له ازله لوی دښمن مار د آدم و

ورنغله پادشاهي هرګز په خيال کي
د هغو چي ستا په مينه کي کارسم و

۲۲۶
لاله زار چي مخ د مځکي شو دلبره
دا خوړلئ د "حنان" د سترګو نم و
۱۲۹۸

چي قاصد را ووړ احوال ستا د لبانو
بل يې[4] هيڅ نه و په خوله کي بې مرجانو

د بېمارو سترګو خواست دي هر زمان که
دا چي لاس پورته نيولئ دئ مژګانو

حريفي يې ستا د سترګو کړلای نه شوه
بيابان خوښ په دا سبب کړ غزالانو

چي کښېني ور سره شرح د دوزخ که
هر مجلس تر مرګ بتر د زاهدانو[5]

شکرخند دلبر که قبر لره راشي
مقبره به سيل ګاه شي د طوطيانو

زېغ د وينو مي بلند نه شو دلبره
چي دي مړکړم سرمه رنګ تېغ د چشمانو

د خجلت په درياب غرق شو ګوهر ځکه
چي يې نه شوه کړای سيالي ستا له دندانو[6]

۲۲۷
پاړوګر "حنان" به ستا زلفي پرې نه ږدي
د مارګيرو ګذران وي[7] له مارانو
۱۷۰۲

---

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) په اصل کي "شو" نسته ما د وزن د پوره کېدو په خاطر پر زيات کړ.
(3) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (4) چاپي دېوان: نورې هيڅ. (5) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (6) دا بيت په اصل کي نسته. (7) چاپي دېوان سروکاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي مي و ليده مستي ستا د چشمانو      تور شپه شوه د حرم پر غزالانو
ستا د ستركو يو نظر ما لره بس دئ      په چله يو بادام قُوت وي د صوفيانو
دا پر لبو دي سياهي د برېتو نه ده      زمرد دئ نصب كړئ پر مرجانو
نرگس ستركي رخسار گل خوله دي غونچه ده      خط ريحان مخ دي باغچه ده د گلانو
زما د زړه په حال خبر دي سر تر پايه      گاهي گاهي احوال نسه(1) له مژگانو
د ديدن طاقت د چا د هغه مخ دئ      چي باج اخلي د ارم له شاپېريانو

۲۲۸      د خال خيال ضعيف "حنان" گور له يوور(2)
دا نه غار ته وړي دستور دئ د مېړيانو      ۱۷۱۳

د عشق درد چي مي په زړه كي پټ پنهان و      هغه درد مي د دې خوږ زړگي درمان و(3)
چي په عشق كي يو وار وسوم پس له دغه      په د قيق نظر مي كوت دارالامان و
ژړ يې مړ كړم ښه يې وكړه زما گله      له هغه ياره سنگدله دا گمان و
كه په تن كي مي نيم روح پاته شو څه شو؟      له سُستي د تېغ د ده نامهربان و
زما د زړه او د صورت ښادي په څه ده      چي مي يار را څخه پاته په ارمان و
چي په خيال كي يې د مخ د گلشن ولاړم      چي ليده مي زر بلبله په فغان و

۲۲۹      چي يې ذبح د هجران په تېره تېغ شو
اضحيه مگر "حنان" د دې قربان و      ۱۷۲۰

چي موسم دي د ښايست د سلطانۍ و      هغه وخت د رقيب خوى د شيطانۍ و
د دې عصر مغروران نو خطان واړه      چي ليده مي پر حالت د پښېمانۍ و
زړه كباب، د اوښو مالگه، د عشق اور مي(4)      دا اسباب د يار د خيال د مهمانۍ و
په تش خيال(5) د مهمانۍ مي واړه صرف كړه      چي په ستركو كي مي دُر(6) د گريانۍ و
كه هر څو ميخانې غواړم نه يې مومم      هغه مې چي په پياله كي د ځوانۍ و
په يوه ديد آئينې را څخه پور كړه      دا كُلي دولت چي زما د حيرانۍ و

۲۳۰      چي يې زلفي په رخسار باندي خورې كړې(7)
دا سبب "حنانه" زما(8) د پرېشانۍ و      ۱۷۲۷

چي د خط سبزې يې ځاى په رخسار ونيو      زما د زړه آئينې ځكه زنگار ونيو(9)
باز د ستركو په پنجه د باڼوگانو      زما د زړه مرغه څه شان په تلوار ونيو
زه بندي يم د هغه صياد په دام كي      چي يې يو جهان د زلفو په تار ونيو
دا يې خال نه دي د حُسن په گلشن كي      تور بورا مكان د گل پر عُذار ونيو

---

(۱) ب: احوال نيسي. (2) دغه ځاى له "ب" څخه واخيستل سو. (3) دا غزله په چاپي دېوان كي نسته. (4) چاپي دېوان: "زړه كباب او تروې اوښي، آه وړمې". (5) چاپي دېوان: تش په خيال. (6) چاپي دېوان: درد ؟. (7) چاپي دېوان: خورې وې.
(8) چاپي دېوان: ستا د پرېشانۍ و. (9) دا غزله په چاپي دېوان كي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړاوو سترګو يې زړه يوړ حيرانېږم    چي دا هسي وحشي ښکار دې بېمار ونيو
دا يې سترګو زما زړه هسي تاراج کړ    که په ظلم سره ترکو بازار ونيو
۲۳۱ پاد شاهان که په زور نيسي اقليمونه
د پښتو اقليم "حنان" په ګفتار ونيو ۱۷۳۴

بيا مي خيال په زړه کي ځای د دلبر ونيو    دې صياد له زخمي ښکاره خبر ونيو(1)
خميازه مي د زړه زخم په دا کاږي    که مي يو وار د تېغ دم لا په پر ونيو
د عشق اور شي پر زړه بل هډونه سوځي    دغه اور د دې ځنګله خشک و تر ونيو
دا يې خط نه دئ د خولې پرکنار باندي    د کوثر د چينې دور عنبر ونيو
انتظار که، ستا د قد و ښه رفتار ته    چي سر پورته تر ګلشن صنوبر و نيو
خط يې نه دئ پر عذار چي معلومېږي    د آه دود مي دئ چي مخ يې د لمر و نيو
۲۳۲ رستم تاب د عشق د جنګ و ځان ته نه ليد
"حنان" ستا د عشق و تېغ ته ځګر و نيو ۱۷۴۱

دا ډېر عمر زه او غم سره اخته يو    يو د بل په خوی و بوی سره سوخته يو
نه د ده بې ما طاقت نه زما بې ده شته    په هر فصل لکه سروه و فاخته يو
هيڅ په ميان که حائله زموږه نشته(2)    لکه مخ و استر دواړه ښه(3) دوخته يو
په هر کونج کي چي زه ناست يم دی را درومي    په خواري کي يو د بل هسي شناخته يو
دی زما په فکر ډوب او زه د ده يم    ځوړند سر پر زنګانه دواړه تخته يو
يو ساعت جدايي نه کړو يو له بله    يو د بل په رفاقت سره پخته يو
۲۳۳ که زه نه وم دی به ژاړي زما پر قبر
زه "حنان" او غم د ډېر عمر شناخته يو(4) ۱۷۴۸

چه سان دلرا نگهدارم زچشم فتنه جوی او    که ميگيرد به مژگان صيد دلها باز خوی او(5)
اگر طبعش ز استغنا نميسازد به من باری    تسلی ميدهم دلرا به ياد آرزوی او
خيال زلف او گر لحظۀ گردد فراموشم    رخم را زين گناه بادا سيه مانند موی او
چو برگيرم قلم از گريه ام تر ميشود نامه    ز دستم برنمی آيد که بفرستم بسوی او
ز خوشحالی و خُرسندی بسر رقصم همان ساعت    اگر يا بم من بيدل نشان راه کوی او
ز رخسارش کشد خط انتقام ما درين عالم    نمی ماند به محشر شکوه ام از تاب روی او
۲۳۴ زبان خامه "حنان" اگر ريزد شکر شايد
که عمر خويش را کرده است صرف گفتگوی او ۱۷۵۵

---

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) چاپي دېوان: "هيڅ په ميان کي زموږ نشته که باور کړې". (3) په اصل کي "ښه" نسته. (4) چاپي دېوان: "اې حنانه په ځان دواړه آوېخته يو". (5) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (هـ)

اې همېش د درمانده وو تکیه ګاه(1) ستا کرم د هر عاصي دئ عذر خواه
که راتېر تر تقصیراتو شي ښایېږي پر ګدای تل مرحمت کوي پاد شاه
آواره مي له دا(2) نفس اماره کړې په بد خوی سره مي کړ عمر تباه
د دنیا د هستۍ ګرز را څخه توی کړه لکه تېر چي له عینکو شي نګاه
له خجلته بې(3) را نه وړم و محشر ته په قدر د بخښښ نه لرم ګناه
هلته عفوه راته وکړې ذوالجلاله چي اعضا مي شي پر خپل عمل ګواه

۲۳۵ د حبیب په روی غفاره ما قبول کړې ۱۷۲۲
بې له تا زما "حنان" نشته پناه

و رخسار ته چي دي ګورم بې حجابه لکه موم و لمر ته ویلي شم له تابه(4)
کله ګورم ستا و مخ ته کله ګل ته لکه ګوري مقابل څوک دوه کتابه
اوښي وچي له بانو شي چي تا وینم د شبنم پاڅېده کېږي له آفتابه
عجب نه ده که دي زلفي پر مخ تاب شوي پېچه کېږي(5) تل و ښېته د اور له تابه
د هر چا نصیب جدا دئ، دا محال دئ چي د شرمښ قسمت ورشي تر قصابه
نصیحت څه اثر وکه پر غافلو په آواز کله ویښېږي پښ له خوابه

۲۳۶ د حنان تر قلم وڅڅېږي شهد ۱۷۲۹
چي صفت کاږي دا ستا د خولې له بابه

چي رخسار یې په ښایست دئ تر آفتاب بِه په صفا یې سپین جبین دئ تر مهتاب بِه(6)
پر نرګس باندي یې سترګي خندا کاندي او عُذار یې تر لاله و تر ګلاب بِه
په دادن کي د بوسې نن و سبا کړې تر دا هسي انتظار دئ یو جواب بِه
زما د زړه په غوښو سترګي اموخته کړه چي مستانو لره نشته تر کباب بِه
دا نازکي پښي ایږده زما په لېمو کي دغه پښو لره زما سترګي تر رکاب بِه
د بوسې په داد کي هېڅ معطلي مه کړه وي د خیر په کار کي سل ځله شتاب بِه

۲۳۷ شوخ چشمان چي وحشت و نه خوري بېرېږم ۱۷۷۲
دي تر سپین وښېته "حنان" لره خضاب بِه

که روزي مي شي د یار دیدن رقیبه ته به شي له دې(7) اندوه غمجن رقیبه
راته رام که تر هېدلئ آهو بیا شي ته به شي د سپي په دود پمن رقیبه

---

(۱) چاپي دیوان: "اې چي بې د درمانده وو تکیه ګاه". (2) چاپي دیوان: له دې. (3) بې = به یې. (4) دا غزله په چاپي دیوان کي د "ب" د ردیف دوهمه غزله ده. ماد "هـ" په ردیف کي غوره و ګڼله چي درج سي. (5) چاپي دیوان: پلچه کېږي؟. (6) دا غزله په چاپي دیوان کي نسته.
(7) چاپي دیوان: په دا اندوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که راواړوې په مهر توري سترګي　　ته به شې په دوو لېمو لچن رقیبه
که ما و وینې له یاره سره وصل　　زړه نا سور به شې بېمار په تن رقیبه
که یار داد د بوسې و کاندي و ماته[1]　　له دغه غمه دي دئ مردن رقیبه
که یار، یار شي ته به درومې له وطنه　　لکه سپی چې و شړي ځښتن رقیبه

۲۳۸　　نور به نه وکړې[2] د یار د رخسار سیل　　۱۷۸۳
شو "حنان" باغوان د دې ګلشن رقیبه

زما زړه دي له ما یووړ د لفریبه[3]　　ګلرخساره بې طلبه بې موجیبه[4]
ستا د سترګو و شوخۍ ته حیرانېږم　　چې د آب د ستاریې واخیست له غریبه
ته په اصل کښي خدای نېک وې پیدا کړئ　　دا بدخوی دي نوی زده کړ له رقیبه
مؤدب چې د چا بد شي پناه غواړه　　دا مثل، ادب زده کېږي له ادیبه
د هر درد علاج کاوه شي بې له میني　　د عشق درد چې مستغني دئ له طبیبه
هرزه ګوی عاشق پرده د معشوق اخلي　　شو پاره د ګل ګرېوان له عندلیبه

۲۳۹　　ستا د حُسن په دولت کښي خپلي بخري　　۱۷۹۰
هر چا وکړې "حنان" راغئ بې نصیبه

دا د چا زلفي تاوېږي په دا نن شپه　　چې تمام مشک و عنبر او رېږي نن شپه
آرزو منده د کوم مخ ده[5] نه پوهېږم　　دا چې شمع په تلوار ویلېږي نن شپه
د سپوږمۍ په سیل څوک دئ راوتلئ　　چې مهتاب لکه آفتاب ځلېږي نن شپه
کوم صنم د مجلس شمع شوه حیران یم　　پروانه چې په سره اور کړېږي نن شپه
صراحي د کوم ګلرخ له غمه شنه شوه　　چې د زړه وینې[6] تر خوله تویېږي نن شپه
توري زلفي د دلبر په رخسار زانګي　　که ماران دي پر چندڼ تاوېږي نن شپه[7]
په تاراج د ګلو کوم ګلرخ را درومي　　په ګلشن کي چې بلبل ویېږي نن شپه[8]

۲۴۰　　دا د یار د راتلو زېری دئ[9] پوهېږم　　۱۷۹۸
دا چې سترګي د "حنان" پرېږي نن شپه

که د زلفو بوی دي باد یوسي خُطاته　　د خُتن مشک په بیانه وړي و سودا ته
د دیدن طاقت یې نه لرم حیران یم　　زړه مي ولي ډېر شتاب که[10] ستا و خوا ته
ستا لبان مي په خندا وژني دلبره　　بخت مي خوی د اجل وښوو مسیحا ته
چې بانومات شي په سترګو کي دید کم که[11]　　د ملا خیال دي ځکه جوړ کړم و ژړا ته

---

(١) چاپي دېوان: د بوسې وکه پر ما باندي. (2) چاپي دېوان: نور به و نه کړي. (3) د "ب" په ردیف کي راغلې ده ما په اوسنۍ املاء وکښله (م. هـ). (4) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (5) چاپي دېوان: د کوم مخ دئ.
(6) وینې=ویني یې. (7) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (8) دا بیت بیا په اصل کي نسته. (9) چاپي دېوان: زېری کړي. (10) چاپي دېوان: اضطراب که. (11) چاپي دېوان: "چې موی و لوېږي په سترګو کښي دید کم شي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپلنی رنګه تر پښو لاندي مي اور دئ ستا د خال په خیال کي و سوم(1) وایم چاته
توکلت علی الله چي شوه را پېښه سر مي واچاوه د میني و آسیا ته

۲۴۱ چي دي خوښ د عشق غمونه کړه "حنانه" ۱۸۰۵
دانسته دي ځان ور وسپاره بلا ته

دا د خط سبزه د مخ و سره ګلاب ته که مېړیان دي سر ګردان دي و مهتاب ته(2)
خط يې زړه د راتلو نه شي کړای و مخ ته لکه ګرم سړی چي بیا يې و حساب ته
چي له مخه زلفي واخلي عاشق سوځي طاقت نه شي د اوریځي و آفتاب ته
د بالښت پر يې بانو د پري بویه چي د ناز سترګي مائلي شي و خواب ته
خیال د لبو يې زما له دله نه ځي د میخورو میل زیات شي(3) و شراب ته
نوی خط دئ، زلفي هسي دي حیراني لکه ګوري په حسرت شیخ و شاب ته(4)

۲۴۲ لاس و پښي وهي بېځا "حنان" په عشق کي ۱۸۱۲
ختای نه شي ځوک چي ولوېږي ګرداب ته

د نو خطو میني هسي کړم بې پته چي وهي مي هرمېږی و مچ په لته
نه د خپلو اوس په کار نه د پردو یم میني کړم تر هسي حده بې عزته(5)
ستا و حُسن ته سوړ آه د رقیب زیان دئ پاني رېږدي(6) د ساړه باد له هیبته
چي مي واخیست د ګلرخو داغ پوهېږم(7) چي لاله به مي زرغون شي له تربته
د هجران په درد(8) اخته یم دوا راکړه روغ به نه شم ستا د وصل(9) بې شربته
آدمیت مي ستا د در له سپیو ولید ازمویه(10) نه شي څو نه وي هم صحبته

۲۴۳ چي مي ژوند په دوی موقوف دئ څه پرهېز کړم ۱۸۱۹
زه "حنان" د خوبرویانو له قربته

چا چي ورکړ زړه د زلفو و هر بار ته(11) بې اختیاره يې ځان وسپاره و مار ته
د یار زلفي د هغو دي چي مجنون شي دا ځنځیر نه اچوي(12) ځوک و هوښیار ته
مخ و زلفي يې تغیر و تبدیل نه کړه(13) حیرانېږم زه و دي لیل و نهار ته
لاس مي رنګ شي لکه ګل پخپلو وینو اشارت که چیرته(14) و کړم و رخسار ته

(۱) چاپي دیوان: سوځم. (2) چاپي دیوان: و دې مهتاب ته. (3) چاپي دیوان: ډېر شي. (4) دا بیت په چاپي دیوان کي نسته. (5) چاپي دیوان: "عاشقۍ کړمه تر حده بې عزته". (6) چاپي دیوان: ګل رژېږي. (7) چاپي دیوان: "د ګلرخو داغ مي شته په زړه پوهېږم". (8) چاپي دیوان: په رنځ. (9) چاپي دیوان: ستا د لبو. (10) چاپي دیوان: ازمویل. (11) چاپي دیوان: و دلدار ته. (12) چاپي دیوان: نه ورکوي. (13) چاپي دیوان: نه کا. (14) چاپي دیوان: چي چیرته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي نسیم یې پر ګلشن د حُسن ورشي      زړه یې نه شي چي بیا ولاړ شي و دیار ته
تېر شو سل ځله[1] صیاد له ما ضعیفه      التفات یې لړو نه کړ[2] زما وښکار ته

۲۴۴      ما "حنان" جاري له سترګو کړه رو دونه[3]      ۱۸۲۲
ګوندي راشي سرو قد و دا جويبار ته

چي نامه مي وه لېږلې وخپل یار ته      هیڅ جواب یې بیا رانغئ و ما خوار ته
زړه مي رم که[4] له سینې په خبر نه یم      مګر باز د سترګو بیا وزي و ښکار ته[5]
په فراق کي اوښي هم را ځخه ځغلي      که څه خپل وي که پردی ګوري و وار ته
تر ما ، دی پر یار عاشق و خبر نه وم      د زړه حال مي خوشي و وایه رویبار ته
خدای مي نه په ګور کوي، ګنه ستا سترګي[6]      هر بانو دي تېره تېغ دئ و ګُزار ته
چي نامه د شوق یې زه و قاصد ورکړم[7]      سودا یې شي هرګز نه ګوري و لار ته

۲۴۵      د مخ حُسن یې په خط زیات شو "حنانه"      ۱۸۳۳
شعله کاندي هر چي خس لو ېږي[8] و نار ته

چي یې وکاته ستا مخ ته له عبر ته[9]      د لاله په زړه کي داغ شوله غیرته[10]
چي نرګس دا ستاله سترګو هم چشمي کړه      ولي هسي شو محروم له[11] بصیرته
چي یې ستا د خولي خندا ملاحظه کړه      پستې وازه خوله نیولې له حیرته
بوی چي لافي ستا د زلفو د بوی کړلې      لاس یې ولي و خاته له خپل صورته
دا د کوم ګلرخ و مخ ته بېتابي که[12]      چي ګلاب ګرېوان کړ څیري له حسرته
مشرفه ستا په دید شوه په چمن کي[13]      غونچې واچاوه پوړني له عشرته

۲۴۶      د وفا طمع له ښکلیو ناروا ده      ۱۸۴۰
ما "حنان" دي ازمويلي څو کرته

خوله دي خاندي پر غونچه او پر پسته      له رخساره دي شرمېږي ګلد سته[14]
چي یې ستا ملال کاته ملاحظه کړه      له خجلته نرګس سترګه و ایسته
چي ریحان سیالي کوله ستا له خطه      دا په دې دستي یې وینم پای بسته
ستا دزلفو له پرتوه سنبل هسي      چي ولاړ دئ همېشه پرېشان خسته

---

(۱) چاپي دېوان: زرځله.(2) چاپي دېوان: التفات یې یو وار نه کړ. (3) چاپي دېوان: "ما حنان کړې زرچشمې جاري له سترګو ".(4) چاپي دېوان: زړه مي دم خوري. (5) چاپي دېوان: "دا د سترګو باز یې بیا راځي و ښکار ته ".
(6) چاپي دېوان: ګنه دلبره. (7) چاپي دېوان: "چي د عشق نامه یې زه قاصد ته ورکړم ".(8) چاپي دېوان: وانبه لو ېږي. (9) اصل: له غیرته.
(10) اصل: له عبرته. (11) چاپي دېوان: معلوم. (12) چاپي دېوان: کا. (13) چاپي دېوان: "مشرف ستا په دیدن شوه په ګلشن کښي ".(14) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قُمري ستا د بندګۍ طوق کړ په غاړه　　قد یې سروه کړه په باغ کښې آراسته
و رفتار ته دي خجل کبک زري دئ　　له رخساره دي ګلاب که اخیسته

۲۴۷ دا ستا خیال له ما "حنانه" ارام یوړ　　۱۸۴۷
که روان یم که ولاړ که نشسته

که بیده یم، که ولاړ که نشسته　　له زړه نه ځي ستا د زلفو ګلدسته
چي تشبیه مي ستا د قد کاوه له سروي　　سزا وار یم چي مي دا تر خوله یسته
تنګه خوله دي په رموز لن تَرَا وایي　　مایي مثل غونچه ولي راوسته
چي یې ستا له خولې سیالي کړه ځکه هسي(۱)　　له غیرته پر میان و چاوده پسته
لا بې کله د وصال په ښادۍ ښاد کړې　　عاشقان دي کړه په هجر خوار خسته(۲)
همېشه چي درکوي تعلیم د جور　　دا په دا مي کړه رقیب اینه ورسته(۳)

۲۴۸ "حنان" کله سرپېچه دا ستا له حکمه　　۱۸۵۴
په ځنځیر چي دي د زلفو کړ بسته

که له زړ سره مي ستا(۴) د سترګو جنګ شته　　له دې جنګه زما کله نام و ننګ شته
لکه ګل هر څوک به ځای په سرکي ورکه　　د غونچې په دود چي زړه و خوله یو رنګ شته
بې لاله مي بل یار نشته په دا باغ کي　　چي پر زړه باندي یې داغ زما په رنګ شته
بې طبیبه یم بېمار لکه ستا سترګي　　چي کاته راباندي بار لکه د سنګ شته(۵)
دا ستا شوق امیدوار کړی یم چي هسي(۶)　　بې وعدې مي انتظار، پر هر ځای درنګ شته(۷)
یار ساقي، پیاله پر لاس، مطرب حاضر دئ　　هسي شان کامراني کله د اورنګ شته(۸)
له رخساره یم فارغ د ګلعُذارو　　چي په خیال مي ستا د خط د سبزې بنګ شته(۹)

۲۴۹ په دربار کي دي خاکسار یو "حنان" نه دئ　　۱۸۲۲
پر دوحه ستا ګوره هر سړی ملنګ شته(۱۰)

د فلک که سود(11) په ماه و په پروین شته　　په رخسار یې زما د یار زلفي چین چین شته
ستا له زلفو، سترګو کله برابر دي　　په ګلشن کي که نرګس و یاسمین شته(12)
که غونچه سبزه لري پر بغل څه شو　　ستا پر خوله سبزه د خط عنبرین شته

---

(۱) چاپي دېوان: "چي د خولې سیالي ګوېږ وه دا هسي". (۲) چاپي دېوان: "عاشقان دي په هجران کړه خوار خسته". (۳) چاپي دېوان: دا په دا رقیب کړه زما ینه ورسته". (۴) چاپي دېوان: زما له زړه سره که ستا. (۵) چاپي دېوان: راباندي یار لکه د ننګ شته. (۶) چاپي دېوان: کړئ یم دلبره (۷) چاپي دېوان: "بې وعدې کړم انتظار هر ځای مي درنګ شته". (۸) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (۹) دا بیت په اصل کي نسته. (۱۰) اصل:

دا اثر دئ د سبزې د خط "حنانه"　　چي په سرکي دي تر او سه خیال د بنګ شته

(۱۱) چاپي دېوان: د فلک سود. (۱۲) په چاپي دېوان کي دا بیت نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکـه خونـد چـي سـتا د زنـي دئ دلبـره ــــ سمرقند کي کله سېب هسي(1) شېرين شته
پـه ګلشـن کـي ګـل تـر تـا خوشـاله نشـته ــــ نـه پـه مينـه کـي بلبـل تـر مـا حـزين شـته
يـار بي رحمـه، زه بي بختـه، طالع شـوم دئ ــــ لا هنــوز د کــج فلــک را ســره کــين شــته

۲۵۰ ــــ د مـلا خيـال دي زه "حنـان" لکـه وبنـسته کـړم ــــ ۱۸۲۹
نـه غلـط شـوم کلـه مـوی هسـي ميـين شـته

نـه پـو هېږم يـم بېخـوده چـي يـار نشـته ــــ ځوک يم، څه يم، زه حيران چي نګار نشته(2)
اوښـکي دُر، رنـګ کهربـا، زړه لکـه لعـل ــــ جنس مـي ډېـر، ولـي رونـق د بـازار نشـته
چي طبيب شـو پـه عـلاج را پـوري سـتړی ــــ هسـي درد پـه هـيڅ ايـام د بيمـار نشـته
وارِه زړونـه يـي پـه خيـال دي هسـي محـوه ــــ چي پـر سـر د مځکـي يـو زړه هوښيار نشته
جـدايي مـو تـر ميـان مـه کـوه رقيبـه ــــ چـي طاقـت د نـه ليـدو د دلـدار نشـته
کـه مي سروه دعـوې کاندي پـه قد څه شو ــــ رښـتيا وايـي شـاهدان د رفتـار نشـته

۲۵۱ ــــ د زړه وينـي خـوري "حنـان" لـه دغـه غمـه ــــ ۱۸۷۲
چي پـه درست عـالم کـي يـار و فـادار نشـته

دا ښايسـت لکـه چي سـتا دئ د لمـر نشـته ــــ سـتا د زلفـو پـه شـان مشـک و عنبـر نشـته
توري زلفي، توري وروځي، توري سترګي ــــ د حبشـــو، د چـــين هســـي لښــکر نشــته
شـــيريني چـــي ســـتا د لبـــو ده دلبـــره ــــ پــه چشــمه کــي د زمـزم(3) د کـوثر نشـته
کـام د زړه دلتــه حاصـل کـه لـه نوخطـو ــــ پــه جنــت کــي د ريحــان معطــر نشــته
لار به نه وکړي پـه زړه کـي(4) څـو سـم نـه شـي ــــ د حلقـــي مقـــام د ننـــه تـــر در نشـــته
پـه مجلـس کـي د ګلرخـو نـه ځـايېږي(5) ــــ چي يـې شـمع غونـدي(6) قطـع د سـر نشـته

۲۵۲ ــــ چي تـور د بـو رقيـب يـې رام نـه کـړ(7) پـوهېږم ــــ ۱۸۸۳
چـــي پـــه آه کـــي دي "حنانـــه" اثـــر نشـــته

ستا په طفيل کي مي دښمن کړ کل جهان و ځـان تـه ــــ له تامي نه کړ مراد حاصل هيڅ ماحيران و ځان ته(8)
دا سـتا د زلفـو لـه ځنځيـره څخـه نـه خلاصـېږم ــــ کـه وايـم ورد و اورادونـه هـر زمـان و ځـان تـه
ځوک چي دا ستا د زلفو خيال په زړه کي نقش کاندي ــــ حوالـه کـړي يـې پـه لاس دي ښـاماران و ځـان تـه
کـه مي سـينه شـوه مشـبکه، بـادام رنګـه څـه شـو ــــ چي مي را پربښو دغه ستا د خيال مژګان و ځان ته
فـارغ لـه ګلـو لـه ګلـزاره لـه چمـن هـردم يـم ــــ چي خيال د وصل دي کړم جوړ زه ګلستان و ځان ته
چي ستا و عشق ته وراندي کېږي په اولـه ورځ دي ــــ هغه کسان په اختيار جوړ کړي ګورستان و ځان ته

۲۵۳ ــــ کـه دا د کـوي د بوسـې و يـې کـړه نـن ورځ دلبـره ــــ ۱۸۹۰
د ژونـد اميـد نشـته هرګـز د دې "حنـان" و ځـان تـه

---

(۱) چاپي دېوان: سمر قند کښي هسي سېب کله. (2) دا غزله په اصل او "ب" کي نسته. (3) چاپي دېوان: د حيات.
(4) چاپي دېوان: لار به نه مومي و زړه ته. (5) چاپي دېوان: "په مجلس د ګلرخانو ځای نه مومي". (6) چاپي دېوان: څو يې شمع رنګه. (7) چاپي دېوان: چي تور د بو رقيب پناه نه شو. (8) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خجالت کاږي مهتاب ستا و جبین ته — منفعل د محشر لمر دئ ستا و زین ته(1)
له هغه رنځه دي جوړ نه شم طبیبه — چي تر سر پوري مي یار ناست وي بالین ته
زما یار له نادانیه(2) رقیب خپل کړ — د بلبلو خیال یې وکړ و ګلچین ته
له معشوقه غرض مِهر دلبري ده — عشق یې نه ګوري هرګز و تور و سپین ته
کوږ سړی په تربیت کله سمېږي — له عینکو څه فایده ده و کجبین ته
له دیدنه د ګلرخو امان غواړه — په کتو دي خلل اچوي و دین ته(3)

۲۵۴ — ورکېده د "حنان" وینم له وطنه — ۱۸۹۷
چي اشنا یې(4) ملا ترلې ده وکین ته

چي دي خیال اراده وکړه زما و زړه ته — نور خواهش مي د زړه نه شي و بل څه ته
ستا بې خیاله مي په زړه کي بل څه نشته — لکه تږی منتظر وي و اوبه ته
توري زلفي دي شب قدر نه دي څه دي — چي د لمر شغلي کوي له هره وته
نه درېږي په هیڅ طور زما اوښي — که لاس نیسم که لستوني و لېمه ته
هیخ د عشق له بابه مه وایه زاهده — نصیحت کله وایه شي و بیده ته(5)
سوړ زړه نه غواړي صحبت د ګلرخانو — سپین و تور به څه ورو ښیې ړانده ته(6)

۲۵۵ — چي یې فضل منتظر دئ و عصیان ته — ۱۹۰۴
اې "حنانه" بې ګناه مه ځه و ده ته(7)

تمام عمر شوې پسې په دغه ګټه — چي د بل برخه وړه کړې خپله غټه(8)
ازار ورسوې بل ته خبر نه یې — د خبري سوخت بتر وي تر سکروټه
بې بها عمر دي واړه په خوب تېر کړ — لا ترخو به دغه حظ اخلې له کټه
له سپین ږیرو زده کوه روښاني لاري — په خزان کښي اوبه پاکي شي له مټه
شیرین عمر دي په دغه فکر تلف کړ — چي حلال مي کړای فلانا سړی له ثټه
تمام عمر د دنیا په بده و رځ یې — یو ساعت دي د خدای کار و نه کړ لټه

۲۵۶ — دا عیبونه چي کل وایې دي په تا کښي — ۱۹۱۱
اې "حنانه" خپله خوله و نسه پټه

---

(۱) چاپي دېوان: "منفعل د محشر غر دئ ستا و دین ته". (2) چاپي دېوان: له نادانۍ نه. (3) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (4) چاپي دېوان: چي خپل یار یې. (5) چاپي دېوان: "سپین رنګ کله ښووه کېږي و ړانده ته". (6) چاپي دېوان: "نصیحت کله وایه شي و بیده ته".
(7) په چاپي دېوان کي یې مقطع دا سي ده:

و شعله ته د رخسار دي زه "حنان" یم — منتظر لکه پتنګ د ځان و سوه ته

(8) دا غزل په "ب" او نورو چاپي دېوانو کي نسته.

بېرته شوم د یار له وصله سل فرسخه — لا هنوز ده د رقیب را باندي سخه
د معشوق حقیقي وصلت[1] جنت دئ — د هجران اورې[2] تېری که له دوزخه
که خپل عمر تمام ور کړم باندي ښایي[3] — پر بوسه د خو برویانو[4] له زنخه
روح او زړه زما قبول په یوه دید کړه[5] — د مبړي کمه[6] هستي ده بې ملخه
دا بورا دئ چي پر پاڼي د ګل ناست دئ — که پر مخ د ګلرخسار ده توره زخه
د رقیب آه ستا رخسار لره آفت دئ[7] — چي د لمر چشمه یخېږي له دې یخه

۲۵۷ — د نظر حجاب تور خط شو نه پوهېږم / که بلا راغله "حنانه" ستا له مخه — ۱۹۱۸

کاږم سل محنته د جهان بې ستا له مخه — اوري مي له سترګو تل باران بې ستا له مخه[8]
نه یم فارغ شوئ ستا له ذکر و فکره یاره — نه راځي پر شونډو هیڅ بیان بې ستا له مخه
نه کړم تماشې د ګل چي ته را سره نه یې — دئ را ته ګلشن لکه زندان بې ستا له مخه
سترګي مي ګنډلي دي دا ستا په رخسار باندي — نه مي شته د سترګو بل مکان بې ستا له مخه
څه جستجوی وکړم ستا له غمه و تای نه شم — یم پر سمه لار سترې ستومان بې ستا له مخه

۲۵۸ — څه ښادي به کاندي چي له وصله دي محروم شي / نشته ښادي نشته د "حنان" بې ستا له مخه — ۱۹۲۴

غونچه هم له خوندلانو څخه ستا ده — چي په فکر دي د خولې ډوبه تنها ده
د باغ سترګي چي روښانه ستا په دید شوې — په دغه زېړي یې سر وه کړه آزاده
شکوه مه کوه د یار له شوخو سترګو — رحم عیب دئ چي وشي[9] له جلاده
لکه دام هر چي پیدا کړم بل یې یوسي — پر هر ځای کم طالعي په بخره زما ده[10]
که مي زړه په اور د هجر سوځي ښایي[11] — چي پر تا مین کېدم دا مي سزاده
و منزل ته دي[12] د وصل نه رسېږم — د جرس په دود مي کار دئ له فریاده[13]
په افسون به مي زړه څوله یاره پرې کړې — سپلني ته د اور ډېره تمنا ده[14]

۲۵۹ — که "حنان" له جوره ژاړي عیب نه دئ[15] / د کمزوري د زړه سوده په ژړا ده — ۱۹۳۲

---

(۱) چاپي دیوان: وصل. (2) اورې = اور یې. (3) چاپي دیوان: "که تمام عمر قیمت ور کړم ښایېږي". (4) چاپي دیوان: پر بوسه د ساده لوحو. (5) چاپي دیوان: "دواړه کونه په نثار له ما قبول کړه". (6) کمه = کومه. (7) چاپي دیوان: "د رقیب سوړ آه آفت دا ستا د مخ ده". (8) دا غزله په "ب" او چاپي دیوانو کي نسته. (9) چاپي دیوان: رحم عیب دئ دا چي کېږي. (10) دا بیت په چاپي دیوان کي نسته. (11) چاپي دیوان: "که مي زړه په اور سیځي عجبه نه ده". (12) چاپي دیوان: و منزل ته یې. (13) چاپي دیوان: "د چرسي په دود مي زیست دئ له فریاده". (14) دا بیت په اصل کي نسته. (15) چاپي دیوان: عیب یې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د سترګو و خمار ته فتنه شه ده     و خنجر ته د غمزې دي سینه شه ده(1)
لب یاقوت دي د زړه قوت، غاښ مرغلري     ستا و مخ ته د سکندر خزینه شه ده
که د غاښو منفعل دُر یتیم کړه     ستا د لبو و حیات ته چینه شه ده
زاهد مه پوښته د عشق له شرو شوره     په لوی جنګ کي دا بې زړه ارتینه شه ده
څه تعریف کوې د میو و زاهد ته     و ړانده ته د بلور آئینه شه ده
زړه چي مات شي په خبرو نه رغېږي     دا په دا چي و ښیښې ته پینه شه ده

۲۲۰     ستا په تش ماني کي دئ قتل "حنان"
نور یې مرګ ته ستا په زړه کي کینه شه ده     ۱۹۳۹

د یاری یې هسې ګرانه ما شوره ده     چي د عقل په لاس نه راځي کوره ده
د مجاز سمند یې ژر میدان ته رسي     چي خوړلي یې د صبر کروړه ده
د خپل یار هجر(2) خوړلئ هسې شان یم     چي تر اوسه مې پر زړه باندي موره ده
ظلم کړه پر ما په خوښ یم، نه پر نورو     ستا جفا زما خواري سره جوړه ده
له هیبته ور ته هیڅ ویلای نه شم     ګڼه کله زما ژبه ګانګوړه ده
زما له مخه و رقیب ته قهر کاندي     په دا څه شو، پوهېدلئ یم دوړه ده

۲۲۱     دا جواب د علیخان د غزل و شو(3)
د "حنان" زیار حبطه، تشه لوړه ده     ۱۹۴۲

چي غونچه وي(4) غوړېدلي هومره ښه ده     یار تر خوله خبر یستلي هومره ښه ده
معامله د عشق سړی له پردې باسي     چي په زړه کي وي(5) ساتلي هومره ښه ده
د مخ حُسن دې د خط په راتلو زیات شو     صحیفه چي وي لیکلي هومره ښه ده
توري زلفي سراسر مضمون د کفر     دا نامه چي وي پېچلي هومره ښه ده
سترګي مه بیداروئ د ناز له خوبه     دا فتنه چي وي ځملي(6) هومره ښه ده
سبب د زني یې خط لاندي کړ د بر ښه شو(7)     دا مېوه چي وي پوښلي هومره ښه ده

۲۲۲     په تعریف د خپل اشنای د حُسن هسي(8)
دا انشاء "حنان" ویلي هومره ښه ده     ۱۹۵۳

چي اغوستې یې بیا هسې سره جامه ده     په نظر(9) د سوختن کومه قومه ده
د کړو کتو طاقت یې د چا نه و     اوس ابرو، مژګان و زلفې(10) عمامه ده
هیڅ جواب یې بیا قاصد بیرته را نه وړ     چي لېږلي مي و یار و ته نامه ده

---

(۱) دا غزله په اصل او "ب" کي نسته. (2) چاپي دیوان: دا شنای هجر. (3) چاپي دیوان: اصل: "دیاری زراعت هیڅ حاصل را نه کړ". متن له بلي نسخې او "ب" "څخه سم سو. (4) چاپي دیوان: چي غونچه شي (5) چاپي دیوان: کي دي. (6) چاپي دیوان: چي وي نیولې. (7) چاپي دیوان: "سبب د زنې کې د خط پاني کړه لاندي". (8) چاپي دیوان:
"په تعریف کي د خپل یار د وصفه هسي". (9) چاپي دیوان: په نظر کنبي. (10) زلفې = زلفي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه ورځې ژوند د هر چا غنیمت دئ(1) لـه هجرانـه پـر مـا یـوم القیامـه ده
پـر رقیـب دي کـړه پېـرزو د لبـو شـهد او تمـام عمـر(2) زمـا ځنـي صـومه ده
د فردوس د شهدو هیڅ پروا دار نه یم(3) چي مي طمع(4) ستا د لب بوسه طعمه ده

۲۲۳ چـي یـې مـلا ټینګـه ترلـې ده "حنانـه" ۱۹۶۰
پـه تعریـف د سـرو قـدو ستا خامـه ده(5)

د ریـا پـه زهـد غـره مـه شـه زاهـده دئ د غـاړي طـوق دا زهـد مقلـده(6)
حرمـوني اولاد کلـه پـه ښـه کېـږي د ریـا عبـادت هسـي دئ عابـده
تا په زړه کښي سل خدایان دي کښېنولي سجده کاندې و کوم خدای و تـه ساجده
پـه ظـاهره د تقـوی خرقـه اغوستې پـه بـاطن کښـي تمـام ډک د مکائـده
مدام جوز لا یجوز وایې عمل نه کړې تمـام عمـر لـه رندانو سـره ضـده
چي و ما تـه دا غلمان د جنت ستا یې درپـو هېږم ګـرزوې مـي لـه شـاهده

۲۲۴ چي درځي پـه خولـه "حنانـه" رښتیا وایـه ۱۹۶۷
د فـردا اند ېښـنه مـه کـړه لـه حاسـده

اشـنایې د دې دنیـا څـه پـه کـار نـه ده روښنایي د دې برېښنا څه پـه کـار نـه ده(7)
چي نې خوري(8)، نه یې نوم ښه، نه د خدای پاروي دغـه هسـي استغنا څـه پـه کـار نـه ده
مـچ پـه سترګو ننوزي چي مـخ ورکړې لـه بـې عقلـه مـدارا څـه پـه کـار نـه ده
چـي یـوه نېکـي کـوي او سـل منتـه و خسـیس تـه التجـاه څـه پـه کـار نـه ده
خپـل ذاتـي جـوهر سـړي لـره پـه کـار دئ نـوم مړانـه د آبـا څـه پـه کـار نـه ده
چـي دي حـق د خـدمت نـه پېژنـي ګـوره و هغـو تـه خمـه مـلا څـه پـه کـار نـه ده

۲۲۵ د سـپي داړه پـه سـپي منعـه ده "حنانـه" ۱۹۷۴
لـه جاهلـه ستا دعـوا څـه پـه کـار نـه ده

ستا لـه میني(9) مـي سینه کلـه خـالي ده چـي دا هسـي را پېـرزو دي ګوشـمالي ده
دا غفلـت نیـولئ زړه بـه رېـز مرېـز کـړم ماتېـده د زنـګ وهلـي قلـف کلـي ده
پـه رخسـار کـه دي لالـه دعـوه کـه څـه شـو تـل نصـیب د صـحرا شـینو(10) جـاهلي ده
زما د زړه له وینو ستا شونډو رنګ واخیست چي مریـد د ځـان پـه رنـګ کـه کـاملي ده
د درد ږغ مـي سـتا تـر غـوږه نـه رسـېږي د تـور بخـت مـي ثمـره دا کـاهلي ده
ستا خدنګ مي پر زړه هسي په ذوق ناست دئ چـي پـر تـن بېـرون حرامـه خوشـالي ده

۲۲۶ هـره چـار لـه خپلـه وختـه سـره زېـب کـه ۱۹۸۱
"حنـان" لاس لـه مینـي(11) واخیسـت نـوفلي ده

---

(۱) چاپي دېوان: "دا پنځه ورځي ژوندون چي غنیمت دئ". (2) چاپي دېوان: په تمام عمر. (3) چاپي دېوان: پروا دار نه دئ. (4) چاپي دېوان: د هغه چي ستا. (5) چاپي دېوان: "په تعریف د سرو قد دا ستا خامه ده". (6) دا غزله په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (7) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (8) نې خوري = نه یې خوري. (9) چاپي دېوان: ستا له غمه.
(10) چاپي دېوان: د صحرا نشین. (11) چاپي دېوان: له عشقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مهرويو د مخ هسې صفايي ده	چې يې ورې له آفتابه روښنايي ده(1)
که په تور د تورو زلفو تور شوم څه شو	د تور بخت له تورو زلفو آشنايي ده
له هر ښکلي نن خيرات د حُسن غواړم	چې اخيستې مې کاسه د ګدايي ده
په غرور د حُسن نه ګوري هيچا ته	نه يوازي يې له ما بې پروايي ده
که له نازه چاته سم نه ګوري څه شو	ولې خوی د دلبرانو خود رايي ده
په ګلشن کې چې دا خل شي ګلان سوځي	د ګلرخو د مخ هسې زېبايي ده
٢٢٧ ده سختي د زکندن ور ته اسانه / و "حنان" ته د اشنا تر جدايي ده ١٩٨٨

زړه عيش څه که چې په هجر شي ميده	و خفه ته ګلان شي لکه بېده
مرګ بهتر تر زندګۍ چې قدر نه وي	سر پرېکړئ ښه دئ نه پز بريده
له صحبته د خسيس حذر بايده دئ	نيم وښته له ديده منع کړي ديده
تعلق چې ګُلي پرې که خدای ته رسي	کالي روغ که چې(2) اول شي بريده
ډېر زخمونه دي چې خاوري يې ملهم دئ	نه رغېږي په تارو خوله دريده
هر ساعت تر هغه حُسن قربانېږه	چې يې زړه در څخه واخيست(3) ناديده
٢٢٨ د "حنان" اوښې که درومې عيب نه دئ / زليخا د عشق له درده څښېده ١٩٩٥

چې د لمر په شان دي مخ و ځليده	د زرې په دود مې زړه و لړزېده(۴)
د شفق لبان سهيل په غاښو ونيو	مګر ستا د زنې سېب يې وليده
ستا د سترګو له خجلته نه دئ څه دئ	غزالان چې و صحرا ته رمېده
صنوبر سروي دي خيال د قامت وکړ	په رفتار پسې دي نه ور سېده
مهتر خضر به خپل عمر باندې ورکه	که دې چر ته تار د زلفو خرڅېده
ګلرخان مې په ژړا هسې خندا که	لکه ګل چې په باران هوسېده
٢٢٩ د ازل په ورځ روحانو ګتې وکړې / پر "حنان" دا ستا غمونه اورېده ٢٠٠٢

که خبر وای دغه ستا د عشق له منډه(۵)	ما به کله مينه کړه په هسې منډه
کله کړه ما سرکښي دا ستا له حُکمه	چې ميده دې کړم د هجر په کرکنډه
لا تر کومه ستا له جوره له ستمه	پر هر دربانديِ ويېرم لکه کونډه
په دوعا سره خپل مرګ له خدايه غواړم(٦)	چې مې ساه شوه ستا له غمه را تنډه

---

(١) دا غزله په اصل کي نسته. په چاپي دېوان کي شپږ بيته ده. تر مقطع وړاندي بيت له بلي نسخې څخه واخيستل سو.
(2) په چاپي دېوان کي "چي" نسته. (3) چاپي دېوان: در څخه يوور. (۴) دا غزله په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته.
(۵) چاپي دېوان: له ډنډه. (٦)چاپي دېوان: "اوس اجل له خدايه غواړم په سل خواسته".

(c) ketabton.com: The Digital Library



تن پرور کله خبر د عشق په درد دئ — له ډېرو وي فارغه ونه شنډه
چي اوږده وعده د زلفو په خاطر کړم — په دا غم مي شي د عمر رسۍ لنډه
۲۷۰ په ازل چي يې تقسيم د برخو وکړ ۲۰۰۹
په نصيب زما "حنان" شوه د عشق ونډه

زړه مي بند هسي په زلفو شو يکباره — چي هرګز نه شي و تاى(۱) له يوه تاره(۲)
هيڅ د خط په وخت له زلفو غافل مه شه — د پسرلي پر موسم(۳) ښېره کړه له ماره
شوخي سترګي وږي بهره له شوخه مخه — طفل نه وزي په تش لاس له ګلزاره
ستا د قد نهال د سترګو بادام وکړه — ګنه چا ليدلي سروه ده بار داره
د عقيق د آب په رنګ يې تن معلوم دئ — هره ورځ چي جامه وا غوندي ګلناره
خطا بخره ازلي د آدمي ده — دا ميراث ور رسېدلئ دي له پلاره
۲۷۱ چي دي نه رانيسي دُر خوک په کودري ۲۰۱۲
ژبه و تړه "حنانه" له ګفتاره

الف، قده، لاله خده، ګلرخساره — سنبل مويه، عنبر بويه کج رفتاره(۴)
شکر لبه، سيم غبغبه، خوش ادبه — سيم اندامه، غونچه فامه، جفا کاره
آهو چشمه، اندام يشمه، ډک له خشمه — موى کمره، خوش ظفره(۵)، ګلعذاره
مشکين خاله، خوش خصاله، د زړه خياله — په قد سمه(۶)، د زړه دمه، وفاداره
ماه جبينه، تن سيمينه، ډک له کينه(۷) — په زړه سخته، زما بخت د لاله زاره
زنخ سېبه، ډک له فرېبه، د ښار زېبه(۸) — خوش لقبه پُر غضبه، خوش روز ګاره
۲۷۲ موى ميانه، کج مژګانه، ميم دهانه ۲۰۲۳
دُر دندانه له "حنانه" شوي بېزاره(۹)

اي مدام د بل په کمه روا داره — نېکي نه کوې بدى لره تياره
قدم مه ږده پر عاجزمېږي په ظلم — نه چي دغه ښنه دي و منبلي له ماره
هر چي وږي سبا بې راوږي لږ که ډېر دي — دا چي نن يې په ستم اخلي له خواره
کبر مه کوه چي کبر پر خداى ښايي — چي رانده شيطان په دا شو(۱۰) له درباره
تکيه مه کوه پر مال، فرزند بې بختنه — که دي مال که فرزندان دي نا به کاره
د اجل صياد طلب دا ستا د روح که — ته طلب د مال اسباب کوې نا کاره(۱۱)
۲۷۳ که دا پند د "حنان" و نيسې په غوږ کي ۲۰۳۰
دئ بهتر تر هغه ګنج(۱۲) بې شماره

---

(۱) وتاى: وتلاى. (۲) چاپي ديوان: له دې افساره. (۳) چاپي ديوان: د بهار پر موسم. (۴) دا غزله په چاپي ديوان کي د "ر" د رديف په 24 مخ کي راغلې ده، خوبايد د "هـ" په رديف کي راغلې واى. (۵) چاپي ديوان: خوش نظره.
(۶) چاپي ديوان: فقد سم؟. (۷) چاپي ديوان: ډک له کين، تن سېمين. (۸) چاپي ديوان: د باغ زېبه (۹) اصل: له حنانه جفا کاره. (۱۰) چاپي ديوان: په دا شيطان شو. (۱۱) چاپي ديوان: د مال اسباب کړې نا قراره. (۱۲) چاپي ديوان: له هغه ګنجه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صورت نهال رېبي د مرګ اره — لا تر څو يې د دنيا په مال غره(1)
مل دښمن، غل در پسې بار دئ لوېدلئ — پر دا لار تېرېده ګران، ځان کړه جره
ولې زړه په مال فرزند تړې بې بخته — بې له خدايه دي بل ځای نشته اسره
د تن نخل د اجل بخار پرېباسي — دا نفس لکه اره دوسره
د دغو مېوو حساب به سبا غواړي — دا چې نن خورې سېب، انار و سنتره
ستا له پاره خالق لمر راخېژولئ — ته د ده بندګي نه کوې ذره

۲۷۴ — له حميده سره آس د شعر نه ځي
که "حنان" په حرص مځکه کړي پره — ۲.۳۷

که مې سترګي شوي(2) د وينو فواره — خونخور خيال يې بيا را نه غئ دوباره
دُر په غوږ کي د مهرويو هسې زېب که — لکه برېښي په سحر کي سِتاره
تل مې دئ د زړه آرام په اضطراب کي — د طفلانو آرامګاه وي ګهواره
دا زما د سوز نالې اثر پر وکړ(۳) — چې له سنګه څخه وزي(۴) شراره
چې لاس و خيژي له ځانه آرام مومي — دريا باچوي مُرده پر کناره
د دلبر له ملاقاته ليري نه ځم — که مې روح او دا زړه يوسي يکباره(۵)

۲۷۵ — چې له خياله خالي نه شوه د بتانو
د "حنان" سينه به څود کېده(۶) پاره — ۲.۴۴

مې شوم زه دا ستا له غمه باور نه کړې نا باوره — آئينه د رخسار راوړه زما و خوله ته برابره
اخله باج له خوبرويانو، د دې عصر له ترکانو — چې په دا زمان کي(۷) واړه ستا رعيت دي دلاوره
اې قاصده د خدای روی دئ، د يار ولي هسې خوی دئ(۸) — چې په حال مي خبر نه دئ دا د رنځ احوال مي وره(۹)
قتلوه رقيبان واړه، خون يې نه دئ در په غاړه — د خنزير قتل روا دئ په کتاب سره دلبره
اې زړه خوشي هوس کاندي، د دلبر د تورو زلفو — په دا هسې ښامارانو ويسا مه کړه پاړوګره
زړه يوه قطره د وينو زياته نه ده حيرانېږم — چې چشمه د وينو ولي زما له سترګو ځي يکسره

۲۷۶ — پر مرګي دئ ستا له غمه، يو وار ورشه عيسٰی دمه
د "حنان" له حاله لږ څه خبر واخله نا خبره — ۲.۵۱

چې ګېسو دي په رخسار کړه را خواره — پر خاطر باندي مي پرېوته تياره
د اميد کښت به مي کله را پخېږي — چې دي ورېږه د ظلم په لاره
د فلک د باغوان لاس د پرېکېدو دئ — پر جهان چې(۱۰) د بېلتون تخم کاره

(۱)دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) چاپي دېوان: شي. (۳) چاپي دېوان: اثر دئ پکښې کړئ. (۴) چاپي دېوان: خېژي. (۵) چاپي دېوان: "ښه چي زړه و روح مي يووړه يکباره ". (۶) چاپي دېوان: به څوکېده. (۷) چاپي دېوان: اوس په دا زمان کي. (۸) چاپي دېوان: ولي هغه خوی دئ. (۹) چاپي دېوان: "اوس په حال مي خبر نه دئ دا د رنځ خبر مي وروړه ". (۱۰) چې = چي يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اراده چې يې د زړو د ښکار کوله — سترګو(1) زړه زما اوله وځاره
که يې و ويني دوزخ ور ته حيران شي — ستا دغم په لمبو سوي تور سکاره
دغه ستا له ډېره جوره ګلرخساره — تل مي(۲) ځي له خولې لمبې د تناره

۲۷۷
پر "حنان" باندي به څه رنګه تاخت نه که
رقيبان دي کړه د عيش پر آس سواره
۲۰۵۸

اوري له ګفتاره(۳).................. — هر طرف......................
په ګلشن کښي يې نرګس ستر..... — هر سحر يې ګل سبق وړي له رخساره
چي کفر ته عالم ځکوي پوهېږم — تار د زلفو يې کم نه دئ له زناره
بوى د زلفو چي صباح پر ملکو.. — مشک يې وياسته بالفوره له تاره
په لاجوردو د قرآن جدول ښه زېب که — د مخ حُسن يې په خط شي نمکداره
شوخ بېباکه چي پر هر لوري تاراج که — دى د زړو په ورو فارغ......

۲۷۸
زه "حنان" تر کمه ځان ځني نګاه کړم
عقل وړي په مړاويو سترګو له هوښياره
۲۰۶۵

توري زلفي دي پر مخ نمايي دلبره — که نوروز دئ(۴) شپه و ورځ شوه برابره
مړ ژوندى دا ستا د سترګو په کاته شي — د بادام شکوفه زېب لري تر بره
د وفا ترک دي له ډېره نازه وکړ — د سايې ونه خالي وي له ثمره
ستا د مخ حُسن له زلفو مستغني دئ — و مسلم ته کومک نه شي له کافره
پر ځاى ناست وم دا ستا عشق زېر و زبر کړم — دا بلا راغله پر ځاى له کومه دره
په تش خيال يې روح له تنه څخه وزي — دا کاکل نه دئ ضابط مار دئ دوسره(۵)

۲۷۹
چي پتنګ په شپه(۶) ناحق وژني "حنانه"
شمع هم نه پاته کېږي تر سحره
۲۰۷۲

له کمزوري چي ځوک شى اخلي په زوره — ارمان دا دئ چي پيدا نه واى له موره
چي د مار په شان ازار کاندي د خلقو — د افعي په دود به سر باسي له ګوره(۷)
چي يې باد د مغرورى ګرزي په سر کښي — د حُباب په شان کاسه يې شي نسکوره
ايمان دُر دئ امانت او شيطان غل دئ — له دې غلو(۸) څخه خپل دُر همېشه ګوره
مدد مه غواړه له چا، که جبرائيل وي — چي خليل رنګه سالم ووزې له اوره
ولي نه اخلې عبرت په سترګو ځير شه — چي تر تا کشران مړه شوه(۹) په زړه توره

۲۸۰
هر سړى غمخور لري په حادثه کښي
"حنان" بې تا بل ځوک نه لري غمخوره(۱۰)
۲۰۷۹

---

(۱)چاپي دېوان: خيال يې. (۲) اصل: چي مي ځي. (۳) خالي ځايونه نه لوستل کېږي، دا غزل هم په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (۴) ب: که نوروز شو. (۵) ب: ماردى دوه سره. (۶) ب: چي په شپه پتنګ. (۷) ب: له کوره. (۸) ب: له دې غله
(۹) ب: مړه شو. (۱۰) ب: حنان بې له تا بل ځوک لري غمخوره.

څه به وایم ستا د خط له شرو شوره    پر خاطر مي کړه د چین نافه نسکوره
تر قدم لاندي بې[1] زه دواړه لېمه ږدم    د یار خیال چي را ولم د زړه تر کوره
د غمزې غشی یې[2] تېر تر سینه وزي    امان غواړه د پېژۍ لینده له زوره
له ګلرخو مي زړه نه ځي په اسانه    سپلني ژاړي چي لیري شي له اوره
په ناخوالو د رقیب ګرزېده نه کړم    لېوني کله ببرېږي له پېغوره
په دیدن د یار تسکین د مهجور وشي[3]    بل علاج یې نشته، نشته، واروه، ګوره[4]

۲۸۱    که یار غواړې ما سوا له یاره پرېږده
اې "حنانه" د خپل یار په رضا ښوره    ۲۰۸۶

ستا په غم کي[5] ژبه لال شوه له تقریره    پس له دې مي ګذران دئ له تحریره
په یوه نګاه خراب کړم مستو سترګو    اوس مدد غواړم د عقل له تدبیره
امیدواریې کړم و وصل ته ستا زلفو    چي په شپه کي دعا نه وي بې تأثیره
چي د آه غشی اثر پر سنګدل نه که[6]    آه فریاد که خوشي کاندې بې تدبیره[7]
چي هردم مزرۍ د هجر ورته ګوري    لا به نه وي د عاشق چهره تغیره
نخجیران د زړونو[8] پرېواته له شوقه    چي یې شَست د غیرت شناخت وکړله تیره[9]

۲۸۲    په دولت کي د ځوانۍ یې رحم بویه
مین شو پرتا "حنان" په سپینه ږیره    ۲۰۹۳

چي حاصل کړې د زړو مراد بدر منیره    ژر په ژر به لکه نمر شي جهان ګیره[10]
د هجران تېغ دي په لاس دئ قتلول کړې    حذر نه کوې له ځوانه نه له پیره
اغیار سخت، ته نازکخوی، رقیب بې شرمه    صبر کړم چي له همه وو شي دلګیره
د بوسې خواست دي د خط په وقت کي بویه    چي په شپه کښي دعا نه وي بې تأثیره
په عالم کښي له عالمه جدا ناست یم    مشغولا مي ده د زړه دا ستا له ویره
ستا بانو د چا په زړه نه دئ ښخ شوئ    نه خلاصېږي هیڅ نخجیر له دغه تیره

۲۸۳    پس له دې "حنان" مجنون بولئ یارانو
نه خلاصېږي یې د زلفو له ځنځیره    ۲۱۰۰

بې تا څه کوم صحرا و بوستان[11] دواړه    په کار نه لرم بهار و خزان دواړه
چي هرځای کښېنم له غمه آرام نه یم[12]    عشق دي یو کړه را ته ښار و بیابان دواړه
ستا د لبو و سرخۍ ته حیرانېږم    چي شرمېږي ځني لعل و مرجان دواړه
حذر کړه له کږو وروځو له مژګانو    چي لرې په لاس کي تیر و کمان[13] دواړه

---

(۱) بې = به یې. (۲) چاپي دېوان: د غمزې خدنګ یې. (۳) چاپي دېوان: د عاشق وشي. (۴) چاپي دېوان: "بل علاج یې په جهان کښي نشته وروره". (۵) چاپي دېوان: ستا په درد کي. (۶) چاپي دېوان: نه کا. (۷) چاپي دېوان: "آه فریاد دې وی له آه بې تاثیره". (۸) چاپي دېوان: د زړونه. (۹) چاپي دېوان: د پیره. (۱۰) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته.
(۱۱) اصل: بوستان و صحرا. (۱۲) چاپي دېوان: "پر هر ځای چي کښېنم پاځم آرام نه یم". (۱۳) چاپي دېوان: غشی کمان.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



کږې وروځې توري سترګي سره ګوره — بل څه نه دي بلکې قوس و مېزان دواړه(۱)
دا د چا د مخ له شوقه په ګلشن کې — چې ګل څیري کړه لمن و ګرېوان دواړه
۲۸۴ د مجاز په عشق کې(۲) حق غواړه "حنانه"
در پسې دي مدام نفس و شیطان دواړه ۲۱۰۷

له جادو د تورو سترګو(۳) امان غواړه — آبادي د زړه کړي یو ساعت ویجاړه
ستا د قد و خرامان رفتار ته ګوري(۴) — په یوه پښه د باغ سروه ده ولاړه
له خجلته ستا د سترګو په چمن کې(۵) — په خواب تللي دي نرګس و شهلا واړه
چې هردم یې زړه ګنډم دا پاره کېږي — دا سینه مې(۶) له ګنډلو سره ولاړه
د شوخ چشمو آرزو نه که نوره څه که(۷) — د آهو چې کاته که په لوړه غاړه
عاقبت د زړه مطلب په ژړا موند شي — مرغلري بې دریابه نشته ژاړه
۲۸۵ د هجران مرض "حنان" له واکه ویوست(۸)
ورته راوړئ د اشنای د ژبې لاړه ۲۱۱۴

دا دنیا و مافیها چې وینې واړه — ثبات نه لري هرګز مه پسې ژاړه
(وَ اِذَا حَکَمْتُم بَیْنَ النَّاسِ) واروه — حق باطل سره جدا کړه مه یې نغاړه
مدامأ(۹) چې لګه باز غوښې د قام خوري — عاقبت به شي بندي په پښو په غاړه
جوړوي نوي قصرونه خبر نه یې — نن سبا دي ابادي وینم ویجاړه
فکر وکړه. وخت کوتاه دئ وبه لوېږي — د دنیا پر لانده پاڼ باندي ولاړه
مور و پلار عزیز په هیچا دي شه نشته — لوند دئ حلق د هر سړي په خپله لاړه
۲۸۶ شپه و ورځ پسې ژړا کوه "حنانه"
د همزولو قافله در څخه ولاړه ۲۱۲۱

وایه نه شي و بېغم ته غم د زړه — څه ظاهر کړم و عالم ته نم د زړه(۱۰)
ما سوا مې له خاطره کل بېرون کړه — چې مې خیال ته کړ خالي حرم د زړه
په اغزو مې پښې زخمي د عشق په لار کې — چې ایښوو به مې هر ځای قدم د زړه
دلاسا د ما تو زړونو مشکل کار دئ — په تدبیر نه نیوه کېږي رم د زړه
بېدردان د عشق له درده خبر نه دي — و دردمند ته دئ معلوم الم د زړه
تر قیامته به پر پښو باندي سم نه شي — چې(۱۱) و هلئ وي په زوره دم د زړه
۲۸۷ چې جفا له ترکو وینې پسې ځغلي
نه پوهېږم زه "حنان" په چم د زړه ۲۱۲۸

(۱) اصل: "په یوه ځای کي آهو او کمان دواړه".(۲) چاپي دیوان: د مجاز له میني. (۳) چاپي دیوان: د جادو څخه د تورو سترګو. (۴) چاپي دیوان: رفتار ته هسي. (۵) چاپي دیوان: په ګلشن کښي. (۶) چاپي دیوان: دا سینه هم.
(۷) چاپي دیوان: نو نور څه که. (۸) چاپي دیوان: حنان له برمه پرې یوست. (۹) چاپي دیوان: مدامن. (۱۰) دا غزله په چاپي دیوان کي نسته.
(۱۱) چې = چې یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورځ چي ستا په عشق مي ابتداء کړه    ترکه ما له ځانه خپله مدعا کړه
د قلم په دود مي توري ويني قي کړې    هغه شپه چي مي دا ستا د خط انشاء کړه
تر قاصد دي جاربدم و پېژاند نه شو    چي راتئ و تا تې(۱) مخ و ما تې شا کړه
تر پخوا چي مي ښادي کړه ستا د وصل    اوس هغه پخوا کړده فلک را بيا کړه
بې عرضې د هجران هسي رنګ(۲) ضعيف کړم    چي ناله مي ستا و لوري ته عصا کړه
ته لري زګوة د حُسن زه حقدار ه(۳)    ستا د حُسن دروېزه کوم څه راکړه

۲۸۸    د رقيب د پند پومبه دي وه په غوږ کي
چي "حنان" در ته ژړل تا به خندا کړه    ۲۱۳۵

نقاب واخله يو وار مخ لکه آفتاب کړه    باغ ته ورشه په ديدن ګلان سېراب کړه
و طرف ته د باغ وګوره سياه چشمه    په کتو سره نرګس د باغ خراب کړه
لکه خوار کړم هجر هومره وصل غوارم    د هجران ورځي له ما سره حساب کړه
نېکنامي را څخه تللي ده بدنام يو    اي ناصحه زموږ له لوري اجتناب کړه
ستا له غمه په خپل عمر يم موږ شوئ    د غضب(۴) تبغ مي په وينو کي خضاب کړه
په مجلس کي چي زاهده يار ساقي وي    د تقوا اسباب دي رهن د شراب کړه

۲۸۹    په مجلس کي چي د يار مى خوري "حنانه"
که شي پېښ(۵) د فرشتې وزر کباب کړه    ۲۱۴۲

وخت د ساز و د صحبت راغئ عشرت کړه    ننګ و شرم واړه جار تر دا نعمت کړه
جوش د ګل نژدي شو وخت د پيالې راغئ    خار په سترګو کي د غم او د حسرت کړه
د ګلزار سيل د مى تر نشه زيات دئ(۶)    د زړه جام دي پور په ميو د نګهت کړه
ښادي راغله استقبال له يې دروه    عيش مېلمه دئ يو څو ورځي يې عزت کړه
وخت د ګل و د پيالې د صراحي دئ    ته هم و نيسه پياله ځان فراغت کړه
زمزمه که هر بلبل د ګل له مخه    دا څو ورځي له غمو ځان په راحت کړه(۷)

۲۹۰    بلبل موږ د ګل په ديد شو اې ګلرخه
"حنان" هم اوبه د لبو په شربت کړه    ۲۱۴۹

فهم او فکر هوښ په کار د کردګار کړه    ځان سوخته د محبت په تازه نار کړه(۸)
تمام عمر به شيرين در باندي تېر شي    د مچې په دود مدام کښت د ګلزار کړه
چي ملک پاک وي دهقان نه دربغوي تخم    ته هم توی د ندامت او ښي سهار کړه
که د حشر په عرصه کي امان غواړې    دلته ځان خلاص د دنيا له خس و خار کړه

---

(۱)و تا تې = و تا ته يې، و ما تې = و ما ته يې. (۲) اصل: هسي ضعيف کړم. (۳) چاپي دېوان: "چي مي پاس پر لاس کچکول د بې ننګۍ دئ". (۴) چاپي دېوان: د غب غب تبغ. (۵) اصل: که در پېښ شي. (۶) چاپي دېوان: "د ګلزار وصال تر مى تر نشه ښه دئ". (۷) اصل: ځان فراغت کړه. (۸) دا غزله په اصل او "ب" کي نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قیامت د ترازو کاڼی کم نه دئ      ملامتو لره دلته ځان تیار کړه
غنیمت دئ دا څو ورځي چي ژوندی یې      توښه واخله کاروان کوچ وکړ تلوار کړه

۲۹۱ چي شفیع د هر عاصي دئ په محشر کي
اې "حنانه" ځان یې خاوري د دربار کړه ۲۱۵۷

د معشوق د مخ احوال در ته حضور کړه      له دا وروستو هاله ځان لکه منصور کړه[1]
د ققنس مرغه له حاله احوال نیسه      ځاله ثرنګه و ځان و ته تنور کړه
نه خواړه د عاشقانو څه قوت شو      د معشوق د مخ ګلشن در ته سرور کړه
دود عادت د عاشقانو سر ورکړه شو      زده د عشق له استادانو دا دستور کړه
ناز غمزه د معشوقانو زړه سوخته که      ته هم خوله د عشق له ناره ډک تنور کړه
زنخدان او خوله یې ګوره څه دولت شو      خوار عاشق له دا دولته څه معمور کړه

۲۹۲ هره خوا آه و فغان د رنځورانو
ستا د عشق له رنځه ما "حنان" رنځور کړه ۲۱۶۳

د ګلرخو وصلت غواړې[2] جستجوی کړه      د بلبل په دود طعمه د ګل په بوی کړه
که هوا د موی میانو د آغوش کړې      په غمو بې ځان باریک په شان د موی کړه
که دیدن د مهرویانو دي مطلب وي      د زانو آئینه مخ ته روبروی کړه
د یار خیال چي راولي د زړه تر کوره      په قدم کي یې ګوهر د سترګو توی کړه
که پر ځان یې ټولوې د هوس وورکي      له اوله دغه زړه[3] مجنون د دوی کړه
که مقصود په عشق کي غواړې واړه پرېږده      بې له دې چي د ګلرخو[4] ګفتګوی کړه

۲۹۳ عاقبت به زړه تر لاسه کړې "حنانه"
لکه زلفي د نګار تواضع خوی کړه ۲۱۷۰

که دي زلفي اسیران لري تازه      ته هم څه دلبري کړه په اندازه[5]
ګرزېده د سترګو بویه غافل مه شه      هر ستم لري هر جور اندازه
د هغه زړه وي تر مرګه د فتر جمعه      چي له تارې[6] وي د زلفو شېرازه
فرق لري ګویا خاموش لبان په عشق کي      بلبل نوم لري، پتنګ هم آوازه
که هوښیار له مرګه نه بېربږي څه شو      زندګي د یوې ساه ده خمیازه
چي مدام له قیده ووزي لېوني دئ      په صحرا کي نه تړي څوک دروازه

۲۹۴ د "حنان" تر قلم بیا شکري اوري
چي بیان یې کړه د عشق انشاء تازه ۲۱۷۷

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) چاپي دېوان: غواړه. (3) چاپي دېوان: خراب زړه. (4) چاپي دېوان: بې له دې چي له معشوقه. (5) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (6) له تارې = له تاره یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه خوبـانو سـره مـه کـړه اسـتهزه — مـه لـه دوي سـره د بحـث آس تېـزه[1]
لمرچي ګرزي کورپه کورکچکول پهلاس کي — دا کـوي د دوی د حُسـن دروېـزه
و کتـو تـه يـې د سـترګو حيرانېـږم — چـي مـې[۲] کـل هډونـه کـړه رېـزه رېـزه
د خط زغره، د نـاز آس، د وروځـو تـُوره — جنګ تـي[۳] واخسته پـه کـین د قـد نېـزه
په رخسـار باندي يې خال، کاتب د صنع — پـر دفتـر د جمـال کـړي جـائزه
پـه ديـدن مـې زړه پـاره شـو نـه رغېـږي — زخـم لا خرابـوي المـاس رېـزه

۲۹۵ سـخندان چـي واروي سـتا شـعر "حنانـه" ۲۱۸۴
بـې تکليفـه بـې[۴] د غـوږ کـړي آوېـزه

لـه خوبـانو سـره مـه کـړه اسـتهزه — مـه لـه دوی سـره د بحـث آس تېـزه[۵]
خوبرويان که ناز کوي بې ځايه نه دئ — بـې نمکـه طعـام نـه لـري مـزه
چي وفا غـواړي پـه عشـق مجازي کي — د بادرنـګ لـه بـوټي غـواړي خربـوزه
دا مـي نـه درلـود د يـار د وصـل قـدر — چـي هجـران مـي کـړه هډونـه را رېـزه
د هجران تلخي مي نه درومي له حلقه — کـه هرڅـو خـورم د وصـال د قنـد کـوزه
دا لـه خيالـه د ګلرخـو نـه دئ څـه دئ — چـي لېمـه مـي شـوه پـه وينـو کـي بـوزه

۲۹۶ څه کونښن کوې د قتـل پـه اسباب کي ۲۱۹۱
د "حنـان" د مـرګ کـافي ده سـتا غمـزه

تنهـا نـه يـم زه بـې آب د زړه لـه لاسـه — عالمونـه دي خـراب د زړه لـه لاسـه
پـه دفتـر کـي بـه ځـای نـه شـي[۶] کـه يـي کـارږې — چـي ګيلـې کـړم درحسـاب د زړه لـه لاسـه
چيرتـه و وينـي يـو مـخ پسـي مـي بيـايي — پـر بسـتر نـه کېـږي خـواب د زړه لـه لاسـه
پـه اميـد د نمکـين دلبـر مـدام يـم — د هجـران پـه اور کبـاب د زړه لـه لاسـه
پـه کوڅـه د بـدنامۍ کـي چـي يـې ګـډ کـړم — راتـه شـوئ دا خطـاب د زړه لـه لاسـه
زه دلـې دی پـه کوڅـه کـي د يـار ګـرزي — يـم هرګـوره پـه عـذاب د زړه لـه لاسـه

۲۹۷ بـل څـه نـه دي زه "حنـان" چـي مـدام سـوځم ۲۱۹۸
د هجـران د اور پـه تـاب د زړه لـه لاسـه

پـر سـپين مـخ يـې خط پيدا نشـته تـر اوسـه — دا سـبزه پـر دا صـحرا نشـته تـر اوسـه
پـه مـاتم د خـط يـې زلفـي نـه دي سکښـتي — پـر سـپين مـخ يـې لا غوغـا نشـته تـر اوسـه

---

(۱) په چاپي دېوان کي په همدې مطلع يوه غزله سته چي له مطلع پرته نور ټول بيتونه يې له اصل سره توپير لري، ځکه نو ما د دوو بېلو غزلو په شکل درج کړې. دا غزله له اصل څخه رانقل سوه "ب" هم دغه غزله لري. (۲) مې = مي يې.
(۳) تې = ته يې. (۴) بې = به يې. (۵) دا غزله چي مطلع يې له مخکينۍ غزلي سره يو راز ده، له چاپي دېوان را نقل سوه. (۶) چاپي دېوان: په دفتر کي نه ځايېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخ لمر يې لا خط نه دئ تاريک کړئ ... دا تياره پر دا روښا نشته تر اوسه
مشق د قيد يې(1) په مکتب کي د خط کم دئ ... پر کاغذ يې دا انشاء نشته تر اوسه
هر رنګ سترګي يې و مخ ته دي حيراني ... پر آئينه يې لا هوا نشته تر اوسه(۲)
دا د مخ ګلشن يې هسې رنګ تازه دئ ... د ريحان د ګل ګياه نشته تر اوسه(۳)
پر مهتاب يې لا هاله له خطه نشته ... احاطه پر قمر ستا نشته تر اوسه(۴)
باد د خط څراغ د خط نه دئ ګل کړئ ... له دي شپي يې لا پروا نشته تر اوسه(۵)

۲۹۸ زړه به کله څني پرې زما "حنان" شي
پر سپين مخ يې خط پيدا نشته تر اوسه(۶) ۲۲۰۷

د يار د زلفو نسيمه راشه ... مشک عنبر دي را باندي پاشه(۷)
خاوري د يار د قدم را واخله ... زما په سترګو کي توتيا شه(۸)
د زړه غونچه مي په تا خلاصېږي ... بې تا نه مرمه زما بقا شه
تن فرح مومي ستا له قدمه ... موميايي د ماتو اعضا شه
د هجر درد يم ريز مريز کړئ ... د دغه درد مي ته مسيحا شه
رقيبه راشه چي سوله وکړو ... جنت دي ستا وي، کوڅه يې زما شه

۲۹۹ پر وخت د بوس يې حيا مانع شوه(۹)
"حنان" يې چار تر نازو ادا شه ۲۲۱۴

سرو قد موی ميانه راشه راشه(۱۰) ... د رنځورو زړو درمانه راشه راشه
چي طوطيان دي منتظر دي و ګفتار ته ... تر طوطي شيرين زبانه راشه راشه
چي دي زلفي لکه جيم پر ملا کړي دي ... خوش اندامه ميم دهانه راشه راشه
چي مخموره له شرابو برايي شوي(۱۱) ... هيڅ خبر نه يې له ځانه راشه راشه
د عاشق زړه په خدنګ د باڼو ولي ... شَست دي صاف ابرو کمانه راشه راشه
په دا عصر کښي دي سيال د حُسن نشته ... له کشميره تر ايرانه راشه راشه

---

(۱)چاپي دېوان: مشق د کيد. (۲) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (۳) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (۴) - (۵) دا دوه بيته بيا په اصل کي نسته. (۶) د چاپي دېوان مقطع د وزن په لحاظ بابېز وه ځکه مي حاشيې ته را نقل کړه:

لا ر د رحم لا خط نه ده تر سر ببولې ... له حنانه چي و فا نسته تر اوسه

(۷) چاپي دېوان:

د يار د خواوی نسيمه راشه ... مشک و عنبر دي را باندي پاشه

(۸) چاپي دېوان:

د قدم خاوري دي بولم ياره ... زما په بستر کي ژر توتيا شه

(۹) چاپي دېوان: مانع شه. (۱۰) خطي نسخه: راشَ راشَ. (۱۱) ب: برائې ئې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰۰ بلبلان د ګل پر مخ باندي چغېږي
بې تا ګونګ شوم تر "حنانه" راشه راشه ۲۲۲۱

په ژوندون يو وار له عقله بېګانه شه — نور ورځه له هغه ياره هم خانه شه[1]
بارګاه يې د دويي له نقشه خلاص دئ — غواړې هلته ورسېږې يګانه شه
د عشق لار رهبري نه غواړي له عقله — که عاشق يې هنر پرېږده دېوانه شه
رند عاشق لره بهتر تر عاشق نشته — عشق کوه له خپل ځانه بېګانه شه
هسې نه وايم چي تل په دغه رنګ شه — ګاه بلبل شه د چمن، ګاه پروانه شه
د دنيا طالب انثى عقبا خنثى دئ — ته طلب د دواړو پرېږده مردانه شه

۳۰۱ د دنيا حب سر د کل خطا "حنانه"
ځني واخله لاس، طالب د جانانه شه ۲۲۲۸

خيال دي يو وئ[۲] په تاراج له ما دلرېشه — دا د صبر متاع کمه وه که بېشه
له شوخۍ دي د دوو سترګو څه فرياد کړم — د تقوا خرقه يې وکښله له درويشه
زما په باب د عشق خواري ده اې ناصحه — دا د پند خرخې دي بس که[۳] مه يې ورېشه
له رقيبه څخه نيک خلقت محال دئ — له زنبوره څه فايده ده بې له نېشه
مخ دي و ياسته د خط په محصلانو — صد ساله شيخان يوه ګړۍ له کېشه
خبر نه يم چي په عشق کي وړاندي څه دي — نرۍ لار کړه ناليدلي خدای را پېشه

۳۰۲ اې "حنانه" صبر وکړه مراد به مومې
د فلک ژرنده په وار ده پس و پېشه ۲۲۳۵

د مخ ګل لره دئ تل خزان له خطه — دي کښتې ته رسي دا توپان له خطه[۴]
پر تېر شوي کار لاس نه رسېږي ځکه — نو خطان دي[۵] همېشه پښېمان له خطه
د ګل پاڼي په خار کله خرابېږي — لکه مخ د هر ګلرخ ويران له خطه
په سل جوره يې د حُسن ملک خراب کړ — نه مي و په زړه کي دا ګُمان له خطه
لکه بد خط چي پر ښه کاغذ رقم که — و ښه مخ ته هسي رسي[۶] زيان له خطه
چي شکرو د بوسي ارزاني وکړه — د مخ ښهر ته راځي کاروان له خطه

۳۰۳ که يې سل خاره د خط په صورت څرخ شي[۷]
ګرزولای نه شي مخ "حنان" له خطه ۲۲۴۲

يو دي نه وړه شم له ځانه دريغه دريغه[۸] — هيڅ تو ښه له دي جهانه دريغه دريغه

(1) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) چاپي دېوان: يووړ. (۳) چاپي دېوان: پرېږده. (۴) دا غزله په چاپي دېوان کي د "ط" په رديف کي راغلې ده. (۵) چاپي دېوان: خوبرويان دي. (۲) چاپي دېوان: هسي رسي. (۷) چاپي دېوان: په صورت ګډ دئ. (۸) بله نسخه دريغ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــه بــازاره د دنیــا دي څــه یــو نــه وړه    هیــر لــه زیانــه لــه نقصــانه دربغــه دربغــه
وادي نــه خیســته دوا لــه دې بــازاره    هســي ولاړې بــې درمانــه دربغــه دربغــه
د ســفر د توښــې زېرمــه یــو څــو ورځــې    وکــړه وخــت دي دئ نادانــه دربغــه دربغــه
چي فردا دي(۱) نامه درکاندي په لاس کښي    ستا کاغذ ډک لـه عصیانه دربغه دربغه
چــي پلــه دي د ګنــاه هــوري درنــه شــي    فکــر نــه کــړې لــه مېزانــه دربغــه دربغــه

۳۰۴    پــه دنیــا کښــي دي عمــل د ښــو و نــه کــړ
خــالي لاس ولاړې "حنانــه" دربغــه دربغــه    ۲۲۴۹

چــي غمــزه و کرشــمه نــاز دلربــا کــه    توري سترګي یې په کښه(۲) د زړو بلا که
تــوري زلفــي پــه درازي د خضــر عمــر    او لبــان دي(۳) د مســیح د درد دوا کــه
باریکی تــه یــې د ملا و بښــته حیران دي    تنګه خوله یې پر غوټچه باندي خندا که
یــو کــاړه کاتــه یــې دواړه ګونــه ارزي    چي نظـر د سـترګو یـو وار تـر قفـا کـه
مرجان زړه لـه وینو ډک دئ(۴) ستا لـه لبو    خجالــت دي لــه غاښــو دُر یکتــا کــه
له خدا ستا د مړاوو سترګو(۵) صحت غواړي    چــي نــرګس عصــا پــه لاس ولاړ دوعــا کــه

۳۰۵    نه کړې ضبط د خولې بلبل پر وخت د ګلو
دغــه ســتا د مــخ لیــدو(۶) "حنــان" ګویــا کــه    ۲۲۵۶

هیڅوک نه که هغه کار چي خدای رضا که(۷)    د قــــرآن تعظــــیم د پــــاره د طلاکــــه
دا اطلــس چــي پــر مکــه دئ غــوړولئ(۸)    کــه پــه دبــر کښــي وي هلتــه اقتــدا کــه
د جبریــل لــه ســره وړې بګــړې د عقــل    لــه غــــوروره و کــــلام الله تــــه شــــاکه
هــر عــالم چــي لــه امیــره ســره کښــېني    نــــاروا لــــه خوشــــامده وړ دوا کــــه
ګدای نه پرېږدي د خدای پر لارې باندي    و غنــي تــه تواضــع پــه خمــه مــلا کــه
و خپل عیب ته یې فهم نه وي چي زه څه کړم    شــي ښېغمــه چــي د بــل عیــب رســوا کــه

۳۰۶    د قــــرآن ســــماع واجبــــه ده "حنانــــه"
غــوږ پــرې نــه نیســي، غزلــو تــه هــوا کــه    ۲۲۶۳

ښیلتانــه دي هســي و یســتم لــه واکــه    چــي وهــي مــي هرمېــږی و مــچ ښیباکــه
لیاقــت زمــا د ســر کلــه شــته هــومره    چي وصلت غواړي مدام ستا له فتراکه
ســتا د حُســن اوازه خــط کــړه بلنــده    شعله پورتـه شوه د اور لـه دې خاشاکه
چــي یــې ســتا پــه جدایي و ازمــویلم    د فلـک بـه(۹) اوس چـاودلې وي تناکـه
سره لالـه بـه مـي لـه قبـره څخـه زېږي    که مي یو وار یار(۱۰) ګُذر وکړ له خاکه

(۱) ب: چي صبا دي. (2) چاپي دېوان: توري سترګي په وکښه. (۳) چاپي دېوان:او لبان یې. (۴) چاپي دېوان: ډک شو. (5) چاپي دېوان: د مړو سترګو. (۶) چاپي دېوان: دغه ستا د رخسار دید. (۷) کَ. (۸) ب: ... چي پر کعبه دي غوړېدلی. (۹) چاپي دېوان: د اسمان به. (۱۰) چاپي دېوان: که مي یار یو وار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې(۱۱) هرڅو منعه کوم له عشقه نه شي　　هسې شان مې زړه و تلئ دئ له واکه

۳۰۷　خپل اشنای دي ملا تړلې ده و کین ته
اې "حنانه" څه ګیله کړې له افلاکه　۲۲۷۰

سپرېدو و ته چې قصد دا دلفرېب که　　له هوسه ورته خلاص کوګل رکېب که
زما خوښ دا ستا کاته دي ستا تر سترګو(1)　　بادام کله د بادام د ګلو زېب که
زه په دا له قصده(۲) مرم خدای را خبر دئ　　چې د یار د زني خوند څه لره(۳) سبب که
د عاشق له ساړه آهه حذر بویه　　آینې لره پیدا نفس آسېب که
له بدرنګه بد کارونه عیب نه دئ　　له ښه مخه سره ښه خویو نه زېب که
په بهانه د بیمارۍ یې زړونه یووړه　　دا ستا سترګې(۴) عجب مکر عجب فرېب که

۳۰۸　چې د وخت بتان ښایست په زرو پلوري
دا "حنان" دي دواړه لاس په خالي جېب که　۲۲۷۷

که فلک لري چشمه د مهتاب ډکه　　ما نوش کړې ده پیاله د شراب ډکه(۵)
ګیله مه کوه له مستو سترګو ولې　　تل له قهره وي سینه د قصاب ډکه
چې خاکي جسم فاني که وصلت مومي　　خرابه خونه وي تل په آفتاب ډکه
خلاصېده له مرګه نشته په هیڅ طور　　که د ژوند کوټه دي کړې په اسباب ډکه
له ازله چې جام تش وي سعیَ څه ده　　په موج کله شي کاسه د حُباب ډکه
له ...(۲) نشته د بد بختو　　په دریاب نه شوه کاسه د ...(۷) ډکه

۳۰۹　هیڅ پوښتنه مغرور یار باندي و نه کړه
چې سینه شوه د "حنان" په خوناب ډکه　۲۲۸۴

په هر زړه کښې چې د عشق خویونه(۸) لار که　　هغه هر کله له ما سوا انکار که
د نیوو قوت د بازوي په پنجه کښې　　ښه مژګان د سترګو ژر په زړه کښې کار که
دا خام طمع زړه په سترګو پسې درومي(۹)　　طفل زغلي په آهو پسې تلوار که
زړه مې یوو سترګو د زلفو بې مدده　　هنرمند صیاد بې دامه نیو د ښکار که
سترګې نه خېژي هرګز له خپله خطه　　لکه چر ته د آهو حصار په تار که
له بستره مې د نمر ګلان را زېږي　　چې په خوب کښې را ښکاره مخ ګلعُذار که

۳۱۰　که یې خیال د سر و قد ورشي په خوا کښې
دا "حنان" بې پای انداز کل قندهار که　۲۲۹۱

چې مې زړه کباب د مخ په اور دلبر که　　د عشق شور مې نمکدان کاسه د سر که

---

(۱)چاپي دېوان: ستا د سترګو. (۲) چاپي دېوان: له شکه. (۳) چاپي دېوان: څرنګه. (۴)چاپي دېوان: دا سترګې.
(۵) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کې نسته. (۲) - (۷) دا ځایونه اوبو وهلي دي. (۸) ب: د عشق خوبونه. (۹) پسې زغلي. (۱۰) بې = به یې.(۱۱) چاپي دېوان: ضرر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـي لـه رمـه د آهـو يـې ګهـواره ده — هغـه طفـل څـه آرام زمـا پـه بسـتر کـه
ما وې حال بې(۱۰) د بېمارو سترګو کارېږم — د بېمـار د رګ طـپش تـار د مسـطر کـه
هنرمنـد تـه لـه هنـره خطـر(۱۱) رسـي — د صـدف کښـتۍ تو پان آب د ګـوهر کـه
څه حاجت ستا بانوګان(۱) لري په زړه کي — چـي محـراب تـه د ابرويـو تـل نظر کـه
کـه د مـات لښـکر اميـد د ظفـر نشـته — مات مژګان يې لا د زړونو ښکار بېشتر که(۲)

۳۱۱ پـه صـندلو سـر درد وايـي ورکېږي ۲۲۹۸
صندلي رنګ د "حنان" زيات درد سر کـه

د ګلرخـو لـه قربتـه څـوک پرهېـز کـه — لـه څراغـه پروانـه کلـه ګرېـز کـه
د ديدن طاقت يې هيچا څخه نشته(۳) — چي په ناز د تورو سترګو خنجر تېز که
لا يـې سـترګي د صـياد نـه وي ليـدلي — د هجران قصاب يې غوښې رېز مرېز که
چي په سر د جهان پوه شو هغه ژر ولاړ — له مکتبه طفل ځي(۴) چي سبق تېز که
ضـرر رسـي لـه هـم جنسـه پـه دا عصـر — ښيښه ګوره چي له سنګه ډېر پرهېز که
د ګلرخـو پـه ديـدن عاشـق ګويـا شـي — د ګلانـو پـه موسـم کـي بلبـل رېـز کـه

۳۱۲ کـې(۵) د لبـو و بوسـې تـه نـه رسـېږي ۲۳۰۵
اې "حنانـه" تـور کاکـل يـې دسـتاوېز کـه

کـوم ګلـرخ دئ چـي بيـا سـيل د چمـن کـه — چي بلبل په ذوق و شوق هسې ګفتن که
کي(۶) د لبو د شـهيد خاوره مار وخوري — د حيـات اوبـه بـه تـويي لـه دهـن کـه
خپلي سترګي يې و خط ته دي حيراني — کـه آهـو دئ پـه سـبزه کـي چريـدن کـه
تـوري زلفـي(۷) يـې بـاج اخلـي لـه سـنبلو — دغه سپين رخسـار يې ناز پرنسـترن که
کوم شوخ چشم نن په سيل د صحرا ځي — چـي آهـو تـر پخـوا مشـق د رميـدن کـه
کـه شـاهان تـاراجوي پـه زور ملکونـه — خوبرويان د زړو تاراج(۸) په ښه سخن که

۳۱۳ څه تعريـف(۹) د هغـو غاښـو کـړې "حنانـه" ۲۳۱۲
مسـخرې مـدام پـه دُرو د عـدن کـه

چي د ناز پر آس جولان هغه پادشاه که — هغـه څـوک دئ چـي جلـب د آه نګـاه کـه
د ګلرخـو قربـت مـومي غونچـه طـوره — د زړه وينـې چـي غـذا سـبا بېګـاه کـه
نصيحت د چا په کار نه دئ په عشق کي — جاهـل پيـر مريـد يـوه ګـړۍ ګمـراه کـه
چي دښمن شي(۱۰) ملايم احتياط بويه — پـه نرمـۍ اوبـه د لانـدي، کـار د کـاه کـه
خپلـه غبـږ چـي خـالي وينم ژړا راشـي — پـه هغـه دم چي هالـه پـه غېږ کـي ماه کـه

---

(۱) چاپي دېوان: دا ستا مژګان. (۲) چاپي دېوان: د زړو ښکار لا بېشتر که. (۳) چاپي دېوان: "هغه څوک دئ چي د ديد طاقت يې راوړي".
(۴) چاپي دېوان: له مکتبه ځي هلک. (۵)، (۶) کې = که يې. (۷) اصل: توري سترګي.
(۸) چاپي دېوان: د زړونو لوټ. (۹) چاپي دېوان: چي تعريف. (۱۰) چاپي دېوان: شو. (۱۱) چاپي دېوان: په صفت؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیال دي قتل کړم په صف(۱۱) د بانوګانو    د پادشه له مخه جنګ واړه سپاه که

۳۱۴ هیڅ تعریف یې د خولې نه کېږي "حنانه" ۲۳۱۹
اوس حاصل د کلام دا قصه کوتاه که

له غروره چې و لوړه(1) ته خاته که    عاقبت به له دې لوړي پرېواته که
له خامۍ د عشق بلبل په نارو سر دئ    پتنګ پته خوله(۲) په اور کې الواته که
چې دې خیال را ښخه ولاړ شي(۳) په هغه دم    روح رخصت له تنه(۴) وغواړي واته که
په یوه نظر مې زړه پاره پاره کړي(۵)    د تېرو تورو ګذار د یار کاته که
د فردوس د ګلو بوی مې په دماغ شي    چې دې خیال زما و لوري ته راته که
د دراز عمر له ونې مېوه وخوري    هر عاشق چې د معشوق(۶) د زړه ساته که

۳۱۵ ګمان مه کړه څو یې سر وي په تن پوري ۲۳۲۶
چې "حنان" به ستا له دره جار واته که

دغه ستا ګرم کاته زړه دېوانه که    مخ دې کور(۷) د آئینې پرې خانه که
چې دې خیال د خط و خال ساتم په زړه کې    عاقبت به مې له عقله بېګانه که
بیا به نه مومي څوک وصل ستا له زلفو    مګر زړه شګاف شګاف لکه شانه که
چې توسن د هوا میل که و تاخت ته    ژر بې(۸) سم پر لار د هجر تا زیانه که
چې زاهد یې د دیدن طاقت را نه وړ    په اوراد یې ځان مشغول کړ بهانه که
چې د تنګي خولې یې خیال و چاته پېښ شي(۹)    ځنې پاته صومعه و بُتخانه که

۳۱۶ څه غرور کړې د دنیا په سرای "حنانه" ۲۳۳۳
یو ساعت به یې فلک درویرانه که

څو عاشق د مینې اور لکه دود نه که    د رقیب مخ به تر هغه کبود نه که(۱۰)
هسې رنځ دئ د عشق رنځ ورځه طبیبه    په معجون د افلاطون هم بهبود نه که
هردم کېږي له عاشقه هسې چاري    چې په درست عمر یې ګبر و جهود نه که
نور به څه طمع د مهر کړې له ښکلو    چې پر زړه اثر اوراد و درود نه که
بې محله باران نفعه د کښت نه وي    په پیرۍ دندامت اوښې سود نه که
هر چې خدای که هغه کېږي، هیڅ سړی به    قسمتونه د چا بود و نابود نه که

۳۱۷ مخامخ چې خپل اشنای ورسره ناست وي ۲۳۴۰
"حنان" میل د رکوع و سجود نه که

---

(۱)چاپي دېوان: و لوړي ته. (۲) چاپي دېوان: پروانه خاموش. (۳) اصل: ولاړ شو. (۴) چاپي دېوان: روح له تنه رخصت. (۵) چاپي دېوان: "په یوه کاته مي زړه پاره پاره که". (۶) چاپي دېوان: هر معشوق چي د عاشق. (۷) اصل: مخ دي اور. (۸) ژر بې=ژر به یې. (۹) چاپي دېوان: "خیال چي پېښ شي ستا د تنګي خولې و چاته".(۱۰) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته (۱۱) چاپي دېوان: چي کباب لا هنوز. (۱۲) چاپي دېوان: له غلافه کښو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک چې د ګلرخ هواداري کـه — لـه چشمانو دي د وینـو رود جاري کـه
و نخجیر ته د خپل زړه پـه دا حیران یم — چې کباب شو(۱۱) لا هنوز بې قراري که
حذر بویـه لـه نیم خوابـو سترګو ولـي — لـه غلافـه کښـه(۱۲) د تېغ زخم کاري که
د بـاڼو خنجـر د قـد نېـزه خـط زغـره — سـپور د نـاز پـر آس د قتـل تیـاري کـه
و دا مکـر تـې(1) د سـترګو حیرانېـږم — چـې د زړونـو لوټـول پـه بېمـاري کـه
پـه اول قـدم دي سر ورتـه پېشـکش کـه — هـر سرې چـې د ښـه مخ خریـداري کـه

۳۱۸ چـې د عصـر بتـان حُسـن پـه زر پلـوري ۲۳۴۷
دا "حنـان" دي اول خوښـه بېـزاري کـه(۲)

څـوک چـې مینـه پـه راسـتي کـه — ژر پــه لاس د عشـــق هســـتي کـــه
هغــه کــار غنـي کــړای نــه شـي — چـي عاشـق يـې پـه نېسـتي کـه
د عشــــق څــــای معــــین نــــه دئ — مســــلمان بُــــت پرســــتي کـــــه
د عشـق بـوی چـې پـه د مـاغ شـي — تــر بــار لانـدي اوښ مسـتي کـه
چـې د عشــق ســواره پــر راشــي — نـــور(۳) د عقـــل آس سُســـتي کـــه
څوک د عشق بې هستۍ مه کړې(۴) — د مېـــړه کـــار تنګدســـتي کـــه

۳۱۹ "حنان" عشق لـه واکه(۵) ویوست ۲۳۵۴
چـې رضـا يـې پـه پسـتي کـه

ابـــرو خـــم مژګـــان خدنګـــه — برې څوک وړي ستا لـه جنګه(۶)
تـر اورنـګ يـې د مـاغ لـوړ شي — چـې يـې کښـېني تـه لـه څنګـه
پـــه مـــزاج دي نـــه پـــوهېږم — لـــه مـــخ ګلـــه پـــه زړه ســـنګه
بوسـه را د خـط پـه وخـت کـې — چـي نـوش کـړم پیالـه لـه بنګـه
کـه يـې اخلـې تاتـه ښـایي — بـــاج د حُســـن لـــه فرنګـــه
لـه غیرتـه سـتا د خـولې شـوه — غونچـه هسـي پـه زړه تنګـه

۳۲۰ د عشـــق خـــوی "حنانـــه" زده کـــړه ۲۳۶۱
پـــه ســـکوت کـــې لـــه پتنګـــه

برې څوک وړي ستا د دوو سترګو لـه جنګه — هـر بـاڼو دي تېـز ویشـته کـه لـه خدنګـه(۷)
مـا د زړه ښیښـــه د طفـــل پـــه لاس ورکـــړه — کـې(۸) سـاتي کـې پـه عتـاب ولـې لـه سـنګه
پـه آرزو کـــې د وصـــال د کـــوم ګلـــرخ دئ — چـې مـي مځکـه شـوه پـه اوښـو لالـه رنګـه
پـر خـاطر مـې هـومره پـروت د غـم غبـار دئ — چـې آئینـه مـې شـي پـه دیـد ډکـه لـه رنګـه
دا يـې سـتا خولـه و لیدلـه پـه ګلشـن کـې — لـه دا غمـه چـې غونچـه شـوه پـه زړه تنګـه
و صـحرا تـې(۹) سـترګو څـه حیرانـي ورکـړه — چـې آهـو يـې وحشـت نـه خـوري لـه پلنګـه

---

(۱) تې = ته یې (۲) چاپي دېوان: "دا حنان دي اول خوښ په بېزاري که ".(۳) چاپي دېوان: ژر د عقل. (۴) چاپي دېوان: بې هستۍ شو. (۵) چاپي دېوان: له لوري ویوست. (۶) - (۷) دا دواړه غزلي په چاپي دېوان کي نسته. (۸) کې = که یې. (۹) تې = ته یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۲۱ ننګ و نام د کل جهان واړه پر ځای دئ ۲۳۶۸
"حنان" ویوست ستا ستم له نام و ننګه

د هجران سپرو دي هسي کړم پایماله — چي فارغ یې کړم د عیش له وصاله[1]
زړه مي ستا له لاسه هرساعت خراب دئ — لکه وکه په مکتب کي مرغه ځاله
خپلي سترګي حظ له خپله خطه اخلي — غزاله وي په سبزه سره خوشاله
له ساده مخه طمع د بوسي مه کړه — هلته خواست کوه چي خط شي دوه مثقاله
تر سینې یې زړه معلوم په نزاکت دئ — لکه کاڼی جلوه که له آب زلاله[2]
که هر څومي در ته کړي زاری جګیّه[3] — خلاص دي نه کړم د رقیب د بو له[4] جنجاله

۳۲۲ دا تور خال دئ په رخسار د یار "حنانه" ۲۳۷۵
که بورا دئ پر ګل ناست بې پر و باله

بهار راغئ وخت د ګلو د لاله — ماتوم توبه د میو په پیاله[5]
صبحدم د ګل ګرېوان پاره پاره که — راشه ګوره د بلبل آه و ناله
عقل و هوښ صبر و ارام له سرې یوسي — خدا پر چا مه کړې د ترکو حواله
شوخي سترګي دلبري د خط په وخت که — په سبزه کښي ارام کاندي غزاله
غاښ یې هسي په سرو لبو کښي ښکاربږي — په پیاله کښي د لاله لکه ژاله
فلک کج رقیب دښمن، معشوق بې رحمه — دغه زه یم چي څکوم دا کشاله

۳۲۳ څه مستي یې وه په سترګو کښي حیران یم ۲۳۸۲
چي "حنان" یې هم شیدا کړ هم واله

زه به واورم ستا له مخه څخه کله[6] — د بلبل ګرزېده نه کېږي له ګله
فکرمه کوه د یار د ملا په خیال کي — سودایي به شي په دا کي ځغله ځغله
مستو سترګو دي په قصد دزړونو هسي[7] — د ابرو لېنده تر غوږه و څکوله
زه و یار لکه دوي سترګي همسایه یو — یو د بل په کور شناخته نه یو هیڅکله
دا کېږي له کاږه بخته را رسېږي — چي مدام زما یوه ده ستا پر بله[8]
لکه خس د سېلاب[9] خلاص له ګمراهۍ یم — پر اوږو د رهبر سپور یم تر منزله

۳۲۴ په خپه به ګلرخان د قندهار وي[10] ۲۳۸۹
چي په مرګ ولاړ شي[11] "حنان" رنګه بلبله

---

(۱) چاپي دېوان: له عیش و له وصاله. (۲) چاپي دېوان: جلوه که آب زلاله. (۳) چاپي دېوان: "که هر څومي در ته روی د پیر شفیع کړ". (۴) چاپي دېوان: د رقیب سپي. (۵) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (۲) چاپي دېوان: یاره کله. (۷) چاپي دېوان: په قصد د خلقو ځکه. (۸) چاپي دېوان: زما پریوه ده ستا پر بله. (۹) چاپي دېوان: لکه خس و سېلاب. (۱۰) چاپي دېوان: "پژمرده به ټول ګلان د قندهار وي". (۱۱) چاپي دېوان: ولاړې. (۱۲) چاپي دېوان: د سرو لمبو.
(۱۳) چاپي دېوان: بدخشان له. (۱۴) چاپي دېوان: "په امید چي صبر ناست د زړه پر سرو".

پر سرو لبو[۱۲] د خط لیکه رښتیا راغله    که له چینه بدخشان ته[۱۳] سودا راغله
په امید د وصل صبر پر زړه ناست و[۱۴]    ژر ولاړ شو چي د هجر تنا راغله
ولي نه ژاړم له دې غمه سرې سترګي    چي د یار د جفا سخته پر ما راغله
ما ګیله[1] در ته کوله له رقیبه    نه پوهېږم چي پر څه دي خندا راغله
ستا وصلت د رقیب مرګ، زما اختر دئ    کړئ آمین[۲] پر خوله عجبه وینا راغله
ګل و مُل، یار و ساقي، ساز و غزل دئ    ځکه ما ته د ځوانۍ هوا راغله

۳۲۵    د ازل قاسم چي وېش کاوه د برخو    ۲۳۹۲
ستا د غم برخه "حنان" له تنها راغله[۳]

چي مي ستا د مخ د ګل هوا کوله[۴]    بلبلانو مي پر سر زمزمه کړله
په تور خط دي ګلګون مخ نشو نما که    لکه زېب صحیفه وکه له جدوله
دا ته نه وې په چمن کښي سر و قده    و نشتر ته چي رعشه باد واچوله
چي غوښته مي تل رشته د اشنایۍ    د جفا مقراض دي یو وار وشلوله[۵]
در ښکاره به تا له زما د زړه خواري شي    که دي یو وار خپل ښایست ولید پخپله
که خبر ستا په محبت شي زه ضامن یم    خپله رېږه که زاهد نه و شکوله

۳۲۶    ستا له امره یې سر کله وو پېچلئ    ۲۴۰۳
چي یاري دي له "حنانه" پرې کوله

چي مي ستا د تور کاکل مینه کوله    ما پخپله بلا ځان لره بلله[۶]
ستا د زلفو ګفتګوی نه تمامېږي    دا قصه ده تر قیامته مسلسله
له زېوره دي ښه حُسن مستغني دئ    آئینه د لمر فارغ وي له صیقله
د دنیا پر کل هستي مي قدم کښېښوو    ستا د عشق پر لار دا ګام دئ له اوله
ستا د مخ مصحف په خط سره زېب وکړ    د قرآن زېبایي کېږي له جدوله
مکدر یې طبیعت شي ګیله نه کړم    د هجران قصه ده ډېره مطوله

۳۲۷    چي تعریف یې زه "حنان" د زلفو کاږم    ۲۴۱۰
زما په لاس کي قلم مار شي هزار ځله

راشه راشه ساقي راکړه یو څو جامه    امید نشته د دې دور له دوامه[۷]
ژر به ورسې مقصود ته زه ضامن یم    په اخلاص د یار پر لور واخله څو ګامه
نه پټېږي عشق د صبر په پرده کي    د عشاقو تشت لوېدلئ دئ له بامه
چي سیالي دي کړه[۸] د یار له شوخو سترګو    ښه چي و نغښت په ځنځیر کي شوې بادامه[۹]
له نسبته ستا د خولې له شیرینیه    دوې بوسې اخلي لبان د میم له نامه
خدای زده کله به د وصل دوا راکړې    نه خلاصېږم ستا د هجر له زکامه

(۱) چاپي دېوان: ما شکوه. (۲) چاپي دېوان: آمین کانئ. (۳) چاپي دېوان: حنانه تنها راغله. (۴) بله نسخ: کولَ.
(۵) په "ب" کي د دې غزلي همدا څلور بیته سته. (۶) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (۷) دا غزله د چاپي دېوان د "م" ردیف په 64 مخ کي راغلې ده. (۸) چاپي دېوان: سیالي کوې. (۹) چاپي دېوان: "ښه و نغښت په ځنځیر کي شو بادام".

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۲۸
هسي دُر پېيي "حنان" د يار د وصف
چي په شعر کي د غلـه نه ښوري زامه
۲۴۱۷

عشق دي بيا راته زانګو کړه غر و سمه — که ولاړ، که ناست، که پروت زانګم له غمه
چي پخپله عشق ته ځغاستې(1) ګيله مه کړه — دا متل دئ خود کرده دارو له کمه(2)
تن مي هسي کړ ضعيف د فراق اوښو — چي ګيله راته د شواره شوه صنمه
ښاخ چي مات شي ګلان نه که، بې ستا زلفي — آفتاب رنګه ګلان کړي له هره خمه
بخت په شپه کي ستا د زلفو خوب و نه کړ — چي پرېشان خوبونه وينم دا له کمه(۳)
غمجن زړه مي و ګلرخو ته خلاص نه کړ — ډک له ګرومه زړه به قبر لره وړمه

۳۲۹
باطن زړه د "حنان" ډک دئ له سرو وينو
لکه زخم خندا کړي له دې عالمه
۲۴۲۴

راشه واوره دا هوا هوس تر کومه(۴) — زغلوې دا د هوس فرس تر کومه
و دي غوښت د زمکي سر په تجارت کښېي — ږغوې دا د کاروان جرس تر کومه
روح بندي دئ يو څو ورځي په جسد کښېي — دا مرغه بندي(۵) د دې قفس تر کومه
يو څو ورځي د توښې زېرمه په کار ده — بې بها عمر دي ځي عبس تر کومه
چي همزولي(۲) دي همه په مرګ تمام شو — ته غره يې په دا نيم(۷) نفس تر کومه
عاقبت له خاورو پُر شي فکر وکړه — په حرامو ډکوې دا نس تر کومه

۳۳۰
ځان ته وکړه نصيحت "حنانه" ولي
زغلوې دا د هوس فرس تر کومه
۲۴۳۱

څه تېرېږي پر ما خوار ستا له هجرانه — مسلمان يم رحم کړه نا مسلمانه
خيال دي ځي اوښي مي هم ور سره ولاړې(۸) — لکه د رومي لښکر وروسته له سلطانه
له کتو د آهو چشمو بېغم مه شه(۹) — تر بڼو لاندي خنجر لري(۱۰) پنهانه
که راحت غواړې پر خوله باندي مهر کښېږده(۱۱) — سر خوري ژر هغه(۱۲) پسته چي شي خندانه
په ښيښه کي د امکان(۱۳) هره دوا شته — د عشق درد وي چي فارغ دئ له درمانه(۱۴)
معشوق طفل چي په قيد د ضبط کښېوزي — چي شي پورته سروه وزي له بوستانه

۳۳۱
څه پوښتنه د غمزو(۱۵) له رهزنۍ کړې
زنخدان يې له سرو ډک دئ "حنانه"
۲۴۳۸

د يار جبين دئ تر لمر روښانه — خوله يې قطره ده له آب حيوانه(۱۲)
غاښونه دُر دي بې بها ګوره(۱۷) — لبان يې باج وړي له بدخشانه

---

(۱) چاپي دېوان: زغلي (2) - (3) له کمه= له کومه (۴) کومَ (۵) ب: دا بندي مرغه (۲)-(۷) دا برخه له "ب" څخه واخيستل سوه. په قلمي نسخه کي نه لوستل کېدله (۸) چاپي دېوان: "خيال دي ولاړ اوښي مي هم ور پسي ولاړې؟". (۹) چاپي دېوان: غافل مه شه (۱۰) چاپي دېوان: کاته لري (۱۱) چاپي دېوان: "په مجلس کښي د جهان پر خوله مهر کښېږده". (۱۲) چاپي دېوان: خپل سر ژر و خوري (۱۳) چاپي دېوان: په ښيښه کي د اسمان (۱۴) چاپي دېوان: "د عشق درد مدام فارغ دئ له درمانه". (۱۵) چاپي دېوان: د غمزې (۱۲) چاپي دېوان: "چشمه د حيات يې له زنخدانه". (۱۷) چاپي دېوان: "زلفي طعنه که د چين پر مشکو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لبندۍ پر موتي زاغ د تصوير دئ — که يې تورخال دئ د وروځو له ميانه
سترګي يې بِه[1] د نرګس تر ګل دي — عُذار يې زيات دئ له ارغوانه
بانو يې غشی وروځي لبندۍ دي — خطا يې نه ځي تير له نښانه
زما په ژړا يې مخ تازه تر شو[2] — ولي تازه شي ګل له بارانه

۳۳۲ د يار جفا وي تر حد تېری که[3] ۲۴۴۵
له عشقه لاس واخله ميرزا "حنانه"

عشق دي کړم له عقله هوښه بېګانه — بدنامي مي شوه عالَم ته افسانه
د عاشق په ماڼي ډېر معشوق نرمېږي — شمع ژاړي په سوختن د پروانه
ځو يې غم زړه او به نه که[4] نه رسېږي — و صدف ته د ګوهر يوه دانه
رنګ و بوی چي د وفا نه پکښېويني — عُنقا نه که په ګلشن کي آشيانه
زلفي نه دي پر مخ پروتي بې موجبه — دي د طلسم د اماران دا خزانه
له غيرته مي زړه سل ځايه اره شي — چي دي ګوتي په وښتو وهي شانه

۳۳۳ دا د کوم دلبر د زلفو و ځنځير ته ۲۴۵۲
"حنان" شو له ډېره شوقه دېوانه

ستا د مخ پر شمع کل عالم شو پروانه — شاه دئ که ګدای دئ که هوښيار که دېوانه[5]
زه قديم اشنا ستا د زړه ويني مي خوراک دئ — حال د خپل دي دا دئ آه پر حال د بېګانه
خوی د جفا بس کړه د وفا خويونه زده کړه — ولي چي پاتېږي پس له موړ دا افسانه
خيال دا ستا د زلفو له ما خواب و ارام يووړ — کله خوب ورځي د چا چي مار شي همخانه
مخ دي ګنج د حُسن تور کاکل دي لکه مار دئ — پروت وي مار له سره همېشه پر خزانه
زلفي دي شانه کړې پر ما توره تياره شوه — ما وړاندي ليدلې وه د تور طالع... کانه[6]

۳۳۴ وينې يې ويده بخت شي د "حنان" زما دلبره ۲۴۵۹
چرته که ځای مومي ستا د در پر آستانه

ګل له تا نازکي زده کړه ګلبدنه[7] — سنبل خم شو ستا د زلفو له شکنه
د انار لړمون له وينو په دا ډک شو — چي رنګ واخيست د باغ سېب ستا له ذقنه
ستا د قد په تما شا لوړه هوا که — دا چي سروه پورته کېږي له چمنه
له وطنه به مشک و باسي بې قدره — ستا د زلفو بوی که ور شي تر خُتنه
ستا له لبو سرې[8] هيڅ مناسب نشته — که ابداره عقيق راشي له يمنه
د نرګس سترګي حيراني ستا تر سترګو — مخ دي يووړه صفا يې له نسترنه

۳۳۵ د "حنان" له خولې که واروي[9] د يار وصف ۲۴۶۶
بلبلان به واړه کوچ شي له ګلشنه

---

(۱) چاپي دېوان: سترګي يې زياتي. (2) چاپي دېوان: شي. (3) چاپي دېوان: "د يار جفا به دي تر حده تېر که".
(4) چاپي دېوان: ځو يې غم ژړا او به نه که. (5) دا غزله په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (6) دغه ځای په اصل کي نه لوستل کېږي د "کانه" کلمه ما ور واچوله. (7) بله نسخه: ګلبدنَ. (8) سرې = سره يې. (9) ب: واوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت دي آواره کړم له وطنه | وطن څه دئ، له خوراک له اغوستنه
بد خويي رقيب در ونبوده بد خوی شوې | اخلي روغ سری(1) مدام پون له پمنه
عيب نه دئ که له نازه لېونی شي(2) | مېوه نه کوي هرګز د سيوري ونه
شوخي سترګي وړي بهره له شوخه مخه | طفلان تل د ګل د ستي وړي له چمنه(3)
د سهار سپېدې را وختې په شپه کې | که تر زلفو دي روڼا ځي له ګردنه(4)
د احسان لاس که اوږده عالم به خپل کړې | پر د بوال بتان محکم شي له روغنه

۳۳۲ په ديدن د ګل بلبل هر دم چغېږي ۲۴۷۳
ستا په ديد "حنان" اشنا شو له سخنه(5)

کښېناسته يې(6) کښېنوي سل آفتونه | پاڅول يې پا څوي سل قيامتونه
چې د خط په خيال يې سر پر زنګون کښېږدم | تحويلدار شم د غمو په براتونه
قراري زما د زړه په نوي خط شي(7) | غزاله مومي آرام له مېږتونه
چې په تور و سپين(8) مې اړوي پوهېږم | چې کوي را باندې نور ازمويښتونه
ستا له لوري مې زړه نه راځي دلبره | که کوم ورته هزار رنګه خواستونه
چې په بد را سره واوښتې(9) پوهېږم | چې دې غوږ کړه(10) د رقيب حکايتونه

۳۳۷ د ګلرخو مينه تندره ده "حنانه" ۲۴۸۰
رېږ مرېږ يې کړه د تن عمارتونه

څه به وايم د شوخ چشمو له افسونه | چې تاراج يې کړه(11) د سلو زړو کورونه
خيال د چا د زلفو لار ده په کښې کړې | چې زړه سوری شو د ځنځير له دې تاخونه(12)
چې د زړه پر زخم مالګي پاشي څوک دئ | په هيڅ رنګ نه که پروا د(13) چا له خونه
له غيرتې(14) د خط، زلفې پېچوتاب شوې | پېچه کېږي مدام مار له مېږتونه
چې رکاب يې د پېري له سترګو جوړ وي | په ميدان کې بې پراته وي خود سرونه(15)
د تبجن د عشق دوا عناب د لب دي | دا نسخه مې ياده ده(16) له افلاطونه

۳۳۸ د اوبو رېغ ژرنده نه پرېږدي و وارته(17) ۲۴۸۷
د "حنان" اوښو په څرخ کړه اسمانونه

لږ يې وته له زړه څخه کينه | چې يې راکړه يو څو داغه پر سينه
چې يې خيال د لبو ګرزوم په زړه کې | زما سينه شوه د ياقوتو خزينه
پس له دې مې په عوض د اوښو زړه ځي | چې اوبه لږ شي ګل د رومې تر چينه

---

(١) چاپي ديوان: روغ سړی اخلي.(2) چاپي ديوان: لېونی سوې.(3) اصل: "طفلان تل وړي د ګل دستې له چمنه".(4) چاپي ديوان: "که تر زلفو يې روڼا شوه له ګردنه".
(5) چاپي ديوان: اشنای شي له سخته.(6) چاپي ديوان: که يې ناسته وي.(7) چاپي ديوان: "نوی خط يې ځکه زما د زړه پای بند شو".(8) چاپي ديوان: پر تور و سپين.(9) چاپي ديوان: را سره يار واوښت.(10) چاپي ديوان: چې يې غوږ کړ.
(11) چاپي ديوان: تاراج کړې دي.(12) چاپي ديوان: "زړه سوری چې شو ځنځير له دې تاخونه".(13) چاپي ديوان: پروانه کا.
(14) له غيرتې = له غيرته يې.(15) اصل: په رکاب کي يې پراته نه دي سرونه.(16) چاپي ديوان: ياده وه.(17) چاپي ديوان: و خواب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کاروان د غم پر اړوي بل لېږدي
زړه مې خدای کړ د غمونو سفینه

په ازل چې یې تقسیم د برخو وکړ(1)
ستا د غم برخه زما شوه مهینه

چې زاهد و ته د عشق خبرې وایې
لکه جنګ لره چې باسې ارتینه

۳۳۹
د "حنان"(2) فرق له رقیبه سره وکړه
چیرته نن ورځ خدمتګار او دېرینه
۲۴۹۴

ښه چې مې ولیدې په تن سیمینه(3)
مخ دې ګلاب دئ قمر جبینه

دا ستا د حُسن په لاله زار کښې
آفتاب حساب دئ له خوشه چینه

حیران شوخۍ ته(4) دا ستا د سترګو
زاهدان باسي له خپله دینه

زړه په کار نه دئ د عشق بې داغه
ګوتۍ څه شی ده بې له نګینه

وروځې لیندۍ دي بانو دي غشي
څوک نه خلاصېږي ستا له کمینه

خوله دي غونچه ده زنه دي سېب ده
خط مچمچۍ دي لب انګبینه

۳۴۰
په وصل و هجر دي نه پوهېږم
"حنان" دي ویوست له آن و اینه
۲۵۰۱

تویوي مې په ستم بې پروا وینه
په جفا مې له ناتوانو اعضا وینه(5)

په آرزو د کوم ګلرخ د لعلو لبو
تویوم چې تل پر ځای د ژړا وینه

چې یې مشک برابر نه شوه ستا له زلفو
د نافې په دا سبب شوه غذا وینه

مقابل چې یې کړ ځان ستا له رخساره
ګلاب وچه کړه په دا له حیا وینه

د غونچې له خون دلۍ خبر نه دئ
د ګل توی کړه په چمن کې سبا وینه

ستا د خولې پیاله یې نقش وه په زړه کې
له خندا سره چې قی کړه مینا وینه

۳۴۱
چې محروم له ګلرخساره سم ناصحه
زما "حنان" له سترګو درومي په دا وینه
۲۵۰۸

ستا وصل مې نصیب شو که اختر دئ نازنینه
طالع مې یاري وکړه چې مې زړه خلاص شو له کینه(6)

ستا خیال چې له ما ولاړئ(7) په نظر د خلکو خوار شوم
قیمت د ګوتي څه دئ چې شي خلاصه له نګینه

دا ستا مخموري سترګي زما د وینو رغبت نه که
له هسې سرو شرابو دا پیاله نه شوه رنګینه

څو زما د زړه په کونج کې ځای پیدا اوله نه کړې
ممکن نه دئ غبار چې را ولاړ شي له زمینه

په خپله بلا را وړي یاوه ګوی له خپله ګفته
خندا د زرکې وکړه رهبري له دي شاهینه

ستا له زلفو له رخساره زاهد هیڅ فیض یو نه ووړ
د رانده په دود محروم وي همېشه له تورو سپینه

۳۴۲
چې کاږي "حنان" نقش ستا د تورو سترګو زلفو
سنبل په خوله نیولې غزاله راځي له چینه
۲۵۱۵

(۱) چاپي دېوان: وکئ. (2) چاپي دېوان: زما حنان. (3) بله نسخه: سیمینَ. (4) بله نسخه: شوخۍ ته حیران یم، ب: شوخۍ ته حیران د متن کلمات ما مخ و شاکړل. (5) دا غزله په چاپي دېوان کې نسته. (6) دا غزله په اصل او "ب" کې نسته.
(7) په چاپي دېوان کې "لاړ شو "دئ. ما ځکه "ولاړئ" و کیښ چې د شاعر له لهجې سره سم دئ او هم یې مفهوم نه ورانېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د ځان ویر په هغه ساعت کاوه　　چي مي زړه و تا ناترس ته درکاوه
د رقیب له ډېره جوره ژړا راغله　　و اشنای ته چي مي زړه خالي کاوه
عاقبت تر حیا تېر کړم بې صبریه　　که هر څو مي زړه په صبر ټنګاوه
خود به هسي تر ساعته نه پاتېږي　　ګل چي مخ(1) دا ستا له حُسنه جنګاوه
چي یې ستا د عشق خوارۍ وارو بدلې　　که رستم و تال د فکر زنګاوه
هلته بخت را کړې دا ستا زلفي په لاس کښې　　چي ځنځیر د لېونتوب مي شرنګاوه

۳۴۳ چي "حنان" یې خوار و زار لیده په غم کښې ۲۵۲۲
فلک دف د نمر له شوقه درنګاوه

چي را پېښه د دلبر د مخ برېښنا شوه　　زما د سترګو له اورو ژړا پېدا شوه
دا د کوم ګلرخ د خولې په خیال کې هسي　　په ګلشن کې د غونچې شګوفه وا شوه
چي ابرې پاشي پر مخ له لېونتوبه　　آئینه د چا د دید په تمنا شوه
دا د کوم صیاد د شَست له ذوقه هسي　　چي ملاخمه د لېندۍ هسي دوتا شوه
له کامله عشقه فیض عاشق یوسي(2)　　دا ړنده زلېخا څه رنګه بینا شوه
دا چي ته ورغلې باغ لره ګلرخه　　له هوسه غونچه ځکه په خندا شوه

۳۴۴ په طمع یې د وصال هجران کباب کړ ۲۵۲۹
د "حنان" په خاطر هغه، پېښه دا شوه(3)

اندېښنه را ته د سترګو د قصاب شوه　　د تن وینه چي مي اوښکه د کباب شوه
د غمزې نشتر یې کار و کړ په زړه کې　　چي باقي څه وینه پاته وه(4) شراب شوه
جای نشینه په کښې(5) خیال د کوم مهروی دئ　　چي مي خونه په روڼا لکه آفتاب شوه
دا د چا د ناوک خیال دئ په کښې ګرزي(6)　　نا آرامه مي سینه لکه سیماب شوه
را په یاد د کوم دلبر د غاښو دُر دي(7)　　هره سترګه چي مي موج د دریاب شوه(8)
دا د چا په خیال زړه هسي پروانه دئ　　د مجلس ګرمي چي شمع د احباب شوه

۳۴۵ بېهوده لافي د زهد کړې "حنانه" ۲۵۳۲
غاړه ستا بنده د زلفو په تناب شوه

را رسېږي دا جفا له دلربایه　　چي هدو لره مي نه راځي هُمایه
هسي نه چي نن عاشق شوم پر خوبانو(۹)　　مادرزاد مي عشق را وړئ دئ له ځایه
تر مجلس د عشق به ولي نه جارېږم　　چي هلته شاه برابر دئ له ګدایه
در پوهېږم چي له قهر را ته ډک یې　　چي په زړه کي څه لرې را ته یې وایه(۱۰)

---

(۱) ب: ګل چي حسن. (2) چاپي دیوان: وړای شي. (3) چاپي دیوان: وا شوه. (4) چاپي دیوان: ماته وه. (5) چاپي دیوان: جانشین په زړه کي. (6) چاپي دیوان: "دا د چا د خدنګ خیال نن په کښې ګرزي". (7) چاپي دیوان: "دُر د غاښو را په یاد د کوم دلبر دئ". (8) چاپي دیوان: موج وهي دریاب شوه". (9) چاپي دیوان: عاشق یم د خوبرویو. (10) چاپي دیوان: را ته و وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دي خيال را تئ زړه مخ لره ورو ووت(1) — کورنۍ وزي مېلمه لره له سرايه
چې نظر مي شو پر غشو هم پر تُوره — د احوال په شان نظر مي شو دوه ځايه

۳۴۲ هيڅ يې نه ورسېدې په غور ولې؟ ۲۵۴۳
د "حنان" تل ګذران دئ له واي وايه

و مي سو(2) خرمن د صبر پريرويه — سر ترپايه ناز، ادا(3) آتشين خويه
عالمونه قتلوي پروا په نه که — کج يې زلفي، کج کاته و کج ابرويه
خوله غونچه، خط بنفشه، عُذار يې ګل دئ — ډېر بې رحم بې وفا دئ عنبر بويه
و سبزه ته يې د خط ريحان حيران دئ — ګل يې تل اخلي د رنګ سبق له رويه(4)
په خبرو هسي رنګ شکر افشان دئ — چې طوطي يې تعليم وړي له ګفتګويه
جلوه ګر دئ، ستم ګره،(5) ناز پرور دئ — دوه عالمه يې بندي دي په دوه مويه

۳۴۷ په ځنځير دا ستا د زلفو يې بندي کړه ۲۵۵۰
لېوني شو "حنان" ستا له جستجويه

و لېمو ته تويېده مه ورښيه — و اورو ته اورېده مه ورښيه
که شوخ چشم نه رام کېږي عيب نه دئ — و آهو ته رمېده مه ورښيه
د بوسې په غلا کښې ډېر هوس استاد دئ — ګل او طفل تولېده مه ورښيه
سر و کار د عاشقانو دئ له اوره — پروانه ته کړېده مه ورښيه
د سېلاب و مخ ته څوک دربداى نه شي — و عاشق ته ښوهېده مه ورښيه
هر زاهد له خپله وهمه نا قرار دئ — يخ خوړلي لړزېده مه ورښيه

۳۴۸ د عشق اور مي په سينه کښې دئ ناصحه ۲۵۵۷
و "حنان" ته ګرمېده مه ورښيه(6)

## ﴿ ی ﴾

نن دي بيا دي د رقيب خبري نغوتي — چې له درده دي لبان دي راته مښتي
له غير ته د شانې مي زړه اره شي — چې بې فهمه دي په زلفو وهي ګوتي
عشق دي ور و ستم تر هسي لېونتوبه — چې مدام ګرېوان پاره يم(7) څېري ختي
دا د لاړو په شربت يې لبان مُبتلي — که له قهره را ته که(8) خبري تتي
ستا د ميني د نهال په سيوري ناست وم(9) — چې ريښې يې دي(10) زما تر زړه جاروتي
ستا رقيب کله زما پر مخ را تلاى شي — د مړو و جنګ ته نه وزي عورتي

۳۴۹ د "حنان" عشق عارضي نه دئ چې ولاړ شي ۲۵۶۴
ستا په در کي يې د ميني موږي نجتي(11)

---

(۱) چاپي دېوان: در و ووت. (2) اصل: ويې سو. (3) چاپي دېوان: سر تر پا ناز و ادا. (4) اصل: له بويه. (5) چاپي دېوان: ستم ګردئ. (6) ب: ګرمېده ورښيه. د کاتب تېروتنه ده. (7) چاپي دېوان: پاره ګرېوان يم. (8) چاپي دېوان: را ته کړې. (9) چاپي دېوان: ناست يم. (10) چاپي دېوان: ريښې يې شوې. (11) چاپي دېوان: موږي نختي؟.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یار در ته مې نفس ځي و راځي | په کوڅه کې جوړ عَسَس ځي و راځي
آه مې نه لري اثر(1) را ته معلوم شو | که و لور ته د دا درس(2) ځي و راځي
په صحرا کې د جنون مې زړه بېتابه | همېشه لکه جرس ځي و راځي
ستا نامه مې ولې ور کړه و قاصد ته | شور د زړه مې په هوس ځي و راځي
که هوا دي رقیب کړي(3) د لبو څه شو | شېرینۍ ته هر مګس ځي و راځي
ستا مذکور دئ په کوڅه و په بازار کې | بوی د ګل په هر نفس ځي و راځي

۳۵۰ په نارو د "حنان" زړه نه ستړی کېږي
سپور د عشق پر تېز فرس ځي و راځي ۲۵۷۱

له زړه کله د نو خط د خط هوا ځي | دا دود نه دئ چې له دې اوره جدا ځي
که مې زړه د لبو میل که ښایېږي | د دې میو اثر کله له مینا ځي
که یې جمع که څوک دُر دي بې قیمته | پر هر در باندې چې اوښې د ګدا ځي
که لوړ نوم غواړې ور څه ګوښه نشین شه | قاف تر قافه پوري تل نوم د عُنقا ځي
سپور د ناز پر توسن و، زړه ته مې و وې(4) | دا د چا د خونریزۍ په مدعا ځي
چې یوه ډوډۍ په درست(5) جهان قسمت که | لکه لمر تر شرقه غربه په هوا ځي

۳۵۱ طاقت ستا د فغان نه لري "حنانه"
بلبلان چې بیا له باغه(6) په غوغا ځي ۲۵۷۸

د عاشق و ځای ته کله بوالهوس ځي | و څراغ ته پتنګ ځي،(7) نه چې مګس ځي
په دریاب کې دي د غم بېتا دلبره | د حُباب په شان مې سم سر و نفس ځي
چې د عشق شعله یې بله شي په زړه کې | و سره اور ته په هوس(8) لکه قُقنس ځي
رخ دي هسې خوار عاشق سره ابتر کړ | چې په خپل غولي کې کوږ لکه فرس ځي
که رقیب کړې(9) تر ما پورته عیب نه دئ | په دریاب کې ګوهر لاندې پر سرخس ځي
هر عاشق چې شي واصل له نارو پرېوزي | تر منزله په فغان، په شور(10) جرس ځي

۳۵۲ چې جفا یې له ګلرخو ده لیدلې
دا "حنان" به بیا په تُرکو پسې پس ځي ۲۵۸۵

د پتنګ په دود چې شمع لره(11) خوځي | دا په دا دي عاشقان شو بځي بځي
په تش دید زړه له سرې ګلرخان یوسي(12) | له اوله اور لګېږي(13) په پېلو ځي
د زړه اور به مې اسمان و کباب کړئ | کې له مخه پرده نه وای د اوریځي

---

(۱) چاپي دېوان: تاثیر. (2) چاپي دېوان: و درګاه ته د وارس. (3) چاپي دېوان: که هوا که رقیب ستا. (4) چاپي دېوان: "سپور د ناز پر سمند و زړه ته یې و وې". (5) چاپي دېوان: په ګرد جهان. (6) چاپي دېوان: تل له باغه.
(7) چاپي دېوان: پتنځي. (8) چاپي دېوان: په ډېر شوق. (9) چاپي دېوان: که رقیب شو. (10) چاپي دېوان: په فغان و شور. (11) چاپي دېوان: شمع و ته. (12) چاپي دېوان: بوځي. (13) چاپي دېوان: اور لګېږي له اوله.

د معنا پوښ د عمل په صابون پاک که — ظاهري جامې څه وینځې په بروځي
چي په شان د یار د زلفو دي په خوښ یم — که فلک[1] مي کړې را توري د بخت ورځي
د مخ اور یې زما زړه، هېونه[2] وسوه — وچ که لوند وي په ځنګله کي اور یې سوځي

٣٥٣ د بوسې داد که کوې پر "حنان" وخت دئ[3] ٢٥٩٢
طمع نشته د ژوندون د سبا ورځي

د زړه وینې ترلېمو بېتا هردم ځي — له ګلابه چي لمر وخیژي شبنم ځي[4]
چي دي خیال ځي له خاطره په هغه دم — زما روح یې له قدمه سره سم ځي
دستبوسي به دي په هیڅ زمان پرې نه ږدم — که مي سر هره ګړی لکه قلم ځي
تر سینې به په ګل ښخ لکه قلم وي — چي په عشق کي دو زبان و پېچو خم ځي
ستا له دره چي هر دم ځم په ماتم ځم — لکه طفل د استاد پرلور په غم ځي
چي مفلسه شې لاس مه وینځه له رحمه — برګ کشي ده د مېږیانو چي پرنم ځي

٣٥٤ د خپل یار جور و جفا دئ زهیر کړئ ٢٥٩٩
چي "حنان" له درده هسي پر ملاخم ځي

د عشق اور که پټ ساتم زړه و ځان سوځي — کې تقریر کوم په ژبه زبان سوځي[5]
د ګلرخ د لعلو لبو له غیرته — د دریاب په میان کي ښاخ د مرجان سوځي
چي قدم له نازه کښېږدي په چمن کي — له هیبته یې د حُسن ګلان سوځي
که بې اوره چا سوختن نه دئ لیدلئ — د ګلرخو مینه اور ده جهان سوځي[6]
د لسوخته شو لاله ستا د مخ له رشکه — همېشه له خپله عقله نادان سوځي
که سېلونه د ژړا د باران نه وای[7] — د رخسار په اور یې مځکه اسمان سوځي[8]

٣٥٥ د وصال ښادي دي[9] ورکړه رقیبانو ٢٦٠٢
د هجران په اور یوازي "حنان" سوځي

چي په زلفو کي دي ګوتي د شانې ځي — دا په دا مي له لېمو څخه چینې ځي
چي مي زړه و آشفته د مخمور چشمو — بوی د میو مي له زخمه د سینې ځي
دا چي عکس ستا د زلفو پکښې ګرزي[10] — پرېشاني کله له زړه د آئینې ځي
چي دي خیال په کښې مقیم دئ عیب نه دئ[11] — که د ګلو بوی زما له دیرونې ځي[12]

---

(١) چاپي دېوان: چي فلک. (2) چاپي دېوان: زما د زړه هېونه. (3) چاپي دېوان: "د بوسې داد پر حنان کوه نن وخت دئ". (4) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (5) دا مطلع په چاپي دېوان کي دا سي ده:-

د عشق اور که پټ ساتم دل و جان سوځي — کې په خوله تقریر کومه زبان سوځي

(6) چاپي دېوان: "د ګلرخو د میني اور جهان سوځي". (7) چاپي دېوان: "که یې سېل د باران د ژړا نه وي". (8) دا بیت او پنځم بیت سهواً سره لاندي باندي سوي دي. (9) چاپي دېوان: ښادي یې. (10) چاپي دېوان: "چي یې عکس ستا د زلفو په زړه ګرزي". (11) چاپي دېوان: "چي دي خیال پکښې تصمیم شو عجب نه دي". (12) چاپي دېوان: زما له کاشانې ځي.

کـه یـې ولیـده سـپېدې سـتا د دنـدانو
پـه هغـه دم آبـداري لـه دردانـې ځـي

همېشـه یـې(1) پـر سـپین مـخ زلفـي پرتـې دي
ښـامار کلـه پـه تـدبیر لـه خزانـې ځـي

۳۵۶ باده خـوره د یـار پـه بـزم کـې "حنانـه" ۲۲۱۳
بـوی د مهـرو محبـت لـه پیمـانې ځـي

هـر چې بـد وي هغـه بـد پـه عقبـا پـاتې
ړونـد محـال دئ چې لـه خوبـه بینـا پـاتې

و قبلـې تـه د عشـق مـخ د کـل عـالم دئ
و دریاب تـه ځي چي سېل لـه هرځا پـاتې

د زاهـد خـوی تبـدیل نـه مـومي لـه عشـقه
کـوم جاهـل دئ پـه دوا چـي دانـا پـاتې(2)

مشـغول مـه اوسـه پـه غـم د سـبم و زرو
د دنیـا لـه ډېـره فکـره سـودا پـاتې

د لـږ عمـر خوشـالي لـه ګلـه زده کـړه
چې و خـار تـه هـر سـهار پـه خنـدا پـاتې

دا زمـا پـه ژړا خـط د یـار زرغـون شـو(3)
چې بـاران د پسـرلي(4) اوري ګیـا پـاتې

۳۵۷ بې لـه خـدا چـا تـه امیـد مـه کـړه "حنانـه" ۲۲۲۰
د سـائل پـه ډېـره طمـع حیـا پـاتې

د بهـار پـر موسـم سـېل د صـحرا دئ
هـر بلبـل پـه زمزمـه د مرحبـا دئ

زرغـون فـرش دئ د سـبزې پـر غـوړولئ
د هرګـل سـایه یـې چتـر د هُمـا دئ

سـره قبـا ارغـوان واغوسـته لـه شـوقه
زرغونـه عصـا پـه لاس کـې هـر ګیـا دئ

مجنـون بېـد زلفـي لـه خیالـه خړولـي
لـه هوسـه سـوراو ژړ رعنـا زېبـا دئ

ځراغـان د شـګوفې دي پـه هـر بـاغ کـې
هـر طـرف بلبـل جدا جـدا ګویـا دئ(5)

صراحي غونچې پـه غبـړ کـې ده(6) اخیستې
لا لـه جـام پـر لاس نیـولئ مهیـا دئ

۳۵۸ د بهارسـیل لـه یـاره سـره زېـب کـه(7) ۲۲۲۷
و "حنـان" و تـه زنـدان شـو چـې تنهـا دئ

د هـر چـا چـې زړه پـه تـور کاکـل اشـنا دئ
د هغـو د پرېشـانۍ سـفر پـه خـوا دئ

څو آئینه غوندې(8) حیران نه شي په عشق کې
تـر هغـو یـې د دیـدن طاقـت د چـا دئ

چې طاقـت یـې د دیـدن راوړي دا څـوک دئ(9)
د قیامـت تـر لمـر یـې مـخ ډېـر مصـفا دئ

لـه شـوخۍ یـې درس د نـاز پـه زړه کـې نشـته
چې هـر چـین یـې د جبـین مـوج د خنـدا دئ

شـوخ چشـمان کـه نـه رام کېـږي عیـب نـه دئ
لـه سـایې خپلـې، آهـو تـه رم پیـدا دئ

تنګـه خولـه یـې پـه مثـال د مېـږي سـترګه(10)
نـه غلـط شـوم چـې مثـال یـې ناپیـدا دئ

۳۵۹ نـن "حنـان" هسـې فنـا پـه خیـال د ده دئ ۲۲۳۴
چې کـافور د ده د مـرګ(11) صـبح فـردا دئ

---

(۱) چاپي دېوان: همېشه دي. (2) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (3) چاپي دېوان: زرغون شي. (4) چاپي دېوان: په پسرلي. (5) چاپي دېوان: "پر هر ښاخ جدا جدا بلبل ګویا دئ". (6) چاپي دېوان: په غېږ کي دئ. (7) چاپي دېوان: "د بهار دید له ښه یاره سره ښایي". (8) چاپي دېوان: آئینه رنګه. (9) چاپي دېوان: "چې د تش دیدن طاقت یې لري څوک دئ".
(10) چاپي دېوان: د مېږي سترګي. (11) چاپي دېوان: چي کا فور یې د کفن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماوې زلفي دي حاشيې مخ دي کتاب دئ      ويل عقل د دانا په کښي خراب دئ[1]
ماول[2] وروځي دي کږې او حال دي څه دئ      ويل خال مي دئ امام وروځي محراب دئ
ماول څاه دي زنخدان را معلومېږي      ويل ليري ځني څه د زړو ګرداب دئ
ماول سترګي دي بادام کاته دي څه دي      ويل هر ديدن قاتل د شيخ و شاب دئ
ماول نه دي شم تعريف د خولې کولای      ويل خوله مي په سرخي سره ګلاب دئ
ما ويل عالم دي قتل کړه نور بس کړه      ويل څه؟ په عاشقۍ کي دغه باب دئ

٣٢٠ ما ول مړ دي کړ "حنان" په درد د هجر ٢٢٤١
ول[3] په عشق زما د مړو کم حساب دئ

چي رخسار يې ښايسته تر ګل ګلاب دئ      د هغه له لاسه ملک د زړه خراب دئ
آهو مشق د رم له هغه څخه زده کړ      خوشه چين چي يې د زلفو مشک ناب دئ
مار چي هسي پېچ و خم ځي خبر نه يم[4]      چي ليدلئ يې د چا د زلفو تاب دئ
و بهار تې[5] د خط حُسن شو ښېهو ښه      چي نيم پروت دئ په سايه نيم په آفتاب دئ
د ملا خيال يې کړم ضعيف[6] تر هسي حده      چي و ما ته د مېږي اوښکه درياب دئ
و ابرو ته يې مژګان دوعا په دا که      نوې مياشت چي شي ښکاره دوعا ثواب دئ

٣٢١ د "حنان" حال و هغو ته[7] معلومېږي ٢٢٤٨
چي د عشق په عظيم بحر کي غرقاب دئ

عاشقي د راحت ځای نه دئ آشوب دئ      هر قدم چي پکښې اخلې لېونتوب دئ
هغه مومي مدام وصل[8] د سياه چشمو      چي تر سترګو يې روان د زړه زهوب دئ
نه يې شوه په خط بيده فتنه د سترګو      عبث وايي چي شېرين د پسرلي خوب دئ
برى نه وړي هر لښکر چي تر شا ګوري      بې د يار له بانوګانو، دا يې لوب دئ[9]
دا واړه د عشق له فيضه نه دي څه دي      چي رقيب د عاشقانو لکه کوب دئ
بې وهلو سپى رقيب نه پرلار کېږي      همېشه د ګاو خره تعليم په چوب دئ

٣٢٢ تورو زلفو يې طالع د "حنان" تور کړ ٢٢٥٥
چي استاد شاګرد يورنګ شي سړيتوب دئ

عيادت په ظاهر شکل عبادت دئ      په نقطه تر عبادت زيات عيادت دئ[10]
نقصان نه لري پوښتنه د بېمارو      زيات له لويو خلکو ښايي سعادت دئ

---

(١) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) ماول "د واو په زوره کي "ماويل. (3) ول: ويل، وې. (4) چاپي دېوان: "مار چي هسي پېچو تاب ځي نه پوهېږم ". (5) و بهار تې: و بهار ته يې. (6) چاپي دېوان: ضعيف کړم. (7) چاپي دېوان: و هغه ته.
(8) چاپي دېوان: د يار وصل. (9) چاپي دېوان: "ښېله ستا د تورو زلفو دغه لودب دئ ".(10) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. په اصل "خطي نسخه "کي همدا پنځه بيته ده. د پنځم او شپږم بيت لپاره يې تر مقطع د مخه ځای پرې ايښئ دئ او تش پاته دئ په بله نسخه کي هم پنځه بيته ده.

په قدم مي مشرف کړه کور، ښایېږي     د مېږي کره سلیمان ورشي عادت دئ
ستا عشق نه دئ عارضي چي له ما ولاړ شي     دم په دم لحظه لحظه یې زیادت دئ

۳۲۳ له ګوښې د سترګو لږ څه نظر وکړه
ستا له دیده د "حنان" مراد شهادت دئ ۲۲۷۰

څه شو که یار مي په سل رنګه اضطراب ناست دئ     لکه شعله پر سر د اور په پېچو تاب ناست دئ(1)
نهان کاته یې لکه روح په رګ و پی کي لاړ شو     او شکر خند یې شو نمک چي پر کباب ناست دئ
دغه تورخال چي یې د خولې په کونج کي وینې، نه دئ     دغه هندو دئ پر کنار د حیات آب ناست دئ
څوک به یې خلاص شي له غمزو د هغه شوخ بېباکه     چي کښلئ دئ خنجر د کین او په عتاب ناست دئ
دا په رخسار باندي یې تار د زلفو دئ حلقه     دغه لړم دئ و رڼا ته د مهتاب ناست دئ
زاهده زړه ته د عاشق په حقارت مه ګوره     چي ګنج د عشق یې همېشه پر زړه خراب ناست دئ

۳۲۴ مجروح "حنان" له دره مه شړه دوا یې وکړه
چي په امید دا ستا د لبو د عناب ناست دئ ۲۲۷۷

تن په زخم دئ معمور زړه په غم ښاد دئ     ستا د جور په همت اقلیم آباد دئ
د نامې د ورو حاجت قاصد ته نشته     د خپل آه په لاس بې ورکم کاغذباد دئ
ستا د قد له شرمه سروه ده ولاړه     دا مریی(2) به کله وتښتي آزاد دئ
که تصویر نقاش دا ستا د رخسار وکیښ     افرین یې پر قلم باندي، استاد دئ
چي و زلفو ته دي لار شانې پیدا کړه     د حیات په اوبو لوی مګر شمشاد دئ
کامراني(3) په عشق کي هیچا پیدا نه کړه     که مجنون و، که وامق و، که فرهاد دئ

۳۲۵ جنت زمونږ دئ زړه خوشاله کړه "حنانه"
دا له پلاره پاته باغ وقف اولاد دئ ۲۲۷۴

نن مي زړه بندي د هغه پریزاد دئ     چي د زړه په ورو کي څه رنګه استاد دئ(4)
د تور بخت را سره هسي اشنایي ده     چي په عمر مي له عیشه زړه ناښاد دئ
څه آزار مي دئ اخستئ نه پوهېږم     پر هر مخ چي شم مین هغه جلاد دئ
چي مي نه را موجود بېږي ورځ د وصل     ګذران مي د جرس په دود فریاد دئ
چي له هجره یې مدام آه و فغان کړم     له نارو مي سنګ و کوه واړه په داد دئ
دوه طاسونه مهر و ماه اسمان تخته ده     ستوري کل سره مُهرې فلک نراد دئ

۳۲۶ چي دا هسي رنګ حریف لرې "حنانه"
دغه ستا سعیَ و کوښښ واړه برباد دئ ۲۲۸۱

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) چاپي دېوان: دا غلام (3) چاپي دېوان: کامیابي. (4) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د مخ مثل ګل کله د بهار(1) دئ — که لاله، ګلاب، سمن دئ که ګلنار دئ
ستا د قد په تماشه یې(2) مېوه ولاړه — که نشتر، سروه، عرعر دئ که چنار دئ
حیرانېږم دي و طرح ته د زلفو — بنفشه، سنبل، که مشک دئ او که مار دئ
ستا د دید په طمع پورته کښته ځغلي — مشتري، شمس و قمر دئ که عطار دئ(3)
دا ستا لبو یې د زړه وینه کړه وچه — که مرجان لعل و یاقوت دئ که سوفار دئ(4)
خیال د سترګو مې دي زړه له واکه(5) ویوست — چې شراب، پیاله که مې(6) دئ که خمار دئ

۳۲۷ — په تعریف دا ستا د مخ "حنان" ویېږي
څه زبان، ویل، څه نطق، څه ګفتار دئ — ۲۷۸۸

په نسیم دي د وصال خرم بهار دئ — ګلچین ستا د مخ د ګل هر ګلعذار دئ(7)
تسلي مې د عُذار په بوسه وکړه — چې قرار و نیسي زړه مې نا قرار دئ
چې نظر د باغ پر ګلو پر ګلزار کړم — بې له تا راته هر ګل په مثل خار دئ
په هوا ستا د میګونو لبو لعلو — یو هم نشته چې په بزم کې هوښیار دئ
ستا بیمارو سترګو زه هسې بیمار کړم — چې کا ته د نرګس ګل را باندي بار دئ
چې له خاره ځغلي ستا له خود بیني ده — ولې ګوره د پښو خار ګل د دستار دئ

۳۲۸ — د هر ښکلي طلب کړي "حنان" بېخوده
د مفلس په شان د هر کونج طلبګار دئ — ۲۷۹۵

مخ دي ګل قد دي تر سروي(8) برابر دئ — ګلعُذاره ستا د سروي ګل ثمر دئ
خوش قلمه صحیفه ژر ژر تورېږي — ستا و مخ ته د تور خط رقم ضرر دئ
چې له غشو د مژګانو دي(9) ببرېږي — آئینې په لاس کې تل آهني سپر دئ
شمع ژاړي پتنګ سوځي له حیرته — په مجلس کې چې زما د درد خبر دئ
د وصال شپه دي(10) هر ګوره ژر تېرېږي — د عشاقو د مجلس شمع شرر دئ
چې په خواب خیال د خولې د غونچې وینم(11) — د بلبل له بانوګانو زما بستر دئ

۳۲۹ — د جنت په باغ قانع مه شه "حنانه"
د عاشق پر همت دا ځای مختصر دئ(12) — ۲۷۰۲

ستا د مخ د شغلې اور دئ — چې یې سوئ زما کور دئ
دا دي(13) زلفې پر ګردن دي — که افعي پر چندڼ سپور دئ
دا یې خال په رخسار نه دئ — پر ګل باندي بورا تور دئ

---

(۱) چاپي دېوان: د ګلزار دئ. (2) چاپي دېوان: ستا د قد په نظاره یې. (3) چاپي دېوان: "مشتري، شمس و قمر ستوری د سهار دئ". (4) چاپي دېوان: "که مرجان، یاقوت، عقیق لعل آبدار دئ". (5) چاپي دېوان: له هوښه و یوست. (6) چاپي دېوان: که خم دئ. (7) دا غزله په چاپي دېوان کې نسته. (8) چاپي دېوان: قد دي سرو برابر دئ. (9) چاپي دېوان: ستا و ېرېږي.
(10) چاپي دېوان: د وصال شپه یې. (11) چاپي دېوان: "چې په خوب کې خیال د غنچې وینم". (12) چاپي دېوان:-
په جفا یې ولې وژنې بد نامېږې — د حنان و مرګ ته هر بانو خنجر دئ

(13) چاپي دېوان: دا یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژړا مي هسي خاندي — لکه ګل په باران خپور[1] دئ
که رقیب له ما څه وایي — دروغ وایي مخ یې تور دئ
دا یې سترګي خط ته ګوري — که آهو یې سنبل خور دئ

۳۷۰ ستا د سترګو له تاثیره
"حنان" هم د مجنون ورور دئ ۲۷۰۹

و وحدت ته نژدې زړه له ځانه دور دئ — د دې باغ د ګل غونچه سر د منصور دئ
د یار خیال ته مي خالي کړ د زړه غولی — میلمانه لره تیار شي سرای، دستور دئ
وچېده نه که یو دم د زړه له نمه — په لبمو کي مي توپان دئ که ناسور دئ ویني
څه ښه رسم دئ د عشق په شریعت کي — وچنیي دم زدن کله د دستور دئ
هیڅ پروا نه که زما له ساړه آهه[2] — د ښایست په میو مست هسي مغرور دئ
ستا رقیب په بدو ښو خبردار نه یم — د یار خیال په هر ساعت را ته حضور دئ

۳۷۱ په خوبانو کي مدام که په دا فخر
چي "حنان" رنګه عاشق را باندي چور دئ ۲۷۱۶

ما وې زړه مي ستا په زلفو کي اسیر دئ — ویلې[3] هر زمان مجنون لره ځنځیر دئ[4]
ما وې ستا مژګان مي ولیده په خواب کي — ویلې دغه خنجر ستا د مرګ تعبیر دئ
ما وې داد به له تا غوارمه په حشر — ویلې تا رنګه هر یو مي دامنګیر دئ
ما وې ډېر ستم پر ما مه کړه ضعیف یم — ویلې کړئ ما دا ستا د مرګ تدبیر دئ
ما وې زلفي شب قدر، مخ دي څه دئ — ویلې جبین مي په ښایست بدر منیر دئ
ما وې زلفي، خال و خط را ته لښکر شو — ویلې تور خال مي لا وګوره امیر دئ

۳۷۲ ما وې مه سوځه "حنان" په داغ د هجر
ویلې هر چیر ته زما د قتل ویر دئ ۲۷۲۳

که خوبان تر سر بالښت مدام د پر ږدي — زما یار له مغروري فتني تر سر ږدي[5]
د شوخ چشمو له مژګانو حذر بویه — و پهلو ته د پرهیز تېره خنجر ږدي
د کاکل له خوشبو یې یې څه تعریف کړم — چي نغمه پر زړه د مشک و د عنبر ږدي
چي لذت د یار د سرو لبو پیدا که — هغه کله بیا پر جام خوله د کوثر ږدي
له دا هسي[6] درده ورک پر صحرا ښه یم — چي پر کور بیمار په روغ عالم ضرر ږدي
د نه دید ګیله له مستو سترګو مه کړه — کله مست قدم پر لاري برابر ږدي

۳۷۳ په را تله د یار د خیال د مهمانۍ دئ
چي "حنان" له ژبې هسي دُر ګوهر ږدي ۲۷۳۰

(۱) اصل: خور. (2) چاپي دېوان: له ساړه آه. (3) ویلې = ویل یې، وې یې. (۴) دا غزله په اصل کي نشته.
(5) چاپي دېوان: فتني ته سر ږدي. (6) چاپي دېوان: له دې هسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر سپين مخ چې توري زلفې چين پر چين ږدي | بنفشه پر کناره د نسترين ږدي
زما په مرګ و ژوند دا ستا چشمان خبر دي | څه زما په مرګ و خلکو ته ياسين ږدي
چې دي مړ کړم په غمزه د تورو سترګو | نور مې ولې لکه مار پر تور و سپين ږدي
خال و کيل دئ ستا د مخ په خزانه کې | چې يې هسي [1] رنګ پر تخت د خپل جبين ږدي
اشنای و شړي له دره رقيب بولي | پر بلبل باندې نومونه د ګلچين ږدي
له رقيبه سره درومې در پوهېږم[2] | چې له ما سره نن بيا بازي د کين ږدي

٣٧٤ — ٢٧٣٧
بېلتانه دي ضعيف کړئ دئ هر ګوره
پر "حنان" د هجر بار ولې سنګين ږدي

عاشقي اور ده، عاشق لکه پتنګ دئ | پتنګ ډېر له زندګۍ څخه په تنګ دئ
دا زما کم طالعي نه ده نور څه ده[3] | چې له څنګه مې اشنا هسي پر څنګ دئ
د بلبل له ګرمه آه نه دئ څه دئ | ګل چې هسي د خپل ځان په وينو رنګ دئ
په وسعت کښې د امکان کله ځايېږي | ازاده زړه لره باغ د دنيا تنګ دئ
ترس بې خدا له هيچا نه لرم په زړه کښې | د پلنګ له پوسته جوړ زما پلنګ[4] دئ
عشق مې بخره له ازله ده زاهده | او که ستا د خدای له امره سره جنګ دئ[5]

٣٧٥ — ٢٧٤٤
له ګلرخو ډېر پرهېز کوه "حنانه"
هر نظر يې تېر تر غشي د خدنګ دئ

زړه اخته[6] دا ستا د ميني په جنجال دئ | چې روزګار يې د دنيا واړه پايمال دئ
که سينه مې څوک روضه بولي ښايېږي[7] | چې پکښې د ګلرخانو د مخ خيال دئ
له لبانو يې خجل د يمن لعل | او تر سترګو منفعل د چين غزال دئ[8]
چې مدام ستا د جفا فکرونه چونم | له دا غمه[9] مې زړه سوری لکه غربال دئ
چې وعده مې يې[10] د مرګ وه پرون کړې | بيا پر څه يې نن سُستي[11] هومره اهمال دئ
چې کرام الکاتبين نه په خبرېږي | د عاشق معشوق دغه رنګه احوال دئ[12]
ستا بې مخه مې نه ذکر شته نه فکر | سر مې کړئ صدقه ستا د جمال دئ[13]

٣٧٦ — ٢٧٥٢
ستا د غم په درانه بار اموخته شوئ
و "حنان" ته غر په مثل د مثقال دئ

---

(١) چاپي دیوان: چې دا هسي. (2) چاپي دیوان: زر پوهېږم. (3) ب: نو څه ده. (4) پلنګ = پالنګ. (٥) دا بيت په "ب" کې نسته. (٦) چاپي دیوان: زړه مې اړ. (٧) چاپي دیوان: "ښايي نن دا زما سينه څوک روضه بولي". (٨) چاپي دیوان:-
د يمن لعل شرمېږي ستا تر لبو | او تر سترګو دي خجل د چين غزال دئ

(٩) چاپي دیوان: له دې غمه. (١٠) چاپي دیوان: مې دي. (١١) چاپي دیوان: بيا پر څه دي توقف. (١٢) دا بيت په چاپي دیوان کې نسته. (١٣) دا بيت په اصل کې نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حلقه، کړه، ځنځیر دئ (1) که سنبل دئ — اژدها، بلا تیاره که کاکل دئ
له تقسیمه د جهان چې هجران راکړه — درد و غم، بلا و صبر(2) و تحمل دئ
مابقي د عشق له اوره شوه را پاته — آه فغان، ناله فریاد(3)، شور د بلبل دئ
په ګلشن کې دي بې مخه راته خار شو — بنفشه، نرګس، لاله، سمن که ګل دئ
د میګونو لبو لعلو(4) په ساغر کې — ارغوان، لاله، شفق شو او که مُل دئ
واړه زما په ځان بلا شو نه خلاصېږم — ظلم جور، که عتاب که تغافل دئ(5)

۳۷۷ یار سیاه پوښه ستا و مرګ ته دئ "حنانه"
زلفي، وروځي، خال و سترګي تسلسل دئ ۲۷۵۹

په ګلشن کې یې لیدلئ ستا کاکل دئ — چې دا هسې آشفته ولاړ سنبل دئ(6)
مخ دي شمع ده که ګل ور ته حیران یم — چې عاشق یې هم پتنګ دئ هم بلبل دئ
چې دي زلفي، سترګي خوله ملاحظه کړم — له ښایسته دي په مخ کې تسلسل دئ
شوخ کاته یې ډېر ډېر مه کوه و مخ ته — په کتو چې خرابېږي د غه ګل دئ
دواړه دي زما د قتل اسبابونه — د رقیب کاږه ویل ستا تغافل دئ
خوشي وایي چې په صبر مراد حاصلېږي — چې دښمن پرما غالب کړي، تحمل دئ

۳۷۸ لفظ لولي معنا نه ویني "حنانه"
دا ستا حرف د هر حاسد د سترګي ګل دئ ۲۷۶۲

د سپاهیانو که زینت په زغره خول دئ — د فقیر خرقه ده زغره(7) خول کچکول دئ
د توښې زېرمه دلې درته بایده ده — د قیامت(8) په دښت کې نشته اوبه، چول دئ
د یوې زرې بازخواست در خښه کېږي — د نېکۍ او د بدۍ عمل په تول دئ
تا له خدا سره وعده د بلی(9) کړي — پر وعده وکړه وفا د مړو بول دئ
د خسیس دولت و ما ته هسې نمایي — لکه پوري په نابودي ناوي پسول دئ
پس له مرګه چې دولت پاته شي واروه — بل څه نه دئ د خراب ایوان مرغول دئ(10)

۳۷۹ اعتماد وربانـدي مه کوه(11) "حنانه"
دا جهان څه بنیاد نه لري کچول دئ(12) ۲۷۷۳

(۱) چاپي دېوان: دا حلقه ده که ځنځیر دئ. (2) چاپي دېوان: حیا صبر. (3) چاپي دېوان: آه فریاد ناله فغان.
(4) چاپي دېوان: د میګونو لبو عکس. (5) چاپي دېوان:-

جوړ یې کړه زما د قتل اسبابونه — نه پوښتنه نه راتله بل تغافل دئ

(6) دا غزل په چاپي دېوان کې نسته(7) چاپي دېوان: خرقه زغره(8) چاپي دېوان: د محشر.(9) (الست بربکم قالوا بلی) ته اشاره ده(10) دا بیت په چاپي دېوان کې نسته(11) چاپي دېوان: اعتماد د ابادۍ مه کړه.(12) چاپي دېوان: کچکول دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ترلئ یې د یار د دراحرام دئ — پر هغو د بېغمۍ خوب حرام دئ [1]
پوخ مین د یار له جوره فریاد نه که — چې د یار له جفا ژاړي هغه خام دئ
چې د زړه وینې [2] خورک وي په هجران کې — و هغو ته د سرو لبو لعل انعام دئ
د ناصح په نصیحت کله را ګرزي — له ازله چې [3] اخستئ د عشق جام دئ
چې یې ستا زلفي رخسار ګرزي په زړه کې — هغه څه خبر په صبح یا په شام دئ
ستا د خولې بوسه د سترګو پرما یو ده [4] — و مستانو ته یو پسته بادام دئ

۳۸۰ لکه توان چې د اور سوي یو ځای نه وي — ۲۷۸۰
دغه حال پرما "حنان" علی الدوام دئ

توري زلفي چې دي هسې پیچو خم دي — که دي سل زره عاشقه دي لا کم دي
دا ستا سترګي مې لیدلي سبب دا دئ — غزالان چې مکرره له ما رم دي
سره لبان دي له عقیقه خراج غواړي مرده — او نرګس دي دواړه سترګي د ارم دي عیسیٰ
پاخي په آرزو دا ستا د لبو — دمه کل دمونه ستا په دم دي
عاقبت به مې جهان اوښې توپان که — ډېري خوني وراني کړي دغه زیم دي
دا پخپله راته قهر خښم کاندي — که رقیب درته ویلي زیات و کم دي

۳۸۱ "حنان" نه دئ اوښتونئ ستا له لوري — ۲۷۸۷
په تاراج یې رقیبان ځکه خُرم دي

څو مې [5] ایښئ ستا په مینه کې قدم دئ — له هغه راهیسې مل راسره غم دئ
بې له تا راته غونچه شي سره سکروټه — دغه ستا په تنګه خوله زما قسم دئ
ستا و سترګو ته شوخ چشم حیرانېږم — چې یې مړ کړ کل عالم لا وایي کم دئ
تماشې د سروي نه شم کړای دلبره — چې قامت مې ستا له قد له خیاله خم دئ
ګل ورقې د خپل ځان ورکړې و باد ته — چې [6] لیدلئ ستا د مخ د خط رقم دئ
چې په وصف ستا د خولې مې لبان [7] خلاص کړه — تر سیني مې زبان شق له قلم دئ

۳۸۲ د "حنان" د سترګو تور که سپین شي ښایي [8] — ۲۷۹۴
ستا رخسار لره [9] دا دید هم نا محرم دئ

سوي ناري د بلبل وګوره پر ګل باندي — دلسوزي نه شي د ګل هیڅ پر دا بلبل باندي [10]
خیال د معشوق د خوار عاشق له سره کله وزي — که د بلا د آفتو شي تسلسل باندي
کې نظر نشته پرما خوار باندي عجبه نه ده ګل د — ناسته د بازوي د شاهانو په منګل باندي
ګلاب یې له رخساره په هر دم شرمېږي — او توري زلفي یې ناز کاندي پر سنبل باندي

---

(۱) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.(2) وینې = ویني یې.(3) چې= چي یې. (4) دا ځای په اصل کي لږ څه مغشوش دئ ما له بلي نسخې څخه سم کړ. (5) چاپي دېوان: چي مي ایښئ.(6) چې= چي یې. (7) چاپي دېوان: شونډان.
(8) چاپي دېوان: که سپین شو ښه شو. (9) چاپي دېوان: ستا دیدن لره.(10) دا غزل په (ب) او چاپي دېوانو کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نوی خط یې د زړه دام دئ خلق خوشي بېځا — ګیله کوي او تهمت کاندي پر کاکل باندي
د عشق فرس عاشق ته زین دئ نه نور چا لره بس — بې علي کله سواري کېږي پر دلدل باندي

۳۸۳ چې دي د یار د جفا جور هومره تاب راوړئ ۲۸۰۱
شاباس "حنانه" ستا پر هسې تحمل باندي

ستا بې مخه ګلستان راته زندان دئ — ستا بې سترګو نرګسدان راته تیردان دئ
شوخ چشمان که چاته سم نه ګوري څه شو — نرګس هم سر ځوړلئ پر دامان(1) دئ
د وصال ښادي هجران کړه له ما هېره — و خپه ته د پسرلي فصل خزان دئ
خوار سړی چې روزي مومي ځان سلیمان که — پل د ژرندې د مېږي تخت روان دئ
په وعده د ساده لوحو غلط مه شه — د سپوږمۍ په شپه تشخیص د صبح(2) ګران دئ
مشقت غواړي چې کاني ښیښه کېږي — څو زړه ویلې نه شي بیت تر هغه ګران دئ

۳۸۴ پر خاطر یې هیڅ اثر نه شي "حنانه" ۲۸۰۸
نه پوهېږم زړه یې کاڼی که سندان دئ

چې د عشق شور یې په سر کښې وي شادان دئ — د چراغ په دود په بزم کښې خندان دئ(3)
په تکلیف د عشق کړه د فلک ملا شوه — و انسان ته دا بار ځرنګه اسان دئ
بار د عشق اخیستئ نه شو ملائکو — دا په غاړه کښې لوېدلئ د انسان دئ
عشق له دینه سړی باسي و بل دین ته — ګواه پر دا خبره نقل د صنعان دئ
پس له مرګه صاحب دله بد مه بوله — وینې ویده دواړه د دي قوم یکسان دئ
د هر درد علاج اسان په دوا کېږي — بې له عشقه چې هر درد یې بې درمان دئ

۳۸۵ ته په خپل فعل کښې سم نه یې "حنانه" ۲۸۱۵
ملامت دي په خبرو کښې اسمان دئ

بیا دي هسې کړم هجران تر غمو لاندي(4) — چې اواز مې تر خوله نه وزي دباندي(5)
چیرته صبر له تا چیرته زما اوښې — تیمم نه شي چې وي او به بهاندي
دا له تا یې د ښه بوی سبق اخیستئ — هرسحر په ویړه خوله چې ګلاب خاندي
ستا د مخ په مثل ګل مې بیا و نه لید — که هر څو مې نظر وکړ وروستو وړاندي
د سمند نعل دئ شکل د محراب — دا په دا دئ عاشق هرځای سجده کاندي
چې په صدق ستا د مخ د ګل خواهش که — لکه صبح همېشه په رښتیا خاندي

۳۸۶ په رښتیا دي محبت نه دئ "حنانه" ۲۸۲۲
په دا څه شو پر کاغذ کوي کښاندي

(۱) چاپي دیوان: پر بیابان باندي. (2) چاپي دیوان: د منجم ګران دئ. (3) دا غزل په(ب) او چاپي دیوانو کي نسته
(4) په بله نسخه کي دا غزل د دال د ردیف دئ. (5) دا غزل په(ب) او چاپي دیوانو کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توري زلفي دي خوري په رخسار باندي[1]     د شاهین وزر خواره شي پر ښکار باندي[2]
زما د مرګ احوال ساتي د یار له سترګو     نه کوي د مرګ خبر پر بېمار باندي
ستا پر زلفو باندي زړونه سره ټول دي     لکه جمع شي چوغکي پر مار باندي
چي دي غشی تر زړه ووت په خبر نه شوم     آفرین دي وي پر هسي ګُزار باندي
مخ دي هسي دئ ښکاره په نوي خط کښي     لکه ګل چي وغوړېږي پر خار باندي
په خپل ځای باندي هر کوږ ترسم ښه ابسي     لکه زلفي د نګار پر عُذار باندي

۳۸۷     زه "حنان" به سرور پورته کړم له قبره
کـه مي یار وکړ ګُذر پر مزار باندي     ۲۸۲۹

ستا په غم کي به تر کومه یم بندي     مګر نه لري بندي ستا خورسندي
دا د غم شپې به تر کومه تېرومه[3]     چي مدام[4] زما زاري ده ستا توندي
عاشق کله د رقیب خبره وړای شي     له حریفه سره تل بویه ګوندي
په خبرو یې باور مه کړه دلبره     چي رقیب مي هر ساعت درته غندي
سرو قد که سازش نه که عیب نه دئ     سروه نه ده چا لیدلې پیوندي[5]
پر یوه قرار ثابت دا جهان نه دئ[6]     پیدا شوې ده پستي و بلندي
واړه ستا د بې نیازۍ نه دئ نو څه دئ     چي دي زه د درست عالم کړم ریشخندي[7]

۳۸۸     وعده وکړې په دروغو دا څه کار دئ
له "حنانه" سره مه کوه رندي     ۲۸۳۷

دا څه زلفي، څه رخسار او څه ذقن دئ     څه سنبل او څه ګلاب څه نسترن دئ
دا څه مخ دئ دا څه زلفي دا څه خط دئ[8]     څه لاله، څه بنفشه، څه یاسمن دئ
دا څه خال دا څه جبین دا څه تمکین دئ     څه پادشاه دئ دا څه تخت، څه نشستن دئ[9]
دا څه قد دئ دا څه سترګي دا څه مخ دئ     دا څه سروه، څه نرګس دا څه ګلشن دئ
څه سبزه ده څه ګلاب دئ څه غونچه ده     دا څه خط دئ څه عُذار دا څه دهن دئ
څه مژګان دي، څه ابرو دي څه کاته دي     دا څه غشی، څه لینده دا څه زدن دئ
دا څه لب دئ، دا څه غاښ دئ دا څه ناز دئ     څه مرجان دئ څه ګوهر دئ دا څه فن دئ[10]

۳۸۹     دا څه یار دا څه "حنان" دا څه اغیار دئ[11]
دا څه ګل دا څه بلبل دا څه زغن دئ     ۲۸۴۵

د دوزخ تر اور بتر د یار بېلتون دئ     په سینه کښي مي زړه سوئ اندرون دئ
چي را یاد یې خیال د زلفو شي هغه دم     د نافې په دود غذا مي د زړه خون دئ
لکه کونده د اشنای له غمه ژاړي     که رستم د زمانې که افلاطون دئ[1]

---

(۱) دا غزل په (ب) او چاپي دېوانو کي نسته. (2) په بله نسخه کي دا غزل د دال د ردیف ده. (3) چاپي دېوان: تېرومزه. (۴) چاپي دېوان: چي همېش. (۵) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (۶) چاپي دېوان: نه‌وي. (۷) دا بیت په اصل کي نسته.
(۸) چاپي دېوان: "دا څه مخ دئ دا څه خط دئ دا څه زلفي". (۹) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (۱۰) دا بیت په اصل کي نسته. (۱۱) اصل: "دا څه یار دا څه اغیار دا څه حنان دئ".
(۱) ب:-

که قیامت چا په دنیا لیدلی نه دئ — جدايي د یار قیامت، بلکې افزون دئ
شپه و ورځ چې د اشنای له هجره ژاړم[2] — یوه سترګه مې دجله بله جیحون دئ
کباب کړئ جدايي د خپل اشنای یم[3] — چې له درده مې پاره پاره لړمون دئ

۳۹۰ پـه مرګ هیڅ سړی رضا نه وي "حنانه" ۲۸۵۲
د وداع په ساعت مرګ بِه، تر ژوندون دئ

هسې نه چې یو عاشق تنها محزون دئ — ګُذران د درست جهان په ځګر خون دئ
چې له طمع لاس کوتاه که تل به خوښ وي — په څلور فصله د سروي پوښ زرغون دئ
لار و زړه ته نه لري کړېږ خبري — د درګاه د حلقې ځای ځکه بیرون دئ[4]
د غفلت ګرز پاڅوي د سهار اوښې[5] — د ژوند چرک لره[6] پیري سپیدي صابون دئ
چې یې کور پر اندازه د خپل بدن وي — مچمچۍ په دود یې تل شېرین ژوندون دئ
چې له نفسه سره ښه کړي لا بتر شي — لېونی سپی د احسان کله ممنون دئ

391 لاس به وا نه خلي تر مرګه ستا له مینې ۲۸۵۹
پـه دا جهل کې "حنان" هغه پښتون دئ

بیاېې لاس د چا په وینو کې رنګین دئ — دا شوخ چشم چې فتنه د اهل دین دئ
څو به ګرزوم په مخ کې سپر د صبر — چې په لاس کې یې نیولئ تېغ د کین دئ
چې د مخ په خیال کې تل په وینو ژاړم[7] — زما له اوښو یې کوڅه خلد برین دئ
چې یو ښکلی چیري وینې[8] ځغلوي مې — زړه مې نه دئ دا دښمن پهلو نشین دئ
په آئینه کې چې ځان ګوري په غلا ګوري — ښایسته دلبر مې هسې شرمګین دئ
ستا د زلفو په سودا کې مې زیان نشته — په تکرار مې پوښتېدلئ شانه بین دئ

392 پر "حنان" باندې د مشکو باران اوري ۲۸۶۲
چې په خیال کې یې د یار خط مشکین دئ

دایې لاس د کوم مظلوم په وینو سره دي — چې له ګوتو یې د وینو تویېده دي
مشق د چا د خونرېزۍ کړي خبر نه یم[9] — چې له سترګو یې د وینو څڅېده دي
زلفي وروځي، سترګي خط، خال و رخسار هم — دغه شپږ زما په قتل سره مله دي
له نوخطو[10] خواست د زنې د سبب بویه — د پخې مېوې له ښاخه پرېکېده دي

---

لکه کونده چې ژړا کا هسې ژاړي — د اشنای په غم د عصر افلاطون دئ

(2) ب: له غمه ژاړم. (3) ب: اشنا یم. (4) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (5) چاپي دېوان: د صحرا اوښې؟.
(6) چاپي دېوان: چرک ته. (7) چاپي دېوان: "چې په خیال یې د مخ تل ژاړم په وینو "(8) چاپي دېوان: چیرته مومي.
(9) چاپي دېوان: نه پوهېږم. (10) چاپي دېوان: د نو خطو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښادي څه غواړي په عشق کې د ګلرخو | تمامي عمر د زړونو سولېده دي
که په زور رستم، په عقل افلاطون وي | د زارۍ واښه يې ترکو ته[1] په خوله دي

393 و حمید ته هیڅ دئ ستا شعر "حنانه"
د کبلي له مسته شېره[2] سره څه دي ۲۸۷۳

ستا د مخ چې جویان نه دئ | د بو یا دد دئ انسان نه دئ
چې سر نه بازي دلبره | دا ستا وصل اسان نه دئ
ستا د خولې له شباهته | کوم دئ ګل چې خندان نه دئ
ستا د سترګو له هیبته | آهو مخ پر بیابان نه دئ
کوم دئ زړه چې ستا له هجره | تمام عمر ګریان نه دئ
زه و هغه ته حیران یم | چې تا وینې حیران نه دئ

394 ستا د مخ عاشقان ډېر دي
له دا جمعې "حنان" نه دئ ۲۸۸۰

د اشنای له لوري سلام راغلئ دئ | پر دواړه لېمو باندي مې منلئ دئ
قاصده جار دي تر قدمو شم | حال راته وایه چې یې ویلئ دئ
تکرار کوه پر هره خبره | چې خوږمن زړه مې له ځایه تللئ دئ
دمه مې ستا په ویلو کېږي | حال راته وایه چې دي ساتلئ[3] دئ
د وصلت زېری را باندي وکړه | زړه مې هجران په غمو نتلئ دئ
تللئ نفس مې بیا بیرته را غئ | سلام د یار چې مې اروېدلئ[4] دئ

395 د وصل ګل بې "حنانه" بوی کړم
د هجر خار مې تر زړه ختلئ دئ ۲۸۸۷

ستا له غمه مې مدام هسې زګېروی دئ | چې طبیب له دغه درده په وی وی دئ[5]
لکه نی مدام فریاد و فغان کاندي | هغه زړه چې ستا د عشق په تېغ سوری دئ
خواست پر وخت باندي کوه د نوخطانو[6] | مسافر د بل هیواد په زړه نری دئ
هرچې پرېوزي د ختو طمع یې نشته | ستا د زني یو عجب عمیق کوهی دئ
حاجت ستا و تېغ ته نشته مري په خپله | هر عاشق جدا جدا لکه ماهی دئ
که رقیب دا ستا په مخ که په ما رَخه | د خاوند له مخه سپی لکه زمری دئ

396 ستا د زلفو په ځنځیر تړلئ بویه
"حنان" وینم نن سبا چې لېونی دئ ۲۸۹۴

---

(۱) چاپي دېوان: واښه و ترکو ته. (2) چاپي دېوان: د مست شېره سره. (3) ب: څه دی. (4) ب: اوربدلی. (5) دا غزل په اصل او "ب" کې نسته. (6) دا بیت دوې ځېې کم دئ د (باندي) کلمه ما پر زیاته کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېهوده کړې و خوبانو ته زاري　　نه مني له ډېره کبره ستا خواري
په څه طمع له ګلرخو د دوام کړې　　چالیدلې ده د ګل وفاداري
پرمحک د اهل دلو نه صافېږي　　چې ګداز نه که د عشق ګره ناري (1)
غفلت مه کوه د خط پر وخت د زلفو　　حذر بویه له مارانو بهاري
نه خپلېږي په احسان رقیب بې مخه　　څه پوهېږي یاغي خر په آبداري
په مروت په مدارا کله پوهېږي　　پر سرکوزو(2) باندي نه کېږي سواري

397　　چې مي(3) یار کړه د رقیب ناپوهي خوښه　　له "حنانه" څخه ولاړه هوښیاري　　۲۹۰۱

پر چمن پیدا شو خط زنګاري　　ساقي راوړه نن شراب ګلناري(4)
په ګلشن کې ستا د مخ تجلّی وشوه　　دا چې هسې ده د ګل چهره ناري(5)
ما وې عرض به د تنګ زړه دا ستا پر خوله کړم(6)　　و مې نه لیده(7) خوله، هېره شوه زاري
د یمن د لعل قیمت دي لبو مات کړ　　تنګه خوله دي په خندا ګهرباري
پر عصا نرګس تکیه کړې په دا ده(8)　　چې ور پېښ شوه(9) ستا د سترګو بېماري
په بیضه کې د عُنقا به تري خلاص نه شي　　د خیال باز مې د مضمونو(10) دئ ښکاري

398　　چې له خاورو هسې رنګ بشر پیدا که　　صُنع وګوره "حنانه" د باري　　۲۹۰۸

چې یې(11) سترګي کړې د ناز په رنجو توري　　له کتو یې فتنې پاڅي پر هر لوري
ته زاهد چې دم د صبر پر ما لولې　　په پوکل مې اور تازه شو مه کړه نوري
سترګي نه دي دغه سحر(12) د فرنګ دئ　　چې بلا ځنې پاڅېږي آدم خوري
رهزني یې له چا زده کَړه دا ستا سترګو　　چې مدام پرځای د ستړو لاري ګوري
غابښ یې هسې په سرو لبو کې نمایېږي　　لکه کله(13) په لاله کې ژاله اوري
په یوه نګاه(14) ادا کړم شوخو سترګو　　چې خوړلئ مې دئ غشی(15) پوري ووري

399　　له "حنانه" په افلاس شوه مینه پاته　　چې د وخت خوبان ښایست په زرو پلوري(16)　　۲۹۱۵

---

(۱) چاپي دېوان: "چې ګدا رنګه د عشق کړي ناري ".(2) چاپي دېوان: پر سرکوزي (3) چاپي دېوان: چې بې.(4) چاپي دېوان-

ساقي راوړه نن شراب ګلناري　　چې پیدا شو خط زنګاري

(5) چاپي دېوان-

په پیاله کي د ګل توی سبا شراب کړه　　په یوه پیاله شو مخ د ګل ناري

(6) چاپي دېوان: "ما وې عرض به تنګ زړه کړم ستا و خوله ته" (7) چاپي دېوان: چې مي نه لیده. (8) چاپي دېوان: کړې ده ولي. (9) چاپي دېوان: شوه ور پېښه. (10) چاپي دېوان: د مضمون دئ. (11) چاپي دېوان: چې دي. (12) چاپي دېوان: سترګي نه دي ګو سحر. (13) چاپي دېوان: ګویا عین. (14) چاپي دېوان: په یوه وار یې. (15) چاپي دېوان: د مستانو غشی وزي. (16) اصل: ښایست پلوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک چي جام د لبو د دلبر خوري          هم هغه پر دا دنیا آب کوثر خوري
چي سیالي کوي د یار له شوخو سترګو          همیشه لکه بادام کاڼي پر سر خوري
چي ارمان د یار د خولې لري په زړه کي          د غونچې په دود مدام خون جګر خوري
دلنشین چي یې شي خیال د بانوګانو          هغه هر ساعت[1] پر زړه باندي خنجر خوري
د جفا تاب یې عاشق تر کومه راوړي          زهر هم[2] سړی له جوره په قدر خوري
چي سیاه بخته شي په عشق کي مطلب مومي[3]          لکه زلفي د زنخ د سبب ثمر خوري

۴۰۰          ګرداګرد یې پر خوله خط نه دئ "حنانه"          ۲۹۲۲
مورچه ګان سره ټول شوي دي شکر خوري

سړی کله له نصیبه زیات و کم خوري          که هزار رنګه میوې طعام هر دم خوري[4]
سر و کار چي د دنیا په سود و زیان شي          توري وینې همیشه لکه قلم خوري
چي سفر له ځانه وکه په خپل کور کي          د آسیا په دود یې رزق تمام عالم خوري
چي بېځایه کړي خندا کس و ناکس ته          د ژوند وینه لکه ګل په هر قدم خوري
شوخ کاته یې هیڅ اشنا په رنجو نه شوه          دا په دا چي له سیاهیه[5] آهو رم خوري
د فلک جور ناتوان سړی توانا کړي[6]          محکمېږي څو چي تاب رشته محکم خوري

۴۰۱          د عمل توښه یې نه، سفر په خوا دئ          ۲۹۲۹
دا "حنان" له دغه غمه د زړه نم[7] خوري

یار که ولاړ له ما، نظر یې زما پر لوري          له لیندۍ که غشی ځي[8] لیندۍ ته ګوري
د شبنم عینکي ګل پر سترګو کښېږدي          چي و خط ته د رخسار د مصحف ګوري[9]
د حلیم سړي له قهره[10] ایمن مه شه          ودانۍ کړي رېز مرېز چي مځکه نښوري
بېنوا لکه مېوه له تماشو یم          چي زه ورشم بهار مخ که پر بل لوري
مستفیض یې یم له خطه څخه ځکه          پر خاطر چي مي[11] د مشکو باران اوري
په یوه کاته[12] یې ګونګ کړم نه پوهېږم          چي یې سترګي کړې د ناز په رنجو توري
چي کاغذ، قلم، دوات کړي نرګس جمع          تعریف ستا د سترګو کاږي په له پوري[13]

۴۰۲          په فریاد یې غافل زړه وېښ کړه "حنانه"          ۲۹۳۷
دغه کوڼ په غوږو نه اروي تش ګوري[14]

ناچارۍ کړم له اشنایه څخه لیري          چي تل اروم د رقیب سړې خبري

(۱) چاپي دیوان: هغه ساعت. (2) چاپي دیوان: زهر هر سړی.(3) چاپي دیوان: مقصود مومي. (4) چاپي دیوان: "که زر رنګه طعامونه په هر دم خوري ". (5) چاپي دیوان: له سیاهي یې. (6) چاپي دیوان: ناتوان سړی ناتوان کړي.
(7) چاپي دیوان: د زړه غم. (8) چاپي دیوان: غشی ولاړ. (9) دا بیت په چاپي دیوان کي نسته. (10) چاپي دیوان: د حلیم له خشم قهره.
(11) چاپي دیوان: چي یې. (12)چاپي دیوان: په یوه نګاه. (13) دا بیت په اصل کي نسته. (14) دا مقطع په یوه بله نسخه کي داسي ده:-

خپل حاجت په نیمه شپه غواړه "حنانه"          چي د فضل درېې نه دئ هر ګز پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـوږ پـه سـوي یـو زاهـد ده تـه پرهېـز کـړه
عاشــقي نـــه ده تحقیـــق دئ اور د ســري

د ګلرخــو پــه وصــال هغــه خورســند وي
چـي مــدام د یــار د غــم ســکروټي نغــري

د جنـــت معاملـــه تـــه کـــوه زاهـــده
عاشق نه ګوري په عشق کي نـژدې لیـري

د عشـــق درد و هغـــه چاتـــه معلـــومېږي
چـي پـوخ شـوئ وي یـو وار لـه دغـه شـري

چـي تعریـف د شـکر لـب د خـولې پـه کـاږم
د قلـم لـه نـی مـي تـویي شـي[1] شـکري

۴۰۳ "حنـان" دُر کـړه را بیـرون د زړه لـه بحـره[2]
ولـي نـې[3] را نیسـي هیڅـوک پـه کـودري ۲۹۴۴

عاشـقي راتـه یکسـان کـړه نـژدې لیـري
لکـــه یـــو وي پـــر ړانـــده لـــوري ژوري

را ښـکاره یـې نـه شـو هـیڅ د لبـو لعـل
تویــــوم کــــه لــــه چشــــمانو مرغلــــري

کـه پـه خـوب کـي[4] چیرتـه وصـل شـم لـه یـاره
اوروي را بانـــــدي ژر آســــــمان تــــــوکري

ســـرې ســـرې اوښـــي تویـــوم د ده خنـــدا ده
وي و وړکـــي تـــه یکســـان لعـــل و کـــودري

زلفـي وروځـي خـال و خـط مصـلحتي شـوه
چـي یـې وکـړې زمـا د مـرګ پـه بـاب خبـري[5]

کاروانســرای مــي شــوه ســینه د ســلو لارو
چــي مــدام پــر اړوي د غــم میســـیري[6]

۴۰۴ د هـــوا مرغـــان یـــې واړه پـــه ژړا کـــړه
چـــي "حنـــان" وایـــي د یـــار د غـــم ســـندري ۲۹۵۱

چـي خوبـان جلـوه پـه قـدر پـه قامـت کـړي
پـر عاشـق بانـدي پـه خـوا تـر مـرګ قیامـت کـړي[7]

پـه محـراب کـي سـتا د وروځـو بـي لـه خیالـه
چـا لیـدلئ نـه دئ مسـت چـي امامـت کـړي

چـي سـتا خیـال مـي لـه خـاطره څخـه درومـي
روح لـــه تنـــه څخـــه تـــرک د اقامـــت کـــړي

خوبـان څـه غـرور د مـخ پـه صـفایي کـه
دا د خـط سـیاهي بـې ژر پـه نـدامت کـړي

کـه ظـاهر وسـله د جنـګ نـه لـري څـه شـو
عاشـقان جنـګ پـه شمشـېر د کرامـت کـړي

بېـروي چـي مـي مـدام د عشـق لـه اوره
دا زاهـد دي اول خپـل ځـان سـلامت کـړي

۴۰۵ کـه خبـر شـي څـوک دا سـتا د دلبریـه
نـه ښـایېږي چـي "حنـان" دي ملامـت کـړي ۲۹۵۸

کـه یـو ځـل و خپلـو زلفـو تـه نظـر کـړې
نـور بـه زمـا لـه پرېشـانیه ځـان خبـر کـړې

خـوش قلمـه صـحیفه ژر ژر تـویېږي
تـور خـط سـتا د مـخ خطـر دئ کـه بـاور کـړې

میخـا نـې دوې، دوه محرابـه پـر یـوه ځـای
سـتا بـې وروځـو سـترګو نشـته کـه نظـر کـړې[8]

(۱) چاپي دیوان: تویي شوې. (2) چاپي دیوان: "حنان بیا څه دُر له ژبي څخه توی کړه". (3) نې= نه یې. (4) "کي" په اصل کي نسته. (5) چاپي دیوان: "چي یې زماد مرګ په باب وکړې خبري". (6) د غه کلمه په چاپي دیوان کي همدا راز ده په اصل کي مي و نه سوای لوستلای. (7) دا غزله په اصل کي نسته. (8) چاپي دیوان: که باور کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیلــو فــر(1) بــه دي شــي نــن لــه ثقالتــه — کـه یـو ځـل د ګـل د بـوی قبـا پـه بـر کـړي
دوعـا ګـوی چـي د چـا مـري پـه خپـه کېـږي — تـه پـر ځـه زمـا پـه مـرګ سـره اختـر کـړي
تـوري زلفـي، تـوري وروځـي، تـوري سـترګي — شوې سیاه پوښه چي د چا خاوري په سر کړې(2)

۴۰۶ چـي و تنګـي خـولې تـه لار د عقــل نشـــته(3) ۲۹۶۵
ښـــایي دا غـــزل "حنانـــه" مختصـــر کـــړې

لا تـر څـو ببغمـه خـوب پرپالنـګ پـاس کـړې — اوبـه خـور لکـه اورنـګ پـه زري طـاس کـړي
شاهسـواران د زمـانې شـوه تـر پښـو لانـدي — تـه لاځـه(4) هـوا هـوس د زیـن و آس کـړې
بیـا هالـه کـه ارمـان کـړې فایـده بـه نـه کـه(5) — چـي د عمـر غـنم لـو د مـرګ پـه داس کـړي
مرګـه جـارو کـړه ډېـر کورونـه د خانـانو — تـه لا فکـر د اسـباب و د اسـاس کـړې
د دنیـا کـه چیـر تـه وران در ځخـه کـار شـي — هغـه دم لـه خـدا خفـه شـې کـوز و پـاس کـړې
میخـانې تـه پـه څـه ذوق و پـه شـوق ځغلـې — او کعبه(6) چي د خدای کور دئ ترې هراس کړې

۴۰۷ بـاطن خـورې د سـړو غوښـي ببـره نـه کـړې ۲۹۷۲
و "حنـان" و تـه ځـان خضـر مهترالیـاس کـړې

کـه یـو ځلـي جـام د عشـق لـه میـو نـوش کـړې — د جهـــان ښـــادۍ بـــه واړه فرامـــوش کـــړې(7)
د منصـــور مقـــام بـــه مـــومې تـــل تـــر تلـــه — کـه د عشـق د خاکسـارۍ حلقـه پـه ګـوش کـړې
همېشـــه بـــه و حشـــت خـــورې لـــه خپلـــه ځانـــه — کـه لـه جـام حقیقـي څـه بـاده نـوش کـړې
کامـل عشـق بـه دي تـر ځایـه پـورې بـوزي — کـه تکیـه د پیـر کامـل اسـتاد پـه دوش کـړې
هـم هغـه سـاعت بـه ورشـي تـر مطلبـه — کـه لـه ځانـه ځخـه لېـري عقـل و هـوش کـړې
د غـــونچې پـــه دود د زړه وینـــي غـــذا کـــه — کـــه هـــوا د ګلرخـــانو د آغـــوش کـــړې

۴۰۸ تـه بـه خپلـي خـر مهـرې پربـږدې حاسـده ۲۹۷۹
د "حنـان" د شـعر دُر یـو وار پـه ګـوش کـړې

چـي(۸) رحمـان رحـیم دي نـوم دئ د ځـان کـړئ — لـه درګاهـه(۹) دي هیڅـوک نـه ځـي نیمګـړی
تـل بـه وي پـه دواړو کونـو کـي سـرخرویه — چـي دا سـتا(۱۰) پـه عبـادت کانـدي ځـان سـتړی
پـه آسـانه بـه د غـم لـه ځـاه و خېـژي — چـي پـه لاس یـې وي دا سـتا د قـرآن(۱۱) پـړی
د غافـل دا د دنیـا لـو یـې ببځـاده — لکـه بـاد و اخلـي اسـمان لـره خسـړی

---

(۱) چاپي دېوان: پېروژه. (2) دا بیت په اصل کي نسته، ځای یې تش ور ته پرې ایښئ دئ. (3) چاپي دېوان: "چي و تنګه خوله تې لار د چا و نه شوه ". (4) چاپي دیوان: ته لا څو. (5) چاپي دیوان: به نه وي. (۶) چاپي دېوان: او مسجد. (۷) دا غزله په چاپي دیوان کي نسته. (۸) په چا پي دېوان کي: "چي " نسته. (۹) چاپي دېوان: له درباره. (۱۰) چاپي دېوان: څوک چي ستا. (۱۱) چاپي دېوان: دا ستا د کلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېهوده د زرق د پاره سر ګردان یو(1) — ته رازق زمونږ د رزق یې(2) پوروړی
دا سوړ زړه به له سیني د باندې باسم — ساته نه شي که هرڅو عزیز وي مړی

د "حنان" ګناه ور عفوه کړه حنانه
چې یې نوم ستا د نامه همسایه کړئ

۴۰۹ — ۲۹۸۷

بیا دې دواړه سترګې توري په جادو کړې — مسخري ځکه په سترګو د آهو کړې
سیاه بختي چې را ولې زما و زړه ته — دا په دا ته(3) شانه ګډه په ګېسو کړې
د جفا په تېغ دې قتل عاشقان کړه — چې له قصده د رقیب ځای پر پهلو کړې
عاشق ولې(4) ستا له زلفو ګله کاندي — قتلول د عاشقانو په ابرو کړې
د هجران تېغ مې سینه پاره پاره کړه — په وصلت که مې(5) زخمونه را رفو کړې
رنځ د عشق مې نه ورکېږي اې طبیبه — که هر څو را پوري ستا د پند دارو کړې(6)

چې تر سترګو یې رودونه ځي پوهېږم
چې "حنان" به په دې اوښو کې لاهو کړې

۴۱۰ — ۲۹۹۳

که رخسار له شاپېریو روبرو کړې(7) — له ګلشنه د ارم به یې په هو کړې(8)
که عُذار ښکاره په باغ کښې کړې دلبره — منفعل به ځني ګل د شفتالو کړې
د مفتون عاشق به حال در ته ښکاره شي — آئینه که و رخسار ته روبرو کړې
و بې نه کاږي تصویر د شوخو سترګو — موی قلم که له مژګانو د آهو کړې
که و باغ ته خرامان شي سرو قده — عاشقان به قُمري طوره په کوکو کړې
د ښایست مثل یې کله پیدا کېږي — خو بریان که سره جمع د هر سو کړې

د عشق بحر ته به د شعر جهاز کښېږدې
اې "حنانه" که سر پور ته له زانو کړې

۴۱۱ — ۳۰۰۰

ما وې بیا دې پر مخ زلفي را خورې کړې — ویل ستا په خوله مې بیا خاوري ایري کړې
ما وې وایه څه ارمان لرې په زړه کې — ول(9) منګولې که مې ستا په وینو سرې کړې
ما وې کله به مې وژنې چې خبر شم — ول(10) چړې مې د هجران در ته تېرې کړې
ما وې کله په دا ستا له غمه خلاص شم — ول(11) کباب که مې دا ستا د زړه قطرې کړې
ما وې کله به په مهر را ته ګورې — ویل(12) سترګي چې د وینو فوارې کړې

---

(۱) چاپي دېوان: دي. (2) چاپي دېوان: ته رازق د رزق د هر چا. (3) چاپي دېوان: دا په دا چي. (4) چاپي دېوان: عالم ولي. (5) چاپي دېوان: که په وصل مي. (6) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (7) خطي نسخه: (کړ). (8) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (9)-(10)- (11) چاپي دېوان: وې. (12) چاپي دېوان: وې یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وي ستړګي مې د وينو فوارې دي | ول(1) له غمه چې سينه پارې پارې کړې

۴۱۲ ماوي کله به "حنان" په وصل ښاد کړې
ول(2) هاله چې اندېښني له غيرو پرې کړې ۳۰۰۷

په ښکاره پر سر بګړۍ د ملايي کړې | او په زړه کې دي پټ(3) زهد ريايي کړې
د موسٰی په دود ظاهر ځې کوه طور ته | په باطن لکه فرعون خدايي کړې
له دې خپلې بې فهمۍ وتلای نه شې(4) | افلاطون و ځان ته وايې دانايي کړې
همېشه حلال حرام در باندې يو دي | غولونه(5) په خرقه د ګدايي کړې
په باطن دي د شيطان جلب نيولئ | په ظاهره تسبيح واخلې پارسايي کړې
له عالِمه له فقيره څخه تښتې | له فاسقه له فاجره آشنايي کړې

۴۱۳ دا فعلونه ګل په تا کې دي "حنانه"
بيا و نورو ته څه شکر خايي کړې ۳۰۱۴

را پسې دا ستا د غم کرکندې(6) رغړي | بل دي(7) زه کړم ښنداره د درست وګړي
مدام اً سېلاب د اوښو يم اخيستئ | که و بوتي ته لاس کړم له بېخه لوړي
بيا ښامار د جنون خوله کړه را ته وازه | چې و زلفو ته دي ما لاسونه وړي(8)
چې کښېښې پر زړه مې کښېښي سل آفته | چې پاڅېږې پاڅوي د لحد مړي
دا چې بيا نن مصلحت کړې له رقيبه | له دغه هيبته زړه را څه رغړي
واړه درد د عاشقۍ دئ راپېښ شوئ(9) | عقل و هوش شوه په دوا را پوري سترې

۴۱۴ چې تعريف دا ستا د خولې که شکر لبه
دا ګفتار د "حنان" خوند کوي د ګوړي ۳۰۲۱

چې له کبره پر سر ږدې کړه بګړۍ | خود به اوري دغه ستا د خيال بېړۍ(10)
د دنيا له بدو چارو لاس نه اخلې | که دې ږېره سپينه شوه لکه وړۍ
د لحد تاريکه خونه به دې ځای وي | رسوې پر څه آسمان لره ماڼۍ
د جمله بلاوو سر حب د دنيا دئ | ته پر څه کړې د دنيا پر مال اړۍ
د ځوانيه چارې مه کړه په پيرۍ کې | له سپين ږيرو سره نه ښايي څړۍ

---

(١) - (2) چاپي ديوان: وې. (3) چاپي ديوان: پټ په زړه کي ولي. (4) چاپي ديوان: "د دې خپلې بې عقلۍ دوا کړای نه شې". (5) چاپي ديوان: غولبده تل. (6) چاپي ديوان: کرکنده. (7) چاپي ديوان: چې دي زه کړم. (8) چاپي ديوان: "چې مې وليدې دا ستا زلفي تاو کړي". (9) چاپي ديوان: "عارض شوئ را ته درد د عاشقۍ دئ". (10) دا غزله په چاپي ديوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کېمخواب و د اطلسو هوا خوار کړې   قناعت کړه په کرباس و په شړې

۴۱۵ د دنیا په ښایست مه غولېږه "حنانه"
دا زړه بوډۍ ده، اېښې دي دړې ۳۰۲۸

پر بتانو مینه کاندي درست وګړي   د یوه یوه په لاس د مجاز پړي
که له لمره ښخه باج غوارم ښایېږي   ستا له مخه مې د حُسن زګوت وړي
ماهانه مې(1) ستا د حُسن په دولت کې   دوې بوسې دي بخت مې دا برات راوړي
تن مې وران کړ ډېرو اوښو خبر نه یم(2)   له سېلابه سره څه که نېزه وړي
و ګلرخو و ته ګل رنګه محبوب شي   چې یې داغ لکه لاله له ځا(3) راوړي
ستا د سترګو په دا سرو ناغو پوهېږم   چې شمېرلئ یم د وینو پوروړي

۴۱۲ زه "حنان" د یار په غم لکه ګل وا شوم
که "رحمان" و د اشنا له لاسه سترې ۳۰۳۵

چې مې ولیدې د ترکو سترګي غوړي   نه خلاصېږم په هیڅ شان له دغه کوړي(4)
سره لبان، سره یې نوکان، سورکی یې ژبه   په سره اور مې کړوي د صورت دړي
ګردی خوله، ګردي غاښونه، ګردی زنې(5)   زما و مخ تې اچولي دي سل اړي
اوږدې زلفې، اوږدې وروځې، اوږدې سترګې   په اوږده امید یې زه کړم دړي وړي
نرۍ ملا او نرۍ ګوتي، نرۍ شونډې   تر و ښته یم نرۍ کړئ دغه کوړي
د راحت پر بستر پروت د مخمل پښه   بې له دوی راته اغزي شي د کروړي

۴۱۷ جلب و نیسه "حنانه" کله کېږي
په پښتو کې له حمید سره جګړې ۳۰۴۲

د هجران له لاسه پروت یم بوړې بوړې   رقیبان دي لازیاتي که را ته غوړي(6)
ستا د لب شکري نه ښایي رقیب ته   د خنزیر خوراک یا شاروي یا غابوړي
ستا د وصل ښادي نه ده مالید لې   رقیبان مې نور پر څه غوړونه مروړي
له رقیبه په هیڅ وخت کې نه خلاصېږم   نه په ژمي، نه په دوبي نه په اوړي
چې د خیال د وصل باغ دي راته جوړ کړم   رقیبان که ژر نخرې را باندې جوړي
د بخت آس مې دئ په ختمه کې بوښت شوئ   رقیبان دي لا پر اچوي خرڅوړي

۴۱۸ ډېر احتیاط ځنې کوه میرزا "حنانه"
رقیبان یې په معنٰی سپي دي خروړي ۳۰۴۹

---

(۱) چاپي دېوان: مهینه. (2) چاپي دېوان: "تن مي یوور ډېرو اوښو په واک نه یم ". (3) چاپي دېوان: له ځان.
(4) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته، په دا بله نسخه کي هم نسته. (5) زنې = زنه یې. (6) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتو له زاهدانو څخه توان وړي — د مخ خیال یې له عاشقه خان و مان وړي
په خبرو په مانېٖ[1] ، په ناز په جور — زړه په هرصورت له ما څخه آسان وړي ترازو له
کې[2] هر څو شونډو ته ګورم نه مړېږم — سترګو لوزه کوم مرجان وړي[3]
د جنت مېوې یې مخ کړي له ما هېري[4] — بې تکلیفه مې زړه سبب د زنخدان وړي
چې هستي مې وه د صبر اوښو یووړه[5] — خس و خار له آبادۍ څخه طوفان وړي
خیال بې[6] څه یوسي زما له خوار صورته — له خرابه ملکه باج کله سلطان وړي

۴۱۹ کې هر څو ځني ساتم نه ساته کېږي
خوبرویان په کرشمه زړه د "حنان" وړي ۳.۵۲

چې کچکول د ګدا یې په لاس نمر ګرزي — دا د چا د مخ په خیال در بدر ګرزي
دا د چا د تورو زلفو له پر توه — په د ماغ کښې چې مې بوی د عنبر ګرزي
خیال د چا د مخ د شمعي را پېښ شوئ — چې پتنګ رنګه اسمان مې پر سر ګرزي
ډېرو اوښو مي اسمان په ګردش کښېیوست[7] — هره ژرنده د اوبو په قدر ګرزي
دا د چا د زني څاه مې په خوب ولید — چې په خیال کښې مي چشمه د کوثر ګرزي
له فتنې د تورو سترګو بېغم مه شه — له آهو سره ښکاري په هنر ګرزي

۴۲۰ و نظر تې سینه ونسه "حنانه"
دا په دا و تېره تُوري ته سپر ګرزي[8] ۳.۶۳

هر قاصد چې زما یار لره نامه وړي — له جنونه پر خپل ځان کله جامه وړي[9]
زه هغه شوخ چشم قتل کړم بې دریغه — چې له سترګو یې په خواست آهو سُرمه وړي
که په ښکار زلفي کړې که د ماهیانو — یو د بل له خولې بې شَست لکه طعمه وړي
ستا د مخ د ګل له غمه په ګلشن کښې — بلبلان هر دم په زړه باندي تغمه وړي
د هغه ظالم له دیده امان غواړه — چې ایمان له زاهدانو په نغمه وړي
حذر کړه د بوالهوس له نا ترسیه — چې بوسه په ډېر حرص لکه لقمه وړي

۴۲۱ که هر څو وکړي توبې پر سر شي ماتي
له "حنانه" زړه په تشه کرشمه وړي ۳.۷۰

عاشقان دي د خپل یار د وصال[10] تږي — رقیبان یې لا زیاتي وهي پر پرې
نه مړېږي ستا په دید د رقیب سترګې — ماره نه شي[11] په هیڅ شي، د اروا وږي

---

(۱) چاپي دېوان: مانې. (2) کې = که یې. (3) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (4) چاپي دېوان: "د جنت مېوه یې مخ کړې له ماهېره". (5) چاپي دېوان: "چې مي وه هستي د صبر اوښو یووړه". (6) بې = به یې. (7) "ب" "ډېرو اوښکو مي اسمان په ګردش کښېیووست. (8) دا په دا و تېرو تورو ته شپر ګرځي. (9) دا غزله په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (10) چاپي دېوان: د وصل تږي. (11) چاپي دېوان: نه مړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یې زړه له تا موندلئ نه دئ څه دئ — رقیبان چې دي و ما ته اوربې مُوربي
جفا جور، ظلم ستا د رقیب جور[1] — واړه زما په صورت اخته دي لکه سپږي
چې مې لاس په رقیب نه رسېږي څه کړم — له غیرته چې مې[۲] خوړین شوه اینه سرږي
که هر څو مې زاری کړې رقیب خپل نه شو — په احسان کله خپلېږي زوی د یږي

۴۲۲ د "حنان" د درد دوا دا ستا لبان دي ۳۰۷۷
دا ګل قند یې شوه دوا[3] د دې زړ خوږي

ستا له غمه شورش هسې را پېښېږي — چې پخپله مې د ستار پر سر خلاصېږي
کې نظر د شاپېرۍ و شې و مخ ته — تر ښیښې بې د فلک ناره تېرېږي
بې له تا هسې ضعیف یم[4] ګلرخساره — پر حُباب باندې[5] که پښه ږدم نه ماتېږي
په عوض کې یې روح واخله بوسه را کړه — دا متاع پس له څو ورځو ارزانېږي
څه تعریف یې کړم د پښو له نزاکته — چې ریږه د ښیښې ګل ور ته ښکارېږي
بې له ده زه په زړه تنګ لکه غونچه یم[6] — دی د ګل په شان چې زه نه یم غوړېږي[7]

۴۲۳ فکر ډېر د یار د خولې مه کړه "حنانه" ۳۰۸۴
چې سودا له ډېره فکره پیدا کېږي

سره لبان د یار له خپلو ګویا کېږي — چې غونچه له برګه و وته[8] وا کېږي
سکوت نه کېږي حجاب د عشق د لاري — د مشک بوی په څو پردو کې رسوا کېږي
و ښه حُسن ته حاجت د سینګار نشته — شوخي سترګې بې تعلیمه ګویا کېږي
چا چې پرې کړ تعلق و یار ته رسي — ګرز چې پاته شي له سپله دریا کېږي
د نوخطو و رخسار ته ډېر مه ګوره — د پسرلي واوره زوال د بنا کېږي[9]
که په سوز مې یار خو ښېږي عیب نه دئ — د پتنګ په سول[10] د شمع خندا کېږي

۴۲۴ د ارواح قبض کېده را ته آسان دي ۳۰۹۱
نه چې یار له ما "حنانه" جدا کېږي

لمر به ولې ستا له مخه نه شرمېږي — چې په هره ورځ را وخېژي بیا لوېږي
چې سپوږمۍ ځان په شپول پټ که سبب دا دئ — چې د حُسن له چپاوه[11] دي بېرېږي
سترګې کله وړي بهره له هغه مخه — چې کا ته یې په رخسار باندي ښویېږي
د غونچې په دود نازک دئ حیرانېږم — په نسیم د آه مې ولې نه نرمېږي
دید د سترګو یې په خط سره کم نه شو — په سبزه د آهو لار کله بندېږي[۱۲]

---

(۱) چاپي دېوان: د رقیب وېره. (2) چاپي دېوان: له دغې غصې مي. (3) چاپي دېوان: دا ګل قند دی دوا.
(4) چاپي دېوان: بېلتانه هسي ضعیف کړم. (5) چاپي دېوان: پر حنا باندي. (6) چاپي دېوان: په زړه تنګه له غونچې یم.
(7) چاپي دېوان: دی د ګل په شان همېش خندان غوړېږي. (8) چاپي دېوان: له پاڼو ووته. (9) چاپي دېوان: د پناه کېږي. (10) چاپي دېوان: د پتڼ په سوو. (11) چاپي دېوان: له جفا و. (۱۲) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه ژړا مـې د تنـدي غوټـه(۱) وا نـه کـړه    ولـي غوټـه چـې لنـده شـي لا ټينګېـږي
زه کـه نـه شـم کـړای خپـل کـار د بـل تمـام يـم    کـه څـه سـم نـه دئ سـوهان بـل پـه سـمېږي(۲)

۴۲۵    دا د زلفـو واريـې خـط تېـر کـړ "حنانـه"    ۳۰۹۹
مـور و مـار پـر يـوه ځـای کلـه چلېـږي

د عاشـق لـه زلفـو ولـې ګيلـه کېـږي    شـپه چـې هـر رنګـه اوږده وي سـهار کېـږي(۳)
زلفـي خواسـت د چـا کـوي پـه خبـر نـه يـم    بـې تکليفـه يـې هـردم و پښـو تـه لـوېږي
دا چـې وايـي شـپه د حشـر ډېـره لويـه    د هجـران تـر شـپې هېڅکلـه نـه رسـېږي
تماشـو تـه يـو وا رايشـه دلبـره    ستا د عشـق پـه تـور مـې وژنـي غوغـا کېـږي
راز د عشـق مـې عاقبـت اوښـو ښـکاره کـړ    چـې د حـال طفـل محـرم کـړې رسـوا کېـږي
زاهـد اوښـي د ريـا و خـدای تـه تـوی کـړي    ارمـوني پـه مسـجد کـې مـدام لـوېږي

۴۲۶    د زاهـد زهـد هالـه منـم "حنانـه"    ۳۱۰۷
پـه کوڅـه کـې بـې لاحـول کـه تېرېـږي

پـه رمـوز د يـار د شـونډو يـار پـوهېږي    د ميخـور حـال لـه سـاقي کلـه پټېـږي
زړه مـې ډک پـه خيـال د زلفـو(۴) عجـب نـه ده    کـه د مـار مهـره زمـا لـه خـولې تېرېـږي
چې قدم مې يار پـر سـترګو باندې کښېښـود    کـه زمـا کوڅـه کعبـه بـولي ښـايېږي
لـه زړه و وت ګلـې خيـال بـې کـړو وروځـو    د خـراب جماعـت تـل محـراب مـاتېږي
رقيـب نـه شـي وړای بهـره د يـار لـه مخـه    و خفـاش تـه د لمـر څـه نفـع رسـېږي
دا ورک زړه غـواړم پـه اوښـو پسـې ځغلـم    زخمـي ښـکار پـر پلـه د وينـو پيـدا کېـږي

۴۲۷    تـه ناصح وايـې چـې زوړ شـوې مينـه پرېږده    ۳۱۱۳
چـې زړېـږم زه "حنـان" حـرص مـې زيـاتېږي(۵)

ستا لـه سـترګو را معلـوم شـو(۶) افسـون هسـې    چـې بـه ګـډ کـه(۷) پـه عـالم کـې جنـون هسـې
نـوې خـط دې هسـې چـارې پـه مـخ وکـړې    چـې د ښـمن پـر دښـمن نـه کـه شـبخون هسـې
ګلرخـان دې اعتمـاد پـر حسـن نـه کـه    ژر تېرېـږي لکـه ورځ د پـرون هسـې
لکـه غوښـه چـې کبـاب لـره کوفتـه شـي    سـتا جفـا مـې دئ کـوټلئ لړمـون هسـې(۸)
عـرض حـال و يـار تـه سـم ويـلای نـه شـم    لکـه وايـي پارسـي ژبـه پښـتون هسـې
لکـه مـور شـي پـر زوی بـوره ډېـره ژاړي    هـره سـترګه مـې فـراق کـړه جيحـون هسـې

۴۲۸    عشـق ښېـره د "حنـان" ژړه کـړه عالمـه    ۳۱۲۰
ښېـره نـه ژړوي تـب د طـاعون هسـې

(۱) چاپي ديوان: د جبين غوټه (۲) دا بيت په اصل کې نسته (۳) دا غزله په چاپي ديوان کې نسته (۴) اصل: په خيال د ترکو. (۵) اصل: حرص زياتېږي، بله نسخه حرص ځوانېږي. (۶) چاپي ديوان: ستا د سترګو معلومېږي.
(۷) چاپي ديوان: چې يې ګډ کړه. (۸) دا بيت په چاپي ديوان کې نسته

دغه ستا د هجر درد دئ چي سر نیسي ‏ ‏ ‏ ‏ خلاص لا نه وي بیا یې بارډګر نیسي
خبر نه دي ځوک د زړه په حال(1) بې اوښو ‏ ‏ ‏ ‏ هلکان له لېو نیو(2) خبر نیسي
که ناصح(3) نصیحت کاندي زه یې څه کړم ‏ ‏ ‏ ‏ چي خبره وي ببځا کله سر نیسي
هر اندام مي منتظر شي و پرهار ته ‏ ‏ ‏ ‏ چي په لاس کي دلبر کله(4) خنجر نیسي
وار په وار یې د مخ پاڼي خط کړې لاندي ‏ ‏ ‏ ‏ هسي ورو ورو لکه تندره چي لمر نیسي
ستا د سترګو و نظر ته مي زړه ونیو ‏ ‏ ‏ ‏ لکه ځوک و تېرو تُورو ته سپر نیسي

۴۲۹ ‏ ‏ چي په یاد کړي "حنان" مخ د ګلرخانو
زړه یې داغ لکه لاله مکرر(5) نیسي ‏ ‏ ۳۱۲۷

په خبرو چي غونچه د ګلو وا شي ‏ ‏ ‏ ‏ عندلیب زما د زړه هاله ګویا شي(۲)
چیرته زه، د تنګي خولې خبره چیرته ‏ ‏ ‏ ‏ په ګلزار کي به زما کله غونچه وا شي
د ملا خیال دي تر وینبته یم ضعیف کړئ ‏ ‏ ‏ ‏ هسي رنګ چي د مېږي را ته هوا شي
که خبري صافي غوارې خوله بسته کړه ‏ ‏ ‏ ‏ د خولې پټې ښیښې مي دېر مصفا شي
که په حشر ګیله سر کړم له مهرویو ‏ ‏ ‏ ‏ رنګ به ولاړ د لمر له مخه د جزا شي
چي یې و نیسم د خیال زلفي په لاس کي ‏ ‏ ‏ ‏ سیاه بختي لکه سایه را پسي را شي

۴۳۰ ‏ ‏ له تیارې سره خوی و نیسه "حنانه"
چي د ستورو ځراغ بې غوړو روښا شي ‏ ‏ ۳۱۳۴

چي یو ځل د یار پر زلفو برابر شي ‏ ‏ ‏ ‏ ژر پخپله پرېشان هغه خبر شي
کامیابي په حیراني شي له ګلرخو ‏ ‏ ‏ ‏ آئینې ته مدام وصل میسر شي
چي یې و وهل(۷) امواج د حُسن بحر ‏ ‏ ‏ ‏ را برسېره پر کنار د خط عنبر شي
د کږو خبرو لار و زړه ته نشته ‏ ‏ ‏ ‏ له کجۍ د حلقې ځای بېرون تر در شي(۸)
د دولت اسباب فلک(۹) و ناکس ورکه ‏ ‏ ‏ ‏ هُمای ګوره چي پر وچ هډوکي ور شي(۱۰)
خاموشي خوی کړه چي خلاص شې له آفته ‏ ‏ ‏ ‏ د جرس په آواز هر رهزن خبر شي
اضطراب د زړه تر باغ صنوبر باسي ‏ ‏ ‏ ‏ په ګلشن کي چي قامت یې جلوه ګر شي(۱۱)

۴۳۱ ‏ ‏ بې رهبره هیڅ کار نه کېږي "حنانه"
پر هغه کاغذ قلم ځي چي مسطر شي ‏ ‏ ۳۱۴۲

عشق د عقل له تدبیره تازه تر شي ‏ ‏ ‏ ‏ چي نمناک شي خار د دې صحرا نشتر شي
نه وي خوښ صاحب کماله په تشهیر خپل ‏ ‏ ‏ ‏ اوبه ږغ نه که(۱۲) هغه وخت چي ګوهر شي
په نامه کي مي حال ټول د سوي زړه دئ ‏ ‏ ‏ ‏ پر ببرېږم چي قاصد به خاکستر شي

---

(۱) چاپي دېوان: په حال د زړه (2) چاپي دېوان: له لېونو نه. (3) چاپي دېوان: که زاهد. (4) چاپي دېوان: صنم کله.
(5) اصل. مقرر. (۲) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (۷) چاپي دېوان: چي یې و وهي. (۸) دا بیت په چاپي دېوان کي نسته. (۹) چاپي دېوان: اسمان. (۱۰) چاپي دېوان: "همای و ګوره پر وچ هډو کښې ور شي". (۱۱) دا بیت په اصل کي نسته. (۱۲) چاپي دېوان: اوبه نه که ږغ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خط شپه د مخ په ورځ شوه هسې ګډه ‌‌ ‌ ګمان نه کړم چي تر حشره به سحر شي
د قدم خاوري يې ما په دا رانجه کړې[1] ‌ ‌ ګونديوي چي دُرد اوښو مي احمر شي
د معشوقِ هرځايي اشنايي مه کړه ‌ ‌ چي په لمر پسي سر کوږ د ګل د لمرشي[2]

432 ستا د خط تعريف[3] "حنان" کاږي ښايېږي
لـه قلمه که يې توی مشک و عنبر شي 3149

زړه ور پسله مرګه لا[4] ډېر دلاور شي ‌ ‌ د ګرګ پوست ګوره چي پسله مرګه سپرشي[5]
د کړې تُوري پرهار تر سمي زيات وي ‌ ‌ که هر څو ظالم شي خم ظلم بتر شي
له يوې ښځا خبري فتنې پاڅي ‌ ‌ د تمام خرمن کافي خاشه شرر شي
له رقيبه تښتېدم نه پوهېدلم ‌ ‌ چي له سپي څخه ډېر ځغلې زړه ور شي
د غم سوک چي پر خوله وخوري زړه بيدار شي ‌ ‌ په وهل د در، د کور خلک خبر شي
د سړي چي شي بخت تور سعیَ ښځا ده ‌ ‌ لينده هر څو چي پر ځان زور که چمبر شي

433 ګيله خوشي کړي "حنان" له توره بخته
شپه که هرڅو وي اوږده آخر سحر شي 3152

په احوال که د عاشق معشوق مفهوم شي ‌ ‌ هر معشوق به له عاشقه زيات مغموم شي[6]
تواضع که تاته نه کړم خفه مه شه ‌ ‌ چي سر کښته کړم نظر به مي محروم شي[7]
چي غوڅ شوي وي[8] په تېغ د يار د سترګو ‌ ‌ د حساب پر ځای هغه کسان مرحوم شي
د سياوش په دود به پاک له اوره ووزي ‌ ‌ چي د نفس له مقتضْی څخه معصوم شي
زما نامه په شکسته خط يار ته کاږه[9] ‌ ‌ چي مي حال د دې مات زړه ورته معلوم شي
د هغه شهيد زيارت حج اکبر دئ ‌ ‌ چي پرې کړئ يې د عشق په تېغ حلقوم شي
په قيامت به نابينا له قبره پاڅي ‌ ‌ چي له ديده د اشنا دلته محروم شي[10]

434 له ناموـيې بغل ډک دئ نه يې لولي
دا په دا، نه چي دريـاد[11] د "حنان" نوم شي 3174

په جفا جفا مي زړه له تا لړزان شي ‌ ‌ خپلي سترګي بې له تا راته توپان شي
د باڼو خدنګ يې[12] نه راځي په سيل ‌ ‌ که مي هډ زرې زرې لکه ښبان شي
عجب نه ده که په رحم چيرته را شي[13] ‌ ‌ د مېږي کره مېلمه ګاهي سليمان شي
ستا د عشق درياب نا پايه زه ضعيف يم ‌ ‌ و مېږي ته نری جوی[1] لکه عمان شي

---

(۱)چاپي دېوان: "رانجه کړي مي دي ستا د قدم خاوري ".(2) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته (۳) چاپي دېوان: چي د خط وصف. (4) بله نسخه: له جنګه (۵) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته، په اصل کي شپږ بيته وه. تر مقطع وړاندي دوهم بيت له بلي نسخې را نقل سو. (6) د دې غزلي رديف په چاپي دېوان کي "وي" دئ. ماته د اصل ضبط "شي" موزون ښکاره سو. ځکه مي "شي" وکيښ. (۷) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (۸) چاپي دېوان: سوئ دئ. (۹) چاپي دېوان: کاږئ. (۱۰) دا بيت په اصل کي نسته. (۱۱) چاپي دېوان: نه چي پکښې. (۱۲)چاپي دېوان: خدنګ دي (۱۳)چاپي دېوان: که له مهره کله را شي.

(1)چاپي دېوان: لړ اوبه (2)، (۳) کې= که يې. (۴) دا بيت په چاپي دېوان کي نسته. (۵) چاپي دېوان: د ګدای تېوک. (۲) چاپي دېوان: تر ساعته پناه کېږي (۷) چا پي دېوان: چي يې. (۸)چاپي دېوان: د تدبير کښلي؟ (۹) چاپي دېوان: د خوار زړه. (۱۰) چاپي دېوان: د عالمه (۱۱) چاپي دېوان: بوی د ګلزار. (۱۲) چاپي دېوان: دنيا ګڼه ده. (۱۳) چاپي دېوان: "نفس و خپلي مقتضا ته پرېږده رام شي ".

چې دي خیال په خاطر را شي مضطرب شم      لکه پېښ چې د مفلس کره مهمان شي
تر ژوند مرګ ورلره بِه دئ په پېغور کې      اور ته ځکه ستی تېره تر خپل ځان شي

۴۳۵ کبر جن اشنا یې کله غوږ پر نیسي ۳۱۷۱
که "حنان" فصیح لسان لکه سحبان شي

آراسته چې د مهرویو انجمن شي      دا نشمند یې له پرتوه کم سخن شي
د ګلرخو و وصلت ته هغه رسي      چې لاله رنګه جامه یې سور کفن شي
کې(۲) کمیس د ګل له بویه په ځان واغوست      عجب نه ده نیلوفر غوندي کې(۳) تن شي(۴)
رقیب هیڅ فیض د یار له مخه نه وړي      و آفتاب ته لیده کله د لېچن شي
چې واصل شم زه له یاره، رقیب ځکه      د ګدای رزق(۵) ورکوي که سپی دښمن شي
که ګلاب یې په سیالی د مخ څه وایي      تر ساعته نه پایېږي(۶) د روغجن شي

۴۳۶ زه "حنان" چې د اشنای په کوڅه ګډ شم ۳۱۷۸
تماشه را څخه هېره د عدن شي

څو یې(۷) ویني د خپل ځان خون بهانه شي      د ګلرخ په تېره تېغ به اشنا نه شي
توري زلفي کله زړه اخلي له خلکو      څو و اور ته د رخسار یې دوتانه شي
هسې زړه زما سوری کړ د یار هجر      چې د وصل په مسیح یې دوا نه شي
د تدبیر کیلي(۸) څو نه شي ځني ورکه      د امید د درګاه قلف به یې وا نه شي
څو قانع نه شي په څاڅکي له دریابه      د صدف حمل به دُر یکتا نه شي
جذبه مي د خپل زړه(۹) هسې قوي ده      چې خطا به ځني تیر د بلا نه شي

۴۳۷ طمع مه کوه "حنانه" و هیچا ته ۳۱۸۵
چې د هیچا ښه بې خدایه په چا نه شي

څو د قبر په وړو کانو بار نه شي      د حریص زړه به تر هغه قرار نه شي
دِ حرَص مار هسې زهر پکښې توی کړه      چې یې دفع په تریاق د ګفتار نه شي
دَ نا بودي دنیا حرص تر حیا تېر کړ      چې له ننګه د عالم(۱۰) یې هیڅ عار نه شي
بوی د عیش له حارصه مشکل کار دئ      د ښورې له مځکې ګل(۱۱) د ګلزار نه شي
دنیا کونډه ده(۱۲) له ډېرو پاته شوې      اشنایي ته یې هوا د هوښیار نه شي
و هوا ته سرکښ نفس پرېږده چې رام شي(۱۳)      تونډ توسن څو ستړئ نه شي قرار نه شي

۴۳۸ دا دوعا یې مستجابه کړې مجیبه ۳۱۹۲
چې "حنان" ګډ د حریص په قطار نه شي

څو په خیال د یار د وروځو کې خم نه شي      تر هغو به د مجاز پر لار سم نه شي
عاشقي د ظاهر علمه ځله لیري(1)      دا تر عرشه پوري تله په قدم نه شي
ګُزار هسې بې صرفې دئ د سیاه چشمو(۲)      چې زړه سوی یې پر آهو د حرم نه شي

---

(1) ځله لیري= یوله بله لیري، په چاپي متن کي" ثله لیري" دئ چي معنا نه ورکوي. (2) چاپي دېوان: د سیاه چشم. (۳) چاپي دېوان: پر چشمه. (۴) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته (۵) چاپي دېوان:مات شي. (۶) چاپي دېوان:په غبږ کښې کړي. (۷) چاپي دېوان: په چښل یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خط یې زړه د راتلو نه شي کړای و مخ ته　　تله قاضي لره هیڅکله د ګرم نه شي
له ژړاندو سترګو څه غواړې صبرونه　　پر چینه(۳) باندي هرګز تیمم نه شي
بیده شوئ په ښه دِغ نه بیداریږي　　بې عقلۍ لره دوا و ملهم نه شي

۴۳۹　　هغه ورځ پر "حنان" نه وینم چي را شي　　۳۱۹۹
چي د زړه خونه یې ګډه په غم نه شي

په رخسار یې زلفي نه دي غوړېشي　　و سپوږمۍ ته د لړمو دي لشي(۴)
په تور خط سره یې حُسن د مخ زیات شو　　زېب کوي دا صحیفه په دا حاشیې
همېشه به وصلت مومې د ګلرخو　　غونچه طوره که د زړه ویني نوشې
که هرڅو عشق کړم ضعیف د رقیب بس یم　　دې نمرو د ته دئ کافي پر د پشې
ستا ناصح په ویل نه ګرزم له میني　　ولي ځان سترئ کوې په دا وربشې
مورزاده د عشق خواري مي ده په برخه　　بېهوده د پند څرخی را ته وربشې

۴۴۰　　له "حنانه" پټ په تُرکو پسي ځغلې　　۳۲۰۲
اې زاهده ولي حق ویل پوشې

د سپین مخ چي وي خوا هانه لکه زلفي　　همېشه به وي پرېشانه لکه زلفي
چي هوا د لعلو لبو کړي د تُرکو　　هغه تل وي اوېزانه لکه زلفي
که تسخیر د عالم کړې اوله مات شه(۵)　　زړه به یوسې له جهانه لکه زلفي
که یو ځل کړې سیاه بختي د عشق قبوله　　بر به خورې له زنخدانه لکه زلفي
که خواهش د ګلرخانو د دیدن کړې　　شه د مخ پر اور بریانه لکه زلفي
چي غذا یې د زړه ویني لکه مشک وي　　ځای په غبږکي که(۶) آسانه لکه زلفي

۴۴۱　　که دي زړه غواړي چي زړه له خلکو یوسې　　۳۲۱۳
تواضع خوی کړه "حنانه" لکه زلفي

د عرفان له جامه مې راکړه ساقي　　چي په چښه(۷) یې شم له یاره ملاقي
هم مې خلاص که د دنیا له شر و شوره　　تعلق را څخه قطع کړه باقي
مجذوبي را ته حاصله کړې چي کښېږدم　　دواړه سترګي پر قدم د طلاقي

نن بې غِشه مې ساقي و ما ته را کړه — چې د یار د ښه دیدن(۱) شم مشتاقي
تر پخوا عمر عبث را څخه تېر شو — راوړه ژر پیاله ساقي، پیاله ساقي
پر پیرو(۲) مې کړې ثابت د کاملانو — رسوي بار و منزل ته عراقي

۴۴۲ هم را پېښ کړې هسې حال و ما "حنان" ته
چې بې یاره بل ځای نه شم اوطاقي ۳۲۲۰

څه بلاوه ستا د وروځو په محراب کې — چې یې وا چولم زه په اضطراب کې(۳)
د دې جور شپه لکه ورځ را ته ښکارېږي — چې بندي شوم ستا د زلفو په تناب کې
سیاه بختی له هري خوا یم اچولئ — ستا د زلفو پېچوتاب په پېچوتاب کې
څه ګیله کړې د سپین مخو له شوخیه — آرام نه دئ چالیدلئ په سیماب کې
آبرویي په قناعت سره زیاتېږي — ګوهر ګوره تری پروت وي په دریاب کې
نه یې اروم نصیحت په غوږو کوڼ یم — را ته مه وایه ناصح د عشق په باب کې

۴۴۳ دا تر زلفو لاندي مخ ګوره "حنانه"
چې د لمر تماشه کېږي په سحاب کې ۳۲۲۷

تماشه یې د خط بویه(۴) په رخسار کې — د ګلانو پرېواني وي په بهار کې
چې مې وسوه کل هډونه سیل بویه(۵) — د سره اور ښه ننداره وي(۶) په نیزار کې
زلفي ورو شانه کوه چې آزار نه شي — چې هزار زړونه(۷) یې اړ دي په هرتار کې
خط و خال و زلفو سترګو رېز مرېز کړم — رحم نشته د دې ښار(۸) په هندوبار کې
پخپل خط پسي یې خپلي سترګي ګوري — که آهو دئ آرام که په سنبل زار کې
دا شبنم د ګل پر پاڼې باندي پروت دئ — که خوله د ګلرخسار ده په رخسار کې(۹)

۴۴۴ له "حنانه" قرار څه غواړي ناصحه(۱۰)
چې رسوا کړ دا ستا عشق په قندهار کې ۳۲۳۴

سرو قده خوش اندام راغئ په برکې — له هوسه نه ځایېږم په کشور کې(۱۱)
په سپین مخ کې یې سرخي د لبو نمایي — که شفق را ته ښکاره شو په سحر کې
چې نرحور که شاپېری دئ نه پوهېږم — دغه نور نه موجود ېږي په بشر کې
تنګه خوله یې جز لا یتجزا ده. — آب نه پرېښو دندانو یې په ګوهر کې
درک یې نه کېږي د ملا په باریکی کې — خیال له خیاله څخه وزي په کمر کې

---

(۱) چاپي دېوان: د تش دیدن. (۲) چاپي دېوان: پر پرو مي؟. (۳) دا غزل په چاپي دېوان کي نسته. (۴) چاپي دېوان: د خط وکړه. (۵) چاپي دېوان: سنبل بویه. (۶) چاپي دېوان: ښه تماشه ده. (۷) چاپي دېوان: ولي سل زړونه.
(۸) چاپي دېوان: شفقت نشته د ښهر. (۹) چاپي دېوان: "که عرق د ګلرخسار دئ په عذار کي". (۱۰) چاپي دېوان: "د حنان قراره څه غواړې دلبره". (۱۱) دا غزل په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همېشه به يې د لبو په مې مست وي — که يې و ويني تش عکس په ساغر کي
۴۴۵ په تش ديد يې عالم قتل کړ "حنانه" ۳۲۴۱
هسې آب يې دئ د سترګو په خنجر کي

له ازله دا ستا خيال زما په سر کي — نه چي نن دا ګل زرغون شو زما په درکي[1]
آئينه يې[2] د ديدن تاب راوړای نه شي — جوهر داره زغره[3] تل لري په بر کي
بيده بخت کله ويښېږي زما په غبړ کي — سبزه کله زرغونېږي په محشر کي
په معنا زړه خوشالېږي په حرف نه شي — وي په ميو کي نشه، نه په ساغر کي
د بوسې خواستونه کړه[4] له ساده لوحو — د دوعا قبلېده کېږي په سحر کي
د آب باز مرګ له اوبو، مارګير له ماره — هنرمند ته خطر رسي په هنر کي
۴۴۶ چي و فا له تُرکو غواړي په مجاز کي ۳۲۴۸
څه هوا ده لا "حنانه" ستا په سر کي

حال ويلای نه شم يار ته په تقرير کي — نه قوت لرم د ګوتو په تحرير کي
په مژګانو سرې[5] يو وار ادا نه کړم[6] — قوت نه وي د پېزۍ لينديۍ په تير کي
مار د زلفو يم چيچلئ زړه مې چوي[7] — شفقت نشته د عصر په د مګير کي
رقيب ستا له لوري ولاړ بيا به رانه شي — ګرزېده د مغزي نشته په خنزير کي
نصيحت لکه اوبه، عاشق غوړ لوښی — تاثير کله اوبه کاندي[8] په تصوير کي
کوم صياد و ښکار ته ځي په خبر نه يم — چي له وهمه ارام نشته په نخجير کي
۴۴۷ چي د يار پر تورو زلفو لېوني شوې ۳۲۵۵
اوس خوشاله شه "حنانه" په ځنځير کي

شکر و کاږه تر څو يې په وسواس کي — د نعمت زياتېده کېږي په سپاس کي
پاکان خلاص دي د عالم له شرو شوره — مرغلري نه خرڅېږي په نخاس کي
د دښمن په تواضع مه غلطېږه — و نښان ته لېنده خمه شي په لاس کي
سر کښې نفس د رياضت په دام بندي کړه — څو به يې له دې دښمنه په هراس کي
چي نری شي مياشت آخره شپه راخېژي — پټوه ځان له عالمه په افلاس کي
ښې وربښميني جامي باب د ارتينو دي — د مېړه مړانه نه ځي په کرباس کي
۴۴۸ له يارانو اخلاص تللئ دئ "حنانه" ۳۲۷۲
ګذران د زماني شو په لباس کي

---

(۱) چاپي دېوان: "نه چي نن را ته پېښ شوئ په نظر کښي". (2) چاپي دېوان: آئينه دي. (3) چاپي دېوان: توره.
(4) چاپي دېوان: د بوسې خواست تل کوه. (5) سرې= سره يې. (6) چاپي دېوان: "په مژګانو يې له واره ادا نه کړم".
(7) چاپي دېوان: "مار د زلفو يم خوړلئ زړه مي سوری دئ". (8) چاپي دېوان: اوبه کله تاثير کاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کامل و وي کامل ته دا په حال کي    اچولئ یم زه عقل په جنجال کي
دا زما مشکل راحل کړه د رمانده یم    مدام ډوب یم په دا فکر په دا خیال کي
چي د څه د پاره خدای جنت پیدا کړ    چي ښه نه راځي[1] هر ګز زموږ په افعال کي
هغه بل کامل جواب هسي شان ور کړ    چي ښه فهم دلیل وکه زما په قال کي
چي رحیم دئ هم قدرت لري[2] پر هرڅه    دنیا ځای که د یوې ماشي په بال کي
مهرباني یې عامه عامه ده پر هرچا[3]    نور یې څه کاوه دوزخ په دا احوال کي

۴۴۹ الٰهي ګناه راعفو زما "حنان" کړې
چي دي لطف کمی نه که په هیڅ حال کي[4] ۳۲۲۹

که د حُسن صفایي نه وای په ګل کي    د عشق شور به هومره نه و[5] په بلبل کي
که مجاز د حقیقت منظره بولې    پر تېرېږه او طاق مه نیسه په پُل کي
له اسمانه شکوه کفر ده[6] خبر شه    مراد ته نه پرېږدي هیڅوک په جز و کُل کي
له نظره مي فاني شو ساقي واړه    نه پوهېږم څه بلا ده[7] ستا په مُل کي
په لیده یې پېچوتاب شوم خبر نه یم[8]    څه بلا وه د شوخ چشمو په کاکل کي
تر حلقو د زلفو مخ دي معلومېږي    که ګلاب را ته ښکاره شو په سنبل کي

۴۵۰ دا یې لاس په حنا سره نه دي "حنانه"
مضمحل یې کړه ټول زړونه په منګول کي ۳۲۷۲

ستا د زلفو کاړکوتو[9] حلقو په دام کي    یو جهان زړونه پرا ته دي په ارام کي[10]
تار د زلفو دي پر مخ ترسم کوږ به دئ    مزه دار وي کوږ ترسیم په خپل مقام کي
ستا د وروځو له قبلې خلق جار باسي    دا عجبه، که زاهد وي په اسلام کي
ستا د سترګو کاته به دي ستا تر سترګو    د بادام د ګل زېب نشته په بادام کي
که تقصیر له ما واقع دئ عفو وکړه    د بخښښ مزه نه وي په انتقام کي
چي خبري...[11] کړي واړه یو دی    د سړي کمال معلوم شي په کلام کي

۴۵۱ له سپین مخو وفا مه غواړه "حنانه"
چي و فاله سره نشته په دا قام کي ۳۲۸۳

له ژړلو نه خلاصېږم[12] په هجران کي    آب بازي نه شي هیڅکله په توپان کي
چي مات نه شي زړه، غم ځای نه پکښې نیسي    چي قلم چاک شي سیاهي اخلي په میان کي

---

(۱) چاپي دېوان: چي ښه نه کېږي. (2) چاپي دېوان: چي رحمان رحیم قدرت لري. (3) چاپي دېوان: "مهرباني عام عامه پر هر چا ده ". (4) چاپي دېوان:

الٰهي "حنان" له دغه اوره خلاص که    چي دي لطف کمی نه که په هر حال کښي

(5) چاپي دېوان: هرګز نه و. (6) چاپي دېوان: کفر دئ. (7) چاپي دېوان: څه مستي وه. (8) چاپي دېوان: پېچو تاب شم نه پوهېږم. (9) کذا. (10) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (11) و مي نه لووست. (12) چاپي دېوان: بې ژړلو چاره نشته.

وصل و هجر پر حیرانو سترګو یو دئ — تفاوت زر و سنګ نه که په مېزان کي
نه رام کېږي[1] وصاف د لوته سیاه چشم — له سپېدیه آهو رم که په دامان کي[2]
مالګه و سوځي پرهار دا هم اوبه شي[3] — ازار کړوني ازار مومي په خپل ځان کي
لکه سېل چي په تندۍ له غره رالوېږي — د سنګدلو دولت هسي دئ په زیان کي

۴۵۲ لاس پر ملا د نامېندۍ کښېږده "حنانه" — طمع مه کړه د فلک په دسترخوان کي ۳۲۹۰

که و ګرزم پور ته کښته په جهان کي — ستا د حُسن ثاني نشته په انسان کي
ستا د حُسن دروېزه نه که نور څه که — چي غونچې خپل جېب لمن کړه په بوستان کي
هر وښته مي د فاختې په څېر[4] کوکو که — چي رایاد شي ستا قامت په ګلستان کي
په ژړا کي مي دي خیال[5] د لبو بیا موند — د برېښنا روڼا مدام وي[6] په باران کي
ګرېوان و تره مهرویه زه بېرېږم — لمر به واچوي خپل ګل ستا په ګرېوان کي
دغه ستا د سترګو خیال که آهو ځکه — لوړه غاړه ده[7] نیولې په دامان کي

۴۵۳ په هیڅ وخت یې له هجرانه نه خلاصېږي — "حنان" قبر لره ولاړ په ډېر ارمان کي ۳۲۹۷

و ساته ګوهر په لعلو دیمن کي — چي پیدا دي زمرد شو په ګلشن کي
د مرجان ښاخ د یاقوتو د بام ستن که — و ساته سور ارغوان په یاسمن کي
پر لندو لاله د مشکو باران وکړه — د نرګسو جام ساته په نسترن کي
له شفقه سپوږمۍ ډکه کړه نن ورځ ده[8] — کښېږدې یې د نوو میاشتو[9] په خرمن کي
له ګلابه دي لاله داغ پر زړه یووړ — ستا نرګس د باغ نرګس کړه په کفن کي
د مسیح په شان دوا راکړه مرده یم — د حیات اوبه دي ایښي په دهن کي[10]

۴۵۴ له حسرته ستا د غاښو ما "حنان" نن — مرغلري کړې را تویي په دامن کي ۳۳۰۴

چي دي پورته کړه لبان په مسخرو کي — بیا دي ګډ کړم لکه خس په سرو لمبو کي
هی توبه د آهو چشمو له عناده — له شېرانو زړه رانیسي په پنجو کي
پرورده شوه زما کسي په ژړا کي[11] — لکه تخم د ریحان وي په اوبو کي
په یوه کاته مي زړه را څخه یوسي — کې هر څو ساتم د صبر په بوخچو کي

---

(۱) چاپي دېوان: نه رامېږي. (2) چاپي دېوان: "له سپین والي آهو رم که په بیا بان کښي". (3) چاپي دېوان: "نمک و سوځي پرهار دا هم شي ولي". (4) چاپي دېوان: په دود. (5) چاپي دېوان: خیال ستا د لبو. (6) چاپي دېوان: همېش وي. (7) چاپي دېوان: غاړه دئ. (8) چاپي دېوان: "له شفق سپوږمۍ پوره کړه دلبره". (9) چاپي دېوان: د نوي میاشتي.
(10) چاپي دېوان: اوبه دي نیسي په ذقن کي. (11) چاپي دېوان: په ژړا کي زما کسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبســم يــې زمــا پــر تــن هــومره[1] اثــر کــړي    چي هر هډ غاښونه سپين کړه په زخمو کي
چي لـه ميني توبـه ګـار شم ژر پښېمان شم    هـی توبـه کـار مـي بتـر شـو پـه توبـو کـي

۴۵۵ فارسي خوانو د حيرت ګوتي پـه غـاښ کـړې
چي "حنان" سـخن سـازي کـه پـه پښـتو کـي[2] ۳۳۱۱

د دلبـر د سـترګو خيـال مـي دئ پـه زړه کـي    د خُـتن د ملـک غـزال مـي دئ پـه زړه کـي[3]
سـتا د وروځـو خيـال مـي نـه ځـي لـه خـاطره    ناست ولاړ کـه پـروت هلال مي دئ پـه زړه کي
نــه خلاصــېږم د ايــام لــه بدبختيــه    چي دا سـتا د زلفـو خيـال مـي دئ پـه زړه کـي
شـکوه نـه کـوم دا سـتا لـه خـال و خطـه    ګنـه هـومره لـوی جنجـال مـي دئ پـه زړه کـي
هجـران و سـوم وصـل غـواړم حيرانېـږم    ګـوره څـه فکـر محـال مـي دئ پـه زړه کـي
بـې غيرتـه زړه مـي لاس لـه تـا نـه اخلـي    سـتم جـور د هـر کـال مـي دئ پـه زړه کـي

۴۵۶ غونچــه شــي راتــه بــې ده د اور ســکروټه
اې "حنانــه" دغــه حــال مــي دئ پــه زړه کــي ۳۳۱۸

څــه بــلا وه د ابــرو پــه دنبالــه کــي    چي يې کښـې يسـتم پـه آه و پـه نالـه کـي
څـه دعـوه بـه کـه آهـو[4] دا سـتا لـه سترګو    معجـزه نـه وي پـه هـره ګوسـاله کـي
چــي يــې زړونــه رانيــولي وو پــه حُســن    ور معلـوم شـوه اوس د خـط پـه قبالـه کـي
مـا وې نـوش بـه کـړم شـکري سـتا دلبـو    زهـر راکـړه دا سـتا عشـق[5] پـه نوالـه کـي
د اسـمان ښيښـه خـالي پاتـه شـوه ولـي    د عشـق مـی نـه ځايېـده پـه دا پيالـه کـي
غـرور زيـات لـري نـوخط تـر سـاده رويـو[6]    د چـين مشـک نـه وي پـه هـره غزالـه کـي

۴۵۷ يار بې مهره، زه بې بخته، عشق سور اور دئ[7]
"حنـان" رنګـه مـه شـه څـوک پـه کشـاله کـي ۳۳۲۵

سر يې پور تـه شي لـه فخره تـر اسمان پـه زمانـه کي    هر سرې چي ځان که خاوري ستا د در پـه آستا نـه کي
چي شانه يې تور کاکل کړ د بخت ورځ مي توره شپه شوه    دغـه تـوره شـپه پخـوا وه مـا ليـدلې پـه شـانه کـي
خال دي هسي زه[8] بندي کړم چي له ځانه خبر نه يم    حيرانېږم څـه جـادو و پـه يـوه تـوره دا نـه کـي
لب دي لعل عقيق مرجان دي، غاښ دي دُر، خط فېروزه ده    څه دولت دئ باري ايښئ ستا د مخ پـه خزانـه کي
د مخ خيال بې ماوْی راشي[9] زما د زړه و کا شانې ته    ولـي نـه لـوېږي لـه سـره دغـه لمـر پـه دا خانـه کـي
دا يي سترګي دي له ذوقه زما د زړه پـه غوښو نښتي[10]    کـه آهـو ګـل د لالـه خـوري پـه دا هسـي دامانـه کـي

۴۵۸ که جلوه دي د يار سوځي خاموشي کوه "حنانه"[11]
دا په دا چي هيڅ ږغ نه وي[12] د څراغ پروا نه کي ۳۳۳۲

(۱) چاپي دېوان: زما پر صورت هسي اثر که. (2) چاپي دېوان:
پارسي بان به د حيرت ګوتي په غاښ که    چي "حنان" دا ستا صفت که په پښتو کښي

(3) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (4) چاپي دېوان: څه دعوْی کوي آهو. (5) چاپي دېوان: زهر را دا ستا د عشق.
(6) چاپي دېوان: "غرور زيات وي د نوخط پر ساده لوحو ". (7) چاپي دېوان: سور اور شو. (8) چاپي دېوان: هسي رنګ. (9) چاپي دېوان: بې ما دی راشي. (10) چاپي دېوان: زما د زړه په وينو نښتي. (11) چاپي دېوان: خاموشي خوی کړه.
(12) چاپي دېوان: ږغ نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دي شَست زِه د کمان کړه په کمین کي — ارام نه وکړه هیڅ صید په زمین کي(1)
تور زنګي ناست و سپوږمۍ ته نه پوهېږم — که یې خال دئ جلوه کاندي په جبین کي
زلفي خلاصي کړه چې زړونه واړه خلاص شي — ډېر ډېر بند دي ستا د زلفو په هرچین کي
د هیڅ زړه کوتره نه پرېږدي و وار ته — رحم نشته ستا د سترګو په شاهین کي
دغه ستا د زلفو باد وربا ندي ومنت — د آهو نافه خوشبویه شوه په چین کي
له قربته د سیاه چشمو حذر بویه — توري سترګي خلل اچوي په دین کي

۴۵۹ د "حنان" د خم قامت شرف په تا دئ — ولې وي قیمت د ګوتي په نګین کي ۳۳۳۹

د عاشق پر رقیب نه رونېږي سترګي — له سایې څخه د دېو تورېږي سترګي
په وصلت کي یې و مخ ته کتای نه شم — له نبایست یې(2) په رخسار نه وهېږي سترګي
ستا د خط را تلو رقیب په سترګو ړوند کړ — د افعي(3) په زمرد ړندېږي سترګي
بې اختیار یې و رخسار ته کاته کېږي — د پتنګ له شمعي نه چپېږي(4) سترګي
چې د غاښ له مرغلرو یې محروم یم — د دریاب په دود مي(5) تل بهېږي سترګي
دا د چا د راتلو زېری(6) خبر نه یم — چې مي هسي(7) په تلوار رپېږي سترګي

۴۶۰ دا له غمه د کوم مخ "میرزا حنانه"(8) — له ژړلو چې مي نه درېږي سترګي ۳۳۴۶

جګي جګي له جفا کړه زړه خالي — تل به نه وي زما ژړا ستا خوشالي
چې یې زړه د خال و خط په خیال(9) اخته شي — شي ترې پاته مطول وي که خیالي
د عاشق آه و فغان به کله اروي — چې په غوږ یې(10) د رقیب د پند والي
چې د عشق د زمزمې ږغ یې تر غوږ شي(11) — نور به نه اروي نیربېږ و فامفالي
و دیدن ته یې حیران دي عالمونه — که ادنا دي، که اوسط دي، که عالي
مرنی سرې په ماتي کي مخ ستون که — عاشق بویه(12) چې آخر حُسن پالي

۴۲۱ خپل زړه څیري کړه "حنانه" که عاشق یې — په دا څه کېږي چې څیري کړې کالي ۳۳۵۳

آه مي خط کله له قده آسان اخلي — باج له سروي کله باد د خزان اخلي(13)
شوخ مژګان رسا کاته ځکولي وروځي — دا ناوک هم دغه لا س دا کمان اخلي

---

(۱) په "ب" او چاپي دېوانو کي دا غزل نسته. (۲) چاپي دېوان: له صفايې. (۳) چاپي دېوان: واقعي. (۴) چاپي دېوان: نه پوچېږي. (۵) چاپي دېوان: د رودو په شان مي. (۶) چاپي دېوان: دا مژده د کوم دلبره که. (۷) چاپي دېوان: دا چې هسي. (۸) چاپي دېوان: "دا په غم کي دئ د کوم ګلرخ حنان". (۹) چاپي دېوان: چې یې زړه د خیال و خط په غم.
(۱۰) چاپي دېوان: چې په غوږ کړي. (۱۱) چاپي دېوان: "چې د عشق حیدري ناره یې د غوږ شي". (۱۲) چاپي دېوان: عاشق هغه چې. (۱۳) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سینه کښي مي غاښ پټ لکه صدف کړه　　د زنخ سېب کله بار د دندان اخلي
و زاهد ته مه کوه د عشق خبري　　مېږی کله له ځا تخت د سلیمان اخلي
د زاهد د عقل بند د عشق په باب کښي　　دغه پُل له دغه ځایه طوفان اخلي
که مي ناست دئ عشق پر وچو هډو ښایي　　دا په دا ده چي هُمای استخوان اخلي

۴۲۲ شاعران د مضمون بِکر بلبلان دي ۳۳۶۰
ځکه ګل تازه "حنان" د بوستان اخلي

نن مي ولیده دلبر په سترګي خپلې　　چي رخسار یې په آفتاب بازی وهلې[1]
کړې وروځې کړې توري ابرانی دي　　په تش دید یې د زړه ولي غوځولې
توري سترګې د شهلا د باغ نرګس و　　چي آهو یې تماشې هردم کولې
راتې و ویل چي زړه دي بایلو ولئ　　رنګ دي زیړ دئ او چهره دي ګرزېدلې
ما ویل چي له عیانه څه بیان دئ　　چي کوټه مي ده د صبر تا نتلې
راتې و ویل چي زه در خبر نه وم　　پس له دې د ځان ویر کړه په بخت کړلې

۴۲۳ زما د مخ عاشقان مړه تر حساب تېر دي ۳۳۶۷
ته "حنان" مي له هغو څخه شمېرلې

مهرویانو دا ستا حُسن دئ پسندلئ　　لکه لمر وي[2] پر تمام جهان ختلئ
د فلک په آئینه کي هلال نه دئ　　دغه ستا د وروځو عکس یې ساتلئ
له خجلته ستا د سترګو نه دئ څه دئ　　په ګلشن کي چي نرګس سر ځړولئ
ستا و زلفو و رخسار ته حیرانېږم　　چي په غېږ کي دئ کافر اسلام نیولئ
دا یې خال نه دئ د وروځو په میان ایښئ　　د تصویر زاغ د کمان پر موټي کښلئ
سنتره د هند که زنه ده[3] حیران یم　　چي په تش آرزو یې روح را څخه تللئ

۴۲۴ په تعریف د خپل اشنا د رخسار واړه[4] ۳۳۷۴
چي "حنان" له شوقه دا غزل ویلئ

چي خاطر مي کدورت په غم موندلئ　　آئینې مي له کتو غُبار نیولئ
له اوبو د سپي خوړلي په شان ځغلم　　چي د سترګو د تېغ آب دي یم کوټلئ
عقل هم له حیرانی په خپل سر ګرزي　　پېچوتاب چي یې دا ستا د ملا لیدلئ
دا آزار[5] ښیښې ته نه رسي له سنګه　　چي و ما ته له هنره رسېدلئ
د زړه داغ چي مي څوک ویني زړه یې داغ شي[6]　　د غم تیر دي تنها نه دئ ما خوړلئ
زړه مي ستا زلفو ته ولاړ بیرته را نه غئ　　په آسانه تر هند نه دئ څوک وتلئ

۴۲۵ د "حنان" درد و هغو ته معلومېږي ۳۳۸۱
چي د عشق پر کانې سروي سولولئ

(۱) دا غزله په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (2) چاپي دېوان: لکه لمر چي. (3) چاپي دېوان: سنتره که سبب که زنه ده. (4) چاپي دېوان: "دخپل اشنا د مخ دي واړه". (5) چاپي دېوان: دا عذاب. (6) چاپي دېوان: "د زړه داغ چي مي چا ولید زړه یې داغ شو".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پر مخ باندي د زلفو تار لوېدلئ
که پر ګنج باندي د طلسم مار لوېدلئ

د خدنګ اندوه يې کاږم نه پوهېږم
چي يې غشی خطا درومي ښکار لوېدلئ

دا عرق(1) پرسپين رخسار د ګلبدن دئ
که شبنم پر مخ د ګل سهار لوېدلئ

د وصال د ګل په ديد کله مړېږي
چي په سترګو کي د هجر خار لوېدلئ

ته بېکسه، مل دښمن(2)، غل در پسي دئ
لاس و پښې ځله ختلي(3) بار لوېدلئ

په حساب د سيم و زرو عمر بايلي
غلط مه شه چي نفس په شمار لوېدلئ

۴۲۶ د "حنان" له آه پرهېز کوه دلبره ۳۳۸۸
په سينه کي يې د عشق انګار لوېدلئ

ستا په سترګو چي له سترګو مي يې تللئ
نور مي سترګو لره خوب نه دئ راغلئ(4)

ستا په زلفو چي بې زلفو مي ورځ شپه ده
له دا توري شپي هرګز نه يم و تلئ

ستا په مخ چي مخ مي واړاوه له واړو
د هيڅ ښکلي پر مخ نه يم ورغلئ

ستا په خوله چي خوله مي ونيوه له هرڅه
چي تعريف د خولې دي څوک نه شي کولئ

ستا په شونډو چي نفس پر شونډو راغئ
چي سرو شونډو دي و مرګ ته يم بللئ

ستا د پښو په خاورو، خاوري دي د پښو يم
چي د پښو تاب مي له سره دئ ختلئ

۴۲۷ ستا په وروځو چي خم شوم لکه ستا وروځي ۳۳۹۵
زه "حنان" دي په کږو وروځو ځبلئ

چي پر مخ دي توري زلفي ښورولي
خلقي دي په قصداً ازارولي

د آهو نافه دي ډکه کړه په وينو(5)
په رنجو د ناز دي سترګي تورولي

باز د سترګو دي لاناست دئ په پرده کښې
نور د زړو(6) و ښکار ته چا وپارولي

تر پخوا دي خوی وفا وه نه پوهېږم
د وفا له خويه چا و درولي

آفرين را باندي و وايه ملکو(7)
چي مي ستا جفا پر زړه هوارولي

ما وې زړه دي له ما يوو په سپينو غاښو
ول پوهېږم په رضا مي خوارولي

۴۲۸ "حنان" و ژړل له ډېري نامېنديه(8) ۳۴۰۲
ستا پخوا نېکي پر زړه چي تېرولي

کشکي بخت مه وای له موره زېږولئ
چي پيدا شوم عشق يې مه وای راښوولئ(9)

د محشر خواري اختر ور ته ښکارېږي
خدای هرګز په مينه مه وای پوهولئ

دا پر مخ يې خال و خط و زلفي نه دي
تور اطلس يې پر کعبه دئ غوړولئ

شوخو سترګو يې ګلي خيال له ما يووړ
لکه خلاص کاندي قصاب له غوښو ولئ

---

(١) چاپي ديوان: دا خوله. (2) چاپي ديوان: ته بېکس مل دي دښمن. (3) چاپي ديوان: لاس و پښې دي دي ختلي.
(4) چاپي ديوان دا غزله نه لري. (5) ب: له وينو. (6) ب: دا د زړو. (7) ب: آفرين را باندي وشو لور د لوره. (8) ب: نا اميدی.
(9) دا غزله په چاپي ديوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس بې(1) ښوک سر لکه ګوی که په میدان کې | چې یې ما د نې سوارۍ جلب نیولئ
چې ببومه یې(2) له عشقه پارسایي ته | دې ولد په بهانه وم غولولئ

۴۶۹ تور کاکل یې په زړه خوله نجتې "حنانه"
نه پوهېږم دا تور مار چا قهرولئ ۳۴۰۹

له ګناهو ښخه(3) نه کوې رم ولې | تل کوې پر زېږد ستانو ستم ولې
په دنیا پسې اووه اقلیمه غواړې | او د حق پر لوري نه ږدې قدم ولې
د دنیا و کار ته سم ځې لکه غشی | خدای ته نه شوې په طاعت سره خم ولې
د دنیا په تله له خدایه مرور شې | دا چې اړوې وهلې قلم ولې
تویوې مدام اوښې د مظلومو | نړوې د تن دېوال په دا نم ولې
د زمري په شان ور ځغلې پر کمزوري | زورور و ته نه وهې دم ولې

۴۷۰ خرڅوې دین په دنیا "میرزا حنانه"
دا نعمت زائلوې په دا غم ولې ۳۴۱۶

چې عاشق د عشق پر لار برابر درومي | په رضا یې معشوقان مکرر درومي(4)
هره شپه چې دا ستا خیال په غېږ کې نیسم | بوی د ګل مې له بشره سحر درومي
هغه شپه چې دې محروم شم له وصاله | د ځراغ په شان لوګي مې تر سر درومي
چې دې خیال د زلفو و ستا تم په زړه کې | له سینې ښخه مې بوی د عنبر درومي
تېول د زړونو ستا په خیال پسې عیب نه دئ | په سلطان پسې د وروستو لښکر درومي
ستا په عشق کې له رقیبه نه ببرېږم | په دریاب کې بې پروا شناور درومي

۴۷۱ و "حنان" و ته هغه ساعت قیامت وي
چې یو پاته شي، یو یار په سفر درومي ۳۴۲۳

ساقي راکړه یو څو ډکې پیالې مې | چې په چښه یې(5) صد ساله مړده شي حې
چې دا ستا د رخسار عکس پکښې ګرزي | هغه جام لبالب راکړه پیا پې
مې بې غِشه، یار ساقي، چنګ و رباب وي(6) | پادشاهي په نظر نه راځي د کې
هسې جام د ببخودۍ را عنایت کړه | چې له فهمه مې فاني که همه شې
د اشنای د مینې درد هسې سر سام کړم | چې دوا مې نه په ساز شي نه په نې
عشق جدا کړم له عالمه په عالم کې | لکه ناست وي له عالمه لبونی

۴۷۲ د "حنان" په حال د عشق سوخته پوهېږي(7)
تن پرور کله خبر دئ(8) په دا سوی ۳۴۳۰

---

(۱) بې = به یې. (2) دغه برخه په اصل کې نه لوستل کېږي له بلې نسخې څخه وا خیستل سوه. (3) چاپي دېوان: له عصیانه څخه. (4) دا غزله په چاپي دېوان کې نسته. (5) چاپي دېوان: په چښنو یې. (6) چاپي دېوان: رباب دی.
(7) چاپي دېوان: د عشق سوی خبر دئ. (8) چاپي دېوان: کله پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېڅ ښکلي پر ما نه شي مهرباني ... دا په دا مې پر طالع شي حیراني
عشق یې تندره اسماني نه ده نور څه ده ... رېز مرېز یې کړه د صبر و داني
که د حُسن له مستیه لېوني دئ ... سر و مال[1] ځني زما شه سپلني
له نظره یې وتلئ نه یم څه یم ... چې دا هسې د رقیب شوم[2] خندني
همېشه یې په پرده کې دي دوې سترګي ... نه پوهېږم چا په زده کړه رهزني
د رنجو په باڼ دي تېغ د سترګو تېز کړ ... د زړه سپر ور له ره بویه آهني

۴۷۳ ... یار پاله "حنانه" اوس چې خط یې راغئ ... ۳۴۳۷
په کفارو کې زېب که مُسلماني

چې مې بایلووه په مینه کې ځواني ... اوس بې[3] کله پرېږدم عشق په اساني
شوخي سترګي یې څوک نه پرېږدي و وارته ... ژر یې ور ولي تکبیر ته قرباني
تروي اوښي نمک بویه د زړه غوښې ... چې یې وکړم د خونخور خیال مهماني
زلزله مې د عشق ولیده په سترګو ... نړوله یې د صبر و داني
د خط کفر یې هجوم په وار وار وکړ ... دا په دا ولاړه د مخ مسلماني
که تسخیر د عالم کړي تواضع خوی کړه ... دا په دا چې نګین خم وي سلیماني

۴۷۴ ... عشق بلا نه ده کېمیا ده او که نه وای ... ۳۴۴۴
د "حنان" چهره به نه وای زعفراني

له نو خطو څخه نه یم صبر کړونی ... کله اوري غل، چې ډېر شي لاس غړونی
سر درد مې د عشق نه درومي له سره ... نصیحت به را تر څو کړي سر تړونی
د ګلرخو د هوس[4] په تناره کې ... هسې و سوم لکه سوئ اورلړونی
بلبل وري د خار جفا د ګل د پاره ... د رقیب به ولي نه یم منت وړونی
بې نارو[5] مې اوښي ځي د یار له غمه ... بې تنا د ژمي ابر وي ژړونی
مرحمت به ولي[6] یار په رقیب نه که ... دا په دا پر ښښتن ګران وي سپي خوړونی

۴۷۵ ... چې د سوز ژړا "حنان" په لوی سهار کړه[7] ... ۳۴۵۱
له دي غمه غونچې ځیري کړ پړونی

په مجاز کښې چې وفا غواړي عشق کړوني ... غواړي خوند د هندواني له مرغوني
د ریا زاهد ژړا د خدای په کور کښې[8] ... قحبه کښېږدي[9] په مسجد کښې حرموني
چې د عشق لافي وهي میدان ته راشه ... تر څو پټ یې لکه ښځه په پړوني
مجاز پُل د حقیقت دئ څه پر تېر شه[10] ... ته د پُل پر سر ولاړ جوړوي خوني

---

(١) چاپي دېوان: مال و سر. (2) چاپي دېوان: د عالم شوم. (3) بې= به یې. (4) چاپي دېوان: د هوا. (5) چاپي دېوان: په نارو مې.
(6) چاپي دېوان: بې ولي یار. (7) چاپي دېوان: په لوی سهار که. (8) "د زاهد ژړا د خدای په کور کې هسې".
(9) - ب: لکه کښېږدي. (10) - ب: د حقیقت دی پرې تېرېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېـــړه خویونـــه نـــه در ښخـــه کېـــږي　　ســـازوي مـــدام لُعبتـــي لکـــه نجـــوني
قناعــت پــر خپــل ټــوکر کــړه پــور تــه مــه ځــه　　لقمــه اخلــه(1) چــي دي ننــوزي پــه ســتوني

۴۷۲　چــي دي شــعر نــه غــوړ باســي څــوک "حنانــه"
د اشـــــعار د آســـــو نســـــه(2) ملـــــوني　۳۴۵۸

د ښایســت لــه مخــي(۳) ځغلــي ســل فتنــي　　څــو بــه راوړم(۴) ور تــه تــاب زه د ســیني
یــو ســاعت مــي بــي ژړا نــه دي دوي ســترګي　　نــه پــوهېږم چــي کــاریز دئ کــه چینــي
پــه ســینه کــي مــي ټــولېږي ســتا غمونــه　　لکــه جمــع شــي عــالم پــر ســفینې
ستا د مینې ګـرګ پـه هسـي شـان رنځـور کـړم　　چــي زهــوب مــي مــدام درومــي لــه اینــي
چي رقیب دا ستا پـه در کـي(۵) ځـای پیدا کړ　　زړه و ســرېږي مــي و راســته شــوه لــه کینــي
د ګلــرخ د مــخ پــه اور کــي عیــب نــه دئ　　کــه مــي تــن شــي(۶) تــار پــه تــار لکــه نینــي

۴۷۷　پــه قــدر دا ســتا د هجــر وصــل غــواړم
د "حنـــان" دي پاتـــه شـــوي مهینـــي　۳۴۶۵

دګلرخـــو لـــه چـــا مـــه شـــه دښـــمني　　کــي لــه غمــه ښخــه مړشــي نــي منــي
هــیڅ پرحــال پوښــتنه نــه کــړي د مهجــورو　　خــدای دي نــه کــوري د دوی کبــر و منــي(۷)
د هــر چــا زړه لــه کوګلــه ښخــه(۸) کــاږي　　چـــي جامـــه د نـــاز پـــه برکـــه ســـمني
و کُشـــتن تـــه د عاشـــق هســـي راځغلـــي　　لکــه کــور لــره چــي دروړمــي(۹) وطنــي
ســپین غابنــوني(۱۰) پــر کــوهرو بانــدي نازکــه　　او لبـــان(۱۱) یـــي پـــر عقیـــق یمنـــي
قتــل کــړئ یــم هغــه ګلــرخ(۱۲) بــي تبغــه　　چـــي اغوســـتي یـــي قبـــا ده چمنـــي
پـــه زبـــان د خوبرویـــانو زه پـــوهېږم　　مـــا د دي کبلیـــو کـــړي ده شـــپني(۱۳)

۴۷۸　چــي اغوســتي یــي د خــط تــوره جامــه ده
د "حنـــان" رنـــګ شـــو پـــه دا ګرګمنـــي　۳۴۷۳

چــي پــر زړه د زلفــو خیــال د جانــان کښــېني　　کـــه رســـتم د زمـــاني وي حیـــران کښـــېني
د عاشــق و معشــوق راز چــي ســره یــو شــي　　هغـه دم یـي رو یبـار چـپ شـي(۱۴) تـر میـان کښـېني
پــه عــرق یــي هســي(۱۵) شــان شــي رخســار نــرم　　لکــه پــاني چــي د ګــل پــه بــاران کښــېني
دُر د اوښـــو بـــي ســـامان د مهمـــانۍ کـــړم　　کــه یــي خیــال زمــا پــه زړه کــي مهمــان کښــېني
چــي بــي غوښــتو پتنــګ طــوره ځــي مجلــس تــه　　ژر پـــه ژره پـــر ایـــرو د خپـــل ځـــان کښـــېني
د الفـــت مرغـــه لـــه دي ګلشـــنه والـــووت　　چــي شــبنم د خــس و خــار پــر ګرېــوان کښــېني

(۱)- ب: لقمه احله، "بي ځایه اوړده حاشیه یي ور کړې ده " له کاتبه ټکی پاته سوی دئ. (2) و نسه= ونیسه. (3) چاپي دېوان: له مخه. (۴) چاپي دېوان: څو را وړمه. (۵) چاپي دېوان: چي رقیب ستا په درګاه کي. (۶) چاپي دېوان: که مي صورت شي. (۷) چاپي دېوان: کبر مني. (۸) چاپي دېوان: د عاشق زړه له بد نه ښخه. (۹) چاپي دېوان: چي زغلي. (۱۰) چاپي دېوان: سپین دندان یي. (11) چاپي دېوان: سره لبان یي. (۱۲) چاپي دېوان: هغه ګلرنګ. (۱۳) دا بیت له بلي نسخې را نقل سو. (۱۴) چاپي دېوان: چف که. (۱۵) چاپي دېوان: هسي شان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴٧٩ کـه یـې قـد د سـرو قـد ورشـي پـه خـوا کـي ٣۴٨٠
دا "حنـان" بـه پـاس پـر بـام د اسـمان کښېني

چـي بتـان شـي هـم صـحبت د آئینـې — یـو پـه سـله شـي حیـرت د آئینـې
طمـع مـه کـړه د بوسـې لـه سـاده لوحـو[1] — نـه دي چنبـلي چـا شـربت د آئینـې
د هغـه شـوخ حُسـن خیـال بـه څـه نګـاه کـړم — طاقـت نـه کـه لکـه صـورت د آئینـې
پـه خپـل حُسـن دي خبـر کـړه[2] ځکـه هسـې — خوبـان ډېـر کـوي عـزت د آئینـې
لـه صـافدلو راز د زړه پوښـیده نـه دئ[3] — فهـم وکـړه پـر صـفوت[4] د آئینـې
پـه راتلـه د خـط کـه حُسـن زیـات شي ښـایي — پـه ایـرو شـي[5] شـرافت د آئینـې

۴٨٠ چـي د عشـق پـه اور ځـان ویلـي کـه "حنانـه" ٣۴٨٧
خوبـان ځکـه کـه[6] حرمـت د آئینـې

یـار هغـه دئ چـي ولاړ د یـار پرپـت[7] وي — کـه راحـت ورتـه رسـېږي کـه زحمـت وي
روی ګـردان لـه یـاره نـه وي پـه هـیڅ طـور — د یـار ظلـم یـې پـر ځـان لـوی سـعادت وي
د رقیـب پـه ویـل نـه ګـرزي لـه یـاره — همېشـه یـې دغـه خـوی دا یـې[8] عـادت وي
نظـر نـه کـه د دنیـا و سـود و زیـان تـه — شـپه و ورځ لـه خپلـه یـاره هـم صـحبت وي
کـه هرڅـو جـور و جفـا لـه یـاره وینـي — لا ور څخـه د هغـه یـار ډېـر عـزت وي
پـر مـخ نـه راوړي ګیلـه[9] نـه ورتـه وایـي — چـي پـه سـل طـوره یـې یـار پـه ملامـت وي

۴٨١ کـه څـوک سـر ښـندي پـر هسـې یـار "حنانـه" ٣۴٩۴
د هغـو سـر فـرازي بـه پـه قیامـت وي

څـو دا مځکـه اسـمانونه بحـرو بـر وي — د ګلرخـو اسـتانه، زمـا دي سـروي[10]
کـامراني پـه حیرانـي شـي لـه ګلرخـو — د دې بـاغ ګـل د هغـه چـي لاس تـر سـروي
بېتـابي د زړه تـر بـاغ صـنوبر باسـي — پـه ګلشـن کـي چـي قـامت سـتا جلوه ګـر وي
د لالـه پـه دود مـي زړه د محبـت وسـو — د آه دود چـي غوټـه شـي داغ د ځګـر وي
چـي پـه درسـت جهـان یـوه ډوډۍ قسـمت کـه — و عـالم تـه بـه مـخ رونـې لکـه لمـر وي
ځـای د امـن مـي هیڅیـري پیـدا نـه کـړ — لکـه شـمع هـر ځـای زمـا د سـر خطـر وي

۴٨٢ بـې لـه یـاره پـه ګلشـن کـي تمـام عمـر ٣۵٠١
و "حنـان" تـه خپـل بـانو لکـه خنجـر وي

نـن مـي پیالـه غمـه زړه را څخـه چَـوي — چـي خـوړلې د هجـران د تـوري لـوي[1]
جـدایي د خپـل اشـنا یـم کبـاب کـړئ — چـي مـدام پـر هـر زیـارت لګـوم خَـوي

---

(١) چاپي دېوان: له ساده رویه. (2) چاپي دېوان: په خپل حُسن یې خبر که. (3) چاپي دېوان: راز د زړونو پټ ښه نه دئ. (4) چاپي دېوان: پر صورت. (5) چاپي دېوان: په ایرو وي. (6) چاپي دېوان: هلته که. (7) چاپي دېوان: په زفت.
(8) چاپي دېوان: "د ښه یار تل دغه خوی دغه عادت وي ". (9) چاپي دېوان: نه راوړي یو حرف. (10) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته.
(١) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) بې = به یې. (3) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته، د خطي نسخې په متن کي د ننه هم نه ده راغلې، او له هغې پاڼې څخه را نقل سوه چي کتاب جوړوونکي "صحافان" ور ته بلا ګردان وایي.
(4) چاپي دېوان: که په هجر کي څوک مرګ غواړي. (5) چاپي دېوان: لکه اور. (6) چاپي دېوان: په دوړوي.
(7) چاپي دېوان: چي حنان څوک له اشنایه. (8) دا غزله په چاپي دېوان کي نسته. (٩) کې = که یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي ملګري يې دېوان يا حيوانان وي — پر هر ځای به باندي ټول وي لکه رَوي
د سينې زخم مي بيا فراق ناسور کړ — چي مدام ځني بهېږي ويني زَوي
د کميس د خولو بوی بې[2] کله را شي — يعقوب رنګه مي لېمو ونيو پېرَوي
عاشقان دي په وصلت کله اوبېږي — د هجران تشنک وهلي دي ککوي

۴۸۳ دې مصرع د حميد زړه د "حنان" وسو ۳۵۰۸
له فريادہ د اور سوي زده اور سوي

د هر چا چي شبنم رنګه پاک ګوهر وي — همېشه به يې د ګل لمن بستر وي[3]
ستا مژګان دي وي نګاه له بدو سترګو — د مظلوم په وينو سره لکه نشتر وي
چي يې ستا کاته ايرې که عجب نه ده — که د طور اورې پيدا له خاکستر وي
شېرازه د ګل د عمر ده لس ورځي — هغه ګل غواړم چي جمع يې دفتر وي
په ګلشن کي بلبل و ويل و ګل ته — چي د ګل تولېده که مات يې کمر وي
هر چي ستا په زلفو بند شي نه خلاصېږي — پيل چي و لوېږي په بند کي مسخر وي

484 چي د عشق بلا را لوېږي له اسمانه ۳۵۱۵
تر پخوا يې نښانه د "حنان" سر وي

د خپل يار جفا مي ډېر ډېر ژړوي — بل مي تن پر اور د هجر کړوي
د زارۍ وانبه په خوله تر ګوته نيسي — که په عقل غر له بيخه لوړوي
که په هجر کي مرګ و غواړم[4] ښايېږي — تريخ ژوندون سړی له عمره مړوي
ښادي نشته په خندا کي د ګلرخو — پر پرهار د پاسه مالګي دوړوي
د ناصح نصيحت هسي دئ په عشق کي — لکه تندره[5] په پوکلو سړوي
د يار هجر يم وژلی نه رغېږم — بېهوده زاهد نمک را پړوي[6]

485 له اسمانه پرېواته دي بل څه نه دي ۳۵۲۲
چي "حنان" له خپله ياره[7] اړوي

زلفي د دلبر پر مخ څه نشو نما کوي — قتل د عاشق خراب لا تر عشق پخوا کوي[8]
يو د ناز کاته د يار روح بخښي عاشق لره — سترګي کې[9] بيماري دي کار د مسيحا کوي
ته پادشاه د حُسن يې مه شمېره بوسه پرما — عيب د شاهانو دئ تېر حساب چي بيا کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دي نرۍ وروځي دي بل د خط سبزه ګوره — تور خال یې د زړه په ورو څه بدۍ بلا کوي
زلفې د دلبر مدام نازکه پر سنبل باندي — خوله یې پر غونچه باندي دم په دم خندا کوي
څه قد بالا لرې څه نریه ملا لري — زلفې ترازو د مشک هر ساعت سودا کوي
486 نه که هیڅ بلبل پر ګل ضبط د خپلې خولې هرګز
ځکه دا شیدا "حنان" ستا پر مخ غوغا کوي ٣٥٢٩

د عاشق پر زړه اورونه بلوي — د جفا پر کاڼي زړونه سولوي
ګفتګوی چې مې د مرګ کوي پوهېږم — په دغه بانه مې خوشې غولوي
سترګې زړه وړي د خلوت له زاهدانو — په غمزه یاغي ملکونه اېلوي
دا یې خال نه دئ د حُسن په ګلشن کې — لخ هلک دئ حبشی، ګل ټولوي
تاخت د چا پر زړه کوي په خبر نه یم — دا چې هسې د ناز آس را ځغلوي
رقیبان یې[1] په خپل وصل سرفراز کړه — پر عاشق د غم بارونه چلوي
487 په خواري پسې د وصل ښادي شته ده[2]
په "حنان" چې د فراق غم ګلوي ٣٥٣٦

هغه زړه چې ستا و زلفو ته مایل وي — د بلا فوجونه تل باندي نازل وي[3]
چې منزل اورېد وي جرس هومره فغان که[4] — له خولې سوي نارې کله د واصل وي
په دنیا کې زړه بې داغه[5] په کار نه دئ — چې بې مُهره شي هغه برات باطل وي
نوی خط ستاله رخساره[6] سره زېب که — چې آیات[7] کله پر هر کاغذ نازل وي
چې د عشق په لومه بند شي واړه بایلي — که یې څورلس علمه کړي وي فاضل وي
ستا د لب د بوسې دا د راباندي وکړه — رحم ډېر د پاد شاهانو پر سائل وي
488 سخندان به د "حنان" په قال پوهېږي
قند او کورت پر هغه یو وي چې جاهل وي ٣٥٤٣

په دنیا کې به تر هغه څوک خُرم وي — چې ملګری یې مدام د اشنا غم وي
د هغو سترګو له مکره[8] څوک خلاصېږي — چې یې ښکار مدام هوسۍ د حرم وي
بوالهوس که لافې کړي د عشق دا څه شو[9] — د کیمیا خیال[10] و مفلس ته د زړه دم وي
مور د عشق و غره ته شاده لګولې — له قاضي که وهم[11] هغه چې کاڼی کم وي
پر سپین مخ باندي تور خط د یار ضرر دئ[12] — خرابېږي ژر کتاب چې خوش قلم وي
له دولته د عشق کله بخره وړای شي — چې په فکر د دینار و د درم وي
489 د "حنان" شکستګي ښکاره هغو ته
چې په خیال د یار د وروځو مدام خم وي ٣٥٥٠

---

(١) اصل: رقیبان دي. (2) چاپي دېوان: شته دي.(3) چاپي دېوان: "پر هغه د بلا فوج محاصل وي ". (4) اصل: "منزل دور وي جرس هومره فغان کاندي ". (5) چاپي دېوان: هر یو زړه چې شي بې داغه. (6) چاپي دېوان: نوی خط له رخساره. (7) چاپي دېوان: ښه آیات. (8) چاپي دېوان: د هغو له مکره. (9) چاپي دېوان: "بوالهوس که لاف د عشق که په دا څه ".(10) چاپي دېوان: د دنیا خیال. (11) چاپي دېوان: له قاضي وهم که. (12) چاپي دېوان: خطر دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجلس هغه دئ(1) چې ته یې یو جانان وي — هم مطرب ساقي شراب ارغوان وي
خونخور عشق له زړه پُرخونه خبر نیسي — د لبرېزي پیالې ډېر ساقي پاسبان وي
چې و باغ ته خرامان شي کله کله — هغه دم ګل آشفته نرګس حیران وي
که دي زلفې پر مخ پروتې باک یې نشته — دا په دا چې شپه و ورځ مُشت و ګرېوان وي
چې یې ستا د زلفو عکس پر زړه ګرزي — هغه تل د آئینې په دود پرېشان وي
مدام غم تر لمن نیسم زړه تې(2) بولم — پر اشنا باندې اشنا ډېر مهربان وي

490 په قیامت چې خدای قاضي وي حق به غواړي(3) ٣۵۵٧
د میرزا "حنان" دې لاس ستا دې ګرېوان وي

بندي شوئ چې د سترګو په جادو وي — له عالم یې تېښته خوی لکه آهو وي
د ښه مخ جلوه و هغه ته ښکارېږي — چې یې سر و آئینه ته(4) د زانو وي
چې خم شوئ وي په خیال د یار د وروځو(5) — ځای یې پور ته پر لېمه لکه ابرو وي
دُر د غاښو لعل د لبو بې(6) تلې څوک — چې یې کانې وي شبنم(7) ګل ترازو وي
د کړو ورځو تصویر به یې څوک کاږي — کې د توري په جوهر، قلم(8) د مو وي
چې په خیال د یار د قد د سروي بندي شي — د فاختې په شان یې(9) تل ذکر کوکو وي

491 دا خلعت دئ ستا د حُسن له دولته ٣۵٢۴
چې "حنان" دې تل له غمه رو برو وي(10)

په جهان کې به د وصل نعمت نه وي — که آخر پسې د هجر زحمت نه وي
وصل و هجر د یار دواړه خور و رور دي — په دنیا کې بې زحمته راحت نه وي
سر تر پایه سره لمبه شم و به سوځم — که یو دم مې د ګلرخو صحبت نه وي
له وطنه ځخه ځه که دي د پلار وي — چې بې آبه پکښې اوسې عزت نه وي
خواره نه دي هغه غوښې د بدن دي — چې د چا کره ورځې در ته ست نه وي
که هر څو ښایسته نجل وي مخ دې واوړي(11) — چې په ناسته په ولاړې(12) عصمت نه وي

492 ملامت کړه ځان دلې "حنانه" واروه ٣۵٧١
کانې کم د ترازو د قیامت نه وي(13)

که کوې را سره ډېره جفا ښایي — رسا حُسن لره جور رسا ښایي
له حیا په آئینه کې کتای نه شي — که کوي ببکانګي له اشنا ښایي
که له لاسه مې نن بوی د رومې د عطرو — چې خلاص کړئ مې دئ بند د قبا ښایي(۱۴)

---

(۱) چاپي دېوان: مجلس هغه چې. (2) تې = ته یې. (3) چاپي دېوان: په قیامت چې خدای قاضي محمد شفیع وي ".
(4) چاپي دېوان: و آئینې ته. (5) چاپي دېوان: د یار د سترګو. (6) بې = به یې. (7) چاپي دېوان: کانې د شبنم. (8) چاپي دېوان: کې د توري جوهر کل قلم. (9) چاپي دېوان: په دود. (10) دا مقطع په چاپي دېوان کې نسته. (11) چاپي دېوان: "که هر څو ښایسته خېل وي رنګ دې ورک شي". (۱۲) په ولاړې = په ولاړه یې. (۱۳) چاپي دېوان: "دا دروغ به بیا هورې په قیامت نه وي". (۱۴) چاپي دېوان: د بتا ښایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې (1) تغیر یې سپین مخونه کړه د ترکو ‌ ‌ کـه یې و بـولم خـط تـوره بـلا ښـایي
چې لـه خیالـه و آفتـاب تـه سم نـه ګـوري ‌ ‌ پـر مهتـاب کـه طعنـه کـړي دلربـا ښـایي
چې پـه آه د زړو یې کـج واړه مژګـان شوه(2) ‌ ‌ کې غمـزه غـواړي لـه زړو خونبهـا ښـایي

493 ‌ پـه اکسیـر د زړو یې کلـپ د زړه خـالص کـړه ‌ ۳۵۷۸
کـه"حنـان" لافـي وهـي د کېمیـا ښـایي

سـتا و تېـغ تـه مـي پـه زړه لـه اشـنایي ‌ ‌ ورکـړه لار ګونـدي بـه وکـړي دوایـي
تـر الفـت دا سـتا د وروځـو حیرانېـږم(3) ‌ ‌ چې یـو مـوی یې تـر میـان نشـته جدایي
ملاقـات تـه دي حیـران یـم د مژګـانو ‌ ‌ چـې هـردم سـره کـوي دلربـایي
سـتا د زلفـو خیـال ځنځیـر کـړ را تـر غـاړه ‌ ‌ ځکـه اوسـم تمـام عمـر سـودایي
ځنځیـر نـه لـوېږي د عشـق و هـري پښـې تـه ‌ ‌ څـوتېر نـه شـي تـر مجنـون پـه رسـوایي
کـه عشـق پـټ سـاتي عـاشق(4) ور لـره ښـایي ‌ ‌ کېمیـاګر کلـه کـوي خـود نمـایي

494 ‌ رقیـب بیـا څـه ور تـه و ویـل حیـران یـم ‌ ۳۵۸۵
لـه "حنانـه" چـې کـوي بـې پروایـي

تمـام عمـر پـه غفلـت کښـي نـا پکـاریې ‌ ‌ لړځـه و ګـرزه و خـدای تـه کـه هوښـیاریې
که کړې خاوري توی پـه سترګو کښي د نفس ‌ ‌ پـه جنـت کښـي بـه لـه حـورو سـره یـاریې
کـه اغـزي د چـا لـه لاري څخـه واخلـې ‌ ‌ پـه هغـه جهـان بـه تـه ګـډ پـه ګلـزاریې
د ضـعیف لـه اُوږو بـار دَ لتـه واخلـه ‌ ‌ پـه صـحرا کښـي د محشـر بـه سـبکباریې(5)
چې موقـوف د چا بـار نـه کـړې و صباح تـه(6) ‌ ‌ پـه جنـت کښـي بـه دا خـل بـې انتظـاریې
کـه د لـې کـړې لکـه مـار ازار د خلقـو ‌ ‌ پـه عرصـه کښـي د محشـر بـه لکـه مـاریې

495 ‌ نصـیحت وبـل تـه څـه کـوې "حنانـه" ‌ ۳۵۹۲
تـه پسـې مـدام د خلقـو پـه آزاریې

چې یې مـخ ګـل د بهـار(7) دئ هغـه تـه یې ‌ ‌ چې د درست جهـان(8) پـه کـار دئ هغـه تـه یې
چـې مـدام زړه ځنـي ورک وي هغـه زه یـم ‌ ‌ چـې د کـل عـالم(9) دلـدار دئ هغـه تـه یـې
چـې خـم شـوئ دئ پـر مـلا لـه غمـه زه یـم ‌ ‌ چـې سـم قـد و کـج رفتـار دئ هغـه تـه یـې
چـې حیـران ضـعیف لـه درده هغـه زه یـم ‌ ‌ چـې پسـې تـل پـه آزار دئ هغـه تـه یـې
چـې پـر مـخ بانـدي دي محـوه هغـه زه یـم ‌ ‌ چـې د زړو پـه وړو هوښـیار دئ هغـه تـه یې
چـې پـر زړه بانـدي خـوړلئ هغـه زه یـم ‌ ‌ تـور کاکـل چې یې تـور مـار دئ هغـه تـه یې

496 ‌ چې پـه عشـق دي مشـهور(10) دئ زه "حنـان" یـم ‌ ۳۶۹۹
چـې ممتـاز د قنـدهار دئ هغـه تـه یـې

(۱) په چاپي دېوان کي "چي "نسته. (2) چاپي دېوان: "چي په آه يې د زړو واړه مژګان کج شوه ". (3) چاپي دېوان: قربانېږم. (4) چاپي دېوان: پټ عاشق ساتي. (5) "ب" سبکسار. (6) د چا کار نه کړې و فردا ته. (7) چاپي دېوان: لکه بهار دئ. (8) چاپي دېوان: درست عالم. (9) چاپي دېوان: د کل جهان. (10) چاپي دېوان: په عشق کښي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# متفرقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ ترجیع بند ﴾

یار مې ولاړ شو په سفر له دې وطنه — که ارواح وکوچ یې وکړ له بدنه
که بلبل په اندوه والووت له گلشنه — که وروستی دم و د مړي له دهنه
چا بې کړې وي له سترې زړه پوښتنه — چا بې اینبئ وي ملهم پر زړه د ننه

دروغجن یې یم(1) په مینه کې هر گوره
یار مې ولاړ شو زه و نه وتم له کوره

چې خبر یې د تلو وشو ناگمانه — لکه تندره پر چا پرېوزي له اسمانه
چې یوسف مې شو ملگری له کاروانه — شو یعقوب زما د زړه پسې پرېشانه
په ارمان ارمان به ژاړم له هجرانه — د ژوندون طمع مې وخته له ځانه

چې ترې پاته شوم په دا پېغور گنده یم
سترگې نه لرم په سر کې شرمنده یم

ور سره به خوک پر لارې وي ملگرې — چې ویسا به یې په نه شي نژدې لیرې
له ستړیا به یې زړه نه غواړي خبرې — په ناکام به تر خوله تویې که شکرې
د سرو لبو لعل به پرولې په کودرې — اړوي به باندې تل د غم پتیرې(2)

عاشق نه وم اوس رشتیا شوه دا خبره
چې پر سر مې را پرې نه و تېره(3)

خوب به نه ورځې مانده به تر حد تېر وي — خوشالي، هوا هوس به ځني هېر وي
سپین رخسار به یې له فکره په بل پېر وي — له ستړیا به نیشکر ور ته گندېر وي
په دیدن بې دېو و دد(4) ملگرې سپېر وي — پر هر ځای به لکه روي پر چارپېر وي

چې ترې پاته شوم په کومو سترگو گورم
پزه نه لرم پر مخ بې پزې ښورم(5)

دی روان شو زه پر کور په دا حیران یم — چې نه مړ شوم نه مجنون سر پر بیابان یم
نه آسیا رنگه له غمه سرگردان یم — نې له هجره څخه زه خیرې گرېوان یم
ملامت د هر هندو و مسلمان یم — دی پخوا را پوهېده چې دو زبان یم

رحمتونه دې د ده پر زیرکۍ وي
لعنتونه دې زما پر خیرگۍ وي

---

(۱) چاپي دېوان: دروغجن یمه. (2) چاپي دېوان: د غمو سرې. (3) چاپي دېوان: "چې پر هر در باندې ژاړم بې اثره.
(4) چاپي دېوان: "په دیدن به یې دوی دوه ملگرې". (5) چاپي دېوان: "پزه نه لرم په درست جهان کې ښورم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـه مـې مينـه وای رشـتيا سـوئ پـه اور وای — پـه نغـري کـي بـې(1) د هجـر لکـه سـکور وای
پښې مې ييلې(2) کالي خيري سر سرتور وای — پـه انـدوه سـره مـې تـرک د دنيـا کـور وای
لـه دې غمـه مـې تـر اوسـه سـر پـه گـور وای — ښايي دا چي مخ مي تور او پر خره سپور وای
صـــد رحمـــت دي وي د ده پـــر دا نـــايي
صـــد لعنـــت دي وي زمـــا پـــر اشـــنا يـــي

بــل وطــن تــه شــو روان پــه زړه خســته — نه يې آس، نه يې خېمه، نه يې درسته(3)
لـه خبـرو بـې پـه غـم وي خولـه بسـته — لـه دغـه غمـه مـې شـوه اِينـه ورسـته
پــه مجلــس کــي بــه د چــا وي نشســته — پـه ناکـام کـه چيري خلاصـه کړي پسـته
تـف زمـا پـه اشـنايي شـه بېوفـا يـم
چـي بـې يـاره لا تـر اوسـه ژونـدی پـايم

يـار مـي ولاړ شـو پـه سفر پسـي زهيـر يـم — لـه دا غمـه(4) تـل اختـه د ځـان پـه ويـر يـم
ريشـــخندي د هـــر صـــغير و د کبيـــر يـــم — چــي پــه غــم لا د قليــل و د کثيـــر يـــم
زخمـــي کـــړئ ببلتانـــه دغـــم پـــه تيـــر يـــم — همېشـــه د دغـــي چـــاري پـــه تـــدبير يـــم
چـي تـر کومـه بـه بـې ننګـه يـم بـې عـاره
چـي لا طمـع کـړم د عـيش لـه قنـدهاره(5)

پـه خپـل فضـل خواست قبول زما غريب کړي — د وصـال ښـادي مـي يـو وار پـه نصـيب کـړي
تللـئ يـــار راســـره وصـــل عنقريـــب کـــړي — مشـــرف پـــه دغـــه ګـــل دا عنـــدليب کـــړي
د هجـران نـا سـور مـي روغ پـه دا طبيـب کـړي — خوا پـه خـوا را سره وصـل(6) خپـل حبيـب کـړي
پـــه کـــرم ســـره د خـــوږو زړو دوا يـــي
چـــي لار ورکـــه کـــړي هغـــه پـــر لاري بيـــايي

و ســـيله مـــي کـــړي مجـــاز و حقيقـــت تـــه — خاموشـــي مـــي کاميـــابي کـــړي معرفـــت تـــه
شـــک مـــي ورک کـــړي لـــه خـــاطره طريقـــت تـــه — را تـــر غـــاړه کـــړي(7) ځنځيـــر ســـتا و قربـــت تـــه
ډېـــر طـــامع دي يـــم د وصـــل(8) و شـــربت تـــه — بـــې پوښـــتني مـــي لار و کـــړي(9) و جنـــت تـــه
غيـــر خيـــال مـــي کـــړه لـــه زړه ځخـــه جـــارو تـــه
دغـــه زهـــر مـــي کـــه(10) پـــه ســـتوني کـــي دارو تـــه

---

(۱) بې = به يې. (2) چاپي دېوان: پښې مې پلې. (3) دا بند په چاپي دېوان کي نشته. (4) چاپي دېوان: له دې غمه
(5) چاپي دېوان -
چي اجل مي عذر وکه په عالم کښې — ګنه ډېر بې آبه پاته شوم په غم کښې

(6) چاپي دېوان: سره ګرم. (7) چاپي دېوان: را په غاړه کړي. (8) چاپي دېوان: کړي طامع مي ستا د وصل
(9) چاپي دېوان: لاهو کړي. (10) چاپي دېوان: مي کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سکوت په تار مې خيرې زړه رفو کړې — روبرو مې آئينه د خپل زانو کړې
صبر را د نوخطانو له جادو کړې — فسادونه مې له زړه څخه جارو کړې
بې ويلو مې پوره هره آرزو کړې — ما "حنان" د بيم په اوښو کې لاهو کړې

497 که مې چيرې يې بللئ له اخلاصه
په کرم مې کړه له غشه(1) سينه خلاصه ٣٧٤٣

## ﴿مخمس﴾

عقل و هوښ صبر و آرام را څخه تللئ — څو په بحر د عشق زه يم کښېوتلئ
زړه مې هيڅکله آرام نه دئ موندلئ — په کړو د کاږه بخت يم پوهېدلئ
د ګرداب په ميان کې ګرزم لکه خلې

آبادي مې د تن ميني کړه اوجاړه — چې هستي مې وه د صبر(2) هغه ولاړه
چې د عشق محکم څنځير شو را تر غاړه — د شوخ چشمو له نظره امان غواړه
په کړو کتو يې دئ هان نتلې

وصل و هجر د دوو کانو تر ميان کړم — بېلتانه يې په ژوندون پوري حيران کړم
نه پوهېږم په څه شان تدبير د ځان کړم — د دې هسې رنځ علاج په څه درمان کړم(3)
چې پر زړه يې يم د زلفو مار خوړلئ

لا تر څو به د هجران په خواري خوار يم — بېلتانه يې مدام سوئ په انګار يم
ډېر په وصل کې(4) له هجره ناقرار يم — همېشه سترې ستومان پر دغه لار يم
د فراق غمونو ښه يم پېژندلئ

چې مې يار را څه تللئ دئ عالمه — له اندوه يې(5) نه پر غر يم نه پر سمه
دا بلا چې مې پر سر اوري له کمه(6) — حيرانېږم چې لا مړ نه يم له غمه
کشکي نه واى زه له موره زېږېدلئ(٧)

يار مې قصد د سفر وکړ سوربدو ته — دا سبب شو زما د تن و نړېدو ته(٨)
ځان مې نه ورکاوه اوس و خوارېدو ته — اوس راضي يم د لعنت و بارېدو ته
چې تر اوسه مې ژوندى دئ ځان ساتلئ

ربه ته په مهر لطف عنايت کړې — ضلالت مې کل بدل په هدايت کړې
مشغولا مې د قرآن په تلاوت کړې — له جمله فسق وفساده مې نفرت کړې
د هغه په روى چې تا دئ راستولئ

---

(١) چاپي دېوان: له غشو. (2) چاپي دېوان: د زهد. (3) دغه نيم بيتى په اصل کي نسته (4) چاپي دېوان: هم په وصل کښي.
(5) چاپي دېوان: له فراقه (6) کمه = کومه (7) چاپي دېوان: "کشکي نه واى زه تر اوسه پايېدلئ". (٨) دا بند په اصل کي نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دنیا له اشتغاله امان را کړه    له هوسه له عیشو مي بېنوا کړه
په خپل فضل سره ترک زما هوا کړه    لار زما و خپل قربت ته را پیدا کړه

امید وار دي یم و در ته درېدلئ

څو به ګرزم په عالم کي تازه تر    چي اشنای را ځخه ولاړ شو په سفر
د بخت نخل مي وکړئ[1] دا ثمر    اوس "حنانه"دا مقال کړه مختصر[2]

۴۹۸    په لاس نه درځي اشنای په سفر تللئ    ۳۷۷۰

۞ ۞ ۞

دا څه وخت څه زما نه شوه را پیدا    په ناحق، په ظلم هر سړی رضا[3]
په ښکاره کوي ناحقه هسي چاري    چي نې شرم شي له خدایه نه حیا
د یوې روپۍ چي خپله نفعهویني    د بل سل روپۍ که زیان شي، له بلا
په یوه سودا کښي سل قسمه و خوري    د ایمان په فوتېده بې محابا
نه غني انصاف لري نه مفلس دواړه    هر سړی ظالم پخپل قدر تنها
که محکم شي د دوو کسو تر میان کښېني    بې مرضی یې هرګز نه زده بله خوا
ګناهو نه صغیره که کبیره دي    هسي کاندي ته وا نه لري جزا
هم زنا، ربا، غیبت دائم الخمره    لواطت خون د سړي ګڼي روا
هیڅ په کشر کښي ادب نشته له مشره    نه شرمېږي پلار له زو، زوی له ابا
خپل عمل د نیک و بد و دلته تول کړه    د قیامت په ترازو کښي نشته غلا

۴۹۹    الهی له هسي قومه نجات ورکړې    ۳۷۸۱
و "حنان" ته په خپل فضل رَبنا

۞ ۞ ۞

عمر درومي په شتاب    دم قدم دئ په حساب[4]
ته تر څو بېغمه ناست یې    مشغول یې په خورد و خواب
دا ستا کار نه پوره کېږي    ګاه نیمګړی ګاه کریاب
کار دي سم د دنیا نه کړ    او د دین دي کړ خراب
پر نس هیڅ نه معلومېږي    که په و خورې شهد ناب
هر چي ور شي واړه ډوب که    جوړ کاسه د ده ګرداب
رحم نه لري هیڅکله    نه پر شیخ و نه پرشاب
تل پرده د پیرۍ کاندې    په وسمه و په خضاب
نه دي شرم شي له خدایه    نه حیا کړې له احباب
ته هم زوی د فرشتې نه یې    چي دا نور بولې دواب
په ظاهر لکه سپین زر یې    او باطن لکه سېماب

(۱) چاپي دېوان: ورک کړئ (2) چاپي دېوان: "او حنان دا مقال کړ مختصر". (3) دا غزل په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته (4) دا قصیده وشمه غزله په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرور نه در لره ښايي — چې پيدا يې له تراب
هم د بولو له سوراخه — دوه ځل وزي په عذاب
که پادشاه د هفت کشور شي — هيڅ په کار نه دي کذاب
همېشه د بل په غوښو — بوخت يې لکه قصاب
باز چې غوښې تل د قام خوري — ځکه بند دئ په تناب
د بل زيان دا ستا تکيه ده — د بل زيان بولې ثواب
دا ستا خوی شيطان خجل کړ — څه خو وکړه اجتناب
دين دې بايلو پوره نه شو — ستا د دې جهان اسباب
د مرګ باد به دې چپه که — نيم نفس لکه حُباب[1]
چې له هره کبرجنه — تل بېزاره دئ وهاب

٥٠٠ — کې په غوړ کړې دا څه دُر دي / د "حنان" ويل خوش آب — ٣٨٠٣

؟ ؟ ؟

شاعران د پښتنو ډېر دي تر سل — څو به کړم در ته معلوم زه په ويل
يو ميرزا، ميرخان، دولت د علم کان ؤ — د سلوک شعر يې کړئ دئ افضل
بل اخوند مياداد د عشق په ميو مست ؤ — ښه شېرين الفاظ ويلي ميا واصل[2]
بل رحمان سرېنی د پېښور دئ — په پښتو يې غزل بِه دئ يو تر بل
د خوشحال ختک ويل کل نصيحت دئ — په ظاهره مسخرې دي يو د بل[3]
بل عبدالقادر شاعر د خوشحال زوی — ښه دېوان[4] يې دئ جوړ کړئ لکه ګل
بل حميد موشګاف د خيال په شعر — څه به وايم نا سفته[5] دُر يې پېيل
عليخان اخوند زاده پېښوری و[6] — ښه آبدار دُر يې له ژبې[7] تويول
ملاحسن اخوند ساګزی[8] په تلوکان کې — جوړول يې د معنا هر دم غزل[9]
د اخوند ملا پيرمحمد شعر که واروې[10] — په هر بيت سره يې زړونه سولول[11]
جان محمد حافظ کاکړ[12] په نعت و مدح — ښه اشعار به يې وايه لکه بلبل[13]
د عيسى اخوندزاده شعر ډېر ښه و[14] — آفرين دي وي پر باندي[15] تل تر تل
ملا جمعه په شاعرۍ کې ډېر استاد و — سيال يې نه و د خپل عصر د ويل[16]

---

(١) دا بيت له بلي نسخې را نقل سو. (2) چاپي دېوان: ويلي دي واصل. (3) چاپي دېوان: "په ظاهر يې مسخرې بوله بلکل". (4) چاپي دېوان: ښه کتاب. (5) چاپي دېوان: تأسف. (6) چاپي دېوان: "عليخان اخند ازده هم ښه شاعر و".
(7) چاپي دېوان: له شربه. (8) چاپي دېوان: ملا حسن اخند ښه پير. (9) چاپي دېوان: "په ويلو کي د شعر ډېر اکمل".
(10)- (11) چاپي دېوان:
د اخند پيرمحمد نظم ته که ګورې — هر ګفتار يې دئ په مثل د بلبل

(12) چاپي دېوان: کار کړ. (13) چاپي دېوان: "سيال يې نه و په پښتنو کي په ويل". (14) چاپي دېوان: "ښه شعر که واروې". (15) چاپي دېوان: به باندي وايې. (16) چاپي دېوان: "په هر بيت سره يې زړونه سولول".

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس زموږ د وخت شاعر ملا شمس الدین دئ[1]   په تکلیف تیاروي واړه غزل[2]
اوس صدیق اخوندزاده ښه شعر وایي   ډېر ښه پوه دئ د بیتو په نښلول[3]

۵۰۱ د سکوت[4] مهر پر خوله کښېږده "حنانه" ۳۸۱۹
څه غرض دي دئ[5] د خلکو په ښوول

؟ ؟ ؟

نه رسېږي ستا و وصف ته[6] دلیل   عقل نه که په دا باب کي قال و قیل
د بدبه د خسروۍ چي دي شوه پورته   د کسرٰی پر ډمامه یې وکېښ نیل
و لوېي ته دي د عقل چاره نشته   د در خاوري دي رانجه کړي جبرئیل
په ډېر لطف سره یې و بللې پورته   ستا و لور ته منتظر د عرش قندیل
لامکان یې ستا مکان په خپل قدرت کړ   گفتگوی در سره و کاوه جلیل
نه نوي زره خبري[7] در ته وکړې   څوک د گوی څوک د مگوی د څو وکیل
در ته وې ښوې واړه د سِر خبري   ښه یې پوه کړې په کثیر و په قلیل
ده پخپله د لولاک خلعت دَرواغوست   ستا له رویه یې پیدا کړ سلسبیل
عنایت چي پر تا و پر بل چا نه و   که موسٰی و که عیسٰی و که خلیل
چي ستا اسم یې شفیع کړ و باري ته   دا آدم صفي قبول شو په تعجیل[8]
نوح له غرقه د توپان نجات په دا موند   چي ور وېښو دغه ستا مدد سبیل[9]
په وجود کي یې ستا نور و بل څه نه و   له سره اوره چي سالم و ووت خلیل[10]
ستا په روی سره موسٰی پیغمبر خلاص شو   او فرعون یې کړ غرق په رود نیل[11]
د عیسٰی په گفت به مړ کله ژوندی و   که یې ستا اسم پر زړه نه وای دلیل[12]
چي یې قصد کړ د کعبې و خرابۍ ته   ستا مدد صقر ته بوت اصحاب فیل[13]
برکت و واړه ستا خیر البشره   چي لښکر د خدای پر راغئ ابابیل[14]
په لسان د هیڅ انسان دي صفت نه شي   له تعریفه دئ قاصر عقل طویل
ستا د درخاوري زما کحل البصر دي   د گناه بار مي هرگوره دئ ثقیل[15]
ستا په زور مي خلاصوه له دغه باره   خطا شوئ مي دئ وار زما ذلیل[16]
هېروه مي مه هر گز ابوالقاسمه   هغه دم چي مي روح اخلي عزرائیل[17]
له فرمانه چي دې[18] سر غړاوه څه شو   په قیامت به شرمنده پاځي ذلیل[19]
مخ یې تور دئ چي منکر شي ستا له امره   حاسدانو ته دي سپک بار شو ثقیل[20]
چاچي شک درلود دا ستا په نبوت کي   میاشت شوه ستا په رسالت باندي دلیل[21]
چاچي نه وکړ باور منافقان شول   چا و نه کړ ستا پر دین باندي تعطیل[22]

۵۰۲ د حساب له ورځي بیم مه کړه "حنانه" ۳۸۴۴
د عاصیانو په بخښنه دئ کفیل

؟ ؟ ؟

---

(۱) چاپي دېوان: "اوس زموږ د زماني ملا شمس الدین دئ".(2) چاپي دېوان: "په تکلیف یې جوړول مدام غزل".
(3) دا بیت په اصل کي نسته، په بله نسخه او "ب" کي هم نسته.(4) چاپي دېوان: د سکون مهر.(5) چاپي دېوان: څه غرض لرې.(6) چاپي دېوان: ستا و وصل ته.(7) خبرې = خبري یې(8)-(9)-(10)-(11)-(12)-(13)-(14)-(15)-(16)-(17):- دا لس سره بیته په چاپي دېوان کي نسته.(18) دې: دي یې.(19)-(20)-(21)-(22):- دا څلور بیته بیا په اصل کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ستا خبري، خوږې شکري ... نزدې که لیري ور ته نولېږم[1]
په مخ ګلابه، زیات له آفتابه ... د مخ و تاب ته دي کبابېږم
زلفي عنبره، په قد عرعره ... باریک کمره، جبین قمره
په تن سیمینه، تن انګبینه ... په خوی شېرینه بې تا کهېږم
د پسرلي ګله، زلفي سنبله ... مشکین کاکله په لبو مُله
ډېر په عذاب یم په اور کباب یم ... بې تا خراب یم لا خرابېږم
ابرو هلاله چشم غزاله ... زما له حاله خبر شه لاله
بې تا غمګینه په زړه حزینه ... ږیره مې سپینه په تا ځوانېږم
لاله عُذاره، ګلاب رخساره ... پري رفتاره در شهواره
په زړه ابتر یم، په غوږو کر یم ... مات پر کمر یم په تا جوړېږم
موی میانه، سرو روانه ... ابرو کمانه، کاږه مژګانه
یم دي ویشتلئ، په تیر پېیلئ ... په زړه نتلئ ښه در پوهېږم
تر ګل خندانه، مخ ارغوانه ... تر نمر روښانه د زړه درمانه

٥٠٣ ... "حنان" رنځور یم، ډېر په ضرور یم ... ٣٨٥٨
پره زړه نا سور یم چي نه رغېږم

؟ ؟ ؟

ځو غافل ګرزي انسان ... په خپل ځان پوري حیران
خدای پخپله ستا شاهد دئ ... حذر نه کړې له عصیان
ته الا لِیعبُدُون یې ... د خوړو د اوبو زیان
سر د کَل خطا دنیا ده[2] ... په خطا پسي روان
همېشه د رزق د پاره ... مرور یې له اسمان
کُل شَیٌ هَالِکٌ دئ ... اِلا وَجهَهُ، نادان
پاته شوئ هیڅوک نه دئ ... نَه هندو نه مسلمان
وَلَو کُنتَم فِی بُرُوجٍ ... دا خبر دئ له فرقان
عزرائیل دئ برات کړئ ... پر واړه ذېروح یکسان[3]
فهم وکړه لږ منزل دئ ... ستا تر ګور تر ګورستان
مه کړه خوب د بېغمۍ ته ... پاته نه شې له کاروان
ته په څه سره غره یې ... چي سر کاږې له فرمان
په پیرۍ عبادت نه شي ... ګټه اوس په کار ده[4] ځوان
چي پیدا بنی آدم دئ ... زړه یې ډک دئ له ارمان
هوښ کړه ته یوازي نه یې ... ستا په رنګ دي صد چندان[5]

---

(١) دا قطعه په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته (2) چاپي دېوان: دینار. (3) اصل: "پرواړه وو زنده ځان". (4) چاپي دېوان: اوس وکوه. (5) له دې بیته څخه بیا تر مقطع پوري ټول بیتونه په اصل کي نسته، مقطع په اصل او چاپي متن دواړو کي سته

دا دنیا دغه یې کار دئ    اسمان ژرنده سرگردان
ژربه ورسې تر مطلبه    ما سوْی باسه له میان
د هیچا لاس په تور نه شو    واړه ولاړ ځنې پرېشان
که ما قبل وکه بعد    تر گدایه تر سلطان
د وفا متاع یې نشته    واخله لاس له دې دوکان
دنیا سِجن د مؤمن دئ    وزه ته له دې زندان
لِلاِنسَانِ عَدُوا دئ    ته دوستي کړه له شیطان
فهم وکړه په دنیا کې    چا سود کړئ دئ بې زیان
چې سکندر، دارا، جمشېد وو    واړه ولاړ په زړه پرېشان

۵۰۴    نصیحت و ځان ته وکړه    ۳۸۸۳
بل ته څه وا یې "حنان"

؟    ؟    ؟

بیرته ځغلې دربدره    خبر نه یې نا خبره (1)
غابن و تلئ ږیره سپینه    په تن لوی په خوی اصغره
شرم نه کوې له خدایه    نه حیا له پیغمبره
لکه سپی په گمان(2) غاپې    له ما ښامه تر سحره
تسبیح هر خزنده وایې    هیڅ نه اروې کور وکره
عبادت ته خدای پیدا کړې    ته خوردن کړې گاو وخره
پر هر بوټي فیض اوري    تر جماد و تر شجره
ته محروم یې له دې فیضه    بیده پروت یې بې اثره
مغروری لېونی کړئ    ځان ته گوره خاک بسره
ته له څه څخه پیدا یې    چې کوې کبر یکسره
له یوې قطرې منیه    پیدا شوئ یې عنتره
شیطان نه زده چې تازده دي    د شیطان د خوی رهبره
آدمي دي سره ورونه    د یوې ونې له بره
ته په څه د چندڼ ښاخ شوې    چې و بل ته وا، ډبره(3)
په ظاهر لکه موسٰی شې    په باطن د قارون کوَره
چي يې کور دئ ستا په څنگ کي    پر ده ویر او ته خوشتره
د بل زیان دا ستا تکیه ده    د ستم پر بلا بره

---

(۱) دا قصیده و شمه غزله په چاپي دېوان کي نسته. (2) دا برخه په اصل کي نه لوستل کېږي، له بلې نسخې پشپړه سوه.
(3) بله نسخه: چي و بل ته وا ډيډره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر عاجز مېرې قدم ږدي — خبر نه یې له داوره
همېشه د بل و زیان ته — ځان پرېباسي له کمره
و لمانځه ته دي ملا ماته — د دنیا په کار کې غوره
د دنیا په زیان نامرده — شي له خدایه مروره
له بنده څخه شرمېږي — نه له خدا څخه، کافره
خدای په هر نفس حاضر دئ — ته ګناه کړې بې هنره
لږ څه و ګرزه و خدای ته — توبه وکړه برادره

۵۰۵ — د "حنان" ویل په غور کړه — ۳۹۰۸
ډېر بهتر دي له ګوهره

* * *

چې د حق پر در رویدار بابا ولي دئ — خزانه د هر اسرار بابا ولي دئ(1)
چې مفتاح د خزائنو د فتوح دئ — حل د هر مشکل په کار بابا ولي دئ
چې سلیمان رنګه یې دي تر حکم لاندي — انس و جن و مور و مار بابا ولي دئ
غیبانه سواره چې ګرزي پر ملکونو — د وارو سپه سالار بابا ولي دئ
کرامات یې تر عدد تر حساب تېر دي — د ولیانو افتخار بابا ولي دئ
چې په تش نظر یې خاوري سره زر کېږي — هغه څوک د قندهار بابا ولي دئ
چې طواف د قبر یې کم له حجه نه دئ — هم یې فضل زیات تر شمار بابا ولي دئ
ډېر سخي دئ عار له هیچا څخه نه که — مهربان تر مور و پلار بابا ولي دئ
چې تنګسه در باندي در شي تر ده ورشه — چې له خوا، یې سرو کار بابا ولي دئ
چې یې څوک قبر ته ور شي فیض مومي — چې پر اوري تل انوار بابا ولي دئ
تصرف یې هغه رنګ لکه په ژوند و — ویده نه دئ تل بیدار بابا ولي دئ
هر مقصد یې پر مزار تر سره کېږي — پر هر امر مددګار بابا ولي دئ
پر مرقد باندي فیض د حق اوري — له غمجنو اخلي بار بابا ولي دئ
هر حاجت د حاجتمنو پر قبلېږي — ناز بردار پر لوی دربار بابا ولي دئ
چې په زړه کښي دي مطلب وي دی پوهېږي — په مخفي حال خبردار بابا ولي دئ

۵۰۶ — زه "حنان" یې په اخلاص یم د در خاوري — ۳۹۲۴
په پیرانو کښي ابدار بابا ولي دئ

* * *

## (قصیده)

ولاړه ځواني ولاړه پیري راغله ږیره سپینه(2) — غابښ په خوله کښي نشته عمر ولاړ شو نه راځینه(3)
خرید وکړ ځوانانو روان شو اصلي وطن ته — زه هم پسې ځم توښه مې نشته یم غمګینه

خرید مي په بارو د عصیان کړئ دئ غفاره صرف — نقد بخښ لري دا جنس مي رانیسه متینه
را څخه عمر شو په لهو په لعب کښي — نه را څخه وشو کار د دین هرګز په مینه

---

(۱) دا قصیده په "ب" او چاپي دیوانو کي نسته. (2) سفین. (3) "ب" او چاپي دیوانونه دا قصیده نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه لرم عمل لایق چي در یې ورم درګاه ته      ته مي پرده وکړې یا ستار العالمینه
غرق په ګناهونو یم امید مي تا ته ډېر دئ      ته مي لاس مه کاږې له شفیع المذنبینه
تادي فرمایلي چي لا تقنطو خوشحال یم      فضل دي بسیار دئ د بنده ګناه مه وینه
ته د هر خسته زړونو ملهم یې کردګاره      هم واقف په حال د هر بنده ګوشه نشینه
پټ کړه قبایح مي د اعمال له دښمنانو      ته په عمیم فضل دا بار واخلې له حزینه
ستا حلم حلیم زړه ورکړئ پر ګناه یم      خلاص مي کړه په فضل ستا له دې د پو لعینه
هیڅ مي حاصل نه شوله رفعته په دنیا کښي      پورته لکه دود په هوا ولاړم له زمینه
وقت د زکندن مي له شیطانه په امان کړې      مژده لا تخافو را باندي وکړې له یمینه
ما په ځان اغوستې د ریا زهد خرقه ده      ډېر ډېر شرمنده یم له سید المرسلینه
عیب د بل غوارم شپه و ورځ دغه مي کار دئ      ړوند له خپله عیبه یم اِلٰهُ العالمِینه
دَر د غفران خلاص کړه یا مفتح الابوابه      بحر د احسان لرې حبیب التوابینه
ډېر یم منتظر دا ستا د رحم یا رحیمه      تور مخ سپینه رېره درغلم بې آن و اینه
و مي نسه لاس زما دستګیره افتاده یم      نشته فریاد رس بې تا حبیب المساکینه
را کړه د جزا په ورځ نامه په راسته لاس کښي      ډېر ډېر وارخطا یم یا امان الخایفینه
لار چي مستقیمه پر هغه مي برابر کړې      هسي لار چي ورشم تر خاتم النبیینه
ډېر په ګناه بار یم سترګي نه لرم و تا ته      ته مي عذر وغواړه د لیل الحائرینه
نشته بل دا درس چي له ابلیسه به مي خلاص که      بې له تا اغثنی غیاث المستغیثینه
ټول چي پر محشر شي اولین آخرین خلق      هلته مي جار باسې په خپل فضل له سجینه
روح چي مي له تنه څخه وزي ذوالجلاله      ته یې په کرم ورسوه تر علیینه
نفس و شیطان زه یم ستا له لاري اړولئ      ته مي پر لار سم کړې یا اکرم الاکرمینه

٥٠٧      ډېر مي دئ امید زما "حنان" تا ته رؤفه
مه مي کړه نامېنده یا اِلٰهُ العالمینه      ٣٩٤٩

الٰهي د هر چا قاضي الحاجات یې      په عطا په کرم حل المشکلات یې[1]
نامېندي ده ستا له دره څخه کفر      د هر چا د غم کافي المهمات یې
ته ارحم الراحمین یې رحم وکړه      عفو کړونئ د همه وو خطایات یې
څه قدرت لرم چي پورته کښته وایم      ته خالق د اوو مځکو سماوات یې
بې بدۍ بل عمل نه را څخه کېږي      ته خبر په واړو سِر و خفیات یې
خپل حاجت زه له تا غوارم ذوالجلاله      دا په دا چي ته مجیب الدعوات یې

(١) دا مناجات په چاپي دېوان کي نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا له دره هیڅ سړی نا امید نه ځي / زه هم نه ځم ته واهب العطایات یې
کار زما غریب په خپل فضل پوره کړه / لاس مې و نیسه رفیع الدرجات یې
په کرم مې د مهم قفل را خلاص کړه / یا فتاحه ته کاشف المشکلات یې
خواست بې تا له چا روا نه دئ کریمه / بې له شکه ته سامع المناجات یې
له عدمه آدم جوړ کړي ته قادر یې / ور کوونئ و ذري ته د حیات یې
منزه یې له ادراک، له وهم و فهمه / مبرا د چون چرا د کم و زیات یې
وَلَقَد کَرمنا تا دي فرمایلي / و انسان ته بخښنده د کرمات یې
نفس ظالم دئ، زه مظلوم غور مې وکړه / ته غیاث د مستغیثو هر اوقات یې
زما توبه ده ذوالجلال والاکرامه / د هغو له دیده ته چې ځني مات یې[1]
تا ویلي دي فلاتَنهَر، سائل یم / زما حاجت را کړه لایق د دې صفات یې
ما رسوا نه کړې په ورځ د حشر و نشر / عفو کړونئ د ګناه پر عرصات یې
ما عاصي دین په دنیا دئ بایلولئ / ته دلیل د حیرانانو د حالات یې
زرغو نه ګیاه پیدا باران پر و کړي / ته صانع د همه واړو مصنوعات یې

۵۰۸ د "حنان" حاجت په خپل فضل پوره کړه ۳۹۷۹
قبلوونئ د دعا په هرساعات یې

## (فالنامه)

په نامه د پاک الله کړم ابتدا[2] / بل په نعت د رسول مجتبٰی ﷺ
دایره د فالنامې د دې کتاب / نوشته پکښې مطلب دئ د هر باب
څوک که فال په دایره کې نیسي ګوره / هم الحمد قل هو الله وایي وروره
نور دي ګوته په یوه خانه کې کښېږدي / مخ په کښته دي حساب که لوړ دي پرېږدي
حرف دي کاږي پر کاغذ یوولسم / چې ورو رسي تر پایه پوري سم
دایره دي بیا له سره راشماري / چې یې مراد د زړه تر سره که باري
حرف دي بیا یوولسم شماري نېکرایه / چې نیو دئ وي حرف تر هغه ځایه[3]
او دا لوړ حساب دي لوړ کاږي دینداره / پر هغه باندي چې کښلئ وي له واره
د غزل د سر مصرع به شي تري جوړه / مګر ته غلط شوې مه کړه ماته غوره
هر مطلب چې وي په زړه کې وایه کېږي / په ویلو یې د فال ښښتن پوهېږي

۵۰۹ د هر چا دي خدای حاصل د زړه مراد که ۳۹۸۰
دا "حنان" دي په یوه الحمد یاد که[4]

(۱) په اصل کي "تات" و، ما له بلي نسخې وکینې. (2) فالنامه په اصل او "ب" کي نسته. (3) کښ متن را نقل سو.
(4) د فالنامې لپاره به دایره هم هرو مرو رسم سوې وه، خو د چاپي دیوان مرتب به بنایي د طباعتي ستونزو له امله نه وي راوړي. په بله نسخه کي د فالنامې جدول سته خو شعر یې نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿قطعات﴾[1]

یوه ورځ په جذبه کي بایزید        چي سلطان العارفین و هویدا
هسي و ویل چي ورځ د جزا راشي        او عاصیان که سره جمع ربنا
فرمان وشي د دوزخ پر لوري بیایي        زه به و ګرزوم واړه له دا خوا
د سلطان ابو سعید مرید حاضر ؤ        چي یې وا وربېده په غوږو دا وینا
و خپل پیر ته یې دا قال هسي شان وکړ        د حضرت بازید له قوله په رښتیا
سعید و وې هغه ورځ هسي ورځ نه ده        چي د چا به ښه بې خدا وشي په چا
هر سړی نفسي نفسي وایي له وهمه        له امته شي بېزار موسٰی عیسٰی
د بازید بسطامي له لاسه نه شي        د عاصیانو خلاصېده ده تمنا
تر دا میان خوب غلبه پر سعید وکړه        وې لید له ورځ د حشر تن تنا
په هغه شان عاصیان واړه سره جمع        چي ځکول یې هم هر یو جدا جدا
چي حضرت سلطان بازید هلته پیدا شو        چي له مخه یې پر هر لور تجلا
او د نور په ځنځیرو یې و تړلي        ملائکي په حساب وې زر اویا
امر وشو له خالق بېچګونه        چي په فضل دي عاصیان بخښلي ما
چېري نه وي چي ګُذر وکه دوزخ ته        او کفار ځني بېرون که سر تر پا
چي سلطان ابو سعید له خوبه ویښ شو        وې ویل چي آمَنا و صدقنا
ستا له مخه هر چي وایي هغه کېږي        بې له شکه ناز بردار دئ د مولا
د طوبې پر هره پاڼه نوشته دي        دغه حرف چي بایزید ولي الله

۵۱۰ دا خلعت د ده ورکړئ ذوالجلال دئ
ما "حنان" د ده په روی و بخښې خدا ۳۹۹۸

## ﴿قطعه﴾[2]

نوم یې پرې وینځئ له لوح انساني        چي یې زړه په مهروی نه وي مبتلا
شمار له دېوه یا له دده انسان نه دئ        چي حب نه لري په زړه د دلربا
په سینه کښي چي حب نه وي د ګلرخو        له هدوکي بنۍ دکه بولئ دا
په هر زړه کښي چي عشق نه وي د مهرویو        لکه بې نګینه ګوتې ده بېځا

۵۱۱ چي تمام عمر مشغول په غوا په خره وي
د "حنان" په مذهب کفر بولم دا ۴۰۰۳

۹ ۹ ۹

(۱) قطعات ټول له اصل څخه را نقل سوه، په چاپي دېوان کي نسته. (2) "ب"او چاپي دېوانونه دا قطعه نه لري.

په عدد د ابجد به درته وایم    یو څو چیزه برابر دي په حساب(1)
که کشمش دي که نخود(2) په حساب یو دي    هم بنګي او ملحد(۳) یو دئ په دا باب
د درازو د بېعقل(۴) عدد یو دئ    هم کاکل و ګژدم(۵) یو، مه کړه عتاب
د عدو او د سګ(۶) یو رنګه عدد دئ    خواجه سرا او خرسیاه(۷) سره تناب
هم صهبا او پیاله می(۸) په یوه رنګ دي په    قلعه برج(۹) هم برابر په دا اسباب
حساب کي دغه لوک او مایه(۱۰) یو دي    هم دغه رنګ برابر سهو حساب(۱۱)

۵۱۲

## ﴿د کال نومونه﴾ [۱۲]

۴۰۰۹

"سچقان" موش، "اود" یې غویی، "پارس" پلنګ دئ    پس له دې "توشقان" سوی، "لوی ئیل" نهنګ دئ
"ئیلان" مار، "یت" ئیل فرس، "قوی" ئیل پسه دئ    "بیچ" بیزو، "تخاق" مرغه یې هم پر څنګ دئ
"ایت" ئیل کلب، "تنګوزی" خوګ د کال نومونه    که دي نه زده له ما واروه دا فرهنګ دئ(۱۳)

۵۱۳    ۞    ۞    ۞    ۴۰۱۲

اوربېدو مي چي یو ښکلی لکه لمر و    وا یې خیست له یوه توره ډېر عبرت
وې یې ته یې توره شپه زه لکه ورځ یم    پر چهره دا ستا د مخ راځي حسرت
تور وې دواړه د یوه آدم اولاد یو    ته پرڅه کوې له ما څخه نفرت
که زما د رنګ یو څاڅکی پر تا وشي    هغه ستا د حُسن خال شي د کثرت
او که څاڅکي پر ما وشي ستاله رنګه    تمامي عالم مي پیس بولي صورت
مې باید چي زه له تا څخه کنار شم    ته پرڅه هومره اندوه کوې حسرت

۵۱۴
دا قطعه "حنان" ویلې په رښتیا ده
ګوندي واخلي مهرویان ځني عبرت
۴۰۱۹

## ﴿قطعه﴾ [۱۴]

چي مي و کاته په رای و په تدبیر    نشته بِه تر خاموشي زیاتي خصلت
هسي نه چي سترګي و ګنډه خوله بنده    چي مقام یې وي هاله کړه مقالت
کله بحث کړه د علم ګاه درس وایه    چي پکښې وي امر و نهي د لالت

۵۱۵
ګاهي شعر ګاه شطرنج ګاه حکایت کړه
په قدر چي طبع نه کړې ملالت
۴۰۲۳

---

(۱) دا قطعه په "ب" او چاپي دیوانو کي نسته (2) کشمش = نخود = 660. (۳) بنګي = ملحد = 82. (۴) دراز = بېعقل = 212.
(۵) کاکل = ګژدم = 71. (۶) عدو = سګ = 80. (۷) خواجه سرا = خرسیاه = 876. (۸) صهبا = پیاله مي = 98.
(۹) قلعه = برج = 205. (۱۰) لوک = مایه = 56. (۱۱) سهو = حساب = 71. (۱۲) دا قطعه په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (۱۳) په دي نومو کي دیت ئیل کال په فرهنګو کي "یونت ئیل" او تخاق د "تخوقا" په شکل ثبت دئ نور نومونه کټ مټ په همدې ډول چي حنان وایي سم دي. (م، هـ). (۱۴) دا قطعه په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿قطعه﴾

یو مطرب سوال له خسرو دهلوي کړ ‌ ‌ چي دی و په هغه علم کښي کامل
چي بهتر دئ موسیقي علم تر نظم ‌ ‌ ده وې زه یم په دا دواړو کښي عامل
موسیقي مدام محتاج د بل و بیت ته ‌ ‌ اوربېده هم د بل غواړي متصل
هم بې وقته وایه نه شي که یې وایي ‌ ‌ هغه کس هم احمق وبوله جاهل
لکه ناوې چي زینت په زېور کاندي ‌ ‌ د بل شعر موسیقي ته جلاجل
علم نظم له دا واړو مستغني دئ ‌ ‌ دا معلومه ده نه غواړي د لائل
علم نظم لکه ښه ښایسته ناوې ‌ ‌ چي زېور یې دئ و حُسن ته باطل
کې تنها وایې په جهر هم روا دئ ‌ ‌ کې خفیه وایې هرګز نه دئ مشکل

۵۱۲ ‌ ‌ دا قطعه پارسي خسرو دهلوي کړه ‌ ‌ ۴۰۳۲
ما "حنان" کړه په پښتو ژبه حاصل(1)

۹ ۹ ۹

دا څو کاره له دا څو طایفو نه شي ‌ ‌ دا خبره آزموده ده په څو واره
له عربه ادب مه غواړه خبرشه ‌ ‌ رومي مه پوښته له موره یا له پلاره
شجاعت له شېرازي څخه مه غواړه ‌ ‌ نه به هیڅ خراساني وي و فاداره
د اوزبک په زړه کي رحم هرګز نشته ‌ ‌ نه راستي بخارایي لري له یاره
هندی نه لري حیا کشمېری صبر ‌ ‌ طمع پرېکړه د انصاف له قندهاره
اتفاق له پښانه څخه مه غواړه ‌ ‌ نه به چیرته بلوخ مومي نماز ګذاره
نسته هیڅ په کابلي کي حیا شرم ‌ ‌ نه نکاح له هزاره کېږي هوښیاره

۵۱۷ ‌ ‌ دا قطعه به مطوله وه "حنانه" ‌ ‌ ۴۰۴۰
د اشنای له غمه نه یم زه وزګاره

۹ ۹ ۹

## ﴿سراپا﴾(2)

اې چي زړونه وړې له شاهه له ګدایه ‌ ‌ خېژي ستا د عشق آواز له هره ځایه
سر ترپایه دي وجود په ژبه ستا یم ‌ ‌ په دا باب کي له خرواره موټی نما یم
دا تعریف کله ادا زما په خوله شي ‌ ‌ له دریابه که یو څاڅکی ولاړ شي، څه شي؟
قد دي راست دئ همېشه تر رسا فکر ‌ ‌ ځکه یم مشغول دا ستا د قد په ذکر
دا قد نه دئ یوه سروه ده نازکه ‌ ‌ په رفتار یې له هوښیاره کړه لار ورکه
وه، څه قد دئ اوکه نخل د ارم دئ ‌ ‌ که د ګل ښاخ دئ چي زړه ور باندي تم دئ

---

(۱) په "ب" کي مقطع نسته. (2) دا مثنوي په چاپي دیوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرق د زلفو د کاکل یې په ما نه شي
چې دا زلفې یې پر مخ دي که کاکل دئ
نه غلط شوم بلکې دا دئ لابل قسم
له غیرته د جبین یې قمر ځان خوري
دا جبین دئ که د څورلسم مهتاب دئ
څه جبین دئ که سحر د شب قدر
پانې نه ده د سمن دا بنا ګوش دئ
دُر کې[1] و ګورې د غوږ پر کناره
وه، څه غوږ دي او که ګل دئ په چمن کې
دا یې وروځې دي که برګ د سیا و شان دئ
نه غلط شوم په یوه قبضه دوې تُورې
څه ابرو د نهال برګ د کوه طور دئ
دا یې سترګې، که نرګس دي، که بادام دي
که دوه نونه دي کاتب د صنع کښلي
وه، څه سترګې دي مستې ځنې تویږي
وایې څه د باڼوګانو په غضب کې
په مثال پنجې د باز یا د شاهین دي
او که غشې دئ چې زما زړه یې هدف دئ
دا رخسار دئ چې ګلاب ځنې تویږي
د رخسار داغ یې پر زړه یور لاله
څه رخسار چې صاف تر صبح د بهار دئ
خال یې ایښئ دئ د وروځو په میان باندي
دا یې خال دئ چې تر زلفو لاندي کښلئ
وه، څه خال هغه دانه ده پُر لذته
پزه نه ده له زنبقه یو رقم دئ
پزې[4] مه بوله جدول دئ د تقویم
وه، څه پزه، بلکې ګوته د قضا ده
څه بې[5] و وایم د شونډو له قیمته
په خندا یې شي د لبو تیاره ورکه

بې شانې که یې عیان که په چا نه شي
او که پروت د ګل پر برګ باندي سنبل دئ
د سپین مخ پر خزانه ماران د طلسم
په یوه دید یې زاهد دین و ایمان خوري
چې یې وړئ له عشاقو څخه تاب دئ
چې خاور دئ او که دئ مطلع الفجر
چې عاشق یې په آرزو د دید مدهوش دئ
څه ښه زیب که دا سحر دا ستاره
که توی شوې شګوفه ده په ګلشن کې
عالمونې[2] په لیدو سره توپان دي
په لیدو یې پر عالم کړې میندي بوري
او که مد د بسم الله پر صورت نور دئ
غزالان که څه وحشي دي ور ته رام دي
پر قلم د پزې[3] پاس دي خدای ویلي
په لیده یې تر حیا زاهد تېرېږي
وي مدام د خونریزۍ په طلب کې
چې مدام د زړو په وینو کې رنګین دي
نه غلط شوم د قیامت د ورځې صف دئ
صفا یې په نزاکت ځنې څڅېږي
له غیرته ځنې و لوېده پیاله
چې نسیم له نازکیه باندي بار دئ
که تور زاغ دئ د تصویر پر کمان باندي
که مېږي د مار په خوله کې ځای نیولئ
چې آدم یې رابېرون کړ له جنته
که راوړئ دوو نرګسو یو قلم دئ
او که ګوتې د نبې میاشت کړه دوه نیم
چې یې کړئ اشارت و خوله ته ستا ده
مرجان مخ په وینو پرېوئ له خجلته
له پېرونې څخه قند اوري پر مځکه

---

[١] کې= که یې. [2] عالمونې= عالمونه یې. [3] د پزې= د پزي یې. [4] پزې= پزه یې. [5] بې= به یې.

وه، څه شونډي چي د زړه ويني[1] خوراک دئ　　له اندوه يې د غونچې پرسينه چاک دئ
تنګه خوله لکه پسته له خندا ډکه　　په تنګي يې غونچه وايسته له شکه
خوله يې مه بوله يوه د ميم حلقه ده　　چي و مرګ تې[2] رسولې خلقه ده
وه، څه خوله ده که نقطه موهومي ده　　و بوسې ته يې نيولې ما، شومي ده
غاښ يې دُر دئ د عدن بِلا قيمته　　چي په تش آرزو يې خلاص شوم له زحمته
دا څه غاښ، په تجلّه يې لبان وسوه　　د لبانو له پرتوه مرجان وسوه
وه، څه غاښ دئ چي له دُرو آبداري وړي　　په خندا سره مدام زړه د پري وړي
دا يې زنه ده که سېب د سمرقند دئ　　نه غلط شوم د سېب کله هسې خوند دئ
زنې[3] مه بوله خوږ ناک دئ د کابل　　ولې طعم يې دئ له ناکه يو په سل
وه، څه زنې ده هيڅ رنګه تعريف نه شي　　کې د خيال په خوله کي و نيسي او به شي
سپين غبغب چي يې له موجه مالا مال دئ　　او لوېدلئ ګويا يو پر بل هلال دئ
چي ښايست يې په هردم وهي موج　　لو تويي د عاشقانو د زړو فوج
څه غبغب وايم يوه قبه له نوره　　خوشبويي يې په زور يووړه له کافوره
غاړې[4] نه ده ګلدانۍ ده د بلور　　چي په تش آرزو يې مري "حنان" بالفوره
نه غلط شوم دا د ميو صراحي ده　　چي پکښې د خوږو زړونو جراحي ده
وه، څه غاړه ده او به پکښې ښکاريږي　　دا زما په خوله يې کله تعريف کېږي
دا سينه ده که د ځورلسم مهتاب ده　　که تخته د سپينو زړو که سيماب ده
تر وربښمو يې پسته هسې سينه ده　　و بغل تې[5] د زاهد خورينه اينه ده
له صفا پکښې زړه هسې معلومېږي　　لکه سنګ چي په او بو که ليده کېږي
دوه ساعد يې دواړه شمع کافوري دي　　که غلط شوم د مرجان لښتي بحري دي
ساعد نه دي دوه ښاخونه د مرجان دي　　خلقي يې په ديدن پسي توپان دي
څه مړوند چي څوک يې نه لري اصلا　　يو يې وړه ضيا له لاسه د بيضا
پرپنجه باندي دلاس پروته حنا ده　　پر نقره باندي ورقه د طلا ده
ګوتي نه دي نوي مياشتي سره تولي　　اشارت کوي و زړو ته، زړونه بولي
لس نوکان يې لس غوټۍ دي د ګلابو　　چي رنګ شوي دي په وينو د احبابو
څه تعريف به وکم زه د هغې ملا　　چي په خيال کي نه کښېوزي د هيچا
زي[6] په خيال کي ضعيف شوئ هسي رنګ يم　　چيري و وينم مېږۍ ځني پر څنګ يم
وه، څه ملا ده لکه موی هسي باريکه　　پر مېږي يې کړه د صبر لار تاريکه
نس يې مه بوله پېروی دئ د شير　　که صندل دئ له شيدو سره خمير
هسي نس لکه چي ګل د نسترن دئ　　يو خرمن د شګوفې د دې ګلشن دئ

---

(۱) وينې=ويني يې. (2) تې= ته يې. (3) زنې= زنه يې. (4) غاړې= غاړه يې. (5) تې= ته يې. (6) زې= زه يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، څه نس چي تر وربښمو ډېر مهين دئ ناف يې     پــه آرزو ســره يـې زړه د زاهـد شــين دئ
مــه بولــه غــوټۍ ده د ســمن     کــه نافــه ده دا لــه مشــکو د ختـن
دا نـاف نـه دئ يـو ګـرداب دئ د زمـزم     ننباسـي جمـع زړونـه پـه هـردم
وه، څـه نـاف، حلقـه د سـترګو د غـزال ده     چـي مـدام لـه خـوږو زړونـو مالامـال ده
پـس لـه نافـه بـه څـه وايـم زيـات و کـم     لـه حيـا شـو دلتـه مـات سـر د قلـم
کـه هرڅـو زړه سـره ګـنج کـړم چـي څـه وايـم     خاموشـي وايـي مـانع لـه دې اعضـا يـم
پـر دا ځـای بانـدي ويـل لـه حيـا نـه شـي     کـې(1) کـوم مرغـه د قـال پـر الواتـه شـي
دواړه سـاق يـې تـر بلـور مصـفا دي     د عشـاقو د زخمـي زړونـو دوا دي
هسـي صـاف دي چـي کاتـه بانـدي ښـويېږي     پـه اميـد سـرې(2) د زړه غوټـه خلاصـېږي
وه، څـه سـاق دئ کـه دسـتې د نسـترن دي     او کـه شـمع کـافوري د انجمـن دي
د لالـه تـر ګـل نـازک يـې دواړه پښـې دي     کـې هـر څـو کـوم تعريـف تـر هغـه ښـې دي
سـره نوکـان يـې سـره فنـدق د اصـفهان دي     د زخمـي زړونـو ملهـم د رنـځ درمـان دي
وه، څه پښې دي که پر ګل باندي يې کښېږدي     لـه صـفا د ګـل د رګـه زخـم رېږدي
سـر ترپايـه دي تعـرف پـر "حنـان" پـورو     چـي د عشـق پـه اور دي سـوځ لکـه سـکورو
موافـق لـه خپلـه توانـه مـدح سـتا يـم     ګنـه کلـه هـومره شـي چـي يـې ادا کـړم

۵۱۸     ولـي نـه شـو دا تعريـف لـه مـا ادا     ۴۱۲۱
"حنـان" جـار شـه دغـه سـتا تـر سـراپا

؟ ؟ ؟

## (رباعيات)

ربـه شـناخته مـي کـړه پـه ثنـا سـتا     لـه زړه و باسـه بېلـه هـوا سـتا
مـا سـوا بېـرون کـړه زمـا لـه خـاطره     مشـغولا زه کـړم تـل پـه سـودا سـتا

؟ ؟ ؟

مـخ دي سـيالي کـوي لـه آفتـاب     زه يـې کـړم ويلـي لـه ډېـره تـاب
سـايه د زلفـو را بانـدي وکـړه     تـور بخت مي ويښ که له شکر خواب

؟ ؟ ؟

ګـل چـي خنـدا کـوي لـه عشـرت     مغـرور پـه حُسـن دئ لـه سـيرت
چـي تـه داخـل شـې نـن پـه ګلشـن کـي     ګرېـوان بـه څيـري کـړم لـه حسـرت(3)

؟ ؟ ؟

(۱) کې= که يې. (2) سرې= سره يې. (3) د غه درې رباعۍ په اصل کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عشق مي د يار شو راته حادث — نور يې ته ولي پر مرګ باعث[1]
چي مرم د يار غم به راسره يوسم — څه به مي يوسي له ارث وارث

***

د هجر درد دي کړم لا علاج — فراق دي ويستم له رسم و رواج[2]
بوسه د لبو را عنايت کړه — موافق دوا ده زما له مزاج

***

ژړل به هره شپه ما تر صباح — د مرګ مي وکړه ستر ګو صلاح
مفتي د عشق هسي فتوا ورکړه — د عاشق قتل معشوق ته مباح[٣]

***

ما تما شا کوله لا ستا د مخ — په څاه کي ولوېدم ستا د زنخ[3]

***

په مرګ اشنا شه تر مرګ د وړاندي — تر هغه پېش چي اجل دي که لاندي
دنيا په باغ کي خندا په کار نه ده — خپل سر ژر وخوري پسته چي خاندي

***

زړه تازه کېږي د يار په رخسار — يا په ديدن د ګلو د ګلعذار
زه در ته وايم چي دېوانه وې — کښېنه بېکاره، کښېنه بېکاره

***

و چاته ته مه وايه د ميني راز — حذر کړه مدام له غماز
ولي ته نه ويني چي يوې ښځي — محمود کړ بېل په دروه له اياز

***

فلک نا پسندي چاري را وکړې — خاوري ايرې يې زما په خوله کړې
ساقي بې رحم، يار بې پروا دئ — پيالې د وصل يې ما ته را نه کړې

***

هغه شوخ چي له خون نه کړي هراس — عالم يې قتل کړ زيات تر قياس
ببرېږم دا چي په عرصات کي — خلک به وژني څوک بې نه نيسي لاس

***

له هغه حُسن پرهېز کړه دلرېش — چي باسي صوفيان شيخان له کېش[4]
زلفي يې شلوي زنار د کفر — ستر ګي يې يوسي زهد له درويش

***

عالم شو واړه خالي له اخلاص — که څه له عام وکه څه له خاص
جفا به له هغه شي در پېښه — چي يې ته بولې له خاص الخاص

***

(١) چاپي دېوان:
شوق قديم وو پر ما باعث — نه چي نن ورځ شو راته حادث

(2) دا او ور پسې شپږ رباعۍ په اصل کي نسته (3) دا رباعي همدا راز نيمګړې ده. (4) دا او ور پسې رباعي په اصل کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه خـوارۍ وکـړو یـار تـه مـا عـرض　　لکه چې کاندي غلام پـر آغـا عـرض[1]
جـواب یـې را نـه کـړ خـاموش ولاړ شـو　　بـدبختـۍ زمـا کـړ بـې مـدعا عـرض

؟ ؟ ؟

پـر مـخ دي راغـئ کـرار کـرار خـط　　رخسـار دي لانـدي کـړ وار پـه وارخـط
دښـمن هسـي چـاري پـه دښـمن نـه کـه　　لکـه چـي وکـړې سـتا پـه رخسـار خـط

؟ ؟ ؟

لـه ګلـو واخیسـت بـاد سـبا حـظ　　یـو وړ قمـرۍ لـه سـرو بـالا حـظ
پـتڼ هـم ځـان کـړ فـدا پـر شـمع　　مخمـورو سـترګو یـووړ لـه مـا حـظ

؟ ؟ ؟

چـي مـي ولېـده د مـخ شـعاع　　را ځـه ورک شـو کلـی صـداع
کامیـاب لـه سره پـه وصلت نـه شـوم　　چـي رقیبـان شـوه راتـه سـباع

؟ ؟ ؟

پـر زړه مـي کښېښـو دلبـر مغـرور داغ　　چـي بـه بـه نـه شـي زمـا مهجـور داغ
یـار بـې پـروا شـو فلـک بـې رحـم　　لـه دوا نـا امیـد شـي د ناسـور داغ

؟ ؟ ؟

نیمخـوا بـه سـترګي کـه د قتـل لاف　　ځنـي پـر هېـز کـړه پـه زړه کـي صـاف
زخـم یـي کـاري دئ تـر حـد د پاسـه　　تېـغ چـي تـازه و خېـژي لـه غـلاف

؟ ؟ ؟

خپـل چـي ورکېـږي تـل لـه نفـاق　　ځبلـه یـو یوسـي تـول لـه اطـاق
پـه اتفـاق کـي عـزت، حرمـت وي　　مچـان عسـل وکـه لـه اتفـاق

؟ ؟ ؟

هسـي دي زه کـړم فـراق پایمـال　　چـي خبـر نـه یـم د ځـان لـه حـال
مېږي مـي بس دي چي قبر مـي کیني　　تـر مـوی باریـک شـوم[2] د ملا لـه خیال

؟ ؟ ؟

پـزه د یـار پـر مـخ ده سـپین ترسـیم　　همېشـه بـاج وړي د زړو لـه اقلـیم[3]
نـه نـه غلـط شـوم معجـزه طـوره　　د نبـي ګـوتي میاشـت کـړه د وه نـیم[4]

؟ ؟ ؟

(۱) د دې مخ له دوو وروستیو څلوریځو پرته، نوري په اصل کي نسته. (2) چاپي دېوان: باریک کړم. (3) اصل: "باج وړي مدام د زړو له اقلیم". (4) چاپي دېوان:-
نه نه غلط شوم دا معجزه ده　　ګوتي د نبي کړ سپوږمۍ دو نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـال د وروځـو پـه میـان د عینـین　　یـو آهـو دئ(1) پـه میـان کـي د حـرمین
او کـه دا نـه دئ(2) حجرا سـود دئ　　اطلـس یـې پـروت دئ پـر طـرفین

*　*　*

شـور وماشـور د قیامـت حضـور شـو　　چـي د یـار مـخ(3) مـي را ښـخه دورشـو
ورشـي و بـاغ تـه(4) ګـلان سـره واوړي　　د مېلمـه پـه راتلـه(5) د مفلـس مـخ سـور شو

*　*　*

زلفـي دي طعـن پربـت د چـین کـه　　شـوخي سترګي دي تـل غـارت د دیـن کـه(6)
چي خدای په حشر ګوري دا ستا و مخ ته　　پـر خپـل قـدرت بـه ځـه ډېـر آفـرین کـه

*　*　*

علم مومي چي یې شپږ چیزه حاصل شي　　حرص یې ډېر جمع یې خاطرفهم کامل شي
شـفقت دا سـتا د لفـظ تحقیـق وایـي　　هـم سـبق بـې نـاغې لـولي زر قابـل شـي

*　*　*

تـل بـه اختـه د ځـانو پـه ویـر وي　　چـي پـر زړه یـې نښـتی د جفـا تیـر وي
پـه لېونتـوب د عشـق دي زه "حنـان" خـوښ یـم　　چـي غـاړه مـي بنـد سـتا پـه ځنځیـر وي

۴۱۷۷　　﴿تاریخ وفات قبله گاهی ام﴾　　۵۱۹

زمـا پـلار محمـد حسـن د دیـن پنجـه　　خـدای دي ور کـړي پـه جنـت کـي سـراچه
لـه هوښـیاره مـي د مـرګ پوښـتنه وکـړه　　راتـې(7) و ویـل تـاریخ شـو مـرغ چـه(8)

۴۱۷۸　　﴿در تاریخ وفات میا جان محمد اخند﴾(9)　　۵۲۰

چـي ولـي و د خپـل وقـت فـاني فـی الله　　نـا امیـده یـې څـوک نـه تلـه لـه درګـاه
یـو هوښـیار یـې پـه وفـات کښـي دغـه و وې　　دا تـاریخ میاجـان محمـد رضـي الله(10)

1273
۴۱۸۰　　﴿تاریخ وفات اخوی ام برهان﴾(11)　　۵۲۱

د برهـان مـرګ مـي پـر زړه اور بـلاوه　　پـه پوښـتنه مـي همـه ځـای لټـاوه
د وفـات تـاریخ یـې دا هـاتفي و وې　　لـه دا نـیم برهانـه مـخ وګـرزاوه(12)

۴۱۸۲　　*　*　*　　۵۲۲

---

(۱) چاپي دېوان: آهو دئ. (2) چاپي دېوان: نه غلط وایم. (3) چاپي دېوان: چي دا شنای مخ. (4) چاپي دېوان: و باغ ته ورشي. (5) چاپي دېوان: په راتله د مېلمه. (6) د دې مخ له دوو لومړیو څلوریځو پرته نوري ټولي څلوریځي په چاپي دېوان کي نسته. (7) راتې= راته یې. (8) د "مرغ چه" ابجدي ارزښت (1248ق) کېږي. (9) ب: در تاریخ وفات ملاجان محمد اخوند. (10) ب: په عدد (1272) ور ته کښلي دي چي یو کال تېر وتنه پکښې سته. (11) په بله نسخه کي "اخوی ام" نسته. (12) د دې نیم بیتي ابجدي ارزښت (1287ق) دئ حل یې د سریزي په (۲۲) مخ کي وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿تاریخ وفات دوران﴾ (1)

د دوران د مرګ خبر مات کړم پر ملا — چې مشفق او مهربان و پر هرچا
له هوښیاره مې د مرګ پوښتنه وکړه — وې ویل تاریخ زر دوه سوه اویا

۵۲۳ — ۴۱۸۴ 1270

## ﴿تاریخ وفات قبله ګاهی ام﴾ (2)

قبله ګاه مې و جوار ته د کریم — شو روان الحکم الله الحکیم
له هوښیاره مې د مرګ پوښتنه وکړه — ویل تاریخ دی لهٗ اَجرِ عَظِیم

۵۲۴ — ۴۱۸۶ 1259

## ﴿معما﴾

یو ایلچي راغئ له هنده دلاوره — ور سره عجب حیوان و برادره
دا حیوان قادر جوړ کړئ په قدرت و — لس یې خولې او دېرش یې پښې اتیا یې سره(3)

۵۲۵ ؟ ؟ ؟ ۴۱۸۸

افلاکونه یې په نور د جبین و نیو — درست جهان یې نبوت په نګین و نیو
پر نامه د مدینې معجزه ګوره — چې مَه خیري سوه په میان کې یې دین ونیو(4)

۵۲۶ — ۴۱۹۰

## ﴿ابیات مثنوي درختم کتاب﴾ (5)

یو څو بیته در ته وایم معنوي — نه قطعه ده نه غزل دئ مثنوي
په پښتو ژبه مې و وایه کتاب — هر غزل یې اووه بیته په حساب
دا په دا چې مولانا مولوي جام — د دېوان غزل اووه بیته تمام
چې الحمد د قرآن اووه آیته — زیاته نه ده ابتداء تر نهایته
ده نور خپل دېوان پر دا بحر تیار کړ — ما هم خوښ په ډېر رغبت د ده رفتار کړ
که خطا پکښې واقع لړوي یا ډېره — یا یې وزن یا کم حرف قافیه هېره
ته پر وځکوه قلم د عفوي یاره — دا خبره پر ځان مه نیسه دشواره
په طعنه زه د جاهل نه ملالېږم — و جواب ته د دانا سوځم ویلېږم
نه پوهېږي جاهلان په دُرسُفتن — ور ته یو دي خرمهره دُر د عدن
څه پوهېږي جاهلان په دا خبري — و ړانده ته وي یو رنګ لوړي ژوري

---

(۱) دغه قطعه په "ب" او چاپي دېوانو کي نسته. (2) ب: دا رباعي په "ب" کي داسي ده.

قبله ګاه مي په عمل لکه بېضه — د ریا غشی ئې خلاصه فضه
هاتفي ئې په وفات کښې دغه و وې — چي تاریخ ئې دا مقام سو روضه

(۱۲۵۸)

(3) دا معما د "فیل" په نامه ده. (4) دا معما د "مدینه" په نامه ده. (5) دا مثنوي په چاپي دېوان کي نسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـخندان چـي وي پـه دا ویـل پـوهېږي　　د سـفله خیـال و دا حـال تـه نـه رسـېږي
و صـراف تـه معلـومېږي چانـدي زر　　جـواهر جـوهري وړي سـفله خـزر
پـه اتمـام کـي چـي مـي وکـړ استفسـار　　عقـل و ویـل تـاریخ اختصـار(1)

۵۲۲　　سـخندانو تـه عـذر د ”حنـان“ دئ　　۴۲۰۴
چـي انسـان سـره لـه سـهوي لـه نسـیان دئ

(۱) دا بیت له بلي نسخې را نقل سو. د "اختصار" ابجدي ارزښت 1292 کېږي. علامه رشاد چي د حنان ژوند تر 1292هـق پوري یقیني بللی و، استناد به یې ښایي په همدې بیت و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لغتنامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ﴿الف﴾

آشيانه: ځاله- ځالکۍ.
آمَنا و صدقنا: د تائيد او تصديق په معنا.
آواره: سرګردان- جدا- بېل (غياث).
احباب: دوستان.
احول: چپک- هغه څوک چې سترګې يې کږې وي، يو شي دوه ويني.
اِرَم: د شداد جنت "غياث"- مجازاً د ښکلي باغ- جنت په معنا.
آروړ: حسد- کينه.
ارهټ: لوی کوهی چې په غويو او به ځني را باسي- باوړی- ارهټ.
اړې: احتياج.
اسفل السالفلين: د کنايې په ډول د اووم دوزخ په معنا "غياث".
اصحاب فيل: هغو کسانو ته اشاره چې د قرآن مجيد د فيل په سوره کې يې بيان راغلئ دئ.
اُضحِيَه: قرباني- د قربانۍ پسه – غويی- اوښ....
افسون: جادو- کوډي.
اکسير: کېميا "غياث".
املوک: يو ډول مېوه ده.
اُنثی: ښځه- ماده "د نر ضد".
اوراد: د "وِرد" جمع- هغه دوعا چې پر يوه ټاکلي وخت ويل کېږي.
اِهمان: ځنډ کول- د امهال سرچپه "اپوټه" شکل – امهال مهلت ورکولو ته وايي "غياث".
اِېل: تابع- رام.

# ﴿ب﴾

باټ: هغه کاڼی چې چاړه پر تېره کېږي- صيقل کول "لس زره لغتونه".
باج: هغه پيسې چې غالب پاچا يې له مغلوب څخه اخلي- جزيه- ججه.
بانګ د صرير: د ليکنې په وخت کې د قلم آواز.
بدر منير: روښانه سپوږمۍ.
برات: سَنَد- هغه کاغذ چې د هغه له مخې له خزانې څخه زر يا پيسې اخيستل کېږي.
بُروَځه: اشنان "فارسي"- يو ډول نبات چې کالي يا مړي په پرېولي.
بَروس: عبوس- تر شرو "فارسي"- ترينګلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بناګوش: د غوږ نرمۍ.
بوږي بوږي: له ستړیا څخه اوږد اوږد غزېدلئ- لاش لاش.
بوزَه: د "روژیاتي "ضد- هغه څوک چي روژه یې نه وي.
بوس: پرور- کاه- منځ خالي.
بوښت: په ختو کي ننوتلئ.
بول: قول- عهد- پیمان.
بېزی: پژمرده "لس زره لغتونه".

## ﴿پ﴾

پاړوګر: جادوګر- افسونګر.
پَرتَو: روښنایي.
پَرته: هزیان- د تبې په ناروغي کي د ناروغ بې ارتباطه خبري کول.
پړوي: پاشي- دوړوي؟.
پړی: عضله- د بدن غړی.
پوريووري: غشی یا سیخ چي په یوځای له یوې خوا ننوزي او تر بلې خوا ووزي.
پون: پم- ورګ- د حیوان د بدن وربښتان.
پېروني: هغه ستوري چي "پروین" یې بولي.
پېژی: و ګورئ بېزی.
پېزی: // // // //
پَیکان: توبری- غشی.
پېلوځی: درګران "فارسي" هغه وچ بوټي چي د اور بلولو لپاره کار څني اخلي.

## ﴿ت﴾

تاتار: په ترکستان کي د یو ښار نوم دئ.
تاراج: لوټول- غارت.
تازیانه: شلاخه- قمچین.
تَت، تتي: پیکه- تاریک.
تخلف: له وعدې اوښتل.
تـُراب: خاوري.
تـُربت: قبر.
ترشېح: اوبه ورکول "غیاث" د یوه ادبي صنعت نوم هم دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـُرک: مجازاً د معشوق په معنا.
ترنج: يو ډول مېوه ده جي خوند يې تريو "ترش" دئ.
ترهېدلئ: توربدلئ- رمېدلئ
تَرياق: يوه ترکيبي دوا ده چي د زهرو دفع کوي.
تغافل: غفلت کول- سترګي پټول.
تغمه: پر بدن باندي د لښتي يا لرګي د ګزار له امله سره يا شنه نښه "داغ".
تلطف: مهرباني.
تمکين: اعتبار- عزت.
توبرئ: غشی- پيکان.
توتيا: رانجه.
توسَن: کورنګ- د آس بچی.
توکرۍ: ټوټۍ- د مات سوي چيني لوښي ټوټې.
تېزه: د ځغلولو په معنا.

## (ث)

ثقالت: دروندوالی.

## (ج)

جريح: زخمي.
جزءلايتجزا: نه بېلېدونکې برخه.
جَلک: څرخی.
جهود: يهود.
جيفه: مردار سوئ بوېناک حيوان.

## (چ)

چاندي: سوچه – پاک.
چمبر: حلقه- کړۍ.
چندڼ: صندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (ح)

حادِث: پیدا سوئ.
حامِد: ستایونکئ.
حُباب: د اوبو پر سر کوبۍ.
حَسَب: شرف- لویي- د یوه شي اندازه.
حُقه: د جواهرو دبلی "قوطۍ".
حَلاج: نداف.
حل المشکلات: د مشکلاتو "ستونزو" حلوونکئ.
حور: ښکلي معشوقې چي په جنت کي به د مؤمنانو په نصیب وي.

## (خ)

ختَ- ختي: کمیس.
خدنګ: غشی.
خزَر: میده ګي- پالتو "فالتو" مواد.
خِراج: د مځکي محصول.
خرخوړي: ببکاره زړه جامه- زړه ټوټه ټوکر.
خړي: پروړ- خس.
خُف: د غبار په معنا- خوپ.
خفاش: شوپرک – کڅلکی.
خلدبرین: جنت.
خلي: خس – خاشه.
خمیازه: د ستړیا په وخت کي د لاسو غزول.
خِناق: د ستوني یو ډول ناروغي ده.
خنثي: نرښځی.
خوِي: منګولي- له لوړ ځای څخه د لوېدو په صورت کي هر څه ته لاس اچول، د "تلاښ" په معنا هم راتلای سي، خوِي لګول.

## (د)

دَرَسته: وسله – د جګړې وسېله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دروه: فرېب- خِدعه- حیله – غولول.

دُریتیم: غټه مرغلره یا مروارید.

دَف: ساز "غیاث" - داریه- دریه.

دُلدُل: سپینه غاتره "کچره" وه چې د اسکندریې حاکم حضرت محمد ﷺ ته استولې او آنحضرت ﷺ و حضرت علي ؓ ته د سپرلو لپاره بخښلې وه، مجازاً د ښه آس په معنا.

دَم: دوعا لوستل.

دَندَه: (فشار پر دوهمه هجا دئ) کار و کسب-وظیفه.

دَواب: د سپرلو یا بارو وړلو څاروي.

دوړَه: ټوکه-ملنډه.

دوهه: د دخانیاتو د څکولو ځای.

دوهې: دوهه

دیرونه: (فشار پر وروستۍ هجا دئ) – د باطن په معنا - لړمون.

﴿ ډ ﴾

ډمامه: نغاره.

﴿ ذ ﴾

ذبیح: حلال کړه سوئ- بِسمل.

﴿ ر ﴾

رازَل: مجازاً د تخلیق په معنا.

راس: سر.

راغ: د غره لمن- راغه.

رحیق: خالص شراب.

رَخه: حسد.

رستا خېز: قیامت.

رَسن: رسۍ- تناو.

رَعشه: د انسان د لاس یا بل اندام بې ارادې رېږدېدل "غیاث".

رَفرَف: د اسرافیل مقام "غیاث".

رفیع الدرجات: د درجو او مرتبو لوړوونکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَقيق: نرى- د غليظ "ګاټه" ضد.

رَم: تښتېدل.

رَمق: وروستى ساه.

روح الامين: جبرئيل- روح د جبرئيل نوم او امين يې صفت دئ.

رهن: ګروکول- ګرو ورکول.

## ﴿ ز ﴾

زاد و راحله: زاد د سفر توښې او راحله بارو ړونکي آس "يابو " ته وا يې زاد و راحله د سفر سامان- ثورى.

زبيب: وچکې کشمش زرخورى: وړى- هغه څوک چې د زړه رنځ په پوري وي.

زَغن: کارګه.

زَوي: زهوب- زَوه.

زِهګير: د ګوتمى په شان يوه کړۍ چې له هډوکي څخه جوړېږي او د غشى ويشتلو په وخت کې په ګوته کېږي.

## ﴿س﴾

ساعِد: د اورغوي او څنګل تر منځ برخه- بازو.

سامع المناجات: د مناجات اورېدونکئ.

سباع: ځيرونکي حيوانات- درندګان.

سپړي: سپړل يا سپړل په دقيق ډول ښېلولو ته وايي- سپړئ مجازاً د واضح په معنا.

سِجن: زندان.

سَحاب: اوريځ.

سَلسَبيل: په جنت کې د يوې چينې نوم دئ.

سوبه: فتح- ظفر-کاميابي.

سوده: د زړه آرامي

سورسات: د حکومت له خوا پر خلکو باندي جبري حواله- د پيسو غوښتنه.

سوفار: يو ډول بوټى دئ. سوررنګ لري او په پان کې استعمالېږي.

سوَى: سوزش.

سياوش: د کيکاوس د زوى نوم دئ-له دې لفظ څخه مجازاً خوښي مراد ده.

سېراب: اوبه سوئ- د تږي ضد.

## ﴿ش﴾

شاب: ځوان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شار: یو ډول بوټی دئ، ژړي اوړدې خاشې لري، په کندهار کي جارو ورڅخه جوړوي.
شانه بین: د فال کتونکي لپاره د کنایې په ډول راځي.
شَبدېز: د خسرو پرویز د آس نوم و- رنګ يې تور، او ویل کېده چي تر معمولي آس څلور لوېشتي جګ و.
شَراره: بڅري.
شَست: هغه ګوتمۍ چي غشی ویشتونکی یې په ګوته کوي.
شَمشاد: د سپېدار درخته(ونه).
شېرازَه: څنډه.

## ﴿ص﴾

صُداع: د سر درد.
صُفوَت: غوره توب- صافوالی.
صَومِعَه: د نصاراوو عبادت ځای.
صَومه: روژه.
صُهبا: شراب.

## ﴿ض﴾

ضابِطه: قاعده- دستور.

## ﴿ط﴾

طاس: کټوری- د اوبو لوښی.
طُلبه: د طالب جمع- طالبان- د لومړي په فتحه "زوَر" او د دوهم په سکون، هغه غوښه ده چي باز په آموخته کوي. د دېوان په(۱۰۰) مخ(د پای لخوا دریم بیت) کي په همدې معنا راغلی دئ.
طَیران: الوتل

## ﴿ع﴾

عُذار: باړخو- رخسار.
عراقي: مجازاً د آس په معنا.
عَرَصات: قیامت.
عَرعَر: د غره سروه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عُریاني: بربنډتوب-لوڅوالی.
عَسَس: د عاس جمع- عاس ګزمې ته وایي.
عَظم رَمیم: زاړه هډوکي.
عمامه: پګړی.
عُناب: انګور؟.
عنتره: د خره مچ "خرمګس" – "افغان قاموس".
عُود: یو ډول لرګی دئ چي و سوځول سي ښه بوی تري ولاړیږي.
عَینَین: دوې سترګي.

## ﴿غ﴾

غابوړي: یو ډول تریخ بوټی دئ.
غبغب:تر زني لاندي غوښه- جج.
غَربال: غلبېل.
غړند: مړاوی- پژمرده.
غزال: کبلی –د هوسۍ بچی.
غلمان: لغړزني مخلوقات چي د جنتیانو په خدمت کي به وي "غیاث".
غواص: لامبوزن.
غُوړه: قهر- بد ویل.
غوړېشه: غوړاشه- د غوټي "تکمې"کاج.
غَیتان: پنځه تاریزه اودل سوې پټه چي د ښځو پر خولۍ د زینت له پاره ګنډل کېږي.

## ﴿ف﴾

فامفالي: د موسیقي یو مقام دئ.
فِتراک: مجازاً د زین په معنا.
فُتور: خرابي-وراني.
فندق: یو ډول مېوه ده.

## ﴿ق﴾

قاضی الحاجات: د حاجاتو پوره کوونکئ.
قبُا: چوخه –چپنه.
قبُه: ګومبته.
قبیح: بد رنګه- د ښکلي ضد.
قصور: د قصر جمع-ماڼۍ.
ققنَس: یو مرغه دئ چي ویل کېږي موسیقي د هغه له آوازه استخراج سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿ک﴾

کاشف المشکلات: د ستونزو حلوونکی.
کافي المهمات: د سترو او سختو کارو ضامن.
کاووس: ستر پاچا و چي رستم یې نوکري کوله.
کانه: چل- چاره.
کچول: کلوچ، کړوپ.
کحل البصر: د سترگو رانجه.
کذاب: درواغجن.
کِرام الکاتبین: هغه ملایکي چي د انسان ورځني اعمال کاږي.
کرکنډه: غټه ډبره – خرسنگ.
کَروَړه: "فشار پر وروستی ځپه دئ" قمچین- شلاخه "لس زره لغتونه".
کوړه: کوټه – انبار- توده.
کِسرٰی: د نوشېروان لقب و- د خسرو معرب شکل.
کسل: کتل.
کف: "د کاف په زوَر" اورغوی- "د کاف په پېښ" سیال.
کک: ذره.
ککوی: یو ډول مرغه دئ چي د کابل خلک یې باران طلبک بولي.
کلپ: ناچله – قلب.
کنډه: "د کاف په زور" ترازو- تله.
کوب: د اوښ بوک- کوهان.
کَی: د شهنشاه په معنا.
کېش: مذهب- دین.

## ﴿گ﴾

گانگوړه: لکنت- د ژبي بندېدل.
گبر: آتش پرست.
گرگ: "د لومړي په زوَر" د اینې "جگر" یو ډول ناروغي ده.
گلخن: د اور د بلېدو ځای.
گوی: گیند- پنډوسکی.
گېسو: زلفي کوڅۍ- اوږده وربښتان.

## ﴿ل﴾

لاتـَقـُل: څه مه وایه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لچن: لچ د سترګو یا ګوتو یو راز درد دئ- لچن په همدې درد اخته.

لَشه: د مار، لړم نېښ.

لوب: چال- هنر.

لوړه: "فشار پر وروستی هجا دئ" هغې ویالې ته وایې چې د رود "سیند" د پاسه له یوې غاړې څخه بلې څنډې ته په یو مخصوص ساختمان تېرېږي.

لوک: اوښ.

لولاک: د غه حدیث قدسي ته اشاره ده (لولاک لما خلقت الافلاک). یعني که ته "محمد ﷺ" نه وای افلاک به نه وای.

## (م)

ماءوا: کور – خپله مېنه.

ماسوا: بې د خدای له ذاته نور ټولو موجوداتو ته ماسوا وایي.

ماشوره: د تار کلاوه.

مانه: خپګان.

مایه: غوا "غیاث".

مُبَرا: خلاص- پاک سوئ.

مَجمر: هغه لوښی چې عود "خوشبویه لرګی پکښې" سوځي.

مجیب الدعوات: د دوعا وو قبلوونکئ.

مچلوغه: مچلوغزه- فلاخن- د ډبرې غورځولو وسیله.

محک: توره ډبره ده چې سره زر په معلومېږي.

مخمور: نشه- مست.

مَرآت: هنداره.

مَرغول: پېچلي وربښتان.

مزاح: خوش طبعي کول.

مُستغرَق: ډوب سوئ.

مُسَخر: رام سوئ- فرمان وړونکئ.

مَسطَر: هغه وسیله چې خطاطان د کرښو "لیکو" د سیده کېدو لپاره کار څني اخلي.

مَشاطه: ډمه-آرایشګره- سینګار کوونکې.

مُشَبک: سوري سوري.

مَضطرب: پرېشانه – پلټَنَدَه.

مُضمَحِل: له منځه تلونکئ- محوه کېدونکئ.

مَطلَع الفَجر: د سپېدو د راختو "چاودلو" ځای.

مُل: شراب.

ملهار: د موسیقي یو راګ دئ.

مَلیح: نمکین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَنډ: پَل- قدم- سراغ.

مُنَزَه: پاک.

مُنفَعِل: شرمنده.

منقار: مشوکه.

مُنکر نکیر: هغه ملایکي چي په قبر کي له مړي څخه پوښتني کوي.

موږَه: د مځکي برآمدګي "لس زره لغتونه".

مؤذن: اذان کوونکئ.

موقوف: درول سوئ.

مومیايي: هغه ماده ده چي که مړی په و وهي، نه خرابېږي او سلامت پاتېږي.

مهجور: بېل سوئ – پردېس.

مَهینه: تنخواه- معاش.

﴿ن﴾

ناخدا: کښتۍ وان.

ناسور: هغه ټپ چي پر بدو واوړي.

ناوک: غشی.

نبات: یو ډول ښوی قند "مصري"

نتلی: خوار وزار: زبون.

نجتی: نصب سوئ – ښخ سوئ – ننوتئ.

نخاس: د پسو، غویو، اسانو او اوښانو د خرڅلاو بازار، کندهاریان يې "ګنج" بولي.

نَخچیر: د هوسۍ په شان یو دښتي حیوان دئ- عموماً د هوسۍ په معنا.

نَخل: د خرما ونه.

نراد: د شطرنج په شان یوه لوبه ده.

نَسیان: هېره- فراموشي.

نسیه: پور- د "نقد" ضد.

نصاب: هغه اندازه مال چي زګوة پر فرض کېږي- د مال او پانګي په معنا هم راځي.

نعیم: جنت.

نفس اماره: سرکښه نفس.

نکهت: ښه بوی- د خولې بوی "غیاث".

نمایي: ښکاره کېږي.

نوحه ګر: هغه څوک چي ساندي وايي.

نیریز: د موسیقي یو مقام دئ.

نېزه وړئ: سېلاب وړئ – سیلاب راوړئ خس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ﴿و﴾

والی: غوږ والی –گوشواره.
واهب‌العطايات: بخشش "انعام" ورکوونکئ.
وَت: د وتلو ځای- درز- تنگه دره.
وَرَتې‌وَرَتې: ډېره ژړا- رينگتې.
ورېشه: وراشه- خبري- گفتگو.

## ﴿ي﴾

ياوه: بې ځايه او بې مورده خبري.
يَبلی: لوڅي- بربنډي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**